عامه اداره او پالیسي پوهنځی

Public Administration & Policy Faculty

Afghanic

# عامه اقتصاد






پوهندوی ریحان الله رحیمي

پلورل منع دی

۱۴۰۱

عامه اقتصاد

پوهندوی ریحان الله رحیمي

Assist Prof Raihanullah Rahimi

# Public Economy



Funded by
**Kinderhilfe-Afghanistan**




ISBN 978-9936-633-86-5

Not for Sale

2022

# عامه اقتصاد

پوهندوی ریحان الله رحیمي



Public Administration & Policy Faculty
عامه اداره او پالیسي پوهنځی

Funded by
**Kinderhilfe-Afghanistan**

Pashto PDF
2022

افغانیک
Afghanic

# Public Economy

Assist Prof Raihanullah Rahimi

Download:
www.kitabona.com
www.ecampus-afghanistan.org

اقرأ باسم ربك الذي خلق

# عامه اقتصاد

## پوهندوی ریحان الله رحیمي

لومړی چاپ

دغه کتاب په پي ډي ایف فارمټ کې په مله سي ډي کې هم لوستلی شئ:



| | |
|---|---|
| د کتاب نوم | عامه اقتصاد |
| لیکوال | پوهندوی ریحان الله رحیمي |
| خپرندوی | ننگرهار پوهنتون، عامه اداره او پالیسي پوهنځی |
| وېب پاڼه | www.nu.edu.af |
| د چاپ کال | ۱۴۰۱، لومړی چاپ |
| چاپ شمېر | ۱۰۰۰ |
| مسلسل نمبر | ۳۵۲ |
| ډاونلوډ | www.ecampus-afghanistan.org<br>www.kitabona.com |

دا کتاب د افغان ماشومانو لپاره د جرمني کمېټې، په جرمني کې د Eroes کورنۍ یوې خیریه ټولنې لخوا تمویل شوی دی.
اداري او تخنیکي چارې یې په آلمان کې د افغانیک لخوا ترسره شوي دي.
د کتاب د محتوا او لیکنې مسئولیت د کتاب په ژباړن او اړونده پوهنځي پورې اړه لري. مرسته کوونکي او تطبیق کوونکي ټولنې په دې اړه مسؤلیت نه لري.

د تدریسي کتابونو د چاپولو لپاره له موږ سره اړیکه ونیسئ:
ډاکتر یحیی وردک، د لوړو زده کړو وزارت، کارته ۴، کابل
موبایل ۰۷۰۶۳۲۰۸۴۴، ۰۷۸۰۲۳۲۳۱۰
ایمېل textbooks@afghanic.org

د چاپ ټول حقوق له مؤلف سره خوندي دي.

ای اس بي ان ۵-۸۶-۶۳۳-۹۹۳۶-۹۷۸

# د درسي کتابونو چاپول

قدرمنو استادانو او ګرانو محصلینو!

د افغانستان په پوهنتونونو کې د درسي کتابونو کموالی او نشتوالی له لویو ستونزو څخه ګڼل کېږي. یو زیات شمېر استادان او محصلین نویو معلوماتو ته لاسرسی نه لري، په زاړه میتود تدریس کوي او له هغو کتابونو او چپترونو نه ګټه اخلي چې زاړه دي او په بازار کې په ټیټ کیفیت فوتوکاپي کېږي.

موږ تر اوسه پورې د ننګرهار، خوست، کندهار، هرات، بلخ، البیروني، کابل پوهنتون، د کابل طبي پوهنتون او د کابل پولي تخنیک پوهنتون لپاره ۳٦۵ عنوانه مختلف درسي کتابونه د طب، ساینس، انجنیري، اقتصاد، ژورنالېزم او کرهنې پوهنځیو لپاره چاپ کړي دي.

د یادونې وړ ده، چې نوموړي چاپ شوي کتابونه د هېواد ټولو اړوندو پوهنتونونو او یو زیات شمېر ادارو او موسساتو ته په وړیا توګه وېشل شوي دي. ټول چاپ شوي کتابونه له www.afghanistan-ecampus.org او www.kitabona.com ویب پاڼې څخه ډاونلوډولی شئ.

دا کړنې په داسې حال کې ترسره کېږي چې د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت د (۲۰۱۰-۲۰۱۴) کلونو په ملي ستراتیژیک پلان کې راغلي دي چې:

*"د لوړو زده کړو او د ښوونې د ښه کیفیت او زده کوونکو ته د نویو، کره او علمي معلوماتو د برابرولو لپاره اړینه ده، چې په دري او پښتو ژبو د درسي کتابونو د لیکلو فرصت برابر شي، د تعلیمي نصاب د ریفورم لپاره له انګریزي ژبې نه دري او پښتو ژبو ته د کتابونو او درسي موادو ژباړل اړین دي، له دغو امکاناتو پرته د پوهنتونونو محصلین او استادان عصري، نویو، تازه او کره معلوماتو ته لاسرسی نه شي پیدا کولای."*

موږ غواړو چې د درسي کتابونو په برابرولو سره د هېواد له پوهنتونونو سره مرسته وکړو او د چپټر او لکچرنوټ دوران ته د پای ټکی کېږدو. د دې لپاره اړینه ده چې د افغانستان پوهنتونونو لپاره هر کال لږ تر لږه ۱۰۰ عنوانه درسي کتابونه چاپ شي.

**له ټولو درنو استادانو نه هیله کوو، چې په خپلو مسلکي برخو کې نوي کتابونه ولیکي، ویې ژباړي او یا هم خپل پخواني لیکل شوي کتابونه، لکچرنوټونه او چپټرونه ایډېټ او د چاپ لپاره تیار کړي، زموږ په واک کې یې راکړي چې په ښه کیفیت چاپ او وروسته یې د اړوند پوهنځیو، استادانو او محصلینو ته په واک کې ورکړو. همدارنګه د یادو ټکو په اړه خپل وړاندیزونه او نظریات له موږ سره شریک کړي، چې په ګډه په دې برخه کې اغېزمن ګامونه پورته کړو.**

د لیکوالانو او خپرونکو له خوا پوره زیار ایستل شوی، چې د کتابونو محتویات د نړیوالو علمي معیارونو پر اساس برابر شي، خو بیا هم کېدای شي د کتاب په محتوا کې ځینې تېروتنې او ستونزې ولیدل شي، نو له درنو لوستونکو نه هیله لرو چې خپل نظریات او نیوکې لیکوال او یا موږ ته په لیکلې بڼه راولېږي، چې په راتلونکي چاپ کې اصلاح شي.

د افغان ماشومانو لپاره د جرمني کمېټې او د هغې له مشر ډاکتر ایروس نه ډېره مننه کوو چې د دغه کتاب د چاپ لګښت یې ورکړی دی. دوی تر دې مهاله د ننګرهار پوهنتون د ۲۳۰ عنوانه طبي او غیر طبي کتابونو د چاپ لګښت پر غاړه اخیستی دی.

د پوهنتونونو رییسانو، د پوهنځیو رییسانو او استادانو نه مننه کوم چې د کتابونو د چاپ لړۍ یې هڅولې او مرسته یې ورسره کړې ده. د دغه کتاب له لیکوال نه ډېر منندوی یم او ستاینه یې کوم، چې خپل د کلونو - کلونو زیار یې په وړیا توګه ګرانو محصلینو ته وړاندې کړ.

همدارنګه د دفتر له همکارانو هر یو؛ ښاغلي حکمت الله عزیز او ښاغلي فهیم حبیبي نه هم مننه کوم چې د کتابونو د چاپ په برخه کې یې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کړې دي.

ډاکتر یحیی وردک

د لوړو زده کړو وزارت، کابل، اپرېل، ۲۰۲۲

د دفتر ټیلیفون: ۰۷۸۰۲۳۲۳۱۰، ۰۷۰۶۳۲۰۸۴۴

ایمیل: textbooks@afghanic.org

**فهرست**


تقريظ........................................................................ IV
تقريظ........................................................................ VI
د پيل خبرې.................................................................... VII
سريزه........................................................................ 1

لومړی فصل

عموميات ..................................................................... 4
د اقتصادي نظامونو د رامنځته کيدو اساسي لاملونه ................................ 6
نړيوال اقتصادي نظامونه ....................................................... 9
۱: اشتراکي نظام يا د مرکزي پلان جوړونې اقتصادي نظام(Socialism) . 10
۲: سرمايه داري اقتصادي نظام يا د بازار اقتصادي نظام (Capitalism) .. 11
۳: مختلط يا ګډ نظام (Mix system)........................................... 14
۴: د اسلام اقتصادي نظام (Islamic system) .................................. 16
په اقتصادي نظامونو کې د دولت د مداخلې اړتيا ................................. 17
د اقتصاد د علم پيژندنه....................................................... 22
داقتصاد د څيړنې حقيقي او هدايتي بڼې ......................................... 26
د عامه اقتصاد بنسټونه......................................................... 28
لومړی. اقتصادي فعاليتونه...................................................... 28
دويم. د عامه يا دولتي اقتصاد پيژندنه......................................... 30
دريېم. د عامه اقتصاد دندې..................................................... 31
څلورم. د عامه اقتصاد موخې يا اهداف .......................................... 33
پنځم. تمويل (Finance)........................................................ 34
عامه تمويل (Public Finance)................................................. 42
د لومړي فصل پوښتنې........................................................... 44

دويم فصل

عامه سکتور(Public sector) ................................................... 46
ولې عامه سکتور ته اړتيا لرو؟................................................. 46
د عامه او خصوصي تمويل تر منځ توپير .......................................... 51
د عامه تمويل اصول(اساسات).................................................... 57
عامه اجناس او خدمات .......................................................... 61
عامه تصدی .................................................................... 63
د عامه تصديو ډولونه........................................................... 64
د عامه تصديو د رامينځته کيدو سببونه.......................................... 67
د عامه تصديو ستونزې........................................................... 68

د دويم فصل پوښتنې ........................................................ 68


دریيم فصل

عامه مصارف........................................................................ 70
دعامه مصارفو ډولونه............................................................... 70
په عامه مصارفو کې د زياتوالي علتونه..................................... 72
د عامه مصارفو تاثيرات ........................................................ 77
د دريم فصل پوښتنې ............................................................ 80


څلورم فصل

عامه عوايد.......................................................................... 81
مالياتي عوايد........................................................................ 84
غير مالياتي عوايد.................................................................. 86
په نړۍ او افغانستان کې د مالياتو تاريخچه................................ 91
د ماليې ټاکنې ميتودونه........................................................... 94
د ماليې ټاکنې حدود................................................................ 96
مالياتي مقاومتونه ................................................................. 100
د مالياتو ډولونه.................................................................... 109
د مستقيمو مالياتو ښيګڼې ..................................................... 107
د متزايدو مالياتو ګټې ........................................................... 109
د ماليې تابع عوايد ............................................................... 114
ګمرکي محصولات ................................................................ 116
د صادراتي ګمرکي محصول تاثيرات ......................................... 120
د څلورم فصل پوښتنې............................................................ 124


پنځم فصل

بوديجه ............................................................................. 123
د بوديجې اهميت ................................................................. 126
د بوديجې د پيدايښت تاريخي پړاو............................................ 127
د بوديجې قانوني او څلور ګوني مراحل...................................... 127
د بوديجې حالات ................................................................. 129
د پنځم فصل پوښتنې ........................................................... 134


شپږم فصل

عامه مالي مسايل ............................................................... 135
مالي پاليسي........................................................................ 138
د مالي پاليسۍ موخې.............................................................. 140
د مالي پاليسۍ ډولونه ........................................................... 140
د مالي پاليسۍ ستونزې ......................................................... 144

د مالي پالیسی اقتصادي اغیزې ........................................................ 145
د افغانستان د مالي پالیسۍ ارزونه.......................................................149
مالي مدیریت.............................................................................156
په افغانستان کې د مالي پالیسی پر وړاندې پرتې ستونزې........................ 148
د مالي مدیریت اهمیت ........................................................................ 154
د مالي مدیریت مفهوم......................................................................... 156
د مالي مدیریت اهداف ........................................................................ 157
د مالي مدیریت تاریخچه...................................................................... 158
په افغانستان کې د مالي مدیریت او مؤسساتو څرنګوالي ته لنډه کتنه......... 162
د شپږم فصل پوښتنې ........................................................................ 164

اووم فصل

عامه پولي مسایل ............................................................................ 165
پیسې او د پیسو د تکامل دوره..............................................................168
د افغانستان پولي سیستم...................................................................... 176
کاغذي پیسې یا بانکوټ ....................................................................... 179
په افغانستان کې د کاغذي پیسو تاریخي بهیر ........................................ 182
د مصورو نوټونو خپریدل...................................................................193
الکترونیکي یا بریښنایي پیسې...............................................................195
د الکترونیکي پیسو ډولونه.................................................................... 195
د الکترونیکي پیسو ځانګړتیاوې............................................................. 195
پر بانکونو باندې د الکترونیکي پیسو اغیزې .......................................... 196
د الکترونیکي پیسو نیمګړتیاوې ............................................................. 197
د الکترونیکي پیسو بنیګڼې ................................................................... 198
د الکترونیکي پیسو معاملات(راکړې ورکړې)......................................... 199
د الکترونیکي پیسو وړاندې کوونکي شرکتونه او ادارې ........................... 202
په نړیواله توګه له الکترونیکي پیسو څخه ګټه اخستنه ........................... 203
په افغانستان کې د الکترونیکي پیسو چلند............................................. 204
د الکترونیکي او مروجو پیسو مقایسه .................................................... 207
په ملي اقتصاد کې د الکترونیکي پیسو اهمیت ........................................ 208
د اووم فصل پوښتنې ......................................................................... 211
ماخذونه.......................................................................................... 213

## تقریظ

عامه اقتصاد، د عامه ادارې او پالیسۍ د پوهنځي یو اساسي مضمون دی چې د دغه پوهنځي په نوي کریکولم کې په(PA240) کود سره په اونۍ کې درې کریډیټونه شامل دي. په دغه مضمون کې محصلان د اقتصاد د علم د عمومي مفاهیمو د پیژندنې ترڅنګ، خاصتاً د عامه اقتصاد په اړه پوهه ترلاسه کوي چې یو پاسیټیف علم دی. له دې څخه موخه د عامه هوساینې، عامه عوایدو، عامه مصارفو، مالیاتو، عامه تصدیو عامه تمویل او د عامه ټولنیزو خدماتو ښه کول دي. په دې کې مهم مسایل د دولت عایداتي منابع، دولتي ملکیتونه، عامه مالي سیستم او نور دي چې د عامه ادارې مسلکي کادرونه وربانديې پوهه ولري.

له دې امله چې د عامه ادارې او پالیسۍ پوهنځی یو نوی تأسیس شوی پوهنځی دی، له بلې خوا په مجموع کې په هیواد کې د نوي پالیسۍ په رڼا کې زیاتره خلک او له هغې جملې د اقتصادي ډګر او د عامه ادارې کارکوونکي لا هم د خصوصي سکتور ترڅنګ د عامه سکتور د ارزښت په اړه لږ فکر کوي، حال دا چې عامه سکتور تل او په هر هیواد کې عمدتاً مسلط سکتور وي. د عامه اقتصاد په ښه والي او قوت سره خصوصي سکتور خودبخوده تقویه کیږي، یعنې عامه او خصوصي سکتورونه یو بل سره نه شلیدونکي اړیکې او یو پر بل اغیزې لري چې په دې برخه کې د درسي او یا درسي مرستیال موادو برابرول یو نیک ګام دی.

دا دی محترم پوهندوی ریحان الله رحیمي د عامه ادارې او پالیسۍ د پوهنځي د مدیریت انکشاف د څانګې د علمي کادر غړی، دغه درسي اثر چمتو کړی دی. قدرمن رحیمي صیب د دې اثر په لیکنه کې پوره زیار ګاللی دی او د تدریس د اسانه کولو او محصلانو سره په زده کړه کې د مرستې لپاره یې دغه مواد او اثر برابر کړي دي. د دغه اثر محتویات د منل شوي کریکولم سره مطابقت

لري، يعنې محترم رحيمي صيب په خپل دغه اثر کې د نصاب مطابق په عامه اقتصاد پورې اړوند مسايل راغونډ کړي دي. د دغه درسي اثر په بشپړولو کې محترم پوهندوی ريحان الله رحيمي د ټولو باتجربه استادانو سره دوامداره مشورې کړي دي او خپل کار يې ډېر په دقت سره تکميل کړی دی چې زياز يې د ستاينې وړ دی.

نوموړی پخوا هم يو شمير علمي مقالې ليکلي دي، په دې توګه د ليکوالۍ د تجربې لرونکی دی. دغه اثر يې د عامه ادارې د پوهنځي، د هيواد د اقتصادي تصديو مديرانو، د اقتصاد د پوهنځي محصلانو او ځوانو استادانو، د اقتصادي مؤسساتو کارکوونکو، د هيواد پاليسۍ جوړوونکو ادارو، د ادارې او حسابدارۍ د انستيتيوت د شاګردانو او د سوداګرۍ د خونو مامورينو، کارکوونکو او څيړونکو، د مالي شرکتونو، مؤسساتو او د نورو توليدي دفترونو د مديرانو لپاره ډېر ګټور دی. د دغه اثر په لوستلو او پوهيدلو سره به اداري کارکوونکي، مؤسسات او انفرادي اشخاص وتوانيږي چې د ګران هيوا د عامه او دولتي تصديو رهبري او د توليد عمليه کې د اغيزمنو توليداتو او خدماتو عرضه کول رامنځته کړي او د ملي اقتصاد د پرمختګ او انکشاف سره مرسته وکړي.

په دې توګه دغه اثر د محصلانو لپاره ګټور بولم، د خدای پاک له لوی دربار څخه ورته په راتلونکي کې هم د دغه راز نورو برياليتوبونو هيله لرم.

په درنښت

پوهاند محمد بشير دوديال

د اقتصاد د پوهنځي استاد

# تقریظ

د لومړیو وختونو راهیسې دولتونه د خپلو لګښتونو ترسره کولو لپاره د عوایدو لارې چارې لټوي. که څه هم د تمویل په لارو چارو کې د وخت په تیریدو سره بدلون راغلی. په لومړیو کلونو کې د دولت لګښتونه په زیاته اندازه په نظامي برخه کې تر سره کیدل او تمویل یې هم د نظامي جنګونو له لارې وه، خو نن ورځ دولت خپل لګښتونه په مختلفو برخو کې لکوي لکه تعلیم، روغتیا او داسې نورو برخو کې، همداسې عواید هم له مختلفو لارو برابروي لکه مالیات او داسې نور. نن ورځ دغه لګښتونه او عواید داسې مرحلې ته رسیدلي دي چې د پخواني ساده جوړښت څخه یو پیچلې بڼه یې خپله کړې. تر څنګ یې د دغه موضوعاتو په اړه پوهه تر لاسه کول هم علمي شوې او په پوهنتونونو کې تدریسیږي او په اړه یې څیړنې کوي، همدارنګه ډېر زیات کتابونه په دغه برخه کې لیکل شوي دي.

له نیکه مرغه د پخوا په پرتله هره ورځ په ټولو برخو کې لیکوالان په پښتو ژبه لیکنې کوي. که څه هم په دغو لیکنو کې کاملاً د لیکوالی اصول نه مراعاتیږي خو بیا هم د ګټې وړ دي.

د عامه اقتصاد په برخه کې دغه لیکنه د لومړنیو لیکنو څخه شمیرل کیږي او زه باور لرم چې دغه کتاب به تر یوه بریده دغه تشه راډکه کړي. د دغه کتاب په لومړي څپرکي کې د عامه اقتصاد په اړه عمومي معلومات وړاندې شوي دي، په دویم څپرکي کې د عامه سکتور، وروستي څپرکي کې د عامه لګښتونو، څلورم څپرکي کې عامه عوایدو او هم نورو موضوعاتو په اړه په کې بحث شوی دی. د دغه کتاب محتوا تر ډیره حده د عامه ادارې او پالیسۍ پوهنځي د زده کړیالانو لپاره مؤثره او د ګټې وړ ده. همدارنګه لیکنه یې هم په ساده او روانه ژبه ترسره شوې ده او په اسانۍ سره ترې مفهوم اخیستل کیږي.

زه باوري یم چې که زمونږ قدرمن زده کړیالان او ټول هغه کسان چې له عامه اقتصاد سره علاقه لري او دا کتاب په دقیق ډول ولولي، نو په عامه اقتصاد کې به تر ډیره حده د ستونزو سره مخامخ نه شي. په دې هیله چې زمونږ په هیواد کې د عامه اقتصاد په برخه کې لا زیاته پاملرنه وشي، ترڅو د ټولنې د مثبت بدلون سبب شي.

په درنښت

پوهنیار نثار احمد مصلح

د عامه ادارې او پالیسۍ پوهنځي استاد

## د پیل خبرې

عامه اقتصاد، د اقتصاد د علم له بنسټیزو برخو څخه شمیرل کیږي چې د نړۍ د هر هیواد او هرې ټولنې یوه مهمه برخه تشکیلوي. هیوادونه د عامه اقتصاد د علم په رڼا کې حرکت کوي چې د همدغه علم په اساس ټولنې خپل د پرمختګ او ورسته پاتې والي برخه لیک ټاکي، که چیرې د یوه هیواد دعامه اقتصاد برخه پیاوړې وي، نو هغه هیواد به ورسره په اقتصادي برخه(سکتور) کې پیاوړی وي او که چیرې د یوه هیواد د عامه سکتور برخه کمزوری وي، نو ښکاره خبره ده چې هغه هیواد به په ظاهري بڼه هم د اقتصادي پرمختګ له پلوه کمزوری او ناتوانه وي.

د نړۍ ننۍ پرمختللي هیوادونه د همدغه علم د اساساتو په مراعاتولو، تطبیق او علمي کولو او هیوادونو ته د دغه علم د اساسي تیوریګانو د تحلیل، تجزیې او ښو اقتصادي پالیسیو د جوړولو له امله پرمختللي شوي دي. لکه څنګه چې هیوادوه او ټولنې اړ دي چې د خپل واک لاندې سیمو لپاره ښه اقتصادي پالیسیګانې او برنامې ولري چې له امله یې وکولی شي د خپلو خلکو لپاره د هغو په پلي کولو سره ښه او سوکاله ژوند برابر کړي، نو اړینه ده چې د دې لپاره اساسي او بنسټیز کار وکړي چې یو یې هم په دغه اړه په ټولنه کې د مسلکي کادرونو روزل دي. دا چې عامه سکتورد یوه هیواد یا یوې ټولنې یو له مهمو او حیاتي سکتورونو څخه شمیرل کیږي، نو له همدې امله د لوړو زده کړو وزارت هم نظر دغه اهمیت ته یو مضمون د عامه اقتصاد په نامه د عامه ادارې او پالیسۍ پوهنځي او اقتصادٍ پوهنځیو په نصاب کې شامله کړه چې له دغې لارې دولت وکولی شي سالم او مسلکي کادرونه د دغه سکتور د پرمخ بیولو لپاره وروزي. سره له دې چې د عامه اقتصاد علم د یوه مضمون په ډول په دغو پوهنځیو کې تدریسیږي، بیا هم سره د دومره ارزښت یې بې ارزښته او

نا دیده ګڼل شوی، همدا لامل دی چې دغه مضمون لا تراوسه د چپټر په ډول تدریس کیده او د کوم معیاري درسي کتاب درلودونکی نه وو، له همدې امله مې اړینه وبلله چې د عامه اقتصاد مضمون باید د یوه ټاکلي درسي کتاب په درلودلو سره په اړوندو پوهنځیو کې تدریس شي. د همدغه اړتیا پر بنسټ مې د موادو په راټولولو پیل وکړ چې الحمدالله دا دی له ډیر زیار او کوښښ څخه وروسته په دې وتوانیدم چې عامه اقتصاد د یوه کتاب په شکل چاپ اوخپلو درنو محصلانو ته یې د ګټې اخستنې په موخه وړاندې کړم.

د عامه اقتصاد په اړه د موادو، اثارو او کتابونو کمښت له ستونزو سره مخ کړم او ومې نشو کولی چې دغه کتاب لکه څرنګه چې لازمه ده هماغسې جامع ترتیب او ګټې اخستنې ته یې وړاندې کړم، په هر صورت په راتلونکي کې به کوښښ وکړم چې دغه کتاب(عامه اقتصاد) نور هم غني او نوي موضوعات په کې راواخلم.

د دغه کتاب په اصلاح کې له ما سره د اقتصاد پوهنځي استاد او د عامه ادارې او پالیسۍ پوهنځي پخوانی رئیس محترم پوهاند محمد بشیر دودیال ډیر زیات زحمت ګاللی چې زه ورڅخه د زړه له کومې مننه کووم، همدا راز درانه او قدرمند استادا د عامه ادارې او پالیسۍ پوهنځي استاد پوهنیار نثاراحمد مصلح څخه هم منندوی یم چې زما کتاب یې د اصلاح په موخه کتلي او خپله لیکنه یې پرې کړې.

په پای کې له درنو لوستونکو څخه غوښتنه کووم چې د کتاب د کمۍ او یا اشتباهاتو له امله ما وبخښي، که کوم اشتباه او نیمګړتیا موجود وي، نو خپل وړاندیزونه او نیوکې دې رانه نه سپموي چې په راتلونکو چاپونو کې یې اصلاح او بشپړ کړم.

په درنښت
پوهندوی ریحان الله رحیمي
د عامه ادارې او پالیسۍ پوهنځي استاد

## سریزه

د عامه اقتصاد په اړه د نړۍ ټول اقتصادي نظامونه مختلف نظریات لري، خو هیڅ یو یې هم په مطلق ډول عامه اقتصاد نه ردوي، مګر په دې رابطه په اقتصاد کې د دولت د مداخلې اندازه او طریقه د بحث وړ ده.

په اوسنۍ نړۍ کې هیڅ داسې هیواد وجود نه لري، چې په کامل ډول د آزاد بازار د اقتصاد درلودونکی وي، بلکه ټول دولتونه لږ یا ډیر په اقتصادي چارو کې مداخله کوي.

په افغانستان کې سره له دې چې په اساسي قانون کې د آزاد بازار څخه یادونه او حمایت شوی بیا یې هم اقتصاد د عامه فعالیت نه انکار نه دی کړی او عملاً یې دغه برخه په اقتصاد کې موجود ده او یو لوی ضرورت هم ورته شته.

د عامه اقتصاد لاندې د دولت د مالي او پولي وسایلو په کار آچونه، د پولي او مالي وسایلو اداره او تهیه، د دولت د اقتصادي فعالیتونو تحلیل او تشریح، د عامه مصارفو تاثیرات او بررسي، په اقتصاد کې د مالیاتو ډولونه او د مصرف کوونکي او تولیدونکي د رفاه کچې او نور د عامه اقتصاد د بحث موضوعات تشکیلوي.

د دولت د عایداتي منابعو او مصارفو په اړه مالي سیاستونه او د هغو پلي کول د عامه اقتصاد له وسایلو څخه شمیرل کیږي، چې د انکشاف او د ټولنې رفاه او هوساینې د سطحې د لوړوالي په خاطر په کار وړل کیږي.

د عامه اقتصاد مضمون چې د عامه ادارې او پالیسۍ پوهنځي د کریکولم په نظر کې نیولو سره د لومړي ټولګي په لومړي سمستر کې تدریسیږي، تر اوسه یې کوم تدریسي کتاب نه درلود. له همدې امله مې اړینه وبلله چې دغه مضمون د یوه تدریسي کتاب په بڼه چاپ او د خپلو محصلانو په واک کې ورکړم چې

الحمد لله دا دی له ډیرو هڅو وروسته مې دغه کتاب بشپړ او د خپلو ګرانو محصلانو په واک کې ورکړ چې له دې وروسته له همدې څخه استفاده وکړي.

دغه کتاب په پنځو فصلونو کې تالیف او ټول شوی دی، چې په لومړي فصل کې یې ځینې لومړني عامه مسایل او موضوعات لکه د عامه اقتصاد پیژندنه، د عامه اقتصاد دندې، عامه تمویل، تمویل او د تمویل ډولونه، د تمویل د ډولونو ګټې او زیانونه او داسې نور مسایل پکې رانغاړل شوي دي.

په دویم فصل کې یې بیا په عامه سکتور بحث شوی، چې د عامه سکتور اړوند مسایل لکه د عامه او خصوصي تمویل تر منځ فرقونه، د عامه تمویل اساسات، عامه اجناس او خدمات، عامه تصدي، د عامه یا دولتي تصدیو د رامنځته کیدو سببونه، د دولتي تصدیو په ضد دلایل او نور ذکر شوي دي.

په دریم فصل کې یې عامه مصارف، د عامه مصارفو ډولونه، په عامه مصارفو کې د زیاتوالي علتونه، د عامه مصارفو تاثیرات او نور چې په دولتونو کې په ښکاره ډول لیدل کیږي، تر بحث لاندې نیول شوی.

په څلورم فصل کې عامه عواید چې د دولتونو د احیا مهمه منبع ده، په مفصل ډول سره اخیستل شوې او هر اړخیزه بحث پرې شوی. د دولت پرځینو اړینو مسایلو لکه مالیاتي او غیر مالیاتي عواید، د دولت تشبثاتي عواید، په نړۍ او افغانستان کې د مالیاتو پر تاریخچې لنډه کتنه، د مالیاتي ټاکنو میتودونه، د مالیې ټاکنې حدود او تخنیک، مالیاتي مقاومتونه او د هغې د حل لارې چارې، د مالیاتو ډولونه او د هغو ګټې او زیانونه او همدا راز پر ګمرکي محصولاتو هم بحث شوی.

په پنځم فصل کې بیا په ځانګړي ډول سره پر بودیجې بحث شوی، چې د بودیجې اهمیت، د بودیجې پیدایښت او د هغې تاریخي پړاوونه، د بودیجې مراحل او د هغې پر حالاتو غږیدلي یو او تر خپلې وسې مو کوښښ کړی، چې د عامه اقتصاد هغه اړین موضوعات چې باید د عامه اقتصاد په مضمون کې

ولوستل شي، په دغه کتاب کې ورته ځای ورکړو.

همداراز شپږم فصل کې بیا د عامه مالي پالیسیو په هکله بحث شوی چې په دې کې د مالي پالیسیو ډولونه، د مالي پالیسیو اقتصادي اغیزې، ستونزې، په افغانستان کې د مالي پالیسیو پر وړاندې پرتې ستونزې، مالي مدیریت او نورو ته کتنه شوې.

په اووم فصل کې بیا عامه پولي مسایلو ته کتنه شوې چې په دې ډله کې پیسو او د پیسو څرنګوالی پکې شامل دی، همداراز د افغانستان پولي سیستم او په نړۍ او فغانستان کې بریښنایي پیسو باندې بحث شوی چې د وخت مطابق د مالي مدیریت یو ښه او توده موضوع ده.

دغه مضمون د عامه اداري له پوهنځي څخه پرته د اقتصاد په پوهنځیو کې هم تدریسیږي چې له دې څخه به د اقتصاد پوهنځي محصلان او استادان هم استفاده کوي.

په پای کې د عامه ادارې او پالیسۍ پوهنځي او د اقتصاد پوهنځي له درنو استادانو، محصلانو او د دغه مسلک له علاقه مندانو څخه هیله کوم چې د یاد کتاب د اصلاح په موخه راسره همکاري وکړي ترڅو په راتلونکو ګڼو کې اصلاح شي.

## لومړی فصل

## عمومیات

په ټوله کې په یوې ټولنې کې دوه ډوله اقتصاد فعالیت کوي چې یوه ته یې کل، ملي، لوی یا(macro) اقتصاد او بل ته یې جزوي، تصدي، کوچنی یا(micro) اقتصاد وایي، په کوچني یا مایکرو اقتصاد کې د یوې ټولنې یا هیواد کوچني متحولونه لکه د افرادو، ټولنو، سیمو، کلیو، کورنیو، شرکتونو، او نورو اقتصادي وضعیت، د عوایدو کچه، مصارف او نور تر بحث لاندې نیول کیږي مګر په لوی یا مکرو اقتصاد کې د یوې ټولنې لوی لوی متحولونه لکه د یوې ټولنې نفوس او د نفوسو بررسي، د یوه هیواد اقتصادي وضعیت، د ټولنې په سطحه د خلکو د ژوندانه تحلیل، د ټولنې په سطحه صنعتي سکتور، د انفلاسیون کچه، تجارت او نور مطالعه کیږي چې په دې کې د حکومت اقتصاد یا عامه اقتصاد هم شامله ده، نو ویلی شو چې عامه اقتصاد د کل اقتصاد یوه نوې ځانګه ده چې په اوس وخت کې د حکومتونو د توجه وړ ګرځیدلې او په دې کې دا لارې چارې تر بحث لاندې نیول کیږي چې څنګه کولای شو په عامه سکتور کې د تولید عوامل په اغیزمن او سالمه توګه وکارو، څنګه کولای شو په اقتصادي چارو کې تخصص رامنځته کړو او څنګه کولای شو له بشري او فزیکي قواوو څخه مطلوبه ګټه پورته کړو.

عامه اقتصاد د اقتصاد د علم هغه ټولنیزه څانګه ده، چې د ټولنې د عامه وګړو د ژوند، معیشت، دولتي عوایدو، مصارفو، عامه خدماتو، عامه پانګونې او د ټولنیز ژوند د هوسا کیدو په اړه د اقتصادي سیستم له تحلیل او مطالعې سره سروکار لري. عامه اقتصاد د هغو اقتصادی اصولو او تجربو په هکله بحث او

خبرې کوي چې په سیده توګه  د یوه اقتصاد جوړښت تر اغیزې لاندې راولي، یا یو اقتصاد ته بڼه ورکوي. دلته د عمومي اقتصاد قوانین په عامه سکتور کې تر مطالعې لاندې نیول کیږي. عامه اقتصاد د عمومي اقتصاد یوه  نوې څانګه ده. د عمومي  اقتصاد دغه څانګه د کارګرانو، د تصدیو د مدیرانو او د دولت ترمنځ اړیکې روښـــانوي او عامه سکتور کې د تولیدي عواملو د اغیزمن استعمال، غوره تخصیص کولو او د مطلوبیت د ایجاد په هکله لارښوونه کوي.

د عامه اقتصاد د علم بحثونه بالعموم دولتي مصارف، د دولتي مصارفو پیژندنه، دولتي عواید، په هیواد کې دولتي تولید او تولیدي عوامل، معادن او ذخایر او د دولت لخوا د هغو استخراج او عواید یې، په دولتي چارو کې د مالي چارو مدیریت، بودجه او د بودجې جوړښت، او له نورو اقتصادي سکتورونو سره یې  اړیکې او په تیره بیا د دولت په هکله د مالي او پولي پالیسیو غوره کول یا د عامه سیاست ښودل او بیانول دي.

یا په بله وینا: عامه اقتصاد هغه  پوهنه ده چې د عامه سکتور  په دننه کې اقتصادي قوانین تر څیړنې لاندې  نیسي  او دولت د یوه تولیدي سکتور په توګه په هر اړخیزه شکل چې له اقتصادي نظام سره ارتباط ولري، تر بحث لاندې نیسي.

عامه اقتصاد هم (positive) مثبت، عملي یا تطبیقي اړخ او هم (normative) علمي، تیوریکي او نظري اړخ لري، دا په دې معنی چې دولت یا عامه اقتصاد مجبوره ده د خپلې ټولنې د هوساینې او پیشرفت لپاره اقتصادي علمي نظریات او پلانونه طرحه او بیا هغه عملي هم کړي چې دا دواړه مسؤلیتونه د دولت پر غاړه دي.

## د اقتصادي نظامونو د رامنځته کيدو اساسي لاملونه

که د انسان د ژوندانه تاريخي شاليد ته نظر وکړو، ښکاره ده چې انسان په لومړيو کې ډېر ابتدايي او د اقتصاد له لحاظه ډېر ناچاره ژوند درلود، په لومړيو کې انسانانو حتی د دې وسه، توان او پوهه نه درلوده چې يواځې د خپل ژوند د بقا او پرمختګ لپاره فکر او عمل وکړي.

په لومړيو کې انسانانو د خپل ژوند د بقا لپاره له هر رنګه ځيزونو څخه د خوراک لپاره ګټه اخيستې ده او حتی لکه د حيواناتو په شان له شته وو شنو او وچو وښو څخه هم استفاده کړې، د وخت په تيريدو سره په مختلفو سيمو کې بلد شول او راز راز واښو، د ونو او بوټو له پاڼو، ځنګلي ميوو او سبزيجاتو سره اشنا شول چې له هغو څخه به يې د خوارک لپاره استفاده کوله.

په دغه وخت کې انسانان و پوهيدل چې پرته له خوراک او څښاک څخه هيڅ چاره نشته، پس دا يې د ژوندي پاتې کيدو لپاره يو شرط وبلله چې د خوراک او څښاک په لټه کې شي. هماغه وو چې په کرکيلې يې پيل وکړ او د ځان د ژوندي پاتې کيدو او بقا لپاره يې ډول ډول حبوبات، سبزيجات او ميوه جات وکرل او له هغوی څخه به يې ساتنه کوله، حتی د خپلې کورنی د غړو په شمول يې هم خلکو ته اجازه نه ورکوله چې له کرکيلې او زراعتي حاصلاتو يې استفاده وکړي.

د ژوند په تيريدو سره وپوهيدل چې يو کس د بل کس له همکارئ او مرستې څخه پرته نشي کولی ژوند وکړي، ځکه د ژوند غوښتنې ډيرې او امکانات کم دي، پس متوجه شول چې انسانان بايد د ژوند په معاملاتو کې له يو او بل سره مرسته او همکاري وکړي چې په دې ترڅ کې د اقتصاد لومړنی څرک يعنې د تبادلې کليمه او له هغه څخه استفاده رامنځته شوه. هماغه وو چې اقتصاد په عملي ډول سره په ټولنه کې و کارول شو. بارتر يا جنس په جنس تبادله رامنځته شوه او ورپسې ځينې شيان د تبادلې د معيار په توګه و کارول شول چې اوس پولي او الکترونيکي تبادلې مروجې دي.

انسانان ورو ورو د خپلو ضروریاتو د پوره کولو لپاره لاس په کار شول، زراعت وده وکړه، تجارت پراخه شو، تعلیم عام شو او صنعت ته لاره پرانیستل شوه نو انسانان اړ شول چې د خپلو اقتصادي معاملاتو د ترسره کولو لپاره اصول او کړنلارې ولري تر څو د هغې په اساس وشي کولی ډېره ګټه وکړي او شته ګټه یې متضرره نه شي، پس په مختلفو سیمو کې مختلف او واړه اصول ول چې اقتصادي معاملات به یې په رڼا کې ترسره کیدل.

کله چې په ۱۸۰۰م کال کې علومو پرمختګ وکړ، نو همدلته وه چې یو عالم د لومړي ځل لپاره په نړیواله توګه د یوه اقتصادي نظام د رامنځته کیدو لپاره لاره پرانسته او په ټولنه کې یې د اقتصادي معاملاتو لپاره یو جدا نظام او سیستم رامنځته کړ او خلک یې مجبوره کړل ترڅو د همدې نظام څخه په ګټې اخستنې خپل اقتصادي چارې پرمخ بوځي.

د دې لپاره چې د اقتصادي نظامونو د رامنځته کیدو په عواملو باندې ښه وپوهیږو لازمه ګنم چې تر هرڅه د مخه د اقتصاد ځینو اساسي او بنسټیزو موضوعاتو باندې بحث وکړم، دلته ځینې موضوعات او لاملونه شته چې انسانان، ټولنې او نور یې په یواځېتوب او پرته له کوم اقتصادي جوړښت څخه نه شي ترسره کولی او دغه موضوعات د اقتصاد په عرضه کوونکو او تقاضا کوونکو او د بازار په منځته راتګ کې مؤثر رول لري لکه: د امتعې کموالی(ضرورتونه)، د کار تقسیم، پولي اقتصاد او نور(Samuelson.1975)

الف. ضرورتونه: ښکاره ده چې د اقتصاد هسته د اجناسو کموالی تشکیلوي، هر انسان ځانته ځانګړي ضرورتونه او احتیاجات لري، ځکه چې انسان د خپلو احتیاجاتو د رفع کیدلو لپاره کوښښ کوي نو همدا علت ده چې د اقتصادي احتیاج یا ضرورت نه بحث کیږي. د اقتصادي احتیاجاتو د پوره کولو لپاره انسانان اجناسو او خدماتو ته ضرورت پیدا کوي، احتیاج او امتعه د هر اقتصاد دوه اساسي عوامله ګڼل کیږي چې د دغو دواړو عواملو ترمنځ تل عدم تناسب شتون لري ځکه احتیاجات نامحدود او امتعه او خدمات محدود وي نو همدغه علت ده چې امتعه یا جنس ارزښت پیدا کوي چې د جنس همدغه ارزښت د قیمت په جوړښت او بازار په شتون کې بیا ښه رول لوبوي.(نور عباد.۱۳۹۰)

ب. د کار ویش: په نړۍ کې هیڅ داسې یو هیواد نه لیدل کیږي چې په هغې کې د هغه هیواد انسانان خپل احتیاجات په خپله پوره کړي او ټول خدمات او اجناس چې ورته ضرورت لیدل کیږي پخپله تهیه او تولید کړي، انسانان کوښښ کوي چې په خپل ځان د متکي اقتصاد پرځای داسې فعالیتونه رامنځته کړي چې په یوې ځانګړې سیمې کې خپل مؤلدیت ته ډیروالی ورکړي. د کار تقسیم او ویش په واسطه د تولید په عملیې کې ډیروالی او مؤلدیت رامنځته کیږي او د دې زمینه برابریږي ترڅو ګټه او پانګونه ډیره شي.

د کار ویش نه یواځې په ملي توګه بلکې په نړیواله توګه هم د اعتبار درلودونکی دی، د کار ویش د دې باعث ګرځي چې تولید شوی جنس د تبادلې وړ او راکړه ورکړه پرې ترسره شي ترڅو د ټولنې ضرورتونه د ځانګړو تولیداتو د ترلاسه کولو پواسطه رفع شي. د امتعې تبادله د بازار د منځته راتګ لپاره لاره هواروي چې دا د اقتصادي معاملاتو په پراختیا کې مهم رول لرلی شي.

ج. پولي اقتصاد: د طبیعي(جنس په جنس) تبادلې په ځای نن ورځ په ټولنه کې پولي تبادله یا پولي اقتصاد شتون لري، طبیعي تبادله له ځانه ستونزې درلودې ځکه هر عرضه کوونکی باید د تقاضا کوونکي د خوښې او ضرورت وړ جنس تولید کړي کنه تبادله نه رامنځته کیږي چې دغه ستونزه یواځې د پولي تبادلې پواسطه حل کیدای شي ځکه د پیسو پواسطه د هرچا ضرورت رفع کیدای شي او هر کس کولی شي د پیسو پواسطه د خپلې خوښې جنس ترلاسه کړي.

په پرمختللو هیوادونو کې نن سبا پولي اقتصاد هم خپل ځای قرضوي یا الکترونیکي اقتصاد ته پریږدي ځکه د اجناسو خرید او فروش د فزیکي پیسو پرځای د الکترونیکي کارتونو په وړاندې کولو سره ترسره کیدای شي نو ویلی شو چې د اقتصاد له دغو اساسي موضوعاتو څخه په ځانګړي توګه د امتعې د کموالي څخه د ټولنې اساسي ستونزې چې هغه اقتصادي ستونزې دي راپیدا کیږي چې د دغو ستونزو د حل لپاره اړ یو چې یو اقتصادي سیستم یا نظام ولرو.

همدا راز د هرې ټولنې په اقتصاد کې دوه اساسي ستونزې راپيدا کيږي چې ټولنه بايد د هغې د حل لپاره پوره توجه وکړي چې هغه د چارو مديريت او د چارو د تداوم يا دوامداره پاتې کيدو ستونزه ده، د اقتصاد د اساسي ستونزو د حل لپاره بايد په اقتصاد کې يو نظم او جوړښت رامنځته شي ترڅو په شته جوړښت او چوکاټ کې دغه ستونزې په معقول ډول حل او اقتصادي فعاليتونه په اقتصادي اصولو سره ترسره شي، بناءً د اقتصادي ستونزو د حل لپاره اقتصادي نظام ته ضرورت پيدا کيږي.(شهيدی.۱۳۸۶)

## نړيوال اقتصادي نظامونه

اقتصادي نظام په ټولنه کې د اقتصادي فعاليتونو د ترسره کولو لپاره يو چوکاټ دی چې د همدغه چوکاټ په دننه کې د اقتصاد فعاليت کوونکي(کورنی، تصدئ او دولت) خپل اقتصادي فعاليتونه د ځانګړو ټاکل شويو اصولو او قواعدو مطابق ترسره کوي. په همدې اساس يو اقتصادي نظام په يوې ټولنې کې د ټولو اقتصادي قواعدو، مقرراتو او قوانينو درلودنکی وي چې په آګاهانه او غير آګاهانه ډول د قوانينو او مقرراتو او د ټولنې د دود، دستور او رواجونو په توګه د بازار د ټولو اړخونو لپاره د منلو وړ وي.(هاسه، ر. و.۱۳۹۰)

لکه څرنګه چې مخکې وويل شول، اقتصادي نظامونه د اقتصادي ستونزو د حل لپاره رامنځته کيږي چې د اقتصاد هغه اساسي او بنسټيزو پوښتنو ته ځواب وايي. د تيوری له نظره دوه اقتصادي نظامونه چې په دوو مخالفو قطبونو کې واقع دي د مرکزي پلان د اقتصادي نظام او د بازار د اقتصادي نظام څخه عبارت دي چې د کاملاً متفاوتو اصولو درلودونکي دي، له دې پرته نور اقتصادي نظامونه په عام ډول سره مختلط يا ګډ نظامونه ګڼل کيږي چې ستونزې يې نسبتاً کمې او په اصولو کې سره ډير توپير نه لري.

په نړئ کې تقريباً دوه سوه لس(۲۱۰) هيوادونه شتون لري چې د دوی اقتصاد هم يو له بله توپير لري، ځينې هيوادونه له اقتصادي اړخه ډير پياوړي او ځينې بيا ډير کمزوري دي چې اقتصادونه يې د نورو هيوادونو په اقتصاد پورې تړلي وي، په هر صورت ويلی شو چې په دغه هيوادونو کې يا په نړيواله توګه څلور

اقتصادي نظامونه فعالیت کوي یا هیوادونه له دغو څلورو اقتصادي نظامونو څخه په ګڼې اخستنې خپل اقتصادي فعالیتونه پرمخ وړي او له هغو څخه پیروي کوي چې دغه اقتصادي نظامونه په لاندې ډول دي:

### ۱: اشتراکي نظام یا د مرکزي پلان جوړونې اقتصادي نظام(Socialism)

دغه نظام په نړیواله کچه د کمونیستي هیوادونو لخوا رامنځته شوی چې تر ډیره حده اوس له منځه تللی او د منځه تللو په حال کې ده. په دغه نظام کې ټول لوی اقتصادي فعالیتونه په دولت پورې تړلي وي، دلته په دغه نظام کې دولت په اقتصادي فعالیتونو او بازار کې لوی لاس لري، د دې برعکس افراد، اشخاص یا خصوصي اقتصاد نه شي کولی اقتصاد په خپل کنترول کې وساتي، دلته په دغه نظام کې د انسانانو څخه د افزارو په ډول استفاده کیږي او دوی حق نه لري چې اقتصادي فعالیتونه په خپله ګټه تر سره کړي. په دغه نظام کې بیلابیل سکتورونه لکه صنعت، سوداګري، ترانسپورت، مواصلات او مناقلات، خدمات او نور دولتي وي او مالیات هم له دولتي سکتور څخه اخیستل کیږي. خلک او افراد کولی شي د دولت په چوکاټ کې اقتصادي فعالیتونه تر سره او په مقابل کې یې اجوره ترلاسه کړي.(Colander.2004 )

په دې نظام کې شخصي ملکیتونو ته اجازه ورکول کیږي، خو د خصوصي ملکیتونو شته والی د دولتي قانون له مخې منعه وي.

له شخصي مالکیت څخه مقصد پرهغه شتمنیو باندې د شخص تصاحب دی چې د هغه د شخصي او کورنیو اړتیاوو د پوره کولو له پاره ترې کار اخیستل کیږي، خو د نورو د کار د ثمر د خپلولو او استثمار لپاره نه شي کارول کیدای. د مثال په توګه: د اوسیدلو کور، جامې، بایسکل، موټر، هغه اندازه ځمکه چې یو شخص او د هغه د کورنۍ غړي پخپله په کې کار وکړي او همدا ډول نور ټول هغه څه چې یو څوک یې د خپل شخصي او کورنۍ ژوند له پاره کاروي.

د دې په وړاندې خصوصي مالکیت د تولید پر وسایلو باندې د افرادو له هغه ډول تصاحب څخه عبارت دی چې د افرادو د شخصي او کورنیو اړتیاوو څخه زیات وي او د هغو په واسطه د نورو هغو کارګرانو او مسلکي کسانو د کار

څخه ګټه اخیستل کیږي چې د همداسې وسایلو د نشتوالی له کبله په خپله په مستقل ډول په تولیدي او خدماتي فعالیتونو کې برخه نشي اخیستلای. د تولیدي وسایلو څخه بې برخې کارګران او ماهران د خپل ژوند د اړتیاوو د لاسته راوړلو او په خپله تحصیلي څانګه کې د کار د موندلو لپاره دې ته اړ وي چې د کوم بل پانګوال سره چې د مناسبو تولیدي وسایلو څښتن دی، کار وکړي. په پایله کې د خپل کار او لاس د محصولاتو ګټه په لږه او یا ډیره اندازه د هغو د کار ورکوونکي پانګوال لاس ته ورځي د دې له پاره چې د شخصي او خصوصي مالکیت تر منځ موضوع ښه څرګنده شي دلته به د یوې تونې ځمکې مثال راوړو:

که یو څوک شخصي ځمکه ولري، په هغه کې پخپله دی او د هغه د کورنۍ غړي کار او تولید وکړي او عاید یې هم د خپل کور د اړتیاوو لپاره ولګوي، نو د ځمکې دا ټوټه د هغه شخصي ملکیت ده او په سوسیالیزم کې یې د ساتلو او کاله کولو حق لري، خو که چیرې یو څوک په ځمکه کې پخپله کار نه کوي، خپله ټوټه ځمکه چاته په اجاره، کرایه او یا یوه کروندګر ته په کروندګري ورکوي، نو دا ځمکه د هغه په خصوصي مالکیت اوړي او په سوسیالیزم کې یې د ملکیت او د هغو په وسیله د بل چا د کار او زیار د ثمر د خپلولو حق نه لري.(صاحبزاده.۱۳۹۶)

## ۲: سرمایه داري اقتصادي نظام یا د بازار اقتصادي نظام (Capitalism)

سرمایه داري اقتصادي نظام له دوهم نړیوال جنګ څخه وروسته د امریکا د متحده ایالاتو په مشرۍ او غوښتنه رامنځته شوه چې غوښتل یې وروسته له جنګ څخه د دیموکراسۍ د یوه معیار په توګه ورڅخه ګټه واخلي چې دغه موډل ته امریکا د خپل نفوذ لاندې هیوادونو کې په ۱۹۴۵ کال کې پوره توجه وکړه او دغه نظام ته یې وسعت ورکړ. امریکا دغه نظام د دې لپاره عملي او هغه ته یې پراختیا او وسعت ورکړ ترڅو پرې د کمونیزم د نظام مخ نوی وکړي.

دغه نظام وايي چې لومړی خلک رامنځته شوي، له خلکو څخه ټولنه او له ټولنې څخه دولت يا حکومتونه رامنځته شوي نو د دوی په وينا خلک لومړيتوب لري او له همدې کبله په اقتصادي چارو کې هم خلکو ته اولويت يا لومړيتوب ورکول کيږي، حکومت بايد ټول اقتصادي چارې خلکو ته پريږدي او هيڅ ډول مداخله بايد په اقتصادي چارو کې ونه کړي.

د دغه نظام غوښتنه داده چې دولت بايد په اقتصادي چارو کې لاسوهنه ونکړي. دغه نظام وايي چې د اقتصادي فعاليتونو نوښتونه دې خصوصي افرادو ته پريښودل شي، د دوی له فلسفې سره سم، که چيرې افرادو ته په اقتصاد کې آزادي ورکړل شي نو د ټولنې هر وګړی به د خپل وس سره سم د خپل استعداد مطابق يو کاروبار ځانته غوره او پيل کړي، دغه کاروبار به په ډير ښه ډول سره د دوی شخصي ژوند هوسا او ډاډمنه کړي چې ژر به دولت يا حکومت هم له دې څخه ګټه پورته کړي.

د سرمايه داري نظام نظريه دا ده، چې څه شی بايد توليد کړای شي؟ څومره توليد کړای شي او د امکاناتو تخصيص څنګه وشي؟ او د دې ټولو شيانو ټاکل د عرضې او تقاضا د قانون له مخې کوي. دا د دې لپاره چې هر شخص د ډيرې ګټې لاسته راوړنې لپاره آزاد پريښودل شوی دی، نو د خپلې ګټې په خاطر بايد هغه څه وکړي، چې نن د مارکيټ او بازار تقاضا ده .

که چيرې زه وغواړم نن يو کاروبار شروع کړم، اول بايد دا معلومه کړم چې په بازار کې د کوم شي غوښتنه او تقاضا ډيره ده، او خلک څه غواړي؟ ترڅو وشم کولی بازار ته د هغه په راوړلو او عرضې سره پوره او ډيره ګټه ترلاسه کړم.

له همدې کبله، کله چې خلک د خپلو منافعو د ترلاسه کولو لپاره کار کوي نو هغه څه بازار ته راوړي چې غوښتنه او تقاضا يې ډيره وي، او کله چې جنس په بازار کې ډير شي نو بيا يې څکه نه راوړي چې قيمت يې کښته کيږي او د قيمت .په کښته کيدو سره د ده تاوان ډير يا ګټه يې کموي نو ځکه داسې ويل کيږي چې په بازار کې عرضه او تقاضا داسې چارې دي چې د هغه په واسطه

لومړيتوبونه غوره کيږي، چې څه شی، په څومره اندازه پیدا شي؟ او د دې هرڅه د لاسته راوړلو لپاره انسان خپل ټول منابع او امکانات (ځمکه، کارځای او نور) په کار اچوي.

همداراز د عايداتو د وېش په هکله د سرمايه داري نظام نظريه دا ده، چې ګټه دې د عرضې او تقاضا د قوانينو له مخې وويشل شي، مثلاً: په يوه کارخانه کې يو مزدور په کار وګمارل شو، اوس پوښتنه دا دی چې د کارخانې د ګټې څومره برخه د مزدور ده؟ او څومره د کارخانې د څښتن؟ پدې کې سرمايه داري نظام د عرضې او تقاضا څخه کار اخلي يعنې د مزدور طلب چې څومره زيات وي مزدوري به يې هم هغومره زياته وي او که طلب کم وي نو مزدوري به يې هم په هماغه اندازه کمه وي.

په سرمايه داري نظام کې که څوک وغواړي زياته ګټه تر لاسه کړي، نو د خلکو حقيقي اړتياوې څېړي او د هغې پر بناء نوي شيان منځ ته راوړي، په خپل کار او توليداتو کې نوښت رامنځته کوي ترڅو پرمختګ وکړي او عايد يې ډېر شي .

د سرمايه داري نظام له نظره که چيرې يو څوک د ګټې لاسته راوړنې لپاره آزاد پريښودل شي، نو هغه کولی شي خپلې ټولې ستونزې حل او يوه ډېره اندازه ګټه تر لاسه کړي .

سرمايه داري نظام داسې يو سيستم دی چې په هغې کې توليدي وسايل او ملکيتونه لکه ځمکه، فابريکې، تصدی، دکانونه، کاروباري ادارې او نور توليدي سامان آلات د خلکو فردي ملکيت دي او اشخاص کوښښ کوي چې توليدي وسايل د زياتو ګټو د لاسته راوړلو لپاره استعمال کړي او د دې واک او اختيار لري چې د نورې پانګې د لاسته راوړلو لپاره د خپلو وسايلو څخه استفاده وکړي، دا د فردي پلانګذاری اقتصادي نظام ګڼل کيږي چې فرد ته کاملاً ازادي ورکړل شوې او فرد د اقتصادي فعاليتونو اصلي مالک او واکدار پيژندل شوی.(نور عباد.۲۰۰۵). پدغه سيستم کې د عرضې او تقاضا قوه په ازاده توګه په کار وړل ګيږي او اقتصادي اساسي مسايل لکه څه بايد توليد

شي؟ د چا لپاره تولید شي؟ کله تولید شي؟ او تولید د مؤلدینو ترمنځ څرنګه وویشل شي؟ په سرمایه داري نظام کې د قیمتونو د مکانیزم په واسطه حل کیږي، یعنې پدې اقتصادي نظام کې د عرضې اوتقاضا یوځای والی د قیمتونو نظام ټاکي، د هرشي قیمت په مارکیټ کې د عرضې او تقاضا په واسطه په ازادانه ډول ټاکل کیږي او دولت په اقتصادي چاروکي مداخله نه کوي، د مؤلدینو د رقابت په نتیجه کي د اجناسو قیمتونه ټیټیږي او په ښه کیفیت سره اجناس بازار ته عرضه کیږي.

نو له همدې امله کولی شو سرمایه داري نظام په لاندې ډول تعریف کړو:

سرمایه داري نظام له هغه سیستم څخه عبارت دي چي هغه په شخصي ملکیت باندې ولاړوي اوپدې سیستم کې تولیدي وسایل او اقتصادي فعالیتونه د شخصي ګټې لاسته راوړلو لپاره په کار وړل کیږي. په نني وخت کې دغه نظام د نړۍ په پرمختللو هیوادونو لکه امریکا، اروپایي هیوادونه، جاپان او د نړۍ په ډیرو نورو هیوادونو کې په مختلفو طریقو سره مروج او عملي کیږي.(نور عباد.۱۳۹۰)

## ۳: مختلط یا ګډ اقتصادي نظام (Mix system)

د مرکزي پلان اقتصادي نظام او د بازار اقتصادي نظامونو صرف تیوریکي یا نظري اړخ درلود چي د تیوری له نظره د تحقیق، مطالعې او بررسۍ وړ ول اما په عمل کې سل په سلو کې د تطبیق او عملي کیدو امکان نه لري.(نورعباد.۱۳۹۰)

په مختلط اقتصادي نظام کې هم شخصي یا خصوصي تشبثات شته او قانوني شکل لري او هم په کې دولت د مالک او د کنترول کوونکي په توګه په اقتصادي فعالیتونو کې برخه لري، دغه نظام د لومړي ځل لپاره په(۱۸۷۵) میلادي کال کې په المان کې رامنځته شو. دلته په دغه نظام کې دولت او اشخاص دواړه خواوې کولی شي اقتصادي فعالیتونه ترسره کړي، دواړه خواوې دلته له یو بل سره ګډ فعالیتونه پرمخ وړي او یو له بل سره همکاري کوي چي دوی ته کومه ستونزه نشته.

مخلوط نظام داسې نظام دی چې په هغې کې هم فرد ته آزادي ورکړل شوې او هم دولت په اقتصادي مسایلو کې مداخله کولی شي او خپله په اقتصادي کارونو کې برخه او سهم اخلي، تولیدات کوي، تجارت ترسره کوي، اقتصادي او تولیدي پلانونه جوړوي، د اقتصادي پرمختګ لپاره برنامې او پالیسیاني ترتیبوي او د هغې سره سم د خپل هیواد په ترقۍ کې فعاله رول لوبوي.(صابر.۱۳۸۷)

په افغانستان کې د شاهي دورې په جریان کې مختلط اقتصادي نظام مروج وو. د ۱۹۷۳ کال د کودتا په اساس د خصوصي سکتور په وړاندې چې کومې آزادۍ موجودې وې محدود او وروسته بیا په ۱۹۷۸ کال کې د کمونستي کودتا له امله په بشپړ ډول سره له منځه لاړل، له دغه کال څخه وروسته آن د کمونستي دورې تر پایه پورې د خصوصي سکتور تولیدي برخه په دولت پورې وتړل شوه. د کمونسیتي نظام له سقوط سره سم د مجاهدینو حکومت رامنځته شو چې په دغه وخت کې اقتصادي فعالیتونه کاملاً له رکود سره مخ شول چې د اقتصادي سیاست او اقتصادي نظام د تطبیق لپاره کوم ضرورت پاتې نه شو. بلاخره د طالبانو نظام په نظام کې هیواد په یو اقتصادي مستعمره نظام باندې بدل شو چې په دغه وخت کې د یو معقول اقتصادي نظام بحث هم جایز نه ګڼل کیده.(غوثی.۱۳۸۵)

د یووشتمې (۲۱) پیړۍ په پیل سره په نړیواله کچه مختلط اقتصادي نظام د نورو اقتصادي نظامونو سره په رقابتي ډول د استفادې په سر کې قرار لري.

د پخوا په پرتله نن ورځ په افغانستان کې د بازار د اقتصاد څخه خبرې کیږي، مګر دا چې د بازار اقتصاد کوم ډول د تطبیق وړ وګرځي یا دا چې د دولت د مداخلې سهم او برخه دې څومره وي په دې هکله لا تر اوسه قوانین، مقررات او پالیسۍ شتون نه لري.(نور عباد.۱۳۹۰)

## ۴: د اسلام اقتصادي نظام (Islamic system)

انسانانو ته د ژوند کولو لپاره د اسلام توصیه داده چې دوی د ژوند تیرولو لپاره یوې ټولنې او اجتماع ته اړ دي، لکه څرنګه چې د دوی اقتصادي، روحي، مذهبي، سیاسي او کولتوري ضرورتونه په ټولنه کې د اوسیدو په صورت کې پوره کیدای شي نو برعکس دوی ته خوشحالي، غم او درد، اخلاص او فداکاریانې د ګوشه نشینی په حالت کې نه رامنځته کیږي بلکې دا ټول په ټولنه کې د نورو انسانانو سره د ګډ ژوند په نتیجه کې رامنځته کیدای شي. لکه څرنګه چې دوی د دښمن څخه د ځان ساتلو لپاره یو منظم سیاسي حکومت ته ضرورت او اړتیا لري، د اقتصادي ضرورتونو او احتیاجاتو د رفع کولو لپاره هم یوې منظمې ټولنې او نظام ته اړتیا دی ترڅو په خپلو منځونو کې کارونه سره تقسیم کړي، یو د بل ضرورتونه او حاجات پوره کړي، د طبیعي وسایلو څخه ګډه ګټه پورته کړي، د یو او بل د ضرورت وړ شیان تولید کړي او تولید شوي شیان او خدمات د یو اصل او قاعدې لاندې په خپل منځ کې سره وویشي. لنډه دا چې دا ټول کارونه یو سړی نشي سرته رسولی بلکې د دده ژوند له نورو سره د یوځای اوسیدلو په صورت کې تضمین کیدای شي او کله چې دوی سره یو ځای د چارو په پرمخ نیولو کې ګډ کار وکړ د دوی په منځ کې مختلف اړیکې پیدا کیږي چې دغه اړیکې د یو تنظیم او نظام شکل ځانته غوره کوي چې همدې نظام ته اسلام هم اقتصادي نظام وایي.(صابر.۱۳۷۰)

دغه نظام په اقتصاد کې د پراخه ملکیت، اختیاراتو او دندو لرونکی دی چې په دې برخه کې دولت ته د پراخه لاسوهنې، څارنې او مداخلې امکانات ور په برخه کوي، په دغه نظام کې ټولې اقتصادي سرچینې یا طبیعي زیرمې چې په هغو کې عامه ګټه نغښتې وي بیت المال نومیږي او د دولت په واک کې ګڼل کیږي لکه: ځنګلونه، کانونه، ځمکې، سیندونه، غرونه، اوبه او نور او پرته له دې په خصوصي فعالیتونو د څارنې او کنترول حق هم لري. د اسلام اقتصادي نظام خلکو ته په اقتصادي فعالیتونو کې آزادي ورکړې خو البته د دغه نظام په چوکاټ کې باید هر څه ترسره شي. دلته دولت د خصوصي فعالیتونو د نظارت او کنترول حق لري او دا حق هم د ټولنې د هوساینې په موخه ورته ورکړل شویدی.(رحیمي.۱۳۹۷)

په اسلامي نظام کې دولت ته د مداخلې د ورکولو اصلي موخه داده تر څو په ټولنه کې معنوي رشد او عدالت تأمين شي چې په نورو اقتصادی نظامونو کې بيا دغه موخه مادي هوساينه او اقتصادي پرمختګ ګڼل شوی.

په اسلامي اقتصادي نظام کې اقتصاد هدف نه ده بلکې اوچتو معنوي اهدافو ته د تحقق يوه وسيله ګڼل کيږي چې اسلامي اقتصاد معنوي ارزښتونه پياوړي کوي، په اسلامي يا معنوي اقتصاد کې د اقتصاد افزار او وسايل غير اخلاقي نه وي په داسي حال کې چې په نورو اقتصادي نظامونو کې اکثره غير اخلاقي افزار د اقتصاد د پياوړتيا لپاره کارول کيږي چې په اسلامي اقتصاد کې د دغه رنګه افزارو څخه ګټه اخيسته کاملاً ممنوع او جرم ګڼل کيږي.

د اسلام او سوسياليزم د اقتصادي نظامونو څخه پرته نور اقتصادي نظامونه وايي چې طبيعي منابع، ځمکې، ځنګلونه او نور د هيچا په ملکيت کې نه دې او هر چا چې په خپل ملکيت کې شامل کړ د هغوی ملکيت ګڼل کيږي چې دغه چاره په خپله په ټولنه کې يو ډول تشنج او اختلافات را زيږوي.

## په اقتصادي نظامونو کې د دولت د مداخلې اړتيا

په څلورو نړيوالو اقتصادي نظامونو کې اشتراکي او سرمايه داري نظامونه يو د بل سره پوره مخالف نظريات لري. اشتراکي نظام په ټوله کې د ټولو اقتصادي فعاليتونو د اجرا واک دولت ته ورکړی، له دې سره بيا مختلط نظامونه چې د اسلام اقتصادي نظام هم په کې شامل ده، په اقتصادي فعاليتونو او توليداتو کې د دولت مداخلې ته پوره احترام لري او کاملاً د اسلامي دولت د مداخلې ملاتړ کوي خو پاتې شوه د سرمايه داري نظام نظريات چې دا د نورو نظامونو په خلاف عمل کوي او د دي غوښتونکی دی چې معاملات او توليدات بايد افرادو او خصوصي سکتورونو ته پريښودل شي، دغه نظام په اوايلو کې د دولت د مداخلې طرف داره نه وو او نه يې غوښتل چې په اقتصادي چارو کې دې دولت کومه مداخله ولري پس زمونږ بحث به تر ډيره د همدې نظام پر نظرياتو وي.

سرمایه داري اقتصادي نظام چې اوس مهال په نړۍ کې اکثره پرمختللي هیوادونه یې کاروي د ډیرو نیمګړتیاو درلودونکی دی، همدغه نیمګړتیاوې او کمزورتیاوې دي چې دغه نظام یې له یو لړ پښتنو او ګرویګنو لاندې راوستی. د نورو نظامونو پیروان خو پیږده آن دا چې د همدې نظام پیروان او علما هم په ځینو برخو کې پر دغه نظام نیوکې لري.

د سرمایه داري نظام وروستني پلویان بیا وایي چې دولت باید د اقتصاد په ډګر کې تولیدي فعالیتونه تر سره نه کړي بلکي د اقتصادي نظام د ډاډمنتیا لپاره باید صرف انتظامي دندې پرمخ بوځي، په دې معنی چې دولت باید د قوانینو، مقرراتو او نورو تدابیرو په وضع کولو سره یو ډول نظم په اقتصاد کې رامنځته کړي تر څو د اقتصاد سره مرسته وشي.

همداراز د دغې نظریې په لومړیو کې د اقتصادي فعالیتونو لپاره د زیربنایي جوړښتونو جوړولو ته هم اجازه نه ورکوله خو وروسته بیا کلاسیک پوهان او د هغوی نور پلویان د تجربو له مخې په دې و پوهیدل چې له یوې خوا په ټولنه کې پرته له اقتصادي زیربناوو څخه پرمختیا ناشونې ده او له بلې خوا خصوصي وګړي په دې برخه کې د ځان لپاره د ګټو د نه موندلو له امله دغو برخو ته علاقمندي نه ښکاره کوي نودولت باید په اقتصادي چارو کې د نورو چارو ترڅنګ د زیربنایي تاسیساتو د جوړولو دندې پرمخ بوځي ځکه چې اشخاص او افراد دغه ډول زیربنایي ساختماني دندې نه شي ترسره کولی.

د سوداګرانو د مکتب پیروان وایي چې د دغه نظام مهم اقتصادي سیاست دادی چې په سوداګرۍ کې مثبت بیلانس ترلاسه شي، دوی وایي چې دغې موخې ته د رسیدو لپاره په عمومي توګه اقتصادي چارو کې د دولت لا زیاتې مداخلې او ګډون ته اړتیا ده. دوی وایي چې دولت باید په خاصه توګه لاندې چارو ته پام او مداخله وکړي:

۱ . د استخدام د کچې لوړول او د هیواد دننه د تولید د کچې لوړولو په خاطر د دولتي تصدیو تأسیس او پیاوړتیا تر څو صادرات زیات او واردات کم او په پایله کې د سوداګرۍ یا تجارت مثبت بیلانس ترلاسه شي.

۲ . خصوصي متشبثینو ته په مستقیم او غیر مستقیم ډول د مالي او پولي مرستو ورکول تر څو خصوصي منابع تقویه او په پایله کې د تجارت مثبت بیلانس ته لاره هواره شي.

۳ . د ګمرکي تعرفو د وضع کولو له طریقه د خامو او نیم کاره موادو د صادراتو مخ نیوی.

۴ . په واردیدونکو صنعتي محصولاتو باندې د ډیر اوچت محصول وضع کول تر څو د وارداتي محصولاتو د راتګ مخه ونیول شي او په دې توګه د هیواد د اسعاري ورکړو اندازه کمه شي.

۵ . له بهر څخه په وارداتي خامو موادو باندې ډیر لږ ګمرکي محصول وضع کول او داسې نور

دا چې په هیواد کې خصوصي افراد د ځینو لاملونو (لکه د ګټې نشتوالی، د ګټې کموالی، د ګټې وروسته والی او نورو) له مخې یو شمیر ټاکلو عامه اجتماعي او اقتصادي اهدافو او خدماتو (لکه د زیربناوو جوړول، د لویو لارو، بندونو او ویالو جوړول، د علمي تحقیقاتي مؤسساتو جوړول، روغتیایي خدمات او تأسیسات او نور عام المنفعه تأسیساتو) ته لاسرسی نه لري او نه غواړي چې په هغه برخه کې کار وکړي او یا هم د دولتونو لخوا ورته په دغه برخه کې د تشبث، مداخلې او کار حق نه ورکول کیږي، نو اړتیا پیښیږي چې دولت باید دغه فعالیتونه په خپله ترسره کړي.

**۱ . د ټولنې د اړتیا وړ شیانو او خدماتو په عرضې کې د مارکیټ پاتې راتلل:**

ځینې وختونه افراد او خصوصي سکتور نشي کولی چې ځینې اجناس یا خدمات بازار ته عرضه کړي، له همدې امله لازمه ده چې عامه سکتور یې د وړاندې کولو بندوبست وکړي. خصوصي سکتور معمولاً په هغو برخو کې پانګونه کوي، چیرته چې خپله ګټه احساسوي، په هغو برخو کې چې ګټه یې نه وي، پانګه اچوونه نه کوي، نو د عامه سکتور دا دنده ده، ترڅو هغه ساحې تر خپل کنټرول لاندې راولي، کوم چې خصوصي سکتور یې د عدم علاقمندۍ له

وجهي تر خپل پوښښ لاندې نه دي راوستي او هلته کار نه دی شوی.(رحیمي.۱۳۹۷)

**۲. د عاید په توزیع کې د مارکیټ پاتې راتلل:** په خصوصي سکتور باندې یوه نیوکه داده چې د عاید په توزیع کې پاتې راغلی، ځکه کله چې خصوصي سکتور ګټه کوي، نو دغه ګټه بیرته په ټولنې باندې نه ویشي، مګر عامه سکتور بیا د دې برعکس کړنه تر سره کوي، یعنې کله چې دولت عواید تر لاسه کړي، نو دغه عواید بیرته د عامه مصارفو له لارې په مصرف رسوي، چې په پایله کې عامه عواید په ټولنه کې بیرته توزیع کیږي. یعنې دا چې هغه عواید چې دولت یې د مالیاتو یا نورو لارو تر لاسه کوي هغه د ټولنې د هوساینې په موخه بیرته په مصرف رسوي.

**۳. د عمومي استخدام او د قیمتونو د ثبات په لاسته راوړنه کې د مارکیټ پاتې راتلل:** خصوصي سکتور همیشه په عمومي ګمارنه یا استخدام او د قیمتونو د ثبات په لاسته راوړنه کې پاتې راځي، چې یاده تشه معمولاً د دولت لخوا ډک کیږي(دولت هم د استخدام په برخه کې او هم د قیمتونو د ثبات په برخه کې فعالانه ونډه اخلي) دا په دې معنی چې دولت معمولاً ډیر کسان استخداموي او هم د قیمتونو د لوړیدو په صورت کې دولت د خلکو د ضرورتونو د رفع کولو په خاطر اجناس په لوړ قیمت پیري(اخلي) او په ټولنه باندې یې په ارزانه قیمت بیرته پلوري.

**۴. د ګټې نشتوالی:** څرنګه چې د سرمایه داري نظام یا د خصوصي اقتصاد اساسي هدف په لومړي مرحله کې د ګټې لاسته راوړل دي، په دې توګه خصوصي افراد او سرمایه داران اصلاً په عامه پروژو کې د پانګې اچونې څخه ډډه کوي ځکه چې په عامه پروژو کې ګټه شتون نه لري او که ګټه شتون هم ولري په اوږدې مودې کې خپله سرمایه او یا ګټه بیرته راګرځي او یا هم په دغو پروژو کې ګټه کمه وي چې په همدې توګه دولت باید دغه دنده په غاړه واخلي او په اړه یې فعالیت او تشبث وکړي.

**۵. د پانګې کمښت:** د پانګې کمښت یو بل لوی او اساسي مشکل دی چې په خصوصي اقتصاد کې وجود لري، له همدې امله خصوصي اقتصاد نشي کولی چې په لویو پروژو کې پانګه اچونه وکړي، همدا وجه ده چې په ډېرو هیوادونو کې لوی صنایع په ملي شکل پرمخ وړل کیږي، لکه د اورګاډي پټلۍ، د اوسپنې د ویلې کولو لویې کرې، د اوبو او بریښنا د بندونو جوړول او نور

**۶. سري فعالیتونه:** ځینې وخت دولتونه په ټولنه کې د ګډوډیو د رامنځته کیدو د مخنیوي په خاطر د ځینو اجناسو د تولید واک په خپل اختیار کې ساتي، لکه د اسلحې تولید، د پیسو نشر، دولتي مطبعې، مخدره مواد او نور هغه څه دي چې دولت یې خصوصي تصدیو ته د تولید او کاروبار اجازه نه ورکوي، نو همدا وجه ده چې دولتي یا عامه تصدۍ باید دا فعالتونه ترسره کړي.

آدم سمیت چې د اقتصاد پلار بلل کیږي او د کلاسیک اقتصاد له مشهورو علماو څخه شمیرل کیږي په دې نظر دی چې(پریږدئ چې بازار کار وکړي) یعنې دولت باید په اقتصادي چارو کې مداخله ونکړي. د نوموړي دغه نظر د کارل مارکس لخوا چې د اشتراکي نظام پلوی دی له سختې نیوکې سره مخ شو، مارکس وایي که چیرې بازار په خپل سر پریښودل شو نو سرمایه داران به غریبان وخوري، دا په دې معنی چې سرمایه داران به نور هم سرمایه دار او کارګر یا غریبه طبقه به نور هم فقیر او ذلیله شي چې د همدغه حالت رامنځته کیدل په ټولنه کې بې عدالتي را زیږوي او دې ته لاره هواریږي چې اقتصاد یې له سقود او رکود سره مخ شي.

کارل مارکس وایي چې ټول اقتصادي فعالیتونه دې دولت په خپله پرمخ بوځي ترڅو د ټولنې ټول خلک یو شان له اقتصادي تولیداتو او خدماتو څخه استفاده وکړی شي.

جان مینارد کینز چې یو انګلیسی اقتصاد پوه دی، نوموړی هم د آزاد بازار له افراطي نظر سره مخالفت ښیي، نوموړی دا مني چې آزاد بازار د تولید د تنظیم او نوښتونو د رامنځته کولو په نظر کې نیولو سره مؤثره ده اما انفرادي کارګران نشي کولی چې د اقتصاد په نورو او لویو ساحاتو باندې نظارت او

ځار ولري چې همدا په بازار باندې عدم نظارت د دوی د لمنځه وړلو لپاره یو لامل کیدای شي. پس نوموړی په دې معتقد دی چې په اقتصادي چارو کې د دولت د نظارت او مداخلې له امله دغه انفرادي کارګران کولی شي خپلې دندې په آسانۍ او ښه شکل سره پرمخ بوځي.

همدا راز سمویلسن او فرانکو چې د اقتصاد له مشهورو علماو څخه شمیرل کیږي هم په دې عقیده دي چې د اقتصاد په هکله د خصوصي سکتور پریکړه ډیری وخت ګټوره نه تماميږي، بناءً دولت باید د خپلو اقتصادي سیاستونو(پولي سیاست، مالي سیاست) په پلي کولو سره د اقتصادي نوساناتو د استقرار په موخه په اقتصاد کې مداخله وکړي.

دا چې د آزاد بازار اقتصادي نظام د ځینو نیمګړتیاو درلودونکی دی نو د هغې په خپل سر پریښودل د دې لامل کیدای شي چې اقتصاد یو ناسم لوري ته حرکت وکړي نو د کنټرول په خاطر یې د دولتي تدابیرو نیول معقول ګڼل کیږي او د دولت مداخله د دې لامل کرځي چې اقتصاد د ثبات او استقرار لوري ته سوق کړي، پس دولت باید د ټولنې د اقتصادي ثبات د رامنځته کیدو په موخه د استقرار له سیاست، د رقابت له سیاست، زیربنایي سیاست، زراعتي سیاست، د استخدام سیاست، اجتماعي سیاست او له پولي او مالي سیاستونو څخه کار واخلي.(نورعباد.۱۳۹۰)

## د اقتصاد د علم پیژندنه

اقتصاد د محدودو یا کمیافته منابعو د تخصیص کولو د لارو چارو علم دی، څرنګه چې د تولیدي سرچینو ذخایر لایتناهي نه دي نو د اقتصاد تیوریګانې د دغو محدودو سرچینو د غوره کارونې لپاره پوهه او لارې چارې وړاندې کوي.

په بله وینا ویلی شو چې اقتصاد د محدودو موجودو وسایلو او تدابیرو څخه په استفادې د انسان د نامحدودو خواهشاتو او ضروریاتو د رفع کولو علم ته ویلی کیږي.

دا چې وسایل او منابع کم دي  او په ځنګ کې یې د انسانانو خواهشات او ضروریات ډیر دي نو په همدې خاطر اقتصادي څیړنو کې مونږ. تل د اختیاراتو(options) یعنې د موجوده امکاناتو او متبادلو(alternatives) شیانو او لارو چارو په هکله خبرې کوو.  دغه څیړنې بنایي په ټول ملت، یوولایت یا یوې کورنۍ باندې متمرکزې وي،  د اقتصادي څیړنو طریقې تل یو شان بڼه لري.  د یو عمل اقتصادي ارزونه د هغه عمل د ګټې او لګښت په معیار ترسره کیږي داسې چې  هغوی لګښت او ګټې پر تله که چیرې د عین سرچینو لپاره په




FIGURE 1-1 Society's basic production and distribution problems.

متبادله بڼه بل ځای کاریدلي وای.

د ۱-۱شکل یو ساده شکل ده چې د یوې ټولنې د تولید او توزیع ستونزې بیانوي .د شکل چپ اړخی (amorphous area) یا یوه بې نظمه او بې شکله ګډوډه ساحه ده او د اقتصادي سرچینو ذخایر یا ټولګه ښیي، دغه اقتصادي سرچینې په دریو برخو ویشل شوي چې ځمکه، کار او پانګه ده  چې د دریو واړو عرضه محدوده ده.(ه، کارل، ۱۳۹۱)

په دغه بې نظمه او بې شکله ساحه کې له ذخایرو څخه د کار اخستنې په موخه په ذخایرو اقتصادي فعالیت او کار ترسره کیږي، نو اقتصادي فعالیت هغه

پروسه ده چې په ترڅ کې يې دغه سرچينې په نهايي کاليو او خدماتو بدليږي کوم چې خلک يې د مصرفولو هيله لري. د شکل منځنی برخه نهايي کالي او خدمات ښيي کوم چې له همدغو سرچينو څخه توليد شوي او دغه سرچينې کيدای شي چې يا په ماهرانه بڼه او ياهم په ضايع کيدونکي شکل (wasteful) وکارول شي حتمي ده چې د معلومې اندازې کاليو د توليد لپاره د ډيرو سرچينو کارول کومه اضافي لاسته راوړنه به ونلري. له همدې امله وايو چې اقتصاد د مؤثريت efficiency علم دي.

مګر اقتصادي مؤثريت Economic Efficiency پراخ مفهوم لري او دا يواځې د فزيکي توليد تخنيکي او کمي مؤثريت نه ښيي بلکې دا د يواقتصادي سيستم وړتيا ښيي چې د خلکو د اړتيا وړ شيانو او خدماتو يوه ټولګه توليد کړای شي، دا په کامل ډول مؤثريت نه ګڼل کيږي که چيرې ډير شيان په ښه ښايسته بڼه توليد او ډيزاين شوي وي ولې خلکو ته يې استعمال په زړه پورې نه وي مؤثريت نه ګڼل کيږي.

په ډير عام مفهوم سره اقتصاد د يوې ټولنې هغه بالقوه وړتيا ښيي د کوم له مخې چې د هغوی غوښتنې د هغوی د توليدي ظرفيت سره سر وخوري. اقتصاد سره د دې چې د(efficiency) علم ده په زياته اندازه د انصاف يا عدالت fairness علم هم ده، پوښتنه دا راولاړيږي چې په يو اقتصاد کې د توليديدونکيو شيانو او خدماتو څخه څوک ګټه اخلي؟

يو ځواب داده: هغه څوک چې د هغو د اخيستنې لپاره پيسې ولري، مګر ورپسې پوښتنه داده چې د خلکو تر منځ عايدات په کوم معيار ويشل شوي دي؟ آيا په ټولنه کې د عوايدو داسې توزيع وجود لري چې مطلوبه او مساعده وګڼل شي؟ د ۱-۱ شکل ښي اړخ داسې توزيع ښيي چې له مخې يې ځينې خلک شتمن او ځينې بيا غريب دي.

ځينې خلک د عوايدو د توزيع په اړوند ښه تعريف شوي پوهه او احساس لري، ځينې فکر کوي چې د يو شخص عايد د هغه د مؤلديت د هڅو نتيجه ده، هغه

چې زيات كاركوي نو په هماغه اندازه اجوره زياته اخلي، د اقتصاد په اصطلاح يا ترمنيالوژي کې د توليد د هر عامل اجوره په حاصل کې د نوموړي عامل سهم منعکسوي.
ځيني خلک باور لري چې په توليدي پروسې کې مؤلديت يواځينی عامل ده چې له مخې يې عايد ويشل شوی. هغه مهال چې پانګوال خلک موجود وي او له بلې خوا ځيني خلک له لوړې سره مخامخ وي نو خلک څکه فکر کوي چې اقتصادي سيستم د عايداتو د توزيع عادلانه سيستم نده څکه کيداي شي د عايد په دې ډول غيرمساويانه توزيع کې د خلکو ځينې ګروپونه په ښکتني اقتصادي سطحې کې قرار ولري. دا دومره ستونزمنه نده چې تل په يوه ټولنه کې غريب خلک موجود وي ولې دا مشکله ده چې قبوله کړو چې ټول خلک د اقتصادي برياوو او نيکمرغۍ يوشان چانس ونلري، د عوايدو د ويش په اړوند بله په زړه پورې نظريه د دوه نسلونو تر منځ سرمايوي انتقال حق دي، په يوه ازاده ټولنه کې ښايي چې ځيني خلک پرته له دې چې د توليد په پروسه کې په خپله ګډون ولري په زياته اندازه د شيانو او خدماتو څخه ګټه ترلاسه کوي، دا هغه خلک دي چې شتمني په ميراث ترلاسه کوي.
دا چې ولې مونږ دغه ډول انتقالات زغمو ترشا يې د دوه متضادو او سيالو ارزښتونو څواک موجود ده، له يوې خوا يو عمومي باور داده چې د خپلو ماشومانو لپاره د امکاناتو برابرول او هغوی ته د شته وو پريښودل نه يواځې د والدينو مسوليت ده بلکې د دې ترشا بل متحرک د هغوی اقتصادي څواک او له هغه لذت اخيستل دي.

په عين وخت کې داسې فکر کيږي چې دا غير عادلانه ده چې يوه ډله خلک دې له نورو څخه په لوړ موقف کې اوسي په دې خاطر چې د دوی پلرونو او نيکونو په برياليتوب سره دغه موقف ساتلي وه. په رشتيا چې لاهم دا ستونزې په بشپړه ډول نه دي حل شوي، زمونږ د ماليې او مالياتي قانون د دې لپاره يو مناسب او برابر حل وړاندې کوي، مونږ د ملکيت يا estate او ميراث ماليې وضع کوو مګر مالي بوج يې ډير زيات نرم او معتدل دی.

## د اقتصاد د څېړنې حقيقي او هدايتي بڼې

The positive and normative aspects of economic analysis

د اقتصاد د څېړنې دوه طريقې وجود لري چې يو يې حقيقي او بله هدايتي بڼه يا طريقه ده. په مثبت يا حقيقي څېړنه Positive analysis کې هڅه کيږي يو اقتصاد په هغه بڼه چې موجود ده تشريح او توضيح شي، دا په دې معنى چې وسايل او امکانات چې په هر شکل موجود دي ټولنه بايد د وخت په نظر کې نيولو سره د هغې څخه ګټه واخلي، مګر برعکس له دې څخه هدايتي څېړنه بيا دا راښيي چې يو اقتصاد بايد په څه ډول وي. دلته خيالات، پيشبيني ګانې او پلانونه بايد په نظرکې ونيول شي، نړيوال او نور چاروکې بايد د اقتصاد د پرمختګ لپاره فکر وکړي، د نورو پرمختياو لپاره بايد زمينه برابره کړي، د وخت مطابق بايد سهولتونه برابر شي، تعليم عصري شي او نور هغه څه چې انسان هغه ته ځان رسول غواړي بايد هغه ته کار وشي، يعنې هدايتي څېړنه دا ښيي چې يو اقتصاد د(په څه ډول بايد وي) په بڼه توضيح کوي، هدايتي څېړنه په هغه ذاتي قضاوت چې مونږ يې د اخلاقي ارزښتونو له مخې خپلوو ولاړه ده.

د دواړو تر منځ توپير کيداى شي چې په سګرټو د يو واحد ځانګړي ماليې د وضع کولو له مثاله توضيح کړو، ځانګړې ماليه Excise tax هغه ماليه ده چې په يو واحد شى او يا يوه کوچني ګروپ شيانو وضع کيږي.

د دغه ماليې يو واحد په يو ګيلن يا يو چارک شي باندې معلوم مقدار پيسې ګڼل کيږي د حقيقي يا مثبتې څېړنې په مرسته د دغه ماليې غبرګون اوتاثير تخمين کولى شو مثلاً مونږ وړاندوينه کولى شو چې د سګرټو پرچون قيمت به لوړ شي که چيرې توليدونکي د دې ماليې په ورکړه مکلف وي او مونږ به تمه لرو د دې لپاره چې د دې ماليې يوه برخه مصرفوونکو ته انتقال شوى اوسي نو دوى به د خپلو توليداتو قيمتونه لوړ کړي او د دغه لوړ قيمت په نتيجه کې به د سګرټو د خرڅلاو او مصرف مقدار راکم شي.

د مثبت يا حقيقي خيړنې په مرسته داهم ويلی شو چې د تمباکو ، چرسو او نورو دخانياتو نرخونه به هم لوړ شي ځکه دغه شيان د سګرټو نژدې متبادل شيان دي او د سګرټو په قيمتونو کې لوړوالی دغو شيانو ته د تقاضا د زياتيدلو سبب کيږي همدا راز مونږ کولی شو چې د مالي څخه ترلاسه کيدونکي عوايد هم تخمين کړو سربيره پردې دا تخمين هم کولاي شو چې قاچاقي فعاليتونه به پيل شي يا دا چې د اونۍ د اخرو ورځو د بيکارو او نشه يي خلکو ناستې او بنډار به د پخوا په شان لذت ونلري. دا چې پورتني اټکل شوي غبرګونونه د بيلا بيلو ارزښتونو له مخې ښه يا بد ګڼل کيږي يو ډول ذاتي قضاوت دی.

هدايتي خيړنه بيا د دې غوښتنه کوي چې مونږ د اړتيا وړ سګرټو او متبادلو شيانو لپاره مساعد يا مطلوب مقدار او اندازه معلومه کړو، په لري زماني مقطع کې په ټولني او خلکو باندې د سګرټو بدې اغيزې وخيړو چې آيا د اوس يا نن ورځې له تاوان څخه يې د سبا ورځې تاوان او زيان ډيره ده او که لږه او د هغې پر نباء تصميم و نيسو. د هغو په نظر چې د سګرټو ښناک خراب ګڼي په سګرټو د وضع کيدونکي ماليې د تاثيراتو ملاتړ کوي او ښه يې ګڼي او د هغو خلکو له انده چې غواړي خلک په اعظمي ډول په ژوندانه کې د انتخاب ازادي ولري نو د ماليې عين تاثيرات نه تاييدوي او ښه يې ګڼي.

دا مهمه ده، چې وپوهيږو زياتره وخت د اقتصاد دغه دواړه اړخونه سره ګډيږي. د کامل رقابت د شرايطو لاندې د قيمتونو او سرچينو د تخصيص ستر اقتصادي ماډل د اقتصادي مسايلو په اړوند د تخمين او وړاندوينې يوه قوي وسيله ده او دغه ماډل په خپله د مؤثريت تعريف رامنځ ته کړی، د انحصار يا مونو پولي غيرمؤثريت هم د رقابتي توليداتو، قيمتونو او حاصل د سطحې د مقايسې څخه ترلاسه کيږي. د کامل رقابت د ماډل نتايج زياتره وخت په دې خاطر نه ستايل کيږي چې دا يواځې هغه مهال صدق کوي چې د انتخاب دازادی او د خپلې خوښې تبادلې voluntary exchange ارزښتونه چې دغه ماډل ورباندې ولاړ ده منل شوي وي.

## د عامه اقتصاد بنسټونه

عامه يا دولتي اقتصاد د ملي اقتصاد يو له مهمو او په زړه پورې څانګو څخه ده، چې نسبت د ملي اقتصاد نورو برخو ته د يوې ټولنې د پرمختګ لپاره اقتصادي تحليلونه، تدابير، د ټولنې د تکامل لپاره د پلانونو، پاليسيو او سياستونو په طرحې او تطبيق باندې کار کوي، له همدې امله ده چې د عامه اقتصاد علم نظر د ملي اقتصاد نورو څانګو ته ډير او ښه علاقمندان لري.

په دغه فصل کې لومړی د عامه اقتصاد پيژندنه تر مطالعې لاندې نيول کيږي، چې له هغې وروسته په وار سره به نور موضوعات هم تر بحث او مطالعې لاندې ونيول شي.

## لومړی. اقتصادي فعاليتونه

په عمومي ډول اقتصادي فعاليتونه په دريو حوزو کې صورت نيسي چې دا درې حوزې د کورنۍ، حکومت او تجارتي حوزې په نامه پيژندل شوي دي چې اقتصاد پوهان بيا معمولاً دغه حوزې يا دغه اقتصادي ساحې د اصلي حوزې، عامه حوزې او تجارتي حوزې په نامه يادوي. دلته موږ د کورنۍ د اصطلاح پر ځای د اصلي حوزې اصطلاح ځکه يادوو تر څو د نورو انفرادي اشخاصو، افرادو، ډله ايزو او اجتماعي ګروپونو او مؤسساتو حق هم ادا شي، خو د دې برعکس بيا د حکومت يا دولت د اصطلاح پر ځای د عام يا عامه اصطلاح په کار وړو دا ځکه چې د عامه کليمې اصطلاح ټول دولتي او غير دولتي مؤسسات همدا راز ټول غير انتفاعي مؤسسات او سازمانونه په بر کې نيسي کوم چې عامه اقتصادي چارې او خدمات ترسره کوي.

**اصلي حوزه:** اصلي حوزه د انفرادي اشخاصو، کورنيو او اجتماعي مؤسساتو څخه متشکله ده، چې دا حوزه خپل د ضرورت وړ ټول منابع، توليد، توزيع او مصرف که هغه په لږه يا زياته اندازه وي، پرته د پيسو له استفادې څخه مديريت او تنظيموي.

اصلي حوزه د معیشیتي اقتصاد لپاره ډیره مهمه ده، دا ځکه چې په دغه حوزه کې کورنۍ، کلي او کلیوال اکثریت مصرفي اجناس په خپله تولیدوي او ډیر کم بیروني تجارت ته لاسرسی لري. له همدې امله د اصلي حوزې فعالیتونه غیر اقتصادي یا غیر تولیدي وي، چې د ځینو خصوصي اهدافو (انفرادي او کورنیو ګټو) لپاره رامنځته شوي چې هدف یې د ګټې لاسته راوړل نه، بلکې د اولیه ضرورياتو یا خواهشاتو پوره کول دي.

**عامه حوزه:** عامه حوزه کولی شي هغه محصولات او خدمات چې اصلي حوزه یا کورنۍ یې په یواځیتوب سره نشي ترسره کولی تر سره کړي، هغه محصولات او خدمات چې د یوې عامه حوزې(دولت یا عامه سازمانونو) پواسطه تولید او تر سره کیږي د عامه محصولاتو په نامه یادیږي. هر هغه شی چې د دولت یا نورو عامه سازمانونو او اداراتو لخوا تولید او د خلکو په اختیار کې ورکول کیږي د عامه شیانو په نامه یادیږي چې دغه تولیدونکو ته یې عامه حوزه ویلی کیږي، لکه د برق بندونه، امنیتي او صحي خدمات او نور چې دولت یې ترسره کوي.

عامه محصولات یا عامه خدمات له هغه محصولاتو څخه عبارت دی چې د هغې څخه د یوه کس پواسطه ګټه آخستنه نه شي کولی د نورو سهم او اندازه کمه کړي او نشي کیدای د یوه کس استفاده د نورو د استفادې مخه ونیسي، له همدې امله ده، چې عامه اجناس یا عامه محصولات او خدمات د خرڅلاو وړ هم نه دي او نشي کیدای په نورو باندې خرڅ شي.

سره له دې چې ځینې وختونه عامه سازمانونه ځینې محصولات او خدمات د خرڅلاو لپاره وړاندې کوي، مګر دا کار د دوی له اصلي دندو څخه نه شمیرل کیږي. عامه سازمانونه کچیرې غیر دولتي وي، خپل د ضرورت وړ پیسې د مالي کومکونو له لارې او که عامه اداري دولتي سازمانونه وي، خپل مالي ضروريات د مالیاتو، حق العضویتونو او نورو څخه تر لاسه کوي، د بیلګې په ډول کچیرې ستاسو پوهنتون یو غیر انتفاعي دولتي سازمان وي، نو د خپلو مصارفو او لګښتونو یوه اندازه به شاید د محصلانو د فیسونو څخه او یوه اندازه نور به د دولت لخوا ورکول کیږي.

په خلاصه ډول ویلی شو چې عامه حوزه د ځینو عمومي(له انفرادي او کورنیو ګټو پورته) اهدافو لپاره رامنځته شوي چې هدف یې د ګټې لاسته راوړل نه، بلکې د ګټې سرته رسول دي.

دغه ګټه رسول کیدای شي، د یوه هیواد د مرز او ځمکني بشپړتیا څخه دفاع، د فقر له منځه وړل، د تعلیم لپاره زمینه برابرول، صحي خدمات، د ژوند چاپیریال ساتنه، د مالي بازارونو ثبات او نورو سره ربط ورکړل شي.

**تجارتي حوزه** بیا له هغه حوزې څخه عبارت دی چې هر څه(اجناس او خدمات) د ګټې په منظور ترسره کوي. د دوی ټول فعالیتونه د ګټې په منظور تر سره کیږي. دا چې دغه موضوع زمونږ د درس پورې اړه نه لري له همدې امله نه غواړو په دغه موضوع باندې بحث وکړو.

## دویم. د عامه یا دولتي اقتصاد پیژندنه

عامه اقتصاد هغه علم دی چې د دولت د مالي او پولي وسایلو د پکار اچولو، اداري او تهیې څخه بحث کوي یا دا چې عامه اقتصاد د اقتصاد هغه برخه ده چې په هغه کې د دولت اقتصادي فعالیتونه او د دولت د مصارفو تمویل تر مطالعې لاندې نیول کیږي. یا په بل عبارت ویلی شو چې عامه اقتصاد په اقتصاد کې د دولت نقش ارزیابي کوي. په بازار کې د دولت مداخله د بازار د ناکامۍ د مخنیوي په خاطر د کامیابۍ لار بلل کیدای شي، په دې شرط چې سیاستوال، د دولت کارمندان او خلک یواځې د خپلو شخصي ګټو پسې نه وي. خو که داسې نه وي او سیاستوال د ملي ګټو پر ځای خپلو شخصي ګټو ته ترجیح ورکړي نوبنکاره ده چې دولت به هم ناکام شي.

په عامه اقتصاد کې د دولت اقتصادي فعالیتونه او اهداف مطالعه کیږي، دا چې په نړیواله توګه د هیوادونو د ملي ناخالصو تولیداتو موضوع او د هغې سنجش په دولت پورې اړه لري، نو له همدې امله ویلی شو چې نن ورځ عامه اقتصاد ډیر زیات مهم دی او همدغه ذکر شوي ټکي یې اهمیت لوړوي او د دغه علم د

مطالعې ارزښت څرګندوي. د عامه اقتصاد بحثونه د لومړي ځل لپاره د (۱۹) پیړۍ په اوایلو کې رامنځته شو او ورو ورو یې پرمختګ وکړ، وروسته پر(۱۸۶۰) کال کې عامه اقتصاد د کلي اقتصاد څخه خپل جهت(لورى) جدا کړ او د اقتصاد د یوې عمومي څانګې په نوم مطرح شو.

د (۲۰) پیړۍ په (۸)لسیزه کې دغه عمل په نوي شکل انکشاف وموند او هغه نظریې چې په هغه وخت کې رامنځته شوې وې د عامه اقتصاد په نوم ونومول شول چې په لومړي سر کې دغه مسایل په فرانسه کې د عامه اقتصاد په نامه نومول شوي دي.

په (۱۹۲۴) میلادي کال بیا په فرانسه کې د لومړي ځل لپاره د کوبرت(Koubert) کتاب چې د اقتصاد د یو عمومي څانګې(عامه اقتصاد) په اړه وو چاپ شو او دغه نوم د لومړي ځل لپاره وکارول شو چې په (۱۹۶۵) کال کې بیا لیف جوهان سن((Lef Johnson دغه اصطلاح استعمال او کوښښ یې وکړ ترڅو دغه اصطلاح په ټولنه کې مروج کړي چې نوموړی په دې کار کې بریالی شو او تر یوې کچې یې دغه اصطلاح مروج هم کړ.(صابر،۲۰۰۷)

## دریيم. د عامه اقتصاد دندې

د عامه یا دولتي اقتصاد علم د خپلې څېړنې د موضوع او کاري برخې له مخې یو شمیر دندې لري چې ځینې مهمې دندې یې په لاندې ډول ذکر کوو:(دودیال،۱۳۹۲)

۱. د دولت د مالي اقتصاد توضیح کول: د عامه اقتصاد د علم لومړنۍ دنده دا ده چې د دولت د مالي علم یا د دولت د اقتصاد اهمیت توضیح او د خصوصي اقتصاد په مقایسه یې تشخیص او اهمیت یې خلکو ته په ګوته کړي ترڅو خلک یې له ګټو څخه خبر او حکومتونو سره یې په تطبیق کې مرسته وکړي.

۲. د عامه اقتصاد په کچه د ټولو اقتصادي تدابیرو دعملي کولو ارزیابي کول: ټول هغه تدابیر چې دولت یې د خپلې ټولنې د پرمختګ لپاره په اقتصادي برخه کې طرحه او ترسره کوي د دغه علم لخوا ارزول کېږي چې آیا دغه تدابیر چې د دولت لخوا نیول شوي پر دغو اقتصادي فعالیتونو باندې مثبت تاثیر کړی او که نه، همداراز دغه علم دا دنده هم لري تر څو روښانه کړي چې دغه تدابیر پر نورو خصوصي فعالیتونو باندې هم تاثیر لري او که نه؟.

۳. د یوې ټولنې د ملي اقتصاد د فعالیتونو څېړنه، ارزونه او کنټرول: په دې کې دا ارزیابي کېږي، چې آیا په دغو فعالیتونو کې د عامه اقتصاد اهداف ترسره شوي دي که نه؟ که د پروژې مفیدیت د مصارفو په پرتله ښه وو، نو پروژه معقولیت لري او ښه ده. او که مصارف یې د مفیدیت په پرتله زیات وو نو پروژه معقولیت نه لري او ګټوره نه ده.

۴. د بیلا بیلو هیوادونو د عامه اقتصادونو څېړل او مقایسه: کله چې د یو عامه اقتصاد د علم څېړونکی د نورو هیوادونو د عامه یا دولتي اقتصاد په هکله پراخه معلومات ونه لري نو نشي کولای د خپل هیواد عامه اقتصاد د نورو هیوادونو د عامه اقتصاد سره مقایسه، تحلیل او ارزیابي کړي، له ښیګڼو څخه یې د خپل هیواد د عامه اقتصاد د پیاوړتیا لپاره استفاده وکړي او منفي نقاطو ته یې متوجه شي، نو څکه یواځې د خپل هیواد د اقتصاد په هکله د معلوماتو لرل کافي نه بلل کېږي، په تیره بیا دغه طریقه د پرمختیایي هیوادونو(لکه افغانستان په شان هیواد) لپاره ډېره د ارزښت وړ بلل کېږي.(دودیال،۱۳۹۲)

دا چې د عامه اقتصاد د علم له دندو څخه یوه دنده داده چې د نورو ګاونډیو هیوادونو دعامه اقتصاد په هکله باید پوره معلومات ولري ترڅو وکولی شي د هغو په رڼا کې خپل اقتصادي ستونزې حل او د پرمختګ لپاره یې ښېږ امکانات او تدابیر ونیولی شي نو اړتیا پیښیږي چې د نورو هیوادونو د عامه اقتصادونو په لاندنیو برخو باید ښه وپوهیږي او دا تر ټولو اړین بلل کیږي ترڅو په لاندې برخو کې ښه معلومات ولري:

۱. د نورو هیوادونو د بیلابیلو عوایدو په هکله باید معلومات ولري، چې عواید یې له کومو منابعو او په کومه اندازه تر لاسه کیږي؟

۲. د نورو هیوادونو مالیاتي سیستم له کوم ډول مالیاتو(مسقیم، غیر مستقیم) څخه جوړ دي. مالیاتي سیستم یې له کوم ډول مالیاتو څخه استفاده کوي او په هغې کې د تعدیل او بدلون امکان شته او که نه؟
۳. په نورو هیوادونو کې د دولت لګښتونه یا مصارف په کومو برخو او کومو اقتصادي سکتورونو کې ترسره کیږي او زیاتره توجه یې کوم سکتور ته اړولې؟

## څلورم. د عامه اقتصاد موخې یا اهداف

ښکاره خبره ده چې عامه اقتصاد په یوې ټولنې کې د هغې ټولنې د ملاتیر تشکیلوي، کله چې په یوه انسان کې د هغه د ملا تیر کمزوری وي نو ښکاره خبره ده چې نوموړی انسان هم کمزوری ، په ملا کړوپ او په لاره سم نه شي تللی او همداراز خپل ورځني چارې هم په ښه شکل نه شي ترسره کولی نو کله چې په یوې ټولنې یا یو هیواد کې هم د هغه هیواد عامه سکتور کمزوری وي نو ولسونه پر هغه حکومت بې باوره کیږي او خلک نشي کولی حتی په ډاډه شکل خپل ژوند پرمخ بوځي.

عامه سکتور د خلکو د هوساینې لپاره کار کوي، دولت مجبوره وي چې د خلکو د امنیت د تأمین په برخه کې عملي ګامونه پورته کړي، د تعلیم په برخه کې یې مختلفې برنامې ولري، روغتیا لپاره یې شرایط برابر کړي، لوړو زده کړو ته زمینه مساعده کړي، همداراز زراعت، مواصلات، اوبو او برېښنا، بهرنۍ اړیکې او نور عام المنفعه کارونه د دولت له مسؤلیتونو څخه شمیرل کیږي. دولت اړ ده چې دغو ټولو برخو کې خلکو ته ځواب ویونکی واوسي، دولت خپل ټول اقتصادي برنامې او ټول اقتصادي فعالیتونه د همدغه سکتور او همدغې برخې په وسیله کنترول او مدیریت کوي. د دولت داری لپاره ټول مصارف د همدغې برخې په وسیله تمویل او ترلاسه کیږي او همداراز د دغه علم پواسطه په مصرف رسیږي. نو ویلی شو چې د یوه هیواد هیڅ اقتصادي

فعالیت پرته له دغه علم څخه نشي ترسره کیدای او اړینه ده چې دولتونه باید خپلو عامه اقتصادونو ته خاصه پاملرنه ولري ترڅو د هغې په رڼا کې وشي کولی قوي اقتصاد ولري.

## پنځم. تمویل (Finance)

د اقتصاد په ادبیاتو کې د پانګې تهیه کولو ته تمویل ویل کیږي. اقتصاد پوهان وايي چې د پانګې د تهیې لپاره د هرې طرحې، پلان او نورو ټولو تدابیرو نیول او نورې ټولې هڅې په تمویل کې شاملیږي. یا په بل عبارت: د یو فعالیت د مخته وړلو لپاره د پیسو تهیه کول عبارت د تمویل څخه دی. نو ویلی شو چې د کاروبار لپاره د پیسو په هکله فکر کول او د چا څخه د پیسو اخیستل دا ټول په تمویل کې شمیرل کیږي. د پیسو یا پانګې تر لاسه کول د درې ډوله کارونو لپاره ترلاسه کیدای شي چې په خلاصه توګه یې په لاندې ډول یادونه کوو:

۱. که چیرته د یو کاروبار یا فعالیت د مخته وړلو لپاره پیسې تهیه شي دې ته **کاروباري تمویل**(Bussnis finance) وايي.

۲. او که چیرته د دولت، حکومتي یا عامه فعالیتونو د مخته وړلو لپاره پیسې تهیه شي دې ته **عامه تمویل**(Public finance) ویل کیږي.

۳. او که چیرته د یو فرد، شخص او یا یوې کورنۍ د فعالیت د ترسره کولو لپاره پیسې تهیه شي دې ته بیا **انفرادي یا خصوصي تمویل** ( Private Finance) ویل کیږي.

**۱. د کاروباري تمویل منابع**(Source of business Finance): که چیرته د کاروبار پیسې له نورو خلکو څخه د پور یا قرض په شکل تر لاسه شي دې ته پردی یا د غیر تمویل وايي او کچیرته کاروبار لپاره پیسې د کاروبار د مالکینو پواسطه برابر شي دې ته خپلنی یا خودي تمویل(Equity Finance) ویل کیږي.

د کاروباري تمويل لپاره پيسې له لاندې لارو څخه تمويل کېدلی شي:

**الف. پردی تمويل**(Debit Finance)**:** پردی تمويل په لاندې ډولونو يا د لاندينيو لارو څخه تر لاسه کېدای شي:

**۱. پيشکی** يا د مشتريانو څخه د وخت څخه وړاندې د پيسو تر لاسه کول(Advance From Customers): په يوه کاروبار کې پيشکي يا د پيشکيو اخيستل د پردی تمويل څخه شميرل کيږي. ځينې کاروباري ادارې په ټولنه کې د ښه شهرت څخه برخمن وي چې په ټولنه کې د دوی اجناسو او يا خدماتو ته ډيره تقاضا موجوده وي، نو دغه کاروباري ادارې د مشتريانو څخه پيسې په پيشکي ډول اخلي او بيا وروسته ورته اجناس او يا خدمات وړاندې کوي، چې دې ته پردی تمويل ويل کيږي.

**۲. بانک څخه نقده پيسې اخيستل**(Cash credit)**:** ځينې کاروباري ادارې د خپل کاروبار د تمويل لپاره د بانک څخه نقدې پيسې د تضمين په بدل کې تر لاسه کوي (البته دغه تضمين معمولاً د جايدادونو اسناد وي) او د پيسو څخه د استفادې په مقابل کې بانکونو ته سود ورکوي.

**۳. جنسي پور**(Trade Credit)**:** ځينې وخت بانکونه خپلو مشتريانو ته د ټاکلې مودې لپاره د نقدو پيسو پر ځای د هغوی د ضرورت وړ اجناس تهيه کوي. کله چې دغه ټاکلې موده پوره کيږي، مشتريان بانک ته د دغې جنس قيمت جمع کوي چې ورسره ورسره بانک ته د بانک ګټه يا سود هم د نقدو پيسو په شکل تاديه کوي چې دا هم د قرض يا پور يو ډول ده او په پردي تمويل کې حسابيږي.

د مثال په توګه داسې فرضوو چې: احمد يو جنراتور ته ضرورت لري، بانک نوموړي ته د نقدو پيسو پر ځای جنراتور اخلي چې د دغې جنراتور اصلي قيمت درې زره (۳۰۰۰) افغانۍ دی، خو نوموړی کس اړ دی چې بانک ته يو کال وروسته د شوي قرارداد په اساس څلور زره (۴۰۰۰) افغانۍ تاديه کړي، يعنې درې زره افغانۍ د جنراتور اصلي قيمت، جمع زر افغانۍ د بانک ګټه(سود) چې جمعاً څلور زره افغانۍ کيږي بايد بانک ته تحويل شي.

**۴. د کاروبار د پراختیا لپاره د ګټې ایسارول یا(RetainEaring):** دا په دې مفهوم کله چې کاروبار ګټه وکړي، د شریکانو د توافق په اساس ټوله ګټه یا د ګټې یوه برخه په کاروبار کې د نورې پانګې اچونې لپاره ایساریږي او نور د کاربار پر شریکانو ویشل کیږي چې دې ته هم پردی تمویل ویل کیږي. کومې پیسې چې د شریکانو یا مالک څخه د تصدۍ د کاروبار لپاره په تصدۍ کې ایساریږي د تصدۍ په پور یا قرض کې حسابیږي چې پردی تمویل ګڼل کیږي.

**۵. اجاره** (Leasing)**:** ځینې وخت کاروباري اداري د خپل کاروباري **فعالیت** د مختنه ورلو لپاره یوه ځمکه، یو کور، یو ماشین، موټر او نور د **معلومې** یا ټاکلې مودې لپاره په اجاره اخلي، کله چې موده پوره کیږي دغه ځمکه، کور، ماشین، موټر او یا نور **هغه څه** چې د کاروبار لپاره په اجاره اخیستل شوي ول بیرته خپل اصلي خاوند ته ورکول کیږي، البته د دغو شتمنیو د استفادې په مقابل کې کاروباري یوه اندازه پیسې(د کرایې یا اجارې په نامه) تادیه کوي، چې دا هم په پردۍ تمویل کې شاملیږي.

**۶. اوور ډرافټ** (Over Draft)**:** د اوور ډرافټ د قرار داد په اساس یو سوداګر د خپلو پیسو ترڅنګ چې په خپل بانکي حساب کې یې لري کولای شي چې یوه اندازه نورې ټاکلې پیسې هم د بانک څخه تر لاسه کړي. کله چې نوموړی سوداګر د خپلو پیسو پرته نورې ټاکلې پیسې د بانک څخه تر لاسه کوي په نوموړو پیسو باندې سود وضع کیږي.

د مثال په ډول:علي په خپل بانکي حساب کې سل زره(۱۰۰۰۰۰) افغانۍ لري، خو د بانک د قرارداد په اساس نوموړی کولای شي چې د سل زره افغانیو تر څنګ پنځوس زره(۵۰۰۰۰) افغانۍ نورې هم د بانک څخه ترلاسه کړي، کله چې علي د سل زره افغانیو پرته نورې اضافي پیسې(پنځوس زره یا د پنځوس زره افغانیو څخه کم) له بانک څخه ترلاسه کړي په هماغه اندازه وربانديې سود وضع کیږي، داسې فرض کوو چې علي د بانک څخه یوسل او شل زره (۱۲۰۰۰۰) افغانۍ وباسي، نو په دې وخت کې علي مجبوره دی چې په شل زره (۲۰۰۰۰) افغانیو باندې بانک ته سود ورکړي، نه په (۱۲۰۰۰۰) افغانیو باندې ځکه چې (۱۰۰۰۰۰) افغانۍ خو دعلي خپلې پیسې دي او دغه

(۲۰۰۰۰) افغانۍ د اوور ډرافټ په شکل د بانک څخه وباسي. د اوور ډرافټ پیسو فیصدي نظر بانکونو ته فرق کوي دا په دې معنی چې دغه د سود فیصدي په ټولو بانکونو کې یو شان نه ده بلکې هر بانک یې د خپلو پالیسو له مخې ټاکي.

### ۱. د پردي تمویل زیانونه

پردی تمویل چې مونږ ورته قرض یا پور هم وایو د دغه لارې څخه د کاروبار لپاره د پیسو ترلاسه کول ځینې زیانونه هم لري چې په لاندې ډول ورځینې یادونه کوو:

**الف. د سود تادیه کول**(Payment of Interest)
کله چې د کاروبار د تمویل لپاره پیسې په پور واخیستل شي یو تاوان یې دا دی چې د دغې پور سود باید تادیه شي. په کاروبار کې د کاروبار د مختنه وړلو لپاره اکثره پیسې د نورو خلکو څخه د سود په مقابل کې اخیستل کیږي چې په پایله کې کاروبار مجبوره ده د پورورړي خپلې پیسې سره د ټاکلي سود د پیسو سره شخص ته وسپاري.

**ب. پور ورکوونکی کاروباري محکمې ته راکش کولای شي**
که چیرې کاروبار په خپل وخت کې پور ورکونکي ته د هغه پور او یا سود ور نه کړي، نو پور ورکوونکی کولای شي، دغه کاروباري محکمې ته راکش کړي او له هغې لارې خپلې پیسې ورځینې واخلي، او کله چې یوشخص یا یو کاروبار په محکمې کې قضیه ولري واضحه ده چې خپل اعتبار له لاسه ورکوي چې نور مشتریان او یا نور پانګوال ورسره د معاملاتو د ترسره کولو شوق نه کوي چې دا د کاروبار لپاره په زیان تمامیږي.

## ۲. د پردۍ تمویل ګټې

پوریز یا پردۍ تمویل د کاروبار لپاره ډیرې ګټې لري، چې یو څو یې په لاندې ډول ذکر کوو:

### الف. د کاروبار پراختیا

نقدې پیسې په کاروبار کې د ملا تیر حیثیت لري، نو ویلای شو چې نقدې پیسې د کاروبار په پراختیا کې د پام وړ رول لري او پرته د نقدو پیسو د شتون څخه یو کاروبار نشي کولای ښه پراختیا وکړي. دلته متصدي یا د تصدۍ مالک د خپلنۍ سرمایې د نه درلودلو په صورت کې مجبوره ده تر څو دغه نقدې پیسې له نورو څخه د پور په شکل ترلاسه کړي او خپل اقتصادي چارو کې یې په مصرف ورسوي تر څو تصدي یې نور هم ښه تولیدات او خدمات ولري او پراختیا وکړي.

### ب. پور ورکوونکي د کاروبار په چارو کې د مداخلې حق نه لري

پور ورکوونکي د کاروبار په چارو کې د مداخلې حق نه لري یا په بله وینا: پور ورکوونکي نشي کولای چې د کاروبار په تصامیمو کې مداخله وکړي، دوی صرف کولای شي چې خپلې پیسې جمع سود په ټاکلي موده کې له کاروبار یا تصدۍ نه تر لاسه کړي، مګر که چیرته دغه پیسې د پور پر ځای د یو شمیر کسانو لخوا په دې شرط تصدۍ یا کاروبار ته راوړل شي، چې نوموړي کسان په کاروبار کې شریک او د کاربار مالکین وګڼل شي، نو بیا هغوی کولای شي، چې د کاروبار په تصامیمو کې هم مداخله وکړي.

### ج. کاروبار یا تصدۍ ته د ګټې د ډیرې برخې پاتې کیدل (Profit)

کله چې کاروبار ګټه وکړي، نو د کاروبار مالک د دې ګټې کمه برخه پور ورکوونکي ته د هغې د پور په بدل کې د سود په شکل ورکوي او د ګټې ډیره برخه د کاروبار مالک سره پاتې کیږي، مګر د دې برعکس که همدغه پیسې

يو چا نه واخيستل شي او د دې پيسو په بدل کې هغه په کاروبار کې شريک کړاى شي، نو بيا د ګټې نيم په نيمه هغه ته د هغې د شراکت له وجهې ورکول کيږي.

**د. د کاروبار له توقف څخه مخنيوى**

کله چې يو کاروبار له توقف سره مخ کيږي او په دې وخت کې د کاروبار له مالک يا مالکينو سره نقدې پيسې شتون ونه لري نو ترټولو غوره لاره داده چې د کاروبار د توقف څخه د مخنيوي په خاطر له نورو خلکو څخه قرض او پور واخيستل شي. يو کاروباري کولاى شي چې د خپلو عاجلو او بيړنيو مصارفو د تمويل لپاره پور تر لاسه کړي، نو د پور ګټه همدا شوه چې کاروبار له توقف څخه پرې ساتل کيږي.

**هـ. د کاروبار د انحلال مخنيوى**

ځينې وخت د پيسو د نشتون له مخې يو کاروباري نشي کولاى چې خپل مصارف تمويل کړي او کاروبار يې له منحل کيدو يا له منځه تلو سره مخامخ کيږي نو په دغه وخت کې کاروباري کولاى شي پور تر لاسه کړي او د انحلال مخنيوى وکړي.

**و. د پور د ورکړې له امله د اعتبار ترلاسه کول**

کله چې کاروبار خپل پورونه په خپل وخت تاديه کړي، نو دغه کاروبار يا شخص د قرضې په برخه کې اعتبار تر لاسه کوي او په راتلونکې کې کولاى شي چې په آسانۍ سره نور پور هم تر لاسه کړي، دا ځکه چې پور يې په ټاکلي وخت کې تاديه کړى او اعتماد يې ساتلى دى.

**ب. خپلنى تمويل**(Equity Finance)

کله چې د کاروبار د مخته بيولو لپاره د کاروبار د مالکينو لخوا پيسې تهيه شي، دې ته خپلنى تمويل وايي. يا په بله معنى، کله چې د يو کاروبار مالک يا مالکين د نورو خلکو څخه د کاروبار د شروع کولو لپاره قرض او پور ونه کړي او په

خپله سرمایه کاروبار پیل کړي دغې سرمایې ته خپلنۍ تمویل ویلی کیږي. مثلاً: احمد سل زره(۱۰۰۰۰۰) افغانۍ لري پر همدغو پیسو غواړي یو کاروبار پیل کړي چې دغه سل زره افغانیو ته خپلنۍ تمویل وایي.

**۱. د خپلني تمویل ګټې**

واضحه ده چې خپلنۍ تمویل د مالک د خپلو پیسو درلودل او په کاربار کې د هغې څخه ګټه اخیستل له ګټو څخه خالي نه ده چې دغه ګټې یې په لاندې ډول تر بحث لاندې نیسو:

**الف. د اوږدې مودې لپاره د پانګې د ساتلو امکان:** دا په دې معنی، هغه پیسې چې کاروبار ته د کاربار د مالکینو لخوا راوړل کیږي په کاربار کې د اوږدې مودې پورې پاتې کیږي. که چیرته د دې برعکس پیسې نورو خلکو څخه په پور واخیستل شي، ممکن پور ورکوونکي ډیر ژر خپلې پیسې له کاروبار یا متصدیانو څخه وغواړي.

**ب. د پور له اندیښنو خلاصون:** د خپلنۍ پانګې بله ګټه داده چې کاروباریان د پور د اندیښنو څخه خلاص وي، ځکه کله چې پیسې په خپله د کاروبار مالکینو لخوا برابر شي، نو هغوی سره د پور د ورکړې اندیښنه نه وي.

**ج. په پور ورکوونکو باندې د ګټې نه ویشل:** دا په دې معنی کله چې کاروبار ګټه وکړي، نو د کاروبار مالکین اړ نه دي، چې د ګټې یوه برخه پور ورکوونکو ته د هغوی د پور په بدل کې د سود په شکل ورکړي، ځکه کومې پیسې چې په کاروبار کې شتون لري، هغه ټولې د کاروبار د مالکینو دي، نو د سود د ورکړې سوال نه پیدا کیږي او ټوله ګټه کاروبار پورې مربوط کیږي.

**د. د پور د نشتوالي له وجهې د پور نه تادیه کول:** چون کاروبار د چا نه پوروړی نه دی، نو د پور بیرته ورکولو ویره هم نه پیدا کیږي او ټوله ګټه نوموړي کاروباري یا تصدۍ ته پاتې کیږي.

**ه. د پور د ترلاسه کولو وړتیا:** کله چې کاروبار د چا نه پوروړی نه وي، نو خلک په کاروبار باندې تر ډیره بریده باور کوي او په آسانۍ سره ورته پور ورکوي، ځکه دغه کاروباري اداره پوروړې نده.

## ۲. د خپلنۍ تمویل زیانونه

خپلنۍ تمویل یا د مالک یا شریکانو د پیسو څخه په کاربار کې ګټه اخیستل سره له دې چې ګټې یې درلودې نو د یو لړ زیانونو درلودونکی هم دی چې دغه زیانونه یې په لاندې ډول دي:

**الف. د غیر ضروري نقدو پیسو ساتل:** که چیرته کاروبار ته د کاروبار د مالکینو لخوا نقدې پیسې د کاروبار د مخته وړلو لپاره راوړل شي، نو کیدای شي، د دغو پیسو یوې برخې نه استفاده ونشي. د نقدو پیسو هغې برخې نه چې استفاده نه ده شوې هغه غیر ضروري پیسې ګڼل کیږي، خو د دې برعکس که چیرته کاروباریان د کاروبار د تمویل لپاره پیسې له بانک یا نورو خلکو څخه قرض واخلي، نو هغومره پیسې به قرض کوي، څومره چې په کاروبار کې ورته ضرورت دی، ځکه که چیرته ضرورت څخه زیاتې پیسې قرض کړي، نو بیا مجبوره دي چې ډیر سود ورکړي، نو داسې ویلی شو چې که چیرته کاروبار ته د تمویل لپاره پیسې په پور واخستل شي، نو بیا د اضافي غیر ضروري پیسو د اخیستلو ضرورت نه پیداکیږي، ځکه چې د سود د ورکړې ویره وي، خو که چیرته د کاروبار د تمویل لپاره د خپلو پیسو نه استفاده وشي، نو ځیني وخت د دې امکان شته چې د پیسو یوې برخې نه استفاده ونه شي چې دې ته غیر ضروري نقدې پیسې ویل کیږي.

**ب. د پیسو په تخصیص کې د نظر نه یووالی:** چون کاروبار ته د مختلفو شریکانو لخوا نقدې پیسې راوړل کیږي، نو د دغو پیسو په تخصیص کې هم مختلف نظرونه موجود وي، چې په پایله کې ستونزې راولاړیږي.

## عامه تمویل (Public Finance)

عامه تمویل د عامه اداراتو او عامه سازمانونو مالي فعالیتونه مطالعه کوي او د دې پواسطه د دولت لګښتونه او د دغو لګښتونو د تمویل تخنیکونه او لارې چارې څېړل کیږي. د عامه تمویل څېړنه موږ ته دا راښیي چې وپوهیږو ولې ځینې خدمات د دولت لخوا عرضه کیږي او ولي دولت په بیلا بیلو مالیاتو باندې تکیه لري، د مثال په ډول ولې د دفاعي ځواک اندازه او تأسیس د عامه سکتور په غاړه ده، په داسې حال کې چې د خوراکي موادو د اندازې ټاکل او عرضه د خصوصي سکتور لخوا برابریږي؟ او ولې هیوادونه د یوې واحدې مالیې پر ځای په بیلا بیلو مالیاتو تکیه کوي چې د عامه لګښتونو لپاره د اړتیا وړ عواید تهیه کړي؟

په عامه مالیاتو کې موږ ځینې قوانین او د تصمیم نیونې پروسې هم مطالعه کوو. د مثال په ډول د بودیجې جوړولو بیلابیل تخنیکونه، لارې چارې، قوانین او داسې نور.

ادم سمیت د عامه تمویل لپاره څلور اصوله وضع کړي دي، چې دغه څلور اصوله نه یواځې د مؤثریت له مخې د پاملرنې وړ دي، بلکې د دغو اصولو په مراعاتولو سره اجتماعي عدالت هم تأمین کیدای شي، نو ویلی شو چې عامه تمویل هغه وخت مؤثره تمامیدای شي چې دغه څلور اصله عملي شي:

۱. حب الوطن او هیواد پالنه: د هر ملت لپاره باید دا یوه مهمه موضوع وي چې څنګه د خپل حکومت په تمویل او مرستې کې ونډه واخلي، څومره چې ممکنه وي دوی باید د خپلو شخصي مسؤلیتونو او ګټو په تناسب د خپل ملک او هیواد د ساتنې او هوساینې لپاره فکر او کار وکړي، نوموړی وایي چې له خلکو سره باید د هیواد پالنې او هیواد سره د مینې، د خلکو د هوساینې او ټولنې لپاره د سهولتونو د غوښتنې ملي روحیه موجوده وي او دې لپاره دولت باید کار وکړي چې پرته له دې څخه حکومتداري به له ستونزو سره مخ وي او کارونه به یې په ښه شکل پرمخ نه ځي. دا د دولت مسؤلیت ده تر څو په ټولنه کې

خلکو ته د هیواد پالنې، ټولنې ته د احترام، د مشر او کشر د حقوقو، ټولنیز قانون او اصولو، د ټولنې اسلامي او ملي ارزښتونو ته درناوی او نورو په هکله عامه پوهاوی ترسره کړي او خلک په دې وپوهوي چې حکومت عامه کارونه ترسره کوي او دغه عامه کارونه د عوامو یا ولسونو د خیر، ښیګڼې او د هغوی د ژوندانه د هوساینې او ترقی په خاطر ترسره کیږي تر څو خلک د دغو مسایلو په پوهیدا سره له حکومت سره مرسته وکړي او حکومت یې له امله وشي کولی خپلې چارې په ښه توګه سرته ورسوي.

۲. د مالیې اجباري والی: هغه مالیه چې هر شخص یې په تادیه کولو مکلف دی، باید یقیني وي، مالیات باید یو اړخیز شکل ونه لري، د تادیې وخت، د تادیې طریقه او د تادیې مقدار ټول باید د مالیاتو تادیه کونکې ته په اسانۍ روښانه وي.

۳. هره مالیه باید چې په هغه وخت او هغه طریقه وضع شي چې تأدیه کوونکي ته یې په تأدیه کولو کې اساني وي .

۴. د مالیې مناسب والی: هغه مصارف چې د مالیې راټولو لپاره ترسره کیږي، د هغه پیسو څخه لږ وي کوم چې د مالیې په شکل راټولیږي. همداراز مالیات باید د خلکو کاروبار او عوایدو ته کوم زیان ونه رسوي.

## د لومړي فصل پوښتنې

لومړی پوښتنه: لوی او کوچنی اقتصاد تعریف او کاري ساحې یې په ګوته کړئ؟

دویمه پوښتنه: عامه اقتصاد تعریف کړئ؟

دریمه پوښتنه: د عامه اقتصاد کاري ساحې کومې دي، تشریح یې کړئ؟

څلورمه پوښتنه: اقتصادي نظام څه ته ویلی کیږي، تعریف یې کړئ؟

پنځمه پوښتنه: سرمایداري نظام کوم ډول نظام دی او د عامه اقتصاد په هکله یې نظر څه ده واضح یې کړئ؟

شپږمه پوښتنه: مرکنتلیزم چې د سرمایداري نظام یوه څانګه ده د سوداګرۍ په بیلانس کې د مثبت بدلون د رامنځته کولو په موخه له حکومت څخه په کومو برخو کې د مداخلې غوښتنه کوي، تشریح یې کړئ؟

اوومه پوښتنه: اسلامي اقتصادي نظام د عامه اقتصاد په هکله څه نظر لري، واضح یې کړئ؟

اتمه پوښتنه: په اسلامي اقتصادي نظام کې دولت ته د مداخلې د ورکولو څخه موخه څه ده، واضح یې کړئ؟

نهمه پوښتنه: د اقتصاد د حقیقي او هدایتي بڼې څخه هدف څه ده، تشریح یې کړئ؟

لسمه پوښتنه: د عامه اقتصاد دندې کومې دي، تشریح یې کړئ؟

یوولسمه پوښتنه: د عامه اقتصاد یو عالم باید د نورو هیوادونو د اقتصاد په

کومو برخو کې معلومات ولري، تشریح یې کړئ؟

دولسمه پوښتنه: تمویل څه ته ویلی کیږي، تعریف یې کړئ؟

دیارلسمه پوښتنه: د کاروبار لپاره پیسې د کومو لارو څخه ترلاسه کیدای شي، تشریح یې کړئ؟

څوارلسمه پوښتنه: اووردرافت څه ته ویلی کیږي او له کوم ډول تمویل څخه شمیرل کیږي؟

پنځه لسمه پوښتنه: پردی تمویل کومې ګټې لري، تشریح یې کړې؟

شپاړسمه پوښتنه: خپلنی تمویل کوم ډول تمویل ته ویلی کیږي؟

اووه لسمه پوښتنه: د خپلنی تمویل ګټې کومې دي، تشریح یې کړئ؟

اته لسمه پوښتنه: عامه تمویل کوم ډول تمویل ته ویلی کیږي، واضح یې کړئ؟

نولسمه پوښتنه: د عامه تمویل اصول کوم دي، واضح یې کړئ؟

## دویم فصل

## عامه سکتور(Public sector)

عامه سکتور د ټولنې له هغه سکتور څخه عبارت دی کوم چې د دولت او عامه سازمانونو لخوا یې مصارف او لګښتونه ترسره کیږي لکه: امنیتي خدمات، عامه سړکونه، عامه تعلیم، عامه روغتیا، پلونه او نور

یا په بله وینا ویلی شو چې، د دولت او عامه سازمانونو پورې اړوند ټول اقتصادي، ټولنیز او نور فعالیتونه چې دولت یا عامه سازمانونه یې پرمخ وړي او د دولت لخوا یې مصارف تمویل او ورکول کیږي د عامه سکتور په نامه یادیږي. نو پوښتنه را ولاړیږي چې:

### ولې عامه سکتور ته اړتیا لرو؟

دا چې په هیواد کې افراد، اشخاص او خصوصي موسسات د ځینو لاملونو (لکه د ګټې نشتوالی، د ګټې کموالی، د ګټې وروسته والی او نورو) له مخې یو شمیر ټاکلو عامه اهدافو او خدماتو (لکه سیاسي، امنیتي او دفاعي، حقوقي، اقتصادي لکه د زیربناوو جوړول، د لویو لارو، بندونو او ویالو جوړول، د علمي تحقیقاتي مؤسساتو جوړول، روغتیایي خدمات او نورو عام المنفعه تأسیساتو) ته لاسرسی نه لري او شي کولی چې په هغه برخه کې کار وکړي او یا هم د دولتونو لخوا ورته د تشبث، مداخلې او کار حق نه ورکول کیږي، نو اړتیا پیښیږي چې دولت باید دغه تشه پخپله ډکه او فعالیتونه هم په خپله ترسره کړي.

ادم سمیټ په خپله مشهوره لیکنه(the wealth of nations) د ملتونو شتمنی کتاب کې چې په (۱۷۷۶) میلادي کال کې لیکل شوې، د دولت بنسټیزې دندې په ګوته کړي. هغه په دې هکله په خپل کتاب کې یو تاریخي نظر وړاندې کړی

چې تر اوسه پورې د ارزښت وړ ده. نوموړی د واکمنانو یا چارواکو د دندو په اړه خبرې کړي او هغه د خپل کتاب پنځمه برخه د عامه مالیاتو ستونزو ته ځانګړې کړې. نوموړی وایي چې عامه سکتور ته د لاندینیو عواملو له امله ضرورت پیښیږي:(ه، کارل،۱۳۹۱)

۱. د واکمنو یا چارواکو دندې

۲.د ټولنې د اړتیا وړ شیانو او خدماتو په عرضې کې د مارکیټ پاتې راتلل

۳. د عاید په توزیع کې د مارکیټ پاتې راتلل

۴. د عمومي استخدام او د قیمتونو د ثبات په لاسته راوړنه کې د مارکیټ پاتې راتلل

**۱. د واکمنو یا چارواکو دندې( د عامه چارو ترسره کول د حکومت دنده ده)**

په اوسني وخت کې د دولت مسؤلیتونه ډیر زیات شوي او چارواکي د ټولنې په وړاندې ډیر زیات مسؤلیتونه لري. د چارواکو یا حکومت له مسؤلیتونو څخه یو مسؤلیت دا دی چې خپل هیواد د نورو هیوادونو د تیریو څخه وژغوري، چې د دغې چارې مخ ته وړلو لپاره یو منظم پوځ ته ضرورت لیدل کیږي، د دې ترڅنګ چارواکي مسؤلیت لري چې د خپلې ټولنې غړي د نورو د ضرر څخه په امن کې وساتي، چې د یادې چارې مخ ته وړلو لپاره منظم امنیتي ځواکونو او منظمې مقننه او قضایي قوې ته ضرورت لیدل کیږي، نو ویلی شو چې د چارواکو لومړنۍ دنده د نورو ازادو ټولنو د تیري او یرغل څخه د خپلې ټولنې حفاظت او ساتنه ده چې دا یواځې د فوځي ځواک په مرسته تر سره کیدلی شي، مګر د دغه ځواک تمویل د جنګ په مهال او د سولې په وخت کې نظر بیلابیلو ایالتونو او هیوادونو ته په بیلو بیلو وختونو کې توپیر لري.

له کوم وخت څخه چې د جنګ هنر ورځ په ورځ وده کړې او لاپیچلې شوې، په دې برخه کې د دولتونو مصارف زیات شوي. دولتونه باید په دغسې حالاتو کې خپل ولس او خلکو ته پوره پام وکړي، چې خلک د جنګ له وقوع څخه

متضرره نشي. په نړیواله توګه دا اړینه ده چې دولت د جګړې پر مهال د عوامو د ساتنې او خدمت لپاره پوره چمتووالی ولري چې خلک د جنګونو له امله متضرره نه شي.

د واکدارانو بله دنده د ټولنې د هر غړي په مقابل کې د بل غړي د ظلم او بې عدالتۍ څخه مخنیوی او د یوې ښې اداري او عدالت رامنځته کول دي، چې دا هم د ټولنې په بیلا بیلو دورو یا مراحلو کې د بیلابیلو مصارفو غوښتنه کوي.

د واکدارانو یا حکومت بله دنده د یوې ټولنې د عامه اداراتو، مقدساتو، ملي او مذهبي ارزښتونو یا هغو عامه کارونو او خدماتو ساتنه ده چې یوې ټولنې ته په لوړه کچه ګټې لري، چې دا ګټې هیڅکله هم کوم ځانګړي شخص یا د وګړو یو محدود شمیر پورې نه محدودیږي او نه هم کوم څوک یا کومه ډله د هغه لګښت ورکوي او په ځانګړي توګه د هغوی د ساتنې تمه ترې هم نشي کیدلی.

په دې برخه کې ادم سمیت موږ سره د دولت د رول د روښانه کولو په اړوند مرسته کوي او عامه سکتور (لکه ملي دفاع، د عدالت تامین او د هغه اشیاو او خدماتو عرضه چې په عمومي ډول د خصوصي سکتور په فعالیتونو کې نه راځي) موږ ته راپيژني.

### ۲. د ټولنې د اړتیا وړ شیانو او خدماتو په عرضې کې د مارکیټ پاتې راتلل

ځینې وختونه افراد، اشخاص او خصوصي سکتور نشي کولی او ددې توان نلري چې ځینې اجناس یا خدمات بازار ته عرضه کړي، له همدې امله لازمه ده چې عامه سکتور یې باید د وړاندې کولو بندوبست وکړي. خصوصي سکتور معمولاً په هغو برخو کې پانګونه کوي، چیرته چې خپله ګټه احساسوي، په هغو برخو کې چې ګټه یې نه وي، پانګه اچوونه نه کوي، نو د عامه سکتور دا دنده ده، ترڅو هغه ساحې تر خپل کنترول لاندې راولي، کوم چې خصوصي سکتور یې د عدم علاقمندۍ له وجهې تر خپل پوښښ لاندې نه دی راوستی او هلته کار نه دی شوی.

### ۳. د عايد په توزيع کې د مارکيټ پاتې راتلل

په خصوصي سکتور باندې يوه نيوکه داده چې د عايد په توزيع کې پاتې راغلی، ځکه کله چې خصوصي سکتور ګټه کوي، نو دغه ګټه بيرته په ټولني باندې نه ويشي، مګر عامه سکتور بيا د دې برعکس کړنه تر سره کوي، يعني کله چې دولت عوايد تر لاسه کړي، نو دغه عوايد بيرته د عامه مصارفو له لارې په مصرف رسوي، چې په پايله کې عامه عوايد په ټولنه کې بيرته توزيع کيږي. يعنې دا چې هغه عوايد چې دولت يې د مالياتو يا نورو لارو تر لاسه کوي هغه د ټولنې د هوساينې په موخه بيرته په عامه چارو کې په مصرف رسوي.

### ۴. د عمومي استخدام او د قيمتونو د ثبات په لاسته راوړنه کې د مارکيټ پاتې راتلل

خصوصي سکتور هميشه په عمومي ګمارنه، د بې کارۍ په له منځه وړلو يا استخدام او د قيمتونو د ثبات په لاسته راوړنه کې پاتې راځي، چې ياده تشه معمولاً د دولت لخوا ډک کيږي(دولت هم د استخدام په برخه کې او هم د قيمتونو د ثبات په برخه کې فعالانه ونډه اخلي) دا په دې معنی چې دولت معمولاً ډير کسان استخداموي او هم د قيمتونو د لوړيدو په صورت کې دولت د خلکو د ضرورتونو د رفع کولو په خاطر اجناس په لوړ قيمت پيري(اخلي) او په ټولنه باندې يې په ارزانه قيمت بيرته پلوري.

د قيمتونو په سطحه او د بيکارۍ په نرخ کې دغه نوسانات په هغو اقتصادي ټولنو کې ليدل کيږي، چې ستر خصوصي سکتور ولري. د نفوسو زياتوالی، جنګ جګړې، د پيسو د قيمتونو په هکله ستر بدلونونه، د تکنالوژۍ ډراماتيکه پرمختګ او د خوش باورۍ او بد باورۍ څپې هغه څه دي چې اقتصادي بې ثباتي رامنځ ته کوي. په اقتصادي فعاليتونو کې دغه نوسانات  بې ثباتي يا نوسانات د(Business cycles) په نوم ياديږي، چې په څلورو مرحلو ويشل کيږی، دغه څلور مرحلې عبارت له(Recession, peak, trough, Boom)څخه دي.

د (boom) مرحله د اقتصاد د صعود، پرمختګ يا ترقۍ دوره ده چې دې ته د

رونق دوره هم وايي. په دې دوره کې اقتصاد د پرمختګ په حالت کې وي، د ټولنې ټول اقتصادي سکتورونه په نسبي ډول د پرمختګ په حالت کې ليدل کيږي او د ټولنې هوسايني ته خوش باوري ليدل کيږي.

(Recession) د اقتصاد د نزول، وروسته پاتې والي يا رکود دوره ده چې دا د اقتصادي کساد په نامه هم يادېږي. دغه دوره له هغې دورې څخه عبارت ده چې اقتصادي فعاليتونه نسبتاً په کې بطي او خوندوره نه وي، دلته اقتصاد د پخواني حالت په نسبت ورو ورو کمزورى کيږي او حالت د اقتصادي وروسته پاتې والي او خرابوالي په لوري په حرکت کې وي چې له امله يې په ټولنه کې بيکاري رامنځته کيږي او د ټولنې ټول سکتورونه خپلې چارې په ښه ډول پرمخ نه شي وړلاى.

(Peak) او (trough) مرحلې بيا د اقتصاد لوړې او ژورې (فراز او نشيب) نقطې دي چې په اقتصاد کې رامنځته کيږي. د فراز حالت له هغه حالت څخه عبارت ده چې اقتصاد په کې خپل اوج يا اخرني حد ته رسيدلى وي او د ټولنې ټول سکتورونه قوي شوي وي او ټولنه په کې د خود کفايي حالت کې قرار ولري.

همدا راز د نشيب نقطه بيا د اقتصاد هغه وروستى يا حد اقل حد څخه عبارت دى چې اقتصاد په کې خپلې تر ټولو ټيټې يا حد اقل حد ته رسيدلى وي، دلته په دغه حالت کې هر څه له منځه تللي وي، د ټولنې ټول سکتورونه په ټپه ولاړ او له حرکته پريوتي وي.

کله چې نزولي دوره په ځانګړي ډول زياته ښکته راشي، نو (depression) ورته وايي. تر ټولو مهم مالي کساد يا بحران په (۱۸۳۷) او (۱۹۰۷) کې پيښ شوى وو چې ډير لنډ خو له کړاوه ډک وو او دا د اول نړيوال جنګ نتيجه وه. يقيناً چې تر ټولو بد ترين اقتصادي شاته تګ په ۱۹۳۰ کال کې رامنځ ته شوى و چې د بيکارۍ کچه ۲۵٪ ته رسيده او بله دا چې اقتصاد نږدې يوه لسيزه د نزول په حالت کې پاتې شوى وو، نو ځکه دا پيښه د (great depression) په

نوم مشهوره ده. د ۱۹۳۰کلونو تجربو د کامل استخدام او قیمتونو ثبات په اړوند د حکومت د رول په اړه د خلکو نظر بدل کړ ، کله چې دویم نړیوال جنګ و، نو دا ومنل شو چې د کامل استخدام ساتنه او په قیمتونو کې د ثبات تر لاسه کول عامه مسؤلیتونه دي، چې حکومتونه یا دولتونه یې باید وساتي.

## د عامه او خصوصي تمویل تر منځ توپیر

د دولت د عامه اقتصاد ترڅنګ چې د حکومت د عوایدو او مصارفو او هغو پورې اړوندو مسایلو څخه بحث کوي، یو بل اقتصاد هم شته چې هغه د خصوصي اقتصاد په نوم یادیږي. خصوصي اقتصاد د افرادو، اشخاصو او خصوصي مؤسساتو له عوایدو او مصارفو او هغو پورې اړونده مسایلو څخه بحث کوي چې د ځینو ځانګړتیاو او نښو له مخې یو له بل څخه جلا کیږي چې مهمې نښې او توپیرونه یې په لاندې ډول دي:(دودیال،۱۳۹۲)

**۱. د پلان جوړونې له پلوه یې توپیر:** یو توپیر یې داده چې په خصوصي اقتصاد کې پلان جوړونه اصلاً وجود نه لري او که پلان موجود هم وي، د فردي او خصوصي اهدافو د عملي کیدو او د شخصي ګټو د ترلاسه کولو لپاره تر سره کیږي او دا پلان بیا د همدوی(یو شخص) په لاس جوړ، تطبیق او اجرا کیږي، چې په دولتي یا عامه اقتصاد کې پلانونه بیا د یوه چا لخوا جوړ، د بل چا لخوا رهنمایي او د دریېم کس یا دریېم ارګان لخوا تطبیق او تر اجرا لاندې نیول کیږي. په عامه اقتصاد او عامه اداراتو کې د پلان شته والی ضروري ده چې د دولت یو مامور باید د ورځنیو پلانونو په ګډون میاشتنې، ربعوار او کلنۍ پلانونه ولري چې په دولتي چوکاټ کې د یوه مامور یا دولتي کارمند څخه د دغو پلانونو غوښتنه کیږي، نو ویلی شو چې د دغو پلانونو د شتون څخه پرته د دولت هیڅ مامور پرمختګ او ارتقاء نه شي کولی.

۲. **د ګټې تر لاسه کولو له پلوه توپیر:** بل توپیر یې دا ده چې په خصوصي اقتصاد کې د هر ډول فعالیت د تر سره کولو لومړی هدف د ګټې تر لاسه کول دي، خو د دې برعکس بیا عامه اقتصادي فعالیتونه د یوې ټولنې د هوساینې په خاطر پرته له کوم منفعته د خدماتو او تولیداتو اجرا کول دي.

ښکاره خبره ده چې ځینې وخت دولتونه ځینې دولتي یا عامه خدمات او یا تولیدات د یوه اندازه پیسو په مقابل کې خلکو ته وړاندې کوي چې دا په دې معنی نه ده چې دولت به دغه چاره د ګټې په منظور ترسره کړې وي.

ځینې دولتي خدمات بیا داسې وي چې ***صرف د تمام شد مصارفو*** د پوره کیدو په اندازه له خلکو څخه مالي امتیازات اخلي. ***تعاوني تصدی*** بیا خپل اجناس او خدمات د تمام شد مصارفو څخه په ټیټه اندازه عرضه کوي او ځینې نور ***عام المنفعه دولتي تأسیسات*** بیا په وړیا توګه د خلکو په خدمت کې وي چې دا ټول د ټولنیزې هوساینې په خاطر ترسره کیږي چې دولت د خپلو تولیداتو او خدماتو په وړاندې کولو کې د ګټې هدف نه لري بلکې هدف یې دا ده چې خلکو ته ګټه ورسوي.

۳. **د دندو له پلوه توپیر:** هغه توپیر چې د دندو له پلوه د عامه اقتصاد او خصوصي اقتصاد تر منځ شته هغه دا دی، چې خصوصي اقتصاد د خپلو دندو په ترسره کولو کې یوازې خپلې ګټې په پام کې نیسي او د همدغه خصوصي ګټې په نظر کې نیولو سره پر مخ ځي اګر که دغه دنده یې د ملي اقتصاد او ټولنې په زیان هم وي. څومره چې یوه ټولنه وروسته پاتې وي، هغومره پکې دغه ډول تشبثي ذهنیت ډیر لیدل کیږي، تجربو ښودلې ده چې په دغه ډول ټولنو کې یو شمیر مؤسسات او اشخاص داسې مواد تولیدوي او بازار ته یې وړاندې کوي چې په پوره ډول د ټولنې په زیان وي، خو دا چې دوی لپاره ګټوره وي، نو ځکه د هغوی تولید او عرضې ته دوام ورکوي، لکه تقلبي درمل، غیر صحي خوراکي توکي، مخدره توکي او نور.

۴. **د احتیاجاتو د پوره کولو له پلوه:** دا چې د خصوصي اقتصاد اصلي او

لومړنی هدف د ګټې لاسته راوړل دي، نو له خدماتو او تولیداتو څخه یې هغه کسان استفاده کولای شي چې د جنس او خدماتو د خریداری، عوض او یا قیمت ورکولو توان ولري، په داسې حال کې چې د عامه اقتصاد اساسي موخه د ټولنیزو اړتیاو پوره کول دي چې د همدغې موخې په اساس دولت غواړي ټولو ته په یوه شان تولیدات او خدمات وړاندې کړي ترڅو خلک د دولت یا عامه اقتصاد له تولیداتو او خدماتو څخه په وړیا توګه استفاده وکړي. خصوصي اقتصاد د ټولو خلکو احتیاجات نه شي پوره کولی ځکه خصوصي اقتصاد څخه د اجناسو او خدماتو د اخیستلو او مصرف توان نه لري مګر د دې برعکس عامه اقتصاد بیا په وړیا توګه د ټولو خلکو د احتیاجاتو د پوره کولو لپاره کار کوي.

۵. **د عوایدو او مصارفو تنظیم:** د دغو دواړو سکتورنو توپیر له دې نه هم کولی شو چې، په خصوصي سکتور کې د لومړیتوب حق عوایدو ته ورکول کیږي، ځکه د خصوصي سکتور عواید محدود وي، دلته اول باید عواید تر لاسه شي او بیا مصارف صورت ونیسي، مګر په دولتي سکتور کې لومړیتوب مصارفو او مصارفاتي پلانونو ته ورکول کیږي چې د هغوی پر بناء عایداتي سرچینې لټول کیږي. په دولت کې که کله د دولت مشخصه عایداتي سرچینه د مصارفو د پوره کولو لپاره کافي ونه ګڼل شي، نو دولت کولی شي موجوده مالیات لوړ کړي، نوي مالیات وضع کړي، له دولتونو څخه پور واخلي، نوې پیسې چاپ کړي، مګر خصوصي اقتصاد یا خصوصي سکتور بیا دغه توانایي نه لري او نشي کولی چې له پورتنیو مواردو څخه ګټه واخلي.

یو فرد معمولاً خپل مصارف د خپلو عوایدو مطابق تنظیموي مګر دولت معمولاً خپل عواید د مصارفو مطابق تنظیموي، دولت د هغو مجموعې مصارفو چې په یو کال کې به واقع شي، یو تخمین تر سره کوي او بیا هغه وسایل او لارې یې مشخص کوي چې د ضرورت وړ رقم ورڅخه تر لاسه کیدای شي.

۶. **د عوایدو د چمتو کولو له پلوه:** خصوصي اقتصاد خپل عواید په اختیاري ډول یعني د اجناسو او خدماتو د پیرلو او پلورلو(خرید او فروش) له لارې تر لاسه کوي، حال دا چې دولت د خپلو عوایدو یوه زیاته برخه د اجباري پرنسیپ په اساس یعني د مالیاتو (محصول، سهمییو، جرایمو او نورو) له لارې او یوه نوره برخه عواید بیا په اختیاري طریقو یعني د تشبثاتي طریقو په بڼه تر لاسه کوي.

د یادونې وړ ده چې د دولت د اختیاري او اجباري عوایدو جوړښت او ترکیب د اقتصادي بیلابیلو نظامونو له مخې سره توپیر لري، په دې معنی چې د بازار د اقتصاد د نظام لرونکي دولتونه خپل عواید د اجباري عوایدو په بڼه تر لاسه کوي، خو د مرکزي پلان درلودونکي دولتونه بیا خپل د عوایدو ډیره برخه د اختیاري عوایدو له لارې تر لاسه کوي، علت یې دا دی چې د بازار د نظام درلودونکې دولتونه د وخت په تیریدو سره د تشبثاتي اقتصاد ډیره برخه خصوصي اقتصاد ته پریښودله او ځان ته یې عام المنفعه خدمات پریښودل چې دا د دغه ډول اقتصادی نظام له اساساتو څخه هم شمیرل کیږي. نو ویلی شو چې د آزاد بازار درلودونکي هیوادونه په مالیاتي عوایدو باندې ولاړ هیوادونه هم بلل کیږي.

۷. **د تولید د څرنګوالي له پلوه توپیر:** د خصوصي اقتصاد تولید تر ډیره حده پورې مادي اړخ لري، یعنې د اجناسو تولید په کې صورت نیسي، حال دا چې د دولت ساحه زیاتره غیر مادي یا معنوي برخې ته متوجه وي، لکه د امنیتي او دفاعي خدماتو تر سره کول، د عدالت او حقوقو ډاډمنتیا، علمي او څیړنیزې چارې، روغتیایي چارې، ښوونه او روزنه، لوړې زده کړې او نور

۸. **د خدماتو د جبران او عوض له مخې توپیر:** ښکاره ده چې خصوصي اقتصاد یو تولید او خدمت د هغه د پاداش، عوض او جبران په مقابل کې تر سره کوي، معنی دا چې خصوصي اقتصاد که یو خدمت تر سره کوي، نو له مصرف کوونکو څخه یې عوض، بدله او یا جبران غواړي یا کله که یو څوک

یو جنس تر لاسه کوي، نو له هغه څخه يې قيمت اخلي، مګر دولت هغه کسانو ته چې ماليه نه ورکوي او يا مالياتي مکليفت هم نه لري او يا دولت ورڅخه کوم ډول عايد هم نه ترلاسه کوي عامه خدمات يا توليدات وړاندې کوي ، لکه صحت، تعليم او تربيه، امنيت، لويې لارې او نور.

۹. **نافعيت (ګټورتوب) او د هغه د سنجش له مخې توپير**: د خصوصي اقتصاد او دولتي يا عامه اقتصاد تر منځ بل توپير د نافعيت او د هغه د سنجش له مخې هم کيدای شي. خصوصي اقتصاد په عمومي توګه په خپلو اقتصادي فعاليتونو کې په مستقيم ډول ګټه (د ګټې تر لاسه کول) خپل هدف ټاکې، حال دا چې دولت بيا د عامه اقتصاد د فعاليتونو په تر سره کولو کې خپل هدف په غير مستقيم ډول د ګټې او نافعيت ټاکل ګڼي، د مثال په ډول دولت په ډيرو عام المنفعه تأسيساتو لکه روغتونونو، علمي تحقيقاتي مراکزو، د لويو لارو پروژو، ويالو، کانالونو او نورو څخه کومه ګټه نه ترلاسه کوي، بلکه د دغو پروژو د ګټې او مفيديت څخه نور اشخاص او مؤسسات استفاده کوي، چې په خصوصي اقتصاد کې بيا دغه ډول تشبثات نشته او يا هم ډير لږ ليدل کيږي، هغه هم په هغو حالاتو کې چې يو څوک يې د خپل شهرت او نوم ګټلو لپاره يې ترسره کوي.

بله موضوع د نافعيت د سنجش، محاسبې او د هغه د تثبيت کولو موضوع ده چې د خصوصي اقتصاد په ساحه کې د مفيديت سنجش په ډيرې آسانۍ سره امکان لري، د بيلګې په توګه کله چې د يوې تصدی له عوايدو څخه د هغې تصدۍ ټول مصارف منفي شي، پاتې برخه د دغې تصدی ګټورتوب ښکاره کوي، خو د دولت د مالي اقتصاد په برخه کې د نافعيت سنجش کول او محاسبه بيا د خصوصي اقتصاد په پرتله ډير دقت او ډير وخت ته ضرورت لري، ځکه چې دولتي پروژې اکثره اوږد مهاله وي، چې هغه هم په پيسو سره نشو ښودلای. د دغه ډول نافعيت محاسبه او تثبيت کول ډير دقت ته اړتيا لري او حتی نا شونی دی، نو همدا لامل دی چې دغه نافعيت په تقريبي او تخميني ډول سره ښودل کيږي.

۱۰. **د وخت د واحد له مخې يې توپير** (Unit of time): د دغو دواړو اقتصادونو ترمنځ بل توپير دادی چې دولت خپله بوديجه په يو خاص او ټاکلي وخت کې تنظيموي، مګر يو فرد خپلې بوديجوي جوړښت لپاره کوم خاص وخت په نظر کې نه لري، همداراز يو فرد د خپلو مصارفو او عوايدو په برخه کې د وخت په اساس کوم ريکارډ ته ضرورت نه لري، مګر د دې برعکس بيا دولت په ټاکلي مالي دوره کې د خپلو عوايدو او مصارفو پوره حساب او ريکارډ سا تي تر څو په راتلونکي کې خلکو او پلټونکو ته ځواب ورکوونکی و اوسي.

دولت د يوه مالي کال د راتلو څخه مخکې خپل مصارفاتي او عايداتي چارې پيشبيني کوي او بيا د هغو لپاره په ټاکلي وخت او ټاکلي پلان عوايد ترلاسه کوي چې تطبيق يې هم په ټاکلي موده کې ترسره کيږي چې اشخاص او افراد بيا دا کار نه ترسره کوي.

۱۱. **ذاتي تمويلي منبع:** که چيرته يو شخص يا خصوصي اقتصاد کوم وخت پيسو ته ضرورت پيدا کړي، د ځان څخه يې قرض نشي اخيستلی، د يو بل شخص څخه يې بايد لاسته راوړي، مګر دولت له خپل ځان او د خپلو خلکو څخه د ضرورت په وخت کې پيسې اخيستلی شي. ډيری وخت حکومتونه د خپلې ټولنې له سرمايه دارانو او نورو خلکو څخه د ځانګړو ارزښت لرونکو اسهامو د چاپ په واسطه قرضونه او نور د ضرورت وړ پيسې راټولوي چې د ټاکلي قرارداد او ټاکلي وخت څخه وروسته دولت بيا هغه بيرته خلکو ته سپاري چې دا د ذاتي تمويل يوه ښه بيلګه ده.

۱۲. **د پيسو نشر**(Issue of currency): که دولت د نورو عايداتي منابعو په اساس خپل مصارف تمويل و نشي کړی، نو په دې صورت کې د پيسو د نشر او چاپ په وسيله هم کولی شي خپل ضرورتونه پوره کړي، يعنې دولت کولی شي د خپلومصارفو د تمويل په موخه نوي پيسې چاپ او بيا يې په واسطه خپل مصارف تمويل کړي مګر افراد او اشخاص نشي کولی د خپل ځان د تمويل لپاره پيسې چاپ او خپل ضرورتونه پرې پوره کړي ځکه اشخاص او افراد د پيسو د نشرولو او چاپ توان او اجازه نه لري. پاتې دې نه وي چې له دولت

څخه پرته نور عامه ارګانونه د پیسو د چاپولو صلاحیت نه لري او نه شي کولی پیسې چاپ او د خپلو مصارفو په ترسره کولو کې ور څخه استفاده وکړي.

## د عامه تمویل اصول(اساسات)

## Principles of public finance

د دې لپاره چې یو دولت له یوې خوا خپل بیلابیل عواید په منظم او دوامداره ډول له اقتصاد او ټولنې څخه تر لاسه کړي او له بلې خوا د اقتصادي پیښو په جریان باندې خپل مثبت تاثیرات ولري، باید یو شمیر هغه اساسات او اصول چې د دولت د عوایدو په تر لاسه کولو کې مؤثره واقع شوی رعایت کړي. چې د دغو اصولو او اساساتو څخه په لاندې ډول یادونه کوو:

### ۱. د ټولنیز ګټورتوب اصل (The principle of maximum social advantage)

عواید باید د ټولنیزو ګټو په موخه راټول کړی شي، همداراز د دولت مصارف باید په داسې ډول سرته ورسیږي، چې پرته د کوم توپیر او تبعیض څخه په عمومي ډول د ټولنې ټولو وګړو ته یې ګټه ورسیږي.

دولت نه باید خپل عواید د یوه ځانګړي شخص، ځانګړي قوم او یا یوې ځانګړې سیمې د خلکو لپاره په مصروف ورسوي، د عامه سکتور او دولت یو له ځانګړتیاو څخه داده چې مصارف باید په هغو ځایونو کې ترسره کړي چې د ټولنې هر فرد او د هرځای اوسیدونکي وشي کولی پرته له کومې ستونزې او پرته له کوم توپیر څخه له هغه تولید یا خدمت څخه ګټه واخستلی شي.

که چیرې عواید د خاصو او ځانګړو سیمو او یا ځانګړو خلکو د مصارفو د تمویل او د هغو د ټولنیز ژوندانه د پرمختګ لپاره وکارول شي ښکاره ده چې دولت بیا د عوایدو په ټولولو کې له ستونزو سره مخ کیږي او خلک بیا نه غواړي چې د خپلو ګټو یوه اندازه دولت ته د مالیاتو او نورو په نامه ورکړي،

ځکه دلته تبعيض ليدل کيږي چې ددغه تبعيض په اساس نه يواځې د دولت عوايد کميږي بلکې د دولت او خلکو ترمنځ ستونزه او فاصله هم ډيريږي.

**۲. د عوايدو د تحصيل(لاسته راوړلو) د اقتصاديت اصل**

هغه عوايد چې جمع آوري کيږي او په راتلونکي کې په مصرف رسيږي، په هغې بايد زيات مصارف ونه شي او له بلې خوا د ضايعاتو څخه يې مخنيوی وشي. دا په دې معنی چې د دولت عوايد بايد داسې راټول او تحصيل شي، چې د امکان تر حده مالياتي ادارو ته ډير لږ د تمام شد مصارف ولري او که چيرې د عوايدو په ټولولو کې د عوايدو په پرتله زيات لګښت وشي، ښکاره ده چې دغه اصل صدق نه کوي چې دا بيا د دولتونو په ضرر تماميږي.(صميمی، ۱۳۸۵)

دولت بايد کوښښ وکړي چې د عوايدو د راټولولو لپاره ځانګړي ميکانيزمونه ترتيب او له مخې يې بيا عوايد راټول کړي تر څو دعوايدو په راټولونه کې ډير زيات مصارف ونشي او دولت وشي کولی د اقتصاديت اصل مراعات کړي.

**۳. د عوايدو د مطابقت اصل** (The principle of sanction)

د مطابقت د اصل څخه مطلب دا دی چې عوايد او مصارف په داسې ډول تنظيم شي چې د عامه خلکو د قناعت وړ وګرځي، مطابقت يو ضروري عمل دی، ځکه دغه اصل د ضايعاتو مخنيوی کوي. د مطابقت د اصل په اساس د ماليې اندازه بايد داسې وټاکل شي چې د ماليه ورکوونکو د وس او توان مطابق وي او د هغو د اقتصادي فعاليتونو د خنډ او ځنډ سبب نه شي او نه هم دا چې ماليه ورکوونکي خپل متوقعه او پيش بيني شويو ګټو ته يې له امله ونه رسيږي او له مفاد څخه يې بې برخې نه شي.

که چيرې دولتونه ماليات په داسې اندازه له خلکو څخه راټول کړي چې د خلکو له کاروبار او عوايدو سره مطابقت ونه لري او د خلکو له عوايدو څخه زيات او يا د هغو د عوايدو په اندازه ورڅخه ماليات راټول شي نو ښکاره ده چې په دې صورت کې به ډير ژر او يا لږ وروسته پانګه اچونه کمه شي، بيکاري به

رامنځته شي او ورسره به د دولت مالياتي عوايد هم کم شي او په نتيجه کې به دولت ونشي کړای خپل مصارف پرې تمويل کړي او بلاخره دولت به له اقتصادي ستونزو سره مخ شي.

### ۴. د متوازنې بوديجې يا د اعتدال اصل (The principle of balance budget)

د دغه اصل له مخې بايد د دولت عوايد دومره وي چې لګښتونه پوره کړي او د دوام له مخې بايد د لګښتونو له اندازې څخه نه زيات او نه هم کم وي. دا ځکه چې د دولت د مصارفو په نسبت د عوايدو د زياتوالي (تفاضل) په صورت کې له يوې خوا په مالي اقتصاد باندې منفي اغيزې کوي، يعنې د دولت سره مالي وسايل راکد او بيکاره پاتې کيږي. حال دا چې که دولت دغه مالي وسايل له خصوصي اقتصاد څخه د ماليې په بڼه تر لاسه نه کړي، هغوی کولای شي دغه مالي وسايل د خپلو توليدي مدارکو په توګه وکاروي چې ښکاره خبره ده، په دې صورت کې به توليد او په نتيجه کې به يې ملي عايد زيات شي، ځکه خلک به د هغو پيسو يا عايد په واسطه چې دولت يې له خلکو څخه د مالياتو په نامه ټولوي او له دولت سره راکد پاتې کيږي کولی شي پر هغه کاروبار وکړي چې د کاروبار په نتيجه کې به کاروباريان پرې نوره ګټه لاس ته راوړي او په راتلونکي کې د دولت ماليات هم نظر دغه لاسته راغلو عوايدو ته زيات شي.

د دې برعکس بيا د دولت د لګښتونو زياتوالی د دولت په اقتصادي فعاليتونو باندې محدود کوونکي اغيزې لري، دا ځکه چې دولت نه شي کولای چې په دې صورت کې خپل مصارفاتي پروژې عملي کړي، يعنې دولتي پروژې د عوايدو د کمښت له امله په ټپه دريږي او د هغې په نتيجه کې په فردي او مجموعي اقتصاد باندې منفي اغيزه کوي.

دولت بايد خپله بوديجه متوازنه وساتي، حتی تفاضل هم په اقتتصاد باندې منفي اغيزې لري، ځکه دا ښيي چې خلک د ماليې تر بوج لاندې راغلي او که چيرته مصارف د عوايدو څخه زيات شي، دا د هيواد مالي ضعف او کمزورتيا ښيي، يعنې عوايد او مصارف بايد سره مساوي وي.

### ۵. د ارتجاعیت اصل (The principle of elasticity)

لکه څرنګه چې په یو اقتصاد کې اقتصادي متحولین لکه نفوس، اقتصادي رشد او داسې نور د تحول په حال کې وي، نو دولت هم باید خپل عواید د هغو د تغیر سره عیار کړي او نظر وخت او زمان ته خپل مالي سیاستونو ته تغیر ورکړي، یعنې دولت باید د خلکو د عوایدو په کموالي سره مالیات کم او په زیاتوالي سره یې مالیات زیات کړي.

کله که د یوې ټولنې د خلکو عواید ښه شي، ورسره د خلکو ژوند هم ښه کیږي، په دغسې حالاتو کې دولت کولی شي خپل مالیات یو اندازه لوړ کړي خو برعکس که د خلکو عواید په عمومي کچه ټیټیږي نو دولت باید خپل مالیاتي پالیسیو ته هم تغیر ورکړي او مالیات کم کړي.

### ۶. په تولید اوتوزیع باندې د مضره تاثیراتو د مخنیوي اصل

له یوې خوا د تولیدونکو څخه په داسې طریقې سره مالیات راټول او عواید لاس ته راوړل شي چې د هغوی تولید متأثره نه کړي او له بلې خوا عواید په د اسې ځایونو کې په کار واچول شي، چې د ویش توازن هم را منځ ته کړي، یعنې غریب خلک هم ترې ګټه واخیستلی شي.

د دولت یو له پالیسو څخه دا هم ده چې په هیواد کې تولیدي سکتور یا داخلي تولیدات حمایه کړي چې په دې صورت کې دولت کولی شي له داخلي صنایعو یا داخلي تولیدونکو څخه مالیات کم او یا یې معاف کړي، ګمرکي او نور مالیاتي تعرفي پرې کمې کړي، امنیت یې ټینګ کړي، د برق په هکله ورسره مرسته وکړي او د ضرورت په وخت کې حتی نقدي مرستې هم ورسره وکړي.

## عامه اجناس او خدمات

## Public goods & services

دولتي يا عامه خدمات او اجناس ټول هغه خدمات او اقتصادي اجناس او شیان دي چې نظر د بازار اقتصاد عدم علاقه مندی او یا نظر نورو دلایلو ته دولت یې په تولید او عرضې مکلف ګڼل کیږي او په وړیا توګه د دولت له خوا د عمومي استفادې لپاره د ټولنې د فلاح او سوکالۍ په موخه د خلکو په واک کې ورکول کیږي. (دودیال.۱۳۹۵)

هغه اجناس چې د بازار د اقتصاد یا د خصوصي سکتور د عدم علاقه مندۍ او د نورو دلایلو په نسبت او د ټولنې د نیازمندۍ له مخې یې دولت تولید او عرضه په غاړه لري، د عامه اجناسو په نامه یادیږي، لکه ملي دفاع، قضایي نظام، امنیت او نور. عامه اجناس او عامه خدمات اکثره د دولت لخوا تولید، د ټولنې د ټولو وګړو ملکیت او دیوه کس په استفادې سره د بل کس د استفادې په کچه کې کموالی نه رامنځته کیږي. عامه اجناس د خصوصي اجناسو سره د ځینو خصوصیاتو له مخې بیلیدای شي چې عبارت دي له:

۱- یو ځایي مصرف: د یوځایي مصرف د اصطلاح څخه مفهوم دا ده چې له یو شي څخه په عین زمان کې د یوه نه زیات کسان ګټه اخستلی شي او د یوه کس په استفادې سره د بل کس په استفادې یا مصرف کې کموالی را منځته نه شي دې ته عامه اجناس ویلی کیږي لکه د پارک څخه استفاده، د صحي خدماتو څخه استفاده او نور

۲- نه منع کیدونکي وي: د نه منع کیدونکي څخه مفهوم دا دی چې عامه اجناس د یوه کس په ملکیت کې نه وي او هیڅوک بل کس د عامه اجناسو د استعمال څخه نه شي منع کولی، هغه کسان چې دولت ته یې مالیات ورکړي وي د هغو کسانو مخه نه شي نیولی چې مالیات یې نه دي ورکړي او یا د مالیاتو تابع نه وي، پس ویلی شو چې د عامه اجناسو څخه د یوې ټولنې ټول خلک په یوه

اندازه د استفادې حق لري او هیڅوک نشي کولی چې څوک د عامه اجناسو د استفادې څخه منع کړي.

همداراز ویلی شو چې عامه شیان له هغو شیانو څخه عبارت دي چې د ټولني ټول خلک ورڅخه پرته له کوم تبعیضه په یوه وخت کې یو شان او په وړیا توګه ګټه واخستلی شي

**سمویلسن عامه اجناس داسې تعریفوي:** هغه اجناس چې ډیر خلک په یوځایي ډول په یوه وخت کې د هغه نه ګټه اخلي او د یو کس مصرف د بل کس په مصرف کې کموالی نه راولي او د خرڅلاو وړ نه وي، عبارت د عامه اجناسو څخه دی.(رودلف ه هاسه،۱۳۸۶ صـ ۳۱)

عامه اجناس د مصرف کوونکو د پوښښ له مخې په محلي، ملي او نړیوالو عامه اجناسو ویشل کیږي.(۸:۱۸۶)

**۱. محلي عامه اجناس:** محلي عامه اجناس هغه اجناس دي چې ډیره ګټه یې د یوې خاصې سیمې اوسیدونکو ته رسیږي، او د هماغه سیمې ټول خلک په مساویانه ډول ورڅخه ګټه اخستلی شي. پاتې دې نه وي چې د محلي عامه اجناسو او خدماتو څخه د دغو سیمو اوسیدونکي تر نورو ډیره ګټه اخستلی شي ځکه چې دوی نظر د ټولنې نورو خلکو ته هر وخت دغو اجناسو او خدماتو ته ښه لاس رسی لري، لکه پارک، ځنګلونه، سیمه ایز پلونه، سیمه ایز د اوبو خور بندونه، د برق بندونه، لوړې زده کړې، تحقیقاتي مراکز او نور.(فولکرس، کی، ۱۳۸۵)

**۲. ملي عامه اجناس:** ملي عامه اجناس بیا هغه عامه اجناس دي چې ګټه یې د یوه هیواد ټولو اوسیدونکو ته رسیږي، او د ټولنې ټول خلک په مساویانه ډول ورڅخه ګټه اخستلی شي، لکه  د نفوسو تنظیم او د تولداتو کموالی، صحي خدمات، امنیت، ښوونه او روزنه او نور.

**۳. نړیوال عامه اجناس:** نړیوال عامه اجناس بیا هغه اجناس دي چې ګټې یې نړیوالې وي او د نړۍ په سطحه ټول وګړي کولی شي یو شان پرته له کوم تبعیضه ورڅخه ګټه واخلي، لکه نړیوال امنیت، نړیوال اقتصادي ثبات، په نړیواله توګه د ژوند چاپیریال لپاره د تدابیرو نیول او نور

## عامه تصدی

هغه کاروباري اداري او تشبثات چې د ټولنې د ضرورتونو د رفع کولو په منظور د دولت لخوا تأسیس او تمویل شي، عبارت د عامه تصدیو څخه دي.

عامه تصدیو ته د بازار په اقتصاد کې هغه وخت جواز ورکول کیږي، چې د عامه هوساینې په لوړوالي او د ټولنیز پرمختګ په رامنځته کولو کې عمده سهم او رغنده رول ولري، نو بناءً د عامه تصدیو هدف د ټولنیزې رفاه لوړوالی دی.(ایسنګ، ۱۳۷۴)

منفعت یا د ګټې ترلاسه کول په اصل کې د دولت هدف نه وي، بلکه د عامه وظایفو د اجراء یوه وسیله ده، چې عامه رفاه د اجناسو او خدماتو د سطحې د لوړوالي په وسیله ټاکل کیږي. په خصوصي اقتصاد کې دا مسئله چې څه شی، څرنګه او د چا لپاره تولید شي، د بازار د میکانیزم له لارې ټاکل کیږي، اما په عامه سکتور کې د اجناسو او خدماتو ترکیب او لوړوالی د سیاسي توافقاتو په اساس صورت نیسي، چې دولت اصلاً هغه خلا چې د اجناسو او خدماتو له مخې د خصوصي سکتور پواسطه رامنځته شوی ډکوي، نو بناءً دا نتیجه اخیستلای شو چې د دولت د تشبثاتو اساسي هدف د اجتماعي رفاه د تأمین څخه عبارت ده.

مګر نن ورځ د دولت تشبثاتي عواید د کمیت له مخې د آزاد بازار په اقتصادي نظام کې د نسبتاً کم اهمیت درلودونکې دي. هماغه ده چې نن ورځ د دولت د عوایدو لویه برخه د مالیاتو له لارې تر سره کیږي.

د دولتي تصديو د ګټورتوب موضوع په مختلفو نظامونو کې مختلف او سره فرق لري، يعنې په ځينو نظامونو کې دولتي تصديو ته ډيره پاملرنه شوې ده او زياته ګټه ورڅخه اخيستل کيږي او په ځينو نورو نظامونو کې بيا دومره خاصه پاملرنه ورته نه ده شوې چې له همدې امله يې د ګټې اندازه هم کمه وي.

**د عامه تصديو ډولونه**

ښکاره خبره ده چې عامه تصدۍ د ټولنې د ګټو په نظر کې نيولو سره د خصوصي سکتور ترڅنګ د دې لپاره تأسيس کيږي تر څو خصوصي سکتور د اجناسو توليد ځانته منحصر او په خپل اختيار کې ونه ساتي او ټولنه او د ټولنې خلک د خصوصي سکتور د اقتصادي فشار څخه وژغورل شي.

نوعامه يا دولتي تصدۍ نظر مختلفو فکتورونو ته په مختلفو ډولونو ويشل شويدي چې د دغو ډولونو څخه يې دلته په خلاصه توګه يادونه کوو، لکه:

**الف. د بازار له مخې**: عامه تصدۍ د بازار له مخې په دوو ډولونو ويشل شويدی:

١- رقابتي عامه تصدۍ

٢- انحصاري عامه تصدۍ

١- عامه رقابتي تصدۍ: عامه رقابتي تصدۍ له هغو دولتي يا عامه تصديو څخه عبارت دي چې د دولت لخوا د دې لپاره جوړې شوي وي ترڅو په ازاد بازار کې د خصوصي تصديو يا خصوصي توليداتو سره رقابت وکړي او په دغه برخه کې خصوصي سکتور يواځې پرېنښودل شي ترڅو د اړوندو اجناسو نرخونه، کميت، کيفيت او توليد په خپل واک کې ولري، او دغه عامه تصديګانې د دغو خصوصي تصديګانو او توليداتو ترڅنګ توليدات ولري ترڅو ټولنه د خصوصي سکتور له اقتصادي فشار څخه وژغورل شي. دلته دغه تصديګانې نظر خصوصي تصديو ته خپل توليدات په ټيټ نرخ سره بازار ته عرضه کوي چې دولت په دې کې د تمام شد مصارفو د ترلاسه کولو څخه

پرته یوه کمه اندازه ګټه هم ترلاسه کوي چې دلته هم د دغو تصدیو هدف د ګټې ترلاسه کول نه بلکې هدف یې په رقابتي توګه د نرخونو کنټرول او ټولنې ته د ګټې رسول دی، لکه د مرکزي سیلو تولیدات، د ملي بس د خدماتو ارائیه کول او نور

۲- عامه انحصاري تصدۍ: عامه انحصاري تصدۍ بیا له هغو تصدیو څخه عبارت دي کوم چې د اړوندو تولیداتو او خدماتو د ترسره کولو واک او صلاحیت صرف همدغه عامه تصدیو ته ورکړل شوي وي او د دې تصدیو ترڅنګ نور خصوصي سکتور ته د همدغو ځانګړو تولیداتو او خدماتو د تولید او ترسره کولو واک او صلاحیت نه وي ورکړل شوی، یا په بل عبارت سره ویلی شو چې عامه انحصاري تصدۍ له هغو تصدیو څخه عبارت دي چې د دولت لخوا ورته د ځینو خاصو تولیداتو او خدماتو د ترسره کولو واک ورکړل شوی وي او نور هیڅوک د دغو تولیداتو او اجناسو د ترسره کولو حق ونه لري لکه د ۱۳۵۷ کال څخه پخوا په افغانستان کې د تیلو او بورې د تولید او سوداګرۍ فعالیتونه او نور

**ب. د ملکیت له مخې:** د ملکیت له مخې هم عامه تصدۍ په لاندې دوو برخو ویشل شوي:

۱- خالص عامه تصدۍ
۲- مختلط عامه تصدۍ

۱. خالص عامه تصدۍ: خالص عامه تصدۍ له هغو تصدیو څخه عبارت دي چې ټولې چارې یې دولتي وي، افراد، اشخاص او نور خصوصي سازمانونه ورسره په کاروبار کې کوم دخالت، شراکت او سهم ونه لري لکه، د ملي بس تصدۍ، د افغانستان بانک تصدۍ او نورې تصدیګانې.

۲. مختلط عامه تصدۍ: مختلط عامه تصدۍ له هغو تصدیو څخه عبارت دي کوم چې د دولت ترڅنګ افراد، اشخاص او نور خصوصي سازمانونه او ادارې هم ورسره په کاروبار کې شراکت او ونډه ولري، ګټه او تاوان یې د دواړو ترمنځ ویشل شوی وي لکه د قره قل شرکت، د سپین زر شرکت او نور

ج. **د ګټې یا مفاد له مخې:** د ګټې یا مفاد له مخې تصدۍ په لاندې درېیو ډولونو ویشل شوي:
۱. عامه انتفاعي تصدۍ
۲. عام المنفعه تصدۍ
۳. تعاوني تصدۍ

**۱. عامه انتفاعي تصدي:** دغه ډول تصدیګاني خپل اجناس د رقابتي قیمتونو په نظر کې نیولو سره یا د موافقه شوي قیمتونو په اساس د خصوصي سکتور ترڅنګ بازار ته عرضه کوي. البته ویلی شو چې دغه ډول تصدۍ د آزاد بازار څخه په ډېره ټیټه سطحه او ډیر ټیټ قیمت خپل اجناس او خدمات وړاندې کوي چې بیا هم یو څه ګټه ورته پاتې کیږي چې دې ته انتفاعي تصدیګانې ویل کیږي، لکه د سیلو تصدي، د ملي بس تصدي او نور.

**۲. عام المنفعه تصدۍ:** دغه ډول تصدي د تمام شوي مصارفو تکافو کوونکې تصدیګانې دي، دا په دې معنی چې دغه ډول تصدیګاني د خلکو څخه د تولیداتو صرف هغومره مصارف یا عوض اخلي څومره یې چې پرې مصرف کړی وي، د دغه ډول تصدیو هدف د مفاد لاس ته راوړل نه، بلکه د عامه احتیاجاتو رفع کول دي چې دغه تصدی بیا دعام المنفعه تصدیو په نوم هم یادیږي. دغه ډول تصدي خپل اجناس، خدمات او نور محصولات د تمام شد په قیمت پلوري او ګټه نه کوي.

**۳. تعاوني تصدیګاني:** دغه ډول تصدیګانې د مختلفو اجتماعي او کلتوري اهدافو د لاسته راوړلو لپاره فعالیت کوي، لکه: دولتي شفاخانې او نور، دغه تصدیګانې خپل مصارف هم نشي پوره کولاي، نو په دې اساس هغه مصارف او لګښتونه چې د مالي نظره دغه تصدیو ته راجع کیږي، هغه د نورو عوایدو له لارې تلافي کوي. په خلاصه توګه ویلی شو چې دغه تصدیګانې خپل اجناس، خدمات او نور محصولات د تمام شد مصرف او قیمت څخه په ټیټه بیه ټولنې ته وړاندې کوي، حتی داسې هم کیدای شي چې دولت له نورو انفرادي اشخاصو، خصوصي تصدیو او سازمانونو څخه اجناس په لوړه بیه اخلي او خپلو خلکو یا ټولنې ته یې په ټیټه بیه وړاندې کوي.

## د عامه تصديو د رامينځته کيدو سببونه

د خصوصي سکتور يا د خصوصي تصديو ترڅنګ ټولنه عامه تصديو ته هم اړتيا لري چې عامه يا دولتي تصدۍ د لاندينيو علواملو له مخې رامنځته کيداى شي:

**۱. د ګټې نشتوالى:** څرنګه چې د خصوصي اقتصاد اساسي هدف په لومړي مرحله کې د ګټې لاسته راوړل دي، په دې توګه خصوصي افراد اصلاً په عامه پروژو کې د پانګې اچونې څخه ډډه کوي ځکه چې په عامه پروژو کې ګټه شتون نه لري او که ګټه شتون هم ولري په اوږدې مودې کې خپله سرمايه او يا ګټه بيرته راګرځي او يا هم په دغو پروژو کې ګټه کمه وي چې په همدې توګه دولت بايد دغه دنده په غاړه واخلي او په اړه يې فعاليت او تشبث وکړي.

**۲. د پانګې کمښت**: د پانګې کمښت يو بل لوى او اساسي مشکل دى چې په خصوصي اقتصاد کې وجود لري، له همدې امله خصوصي اقتصاد نشي کولى چې په لويو پروژو کې پانګه اچونه وکړي، همدا وجه ده چې په ډيرو هيوادونو کې لوى صنايع په ملي شکل پرمخ وړل کيږي، لکه د اورګاډي پټلۍ، د اوسپنې د ويلې کولو لويې کرې، د اوبو او بريښنا د بندونو جوړول او نور

**۳. سري فعاليتونه**: ځينې وخت دولتونه په ټولنه کې د ګډوډيو د رامنځته کيدو د مخنيوي په خاطر د ځينو اجناسو د توليد واک په خپل اختيار کې ساتي، لکه د اسلحې توليد، د پيسو نشر، دولتي مطبعي، مخدره مواد او نور هغه څه دي چې دولت يې خصوصي تصديو ته د توليد او کاروبار اجازه نه ورکوي، نو همدا وجه ده چې دولتي يا عامه تصدۍ بايد دا فعالتونه ترسره کړي.

## د عامه تصديو ستونزې

سره له دې چې عامه يا دولتي تصديګانې د ټولنې عام المنفعه يا خيريه کارونه ترسره کوي خو بيا هم د ځينو ستونزو درلودونکي دي، چې دغه ستونزې په ټولنيزو توليداتو باندې بدې اغيزې درلودلی شي. له همدې امله په ټولنه کې د عامه تصديو په ضد خلکو ته دلايل پيدا کيږي او د دولتي تصديو په ضد ترې ګټه اخلي، د عامه تصديو ځينې ستونزې په لاندې ډول يادولای شو:

۱. څرنګه چې شخصي او خصوصي تصدئ په خپل شخصي علاقه او توانايي د شخصي متشبثينو لخوا په ښه او سمه توګه مخې ته وړل کيږي، چې امکان لري، دغه کار په دولتي تصديو کې په ښه توګه په مخ ولاړ نه شي او په نتيجه کې توليدات کم شي.

۲. څرنګه چې دولتي تصدي د دولتي مامورينو او اشخاصو په وسيله مخې ته وړل کيږي، چې معمولاً دغه اشخاص د تشبثاتي ابتکاراتو درلودونکې نه دي، په همدې سبب مطلوبه نتيجه ورڅخه نه شي تر لاسه کولای چې همدغه عمل د دولتي تصديو پر وړاندې ستونزې را پيدا کوی او خلک له دولتي تصديو څخه متنفر کوي.

## د دويم فصل پوښتنې

لومړی پوښتنه: ولې عامه سکتور ته اړتيا لرو، تشريح يې کړئ؟

دويمه پوښتنه: د آدم سميت له نظره د کومو لاملونو له مخې عامه سکتور ته اړتيا پيښيږي؟

دريمه پوښتنه: د دې لپاره چې يوه ټولنه ښه عامه سکتور او ښه عامه تمويل ولري بايد کوم اصول تطبيق او مراعات کړي؟

څلورمه پوښتنه: په اقتصادي فعاليتونو کې نوسانات په څو مراحلو ويشل شويدي، هره مرحله يې تشريح کړئ؟

پنځمه پوښتنه: عامه او خصوصي تمويل د کومو توپيرونو له مخې پيژندلی شو، په ګوته يې کړئ؟

شپږمه پوښتنه: تعاوني او عام المنفعه تصديو ترمنځ څه توپير ده، تشريح يې کړئ؟

اوومه پوښتنه: د عامه تمويل اصول کوم دي، تشريح يې کړئ؟

اتمه پوښتنه: عامه اجناس کوم اجناس دي او د کومو ځانګړتياو له مخې يې له خصوصي اجناسو سره پرتله کولی شو؟

نهمه پوښتنه: سمويلسن عامه اجناس څرنګه تعريفوي؟

لسمه پوښتنه: عامه تصدۍ کوم ډول تصديو ته ويلی کيږي، تشريح يې کړئ؟

يوولسمه پوښتنه: رقابتي تصدۍ د انحصاري تصديو سره څه توپير لري، تشريح يې کړئ؟

دولسمه پوښتنه: خالص عامه تصدۍ له عامه مختلط تصديو سره څه توپير لري، واضح يې کړئ؟

ديارلسمه پوښتنه: عامه انتفاعي تصدۍ کوم ډول تصدۍ دي، تشريح يې کړئ؟

څوارلسمه پوښتنه: عام المنفعه او تعاوني تصديګانې کوم ډول تصديګاني دي، تشريح يې کړئ؟

پنځه لسمه پوښتنه: ولې عامه تصدۍ رامنځته کيږي، لاملونه يې په ګوته کړئ؟

شپاړسمه پوښتنه: عامه تصدۍ د کومو عواملو له مخې رامنځته کيږي، په ګوته يې کړئ؟

اوه لسمه پوښتنه: د عامه تصديو ستونزې کومې دي، تشريح يې کړئ؟

# درېیم فصل

## عامه مصارف

## (Public expenditure)

عامه مصارف د دولت لخوا په عامه چارو کې ترسره کیدونکي مصارف یا لګښتونه دي، لکه د دولتي یا عامه خدماتو د ترسره کیدو لپاره د دولتي اداراتو پیرودنې(خریداریګانې)، د بیوزلو خلکو د هوساینې په خاطر سبسایدي ګانې(بلا عوضه مرستې)، روغتیایي لګښتونه، روزنیز او کلتوري برخو کې د دولت لګښتونه، د بهرنیو پورونو ورکړې، د ملي صنعت لپاره پانګه اچونه او داسې نور.(دودیال، ۱۳۹۵)

کله چې دولت دا تصمیم ونیسي چې کوم ډول اجناس او خدمات او په کوم کیفیت او کمیت سره یې تولید کړي، نو عامه مصارف د دغه ډول سیاستونو او اجرایوي مصارفو څخه عبارت دي. عامه مصارفو ته د حکومت مصارف هم وایي، کوم چې د مرکزي، ولایتي او محلي حکومتي ادارو پواسطه په مصرف رسیږي، چې د ټولنیزو مقاصدو لپاره په کار واچول شي. یا په بل عبارت ټول هغه مصارف چې د ټولنیزو ضرورتونو د رفع کولو لپاره د دولتی چارواکو په وسیله ترسره کیږي، عبارت د عامه مصارفو څخه دی.

### د عامه مصارفو ډولونه

اقتصاد پوهانو عامه مصارف د هغوی د دوندو په نظر کې نیولو سره په لاندې دوو ډولونو ویشلي دي چې عبارت دي له:

۱. تولیدي مصارف Productive expenditure
۲. غیر تولیدي مصارف non productive expenditure

## توليدي او غير توليدي مصارف

د توليدي او غير توليدي مصارفو لپاره د اقتصاد پوهانو لخوا يو لړ تعريفونه شويدي چې دارنګه ورځيني يادونه کوو: عامه توليدي مصارف له هغو مصارفو څخه عبارت دي کوم چې په تر سره کولو سره يې نور توليدات رامنځته کيږي، لکه د صنعتي کمپنيو جوړول، د زراعت د پرمختګ لپاره مصارف او نور چې حکومت ته په راتلونکي کې ګټه او توليدات رامينځته کوي.

غير توليدي مصارف بيا هغه مصارفو ته ويلی کيږي کوم چې له امله يې حکومت ته څه خاص عوايد او يا توليدات په لاس نه ورځي، لکه دفاعي مصارف، د حکومتي اداراتو مصارف او نور دا هغه مصارف دي چې په مصرف رسيږي او بيا عوايد او توليد نه لري.

ځيني نورو علماو بيا عامه مصارف په لاندې ډولونو ويشلي دي او هغوی يې په لاندې نومونو سره ياد کړيدي.

## انتقالي او غير انتقالي مصارف

Transfer and non-transfer expenditure

د مصارفو دا ډولونه د فيګو برطانوي اقتصاد پوه پواسطه نام ګذاري شوي دي، فيګو وايي چې انتقالي مصارف هغه مصارف دي کوم چې صرف مصرف صورت نيسي او د هغې په مقابل کې کوم خاص څيز او ګټه نه حاصليږي، لکه د تقاعد او اکراميو مصارف او نور.

غير انتقالي مصارف بيا هغه مصارف دي کوم چې له امله يې حکومت ته نقدي ګټه رسيږي او يوه اندازه عوايد په لاس راوړي، لکه: پر بريښنا مصارف، د ترانسپورت په هکله مصارف، ابياري او دې ته ورته نور مصارف.

## په عامه مصارفو کې د زیاتوالي علتونه
## Causes of Growth of Public Expenditure

که د دولتونو تاریخي قدامت ته وکتل شي نو ښکاره ده چې په لومړیو کې دولتونو ساده جوړښت درلود او دومره زیاتې دندې نه یې درلودې مګر د پخوا په پرتله په اوسنۍ وخت کې د دولتونو مصارف ډیر زیات شوي او ورځ تربلې یې مسؤلیتونه او مصارف لا زیاتیږي چې له یو څو مهمو علتونو څخه یې په لاندې ډول یادونه کوو:

### ۱. په دفاعي مصارفو کې زیاتوالی (Increase in defense expenditure)

لکه څرنګه چې په نړیواله توګه د هیوادونو ترمنځ په دفاعي، امنیتي او فوځي برخو کې رقابت روان دی، له همدې امله ورځ تربلې په دغه برخه کې د حکومتونو فوځي، دفاعي یا امنیتي مصارف ډیریږي چې دا د عامه مصارفو د ډیروالي یو له مهمو او اساسي علتونو څخه شمیرل کیږي، دا چې هیوادونه په دغه برخه کې یو له بل سره رقابت لري او له بلې خوا د دغه سکتور اړونده وسایل، تجهیزات او نور دفاعي مواد نسبت نورو سکتورونو ته ګران دي نو له همدې کبله د دغه سکتور د وسایلو او ضروریاتو په اخستلو او تجهیز کې زیات مصارف هم ترسره کیږي. نن ورځ په زیاتیدونکې ډول د نړۍ اکثره هیوادونه فوځي، دفاعي او امنیتي مصارف لري، چې د عامه مصارفو د زیاتوالي له عمده علتونو څخه ګڼل کیږي.

### ۲. د دولت د وظایفو پراختیا (Expansion of government functions)

په لومړیو کې د دولتونو یواځې دا دنده درلوده چې د هیواد د سرحداتو څخه ساتنه وکړي، د هیواد داخلي امنیت وساتي او د اقتصادي پرمختګ لپاره لومړني ضرورتونه پوره او زمینه مساعده کړي، مګر د وخت په تیریدو سره د بازار ستونزو لکه د کار لپاره زمینه سازي، د عدالت تأمین او نورو انساني ارزښتونو په تدریج سره د دولت نقش او رول په ټولنه کې زیات کړ چې اوسنۍ حد ته رارسیدلی او تر دې به هم زیاتوالی و مومي.

په اوسنۍ وخت کې دولت ډیر زیات او لوی لوی مسؤلیتونه او دندې پر غاړه لري لکه: په ټولنه کې د قیمتونو ثبات او د ملي پیسو د ارزښت ساتنه، د اقتصادي نوساناتو کنترول، د ټولنې د سیاسي او اقتصادي پرمختګ لپاره د مناسبو اقتصادي او سیاسي پالیسیو او سیاستونو طرحه او تعمیل، د مزدونو حد اقل کول، د اجتماعي او صحي بیمو د ډولونو رامنځته کول او پراختیا، د اقتصادي وضعیت د ښه والي(په ځانګړي توګه د کم عاید درلودونکو خلکو) لپاره هڅې، د کار او اشتغال د سطحې لوړول، د چاپیریال ساتنې لپاره هڅې، عامه روغتیا ته توجه، فرهنګي پرمختګ او ساتنې لپاره مرستې، د علومو او فنونو پرمختیا، له بهرنیو هیوادونو سره د سیاسي مناسباتو او اړیکو ساتل او پراخوالی، د داخلي امنیت ساتل، د قوانینو او مقرراتو تصویب او تطبیق، د رغاونې په برخه کې په سرکونو مصرف، د بریښنا د بندونو پروژې، کانالونه، لوړې زده کړې، پارکونه، په بحرونو او فضا کې څیړنې او تحقیقات او له دې پرته په سلګونو نورې دندې دي چې دولت یې پر غاړه لري.(عارف، ۱۳۹۶)

له دې ټولو څخه دا څرګندیږي چې د وخت په تیریدو سره حکومتونه غښتلي شویدي او په څنګ کې یې د مسؤلیتونو ساحه هم پراخه شویده چې دغه لړۍ لا پسې اوږدیږي او د دولت مسؤلیتونه او دندې لا زیاتیږي چې دا ټول د عامه مصارفو پر ډیروالي تاثیر لري او د عامه مصارفو د زیاتوالي سبب شوي دي. نو هر څومره چې د دولت وظایف زیاتیږي هماغومره ورسره مصارف یې لوړوالي مومي.

### ۳. وروسته پاتې برخې او د نفوسو زیاتوالی

د وروسته پاتې ساحو لپاره د انکشافي کارونو ترسره کول چې د هغو سیمو حق ده د عامه مصارفو په اندازه کې زیاتوالی رامنځته کوي، له بلې خوا هغه سیمې چې وروسته پاتې دي په دغو سیمو کې د نفوسو د ودې اندازه هم چټکه وي چې دا هم د عامه مصارفو د زیاتوالي له مهمو عواملو څخه ګڼل کیږي. نو د اقتصاد د تیورۍ له مخې څومره چې نفوس زیاتیږي په هماغه اندازه دولتي مصارف او لګښتونه هم ورسره زیاتیږي.

دولت مکلفه ده چې نظر د سيمو تکاثف(د نفوسو ډېروالي) ته مصارف ترسره کړي، دا په دې معنی، هرځومره چې په يوه سيمه کې نفوس زيات وي دولت مجبوره ده د هغوی د نفوسو په پرتله ورته عامه مصارف ترسره او خدمات وړاندې کړي، لکه د مکتبونو جوړول، د صحي خدماتو او کلينيکونو جوړول، د برق د مصارفو زياتوالی، د ترانسپورتي خدماتو وړاندې کول او دې ته ورته نورهغه څه دي چې نظر نفوسو ته يې په اندازې کې زياتوالی رامنځته کيږي. نو ويلی شوچې د نفوسو سره متوازنه په عامه مصارفو کې هم زياتوالی رامنځته کيږي چې د عامه مصارفو په اندازې کې د زياتوالي باعث ګرځي.

## ۴. د قيمتونو لوړه سطحه (High level of Price)

هغه هيوادونه چې ښه مالي سياست نه لری نو په هغه هيواد کې انفلاسيون هم موجود وي، واضحه ده چې هلته قيمتونه هم لوړيږي، چې په دې سره بيا د دولت په مصارفو کې زياتوالی هم رامنځته کيږي.

معمولاً په هيوادونو کې بوديجه په کلنی ډول پيشبيني او تصويبيږي، هغه هيوادونه چې قيمتونه په کې ثبات ونه لري د وخت په تيريدو سره يې د اجناسو په قيمتونو کې زياتوالي رامنځته کيږي او دولت اړ وي چې د پلان او پروژو د تطبيق په موخه اجناس او وسايل په ګرانه بيه خريداري او عامه خدمات او توليدات ترسره کړي چې دغه حالت په عامه مصارفو کې د زياتوالي باعث ګرځي او عامه مصارف لوړيږي.

هر ځومره چې په يوې ټولنې کې د پيسو ارزښت کميږي ورسره د اجناسو قيمتونه لوړيږي او چې د اجناسو قيمتونه لوړ شول ښکاره خبره ده چې مصارف ورسره لوړوالی پيدا کوي نو دلته ده چې خلک او دولتونه مجبوره دي چې که هرځومره د اجناسو قيمتونه لوړ هم شي دوی بايد خپل ضروريات رفع کړي.

### ۵. په عامه عوایدو کې زیاتوالی (Increase in public revenue)

له هغه وخت نه چې صنعتي انقلاب رامنځته شوی او په نړیواله توګه صنعت مروج شوی د خلکو په عوایدو کې لوړوالی هم راغلی، همدغه دی چې د دولت په عوایدو کې یې له کبله هم لوړوالی راغلی دی چې د عوایدو دغه لوړوالی د عامه مصارفو د زیاتوالي باعث شوی دی.

د صنعت په نتیجه کې د کار او اشتغال زمینه مساعده شوې او چې د کار زمینه برابره شي واضحه ده چې تولیدات هم زیاتیږي، د تولیداتو د زیاتوالي سره ګټه یا منفعت زیاتوالی پیدا کوي، پس اندازونه او بیا سرمایه ګذاریانې زیاتیږي چې د ګټې په نتیجه کې د خلکو مصارف ډیریږي او چې د خلکو عواید زیات شو واضحه ده چې د عامه مصارفو په اندازې کې هم زیاتوالی رامنځته کیږي.

### ۶. د مصارفو ضایعات Duplication of expenses

وروسته پاتې یا پرمختیایي هیوادونه هغه هیوادونه دي چې د دغه ډول مصارفاتو درلودونکي دي، دا چې پرمختیایي هیوادونه مسلکي اشخاص، علمي کادرونه او متخصصین نه لري له همدې امله ده چې خپل عواید په غیر مسلکي توګه کاروي چې له امله یې په مصارفو کې ضایعات رامنځته کیږي چې دا د عامه مصارفو د زیاتوالي باعث ګرځي.

### ۷. اقتصادي ودې ته سرعت ورکول(Accelerating economic growth)

کله چې دولت غواړي په لږ او کم وخت کې پرمختګ وکړي، نو په خپلو مصارفو کې په پراخه کچه زیاتوالی رامنځ کوي، یا په بل عبارت دولت غواړي په ځینو حالاتو کې یو ځلیز تغییر راولي چې دغه یوځلیز تغییر بیا یو لږ عوایدو ته ضرورت لري چې د عوایدو د تدارک په صورت کې په مصارفو کې زیاتوالی رامنځته کیږي. نو ویلی شو، هغه هیوادونه چې خپل اقتصادي پلانونه یو ځلییز تطبیق کوي او غواړي په یو ځل اقتصادي پرمختګ وکړي نظر هغو هیوادونو ته چې په تدریجي توګه وده کوي ډیر مصارف لري چې همدغه چاره د دولتونو د مصارفو د زیاتوالي باعث ګرځي.

## ۸. ښاري کیدنه Urbanization

د ښاري ژوند په زیاتیدو سره په عامه مصارفو کې هم زیاتوالی رامنځته کیږي، ځومره چې خلک له کلیوالي ژوند څخه ښاري او عصري کیدلو طرف ته میلان پیداکوي، هغومره ورسره د دولت مصارف لوړیږي، دولت مکلف دی، په ښارونو کې د خلکو لپاره عامه خدمات وړاندې کړي. په داسې حال کې چې په کلیوالي ژوندانه او چاپیریال کې د عامه خدماتو اندازه کمه ده، نو په دې سره د دولت مصارف لوړوالی پیدا کوي.

په ښارونو کې د کلیو او باندو په پرتله دولت ډیر زیات خدمات وړاندې کوي لکه د عامه پارکونو او تفریحګاوو جوړول، د لوړو زده کړو لپاره د پوهنتونونو او تحصیلي دستګاوو رامنځته کول، د صحي مجهزو روغتونونو ایجاد، د بانکي خدماتو د سهولتونو رامنځته کول، د مواصلاتو او مناقلاتو د عصري سیستمونو په کار اچول او نور هغه څه دي چې په کلیوالي ساحو کې یې د تطبیق په وړاندې دولت ته ستونزې راولاړیږي نو دولت دغه خدمات په ښارونو کې ترسره کوي چې دا ټول د عامه مصارفو کچه ډیروي.

## ۹. صنعتي کیدنه Industrialization

صنعت او په صنعتي سکتور کې د رقابت زیاتوالی د دې باعث شوی چې عامه مصارف زیات شي، ځومره چې صنایع زیاتیږي، هغومره باید دولت ورته سهولتونه مهیا کړي، لکه امنیت، برق، لارې او سرکونه، ترانسپورتیشن، د مسلکي اشخاصو روزل او نور هغه څه دي چې د صنعت پورې تړلي دي او صنعت پرته له دغو شیانو څخه پرمختګ نشي کولی نو دولت مکلفه ده چې د صنعت د پراختیا لپاره دارنګه خدمات ترسره کړي چې په دې سره د دولت مصارف لوړوالی مومي.

## ۱۰. حکومتي مالي مرستې

د حکومت د مالي کومکونو په زیاتوالي سره د حکومت مصارف هم زیاتیږي. ښکاره خبره ده کله چې دولت له خپلو اولسونو او یا نورو سره په مترقبه او غیر مترقبه حالاتو کې مالي مرستې کوي، نو دا مرستې د حکومت مالي مصارف لوړوي. دولت مجبوره ده چې په ځینو استثنایي حالاتو کې د خلکو سره نقدي مرستې وکړي تر څو د هغوی زیان جبران شوی وي چې دغسې حالاتو کې د دولت مصارف لوړوالی مومي.

### د عامه مصارفو تاثیرات
### Effects of public Expenditure

ښکاره خبره ده چې دولتي یا عامه مصارف په ټولنې، مختلفو سکتورونو او فکتورونو باندې مستقیمه اغیزه لري، هر څومره چې دولت د یوې ټولنې د پرمختګ لپاره کار کوي په هماغه اندازه ټولنه هوسا او ارامه کیږي او د پرمختګ په لور حرکت کوي چې په ځینو برخو باندې د دغو مصارفو تاثیرات په لاندې ډول تشریح کوو:

**۱. په تولید باندې تاثیرات**( Effects on production)

عامه مصارف د یو هیواد تولیدي ظرفیت زیاتوي او کاري فرصتونه رامینځته کیږي، د بلې خوا د کمپنیو شتمنۍ او عواید هم زیاتیږي چې د هغوی د عوایدو په زیاتیدو سره د کمپنیو سپما زیاتیږي کوم چې په سرمایه ګذاري او هم په صنعت باندې مثبت اثر لري او پرمختګ رامنځته کوي، لکه لرې پرتو سیمو او اطرافو ته د سرک غزول د کلیوالو په زراعتي حاصلاتو کې زیاتوالی رامنځته کوي، د برق په تولید سره صنعتي تولیدات وده کوي، د امنیت په ښه کیدو سره سرمایه داران سرمایه ګذاري کوي او داسې نور

## ۲. د عوايدو په ويش باندې تاثيرات (Effects on income distribution)

د عوايدو د ويش څخه مقصد دادی چې په ټولنه کې د عوايدو نامساويانه او غير عادلانه ويش له منځه لاړ شي. د شتمنو خلکو څخه د هغوی د عوايدو يوه برخه د ماليې په شکل راټول شي او بيا د حکومت له لارې دغه عوايد په داسې لارو مصرف شي چې غريب خلک په شکل د اشکالو ترې مستفيد شي چې د عامه مصارفو په ترسره کولو سره په ټولنه کې د شتمنيو غير مساويانه ويش تر يوه حده راکميدای شي.

د ملي عوايدو مجدده يا بيا ځلي عادلانه ويش ده چې په واقعيت کې د ټولنې طبقاتي فاصلو په کمولو او د اجتماعي عدالت په تأمين او پلي کولو کې مهم نقش لري. په يوه هيواد يا يوې ټولنې کې لوی اجتماعي ډلې شتون لري چې د ټولنې د داخلي ملي ناخالصو توليداتو په لوړولو او لاسته راوړلو کې مهمه ونډه لري لکه د ټولنې اشراف او سرمايه داره طبقه. د دې ترڅنګ په همدغه ټولنه کې بيا ځينې نورې اجتماعي ډلې او خلک(لکه هغه کارګران چې ورځنۍ مزد لري، کارمندان او نور په کور ناست خلک او ډلې) هم شتون لري چې د کار او شغل له مخې د ملي عايد ډيره کمه برخه په واک کې لري.

دا چې په ټولنه کې ځينې د ښو عوايدو او ښو اقتصادي امتيازاتو درلودونکي وي او نور بيا د کمزوري اقتصاد او کم عايد څخه برخمن وي چې حتی نشي کولی خپل ورځنۍ چارې پر مخ بوځي نو دغه د عوايدو نابرابري د دې باعث ګرځي چې په ټولنه کې دې يو بې عدالتي رامنځته کړي او خلک دې ورو ورو د حکومتونو څخه فاصله اختيار کړي، نو مالي سياست د همدغې موخې د ترلاسه کولو لپاره کار کوي تر څو په ټولنه کې دغه بې عدالتي او بې انصافي له منځه يوسې، د همدې لپاره يې مالياتي سياست په کار اچولی ترڅو پر عايداتو د مالياتو د سياست له لارې له ثروتمندو او مالدارو کسانو څخه يوه اندازه عوايد راټول او د هغو کسانو لپاره يې مصرف کړي چې د کم عايد درلودونکي دي، دولت له شتمنو څخه د مالياتو په نامه عوايد راټولوي او د

عامه خدماتو او عامه تولیداتو په نامه یې د هغو کسانو لپاره په مصرف رسوي کوم چې د کم او ټیټ عاید درلودونکي دي ترڅو له دې لارې وشي کولی د هغو کسانو څخه حمایت وکړي چې د کمو عوایدو درلودونکي او بې بضاعته دي.

### ۳. په مصارفو باندې تاثیرات (Effects on consumption )

په وروسته پاتې سیمو او غریبو خلکو باندې د عامه مصارفو ترسره کول د هغوی د مصرف اندازه لوړوي، ځکه د عامه مصارفو په ترسره کولو سره د هغوی اقتصادي فعالیتونه زیات او د ژوند سطحه او معیار یې لوړیږي.

کله چې عامه مصارف ترسره کیږي، نو دغه مصارف په مستقیمه توګه د خلکو د عاید په سطحې باندې اثر کوي او د خلکو عواید ورسره زیاتیږي، کله چې د خلکو عواید لوړ شي، ورسره د خلکو مصارف زیاتیږي چې تقاضا زیاته کړي او په دې طریقه به په تولید کې زیاتوالی راشي او اقتصاد به بیرته د ثبات حالت ته ولاړ شي، مثلاً دولت په سرک جوړولو باندې مصارف ترسره کوي خلک چې پخوا پیاده تلل اوس خپل انتقالات د موټرو په واسطه ترسره کوي او یا د برق په تولید سره د برق د محصول په نامه مصارف دولت ته تحویلوي چې دا ټول د خلکو د مصارفو لوړوالی بلل کیږي.

### ۴. په اقتصادي ثبات باندې یې تاثیرات (Effects on Economic stability)

کله چې په یو هیواد کې اقتصادي بې ثباتي شتون ولري نو د عامه مصارفو د منظم استعمال په اساس هغه په ښه ډول کنټرولیدای شي، د مثال په توګه: کله چې په یو هیواد کې ډیفلاسیون رامنځته شي نو دغه وخت کې عامه مصارف زیاتیږي تر څو تقاضا زیاته کړي او پدې توګه به په تولید کې زیاتوالی راشي او اقتصاد به بیرته د ثبات حالت ته ولاړ شي.

### ۵. په اقتصادي ودې باندې یې تاثیرات (Effects on economic growth )

د اقتصادي پرمختګ د لاسته راوړلو ښه وسیله په منظم ډول او د ښه پلان په

اساس د عامه مصارفو ترسره کول دي، دولت د مختلفو سکتورونو د ودې لپاره بودیجه تخصیصوي، لکه د زراعت، صنعت، ترانسپورټ، مخابرات، تعلیم، بریښنا، صحت، صادرات او وارداتو سکتورونو باندې مصارف او د هغو وده په یوه هیواد کې د اقتصادي پرمختیا سبب ګرځي او اقتصادي وده رامنځته کوي.

نو ویلی شو چې د عامه مصارفو په ښه ډول لګول د ښه اقتصادي پرمختګ د لاسته راوړلو لپاره یوه ښه وسیله ده.

## د دریم فصل پوښتنې

لومړی پوښتنه: عامه مصارف کوم ډول مصارفو ته ویلی کیږي د مثالونو سره یې تشریح یې کړئ؟

دویمه پوښتنه: تولیدي او غیر تولیدي مصارف کوم ډول مصارف دي، تشریح یې کړئ؟

دریمه پوښتنه: په پرمختیایي هیوادونو کې د عامه مصارفو د زیاتوالي لاملونه په ګوته کړئ؟

څلورمه پوښتنه: عامه مصارفو ترسره کول په ټولنه باندې کوم ډول تاثیرات لري، تشریح یې کړئ؟

# ځلورم فصل

## عامه عواید

## Public revenues

څرنګه چې یوه کورنۍ پرته د منظمو او دوامداره عایداتي منابعو نشي کولای په دوامداره ډول مصارف ترسره کړي، عیناً په همدغه ډول دولت د خپلو وظایفو د ترسره کولو پخاطر دوامداره عایداتي منابعو ته ضرورت لري.

نن ورځ دولتونه مختلفي دندې لري او مجبوره دي چې د خپلو اقتصادي، سیاسي، کولتوري، ټولنیزو او نورو سکتورونو د پر مخ بیولو لپاره یوه اندازه پیسې ترلاسه کړي، چې د دغو پیسو د تر لاسه کولو لپاره لازمه ده چې دولتونه له مختلفو لارو چارو او منابعو څخه استفاده وکړي ترڅو یوه اندازه پیسې تر لاسه او خپل مصارف پرې تمویل کړي.

عاید د معاوضې یا بدلې له هغه مقدار څخه عبارت دی چې یو شخص یې د یوه تولید یا خدمت په مقابل کې ترلاسه کوي. یا په بل عبارت سره ویلی شو چې عاید له هغه مبلغ څخه عبارت ده چې یو شخص یې په یوه ټاکلي موده کې د خپلو تولیداتو او یا خدماتو په مقابل کې لاسته راوړي. نو له دې څخه معلومیږي چې غیر قانوني لاسته راوړنې په عاید کې نه شاملیږي او همداراز زکات، خیرات، تحفې او نور په عاید کې نه شاملیږي.

د عامه لګښتونو ترسره کول یا د دولت د عوایدو تر لاسه کول له دوو لارو څخه تر سره کیدای شي چې عبارت دي له:

١.مالیاتي عواید

٢.غیر مالیاتي عواید

**۱. مالیاتي عواید**

مالیاتو هم لکه د نورو علومو په شان بیلابیل تاریخي پړاوونه درلودي دي او د خپل د تکامل دوره یې تیره کړیده چې د یو شمیر تحولاتو او بدلونونو شاهد دي. مالیات د حکومتونو یا دولتونو له منځته راتګ سره یوځای رامنځته شوی چې په حقیقت کې د دولتونو د عوایدو مهمه منبع شمیرل کیږي. د دولت د لګښتونو د پوره کولو یوه مهمه لاره او غوره سرچینه له بیلابیلو لارو د مالیاتو راټول دی، یا په بله وینا: کله چې د مالي اړتیاو د ډاډمنتیا دغه مهمه سرچینه له نورو سرچینو سره پرتله کوو، نو ویلای شو چې که هر څومره د دولت د لګښتونو په پوره کولو کې مالیاتي ونډه زیاته وي، هومره د اقتصادي ناوړه اغیزو مخه نیول کیدای شي.(باتلر، ۱۳۷۷)

د دولت د عوایدو د پوره کولو یوه مهمه لاره د بیلابیلو مالیاتو راټولول دي. دولت د خپلو مصارفو ډیره برخه د مالیاتو(اجباري ورکړو) له لارې تمویلوي. د وروسته پاتې یا پرمختیایي هیوادونو په پرتله پرمختللي هیوادونه د خپلو د عوایدو ډیره برخه د مالیاتو له لارې ترلاسه کوي، چې د مالیاتي عوایدو کموالي په وروسته پاتې هیوادونو کې مختلف عوامل او لاملونه لرلی شي، لکه، نا امني، د عامه پوهاوي نه شتون، د بې سوادی لوړه کچه، د عوایدو غلط راپور ورکول، له مالیاتو څخه فرار او داسې نور

د مالیاتو بیلابیل تعریفونه او تعبیرونه وجود لري چې هر عالم د خپل له نظره ورته تعریف کړی. مالیات په لاندې توګه تعریفولای شو:

مالیات له هغو اجباري ورکړو څخه عبارت دی چې خلک یې دولت ته د غیر مستقیمو خدماتو په مقابل کې تادیه کوي. یا په بل عبارت: مالیات له هغه اجباري تادیاتو څخه عبارت دی چې دولت یې له خلکو څخه د قانون له مخې ټول او وروسته یې د دولتي چارو د پرمختیا لپاره په کار وړي. یا په بل عبارت: مالیه یا Tax هغه ورکړې دي چې د دولت لخوا د اشخاصو پر عایداتو او شتمنیو باندې وضع شوي وي او خلک یې پر ورکړې یا تادیه کولو مکلف وي.

مالیات له هغو اجباري ورکړو یا تادیاتو څخه عبارت دی چې دولت یې پرته له کوم متقابل خصوصي پاداش او عوض څخه له حقیقي او حقوقي اشخاصو څخه د دولت د مصارفو د تأمین په خاطرآخلي.( معروفی، ۱۳۸۴)

په پورتني تعریف کې لاندې څو نقاطو ته اشاره شوې:

الف. مالیات د دولت د اړتیاو د پوره کیدو په خاطر اخیستل کیږي.

ب. د مالیاتو اجباریوالی دی چې خلک د هغو په ورکړې مکلف دي او هغه باید د قانون سره سم ورکړي.

ج. بې عوضه او بې بدله ورکړې دي (پرته له کوم خصوصي متقابل خدمت څخه اخیستل کیږي).

**الف. د مالیاتو مشروعیت او روا والی**

د مالیاتو د مشروعیت او رواوالي په هکله یعنې دا چې آیا دولت حق لري چې د خپلو مصارفو د تامین په خاطر له افرادو او اشخاصو څخه مالیات راټول کړي او که نه؟ په دې هکله په بیلا بیلو تاریخي دورو کې د بیلا بیلو علماو نظریات شتون لري:(دودیال، ۱۳۹۲)

لومړنی منطقي او فلسفي تعریف چې د مالیاتو په هکله شوی دی، هغه د یونان د نامتو فیلسوف **ارسطو** تعریف دی چې د مالیاتو په هکله یې کړی، ارسطو وایي چې مالیه یو ډول فداکاري ده چې خلک یې د دولت د وظایفو او دندو د ممکن کیدو په خاطر په غاړه اخلي، دا ځکه چې پرته له دې څخه دولت خپل ټاکل شوي دندې په ښه توګه پرمخ نشي وړلای، نو همدا علت دی چې د یوې ټولنې د ګټو د تامین په خاطر د دولت فعالیتونو ته ضرورت ده چې همدغه ضروري والی د مالیاتو مشروعیت ثابتوي.
د مسیحیت د فلسفې نامتو استازی **توماس فون اکوین** بیا مالیه یوه بې ګناه غلا بولي. دی وایي چې د مالیاتو راټولول یو ډول غلا ده چې د دولت لخوا د دغه

غلا ترسره کول کوم جرم او گناه نه گڼل کیږي او علت یې هم دا ښيي چې په دې پیسو سره دولت بیرته خلکو ته خدمات وړاندې کوي او د دوی د مال او سر څخه ساتنه کوي.
**هابس او رونیک** د بیمې د تیوري ارایه کوونکي مالیه د افرادو د شتمنیو د ساتنې، حمایت او محافظت لپاره یوه ونډه بللې چې دولت د افرادو شتمني د تیریو په وړاندې حمایه کوي او د خپل دغه خدمت په مقابل کې یوه اندازه پیسې د مالیې په نامه اخلي.

پورتني ټول نظریات د مالیې د بیلابیلو اړخونو په پام کې نیولو سره تر سره شوي او دا ثابتوي چې د دولت لخوا د مالیې اخیستل یو مشروع او روا کار دی، ځکه دولت حق لري چې د ټولنې د ګټو د ساتنې لپاره د خپلو دندو د اجرا په خاطر د ټولنې له غړو څخه مالیات راټول کړي.

## ۲. غیر مالیاتي عواید

د دولت غیر مالیاتي عواید بیا له هغو عوایدو څخه عبارت دي چې دولت یې له خپلو اقتصادي فعالیتونو (تشبثاتو) څخه تر لاسه کوي. دغه ډول عواید بیا اجباري نه بلکه اختیاري بڼه لري چې دغه ډول عواید اکثره نامنظم او تر ډیره حده ډاډمن هم نه وي.

یو شمیر غیر مالیاتي عواید په لاندې ډول ذکر کوو:

الف. د دولت له انحصاراتو څخه ترلاسه کیدونکي عواید لکه تیل، د اوسپنې پټلۍ، بریښنا، تیلفون او نور.

ب.د بیلابیلو هغو خدماتو عرضه کول چې د دولتي اداراتو لخوا اجرا کیږي او په مقابل کې یې یوه اندازه عواید ترلاسه کیږي لکه د پوهنتون فیسونه او نور

ج. د عمومي املاکو د خرڅلاو، اجاره او یا کرایې له درکه عواید.

د. له داخلي او خارجي مؤسساتو او هیوادونو څخه پور اخیستل.

هـ. د پیسو نشرول.

همداراز د دولت عواید، د حصول یا د ترلاسه کولو د سرچینو له مخې په دوه ډوله ویشل شوي:

۱. منظم عواید

۲.غیر منظم عواید

**۱. د دولت منظم عواید:** د دولت منظم عواید له هغو عوایدو څخه عبارت دي چې په یوې مالي یا بودجوي دورې کې په منظم ډول جریان پیدا کوي او په منظم ډول البته په تخمیني ډول په نظر کې نیول کیږي او د هغو اندازه مخکې تر مخکې اټکل او پلان شوی وي، لکه مالیاتي عواید، تشبثاتي عواید، محصول سهمیه او نور. د دغو عوایدو ټاکل د یوې ټولنې د اقتصادي وضعیت او شرایطو په نظر کې نیولو سره کم او یا زیاتیدای شي مثلاً، که اقتصادي وضعیت ښه شي، نو مالیات هم زیاتوالی پیدا کوي او که اقتصادي وضعیت او شرایط خراب شي مالیات به کموالی پیدا کړي. د بیلګې په توګه هغه مالیات چې دولت یې له افرادو او مؤسساتو څخه اخلي او یا هغه عواید چې دولت یې له تشبثاتي فعالیتونو څخه تر لاسه کوي، اقتصادي عمومي وضعیت او شرایطو پورې اړه لري چې د اقتصادي غوړیدا (Recession) په حالت کې زیاتوالی او د اقتصادي کړکیچ(Through) په حالت کې کموالی مومي.

**۲. د دولت غیر منظم عواید:** دغه عواید منظم او دایمي منابع نه دي، بلکه یوازې د اړتیا پر مهال راټولیږي، لکه کورنۍ او بهرنۍ مرستې او اعانې، د دولتي ملکیتونو او جایدادونو پلورل، د پیسو نشرول، دولتي پورونه او نور. دولت ته ځینې وخت اقتصادي وضعیت او شرایط د دې اجازه نه ورکوي چې دولت د خپلې اړتیا وړ مالي وسایل پرته د دولتي املاکو د پلورلو له لارې څخه له نورو لارو پوره کړي، ځکه چې له دې لارې څخه په استفادې سره په

اقتصاد کې پیسې نه زیاتیږي، بلکه یواځې او یواځې له خصوصي سکتور څخه دولتي سکتور ته پیسې لیږدول کیږي چې له دې لارې د انفلاسیون مخه نیول کیدای شي. همدارنګه د دولت د شتمنیو د یوې برخې پلورل د ټولنیزو او اقتصادي پالیسیو په خاطر هم وي چې خصوصي اقتصاد له ځمکو څخه ډیره او ښه ګټه تر لاسه کړي، کرنیز محصولات زیات شي او ورسره د خلکو ژوند ښه والی پیداکړي.

له دې سره سره د دولتي ځمکو پلورل د دې لپاره هم ترسره کیږي چې خلک د اوسیدو لپاره کورونه جوړ او د سرپناه خاوندان شي، چې په دې حالت سره هم دولت د یوه ټولنیز سیاست موخې ته ځان رسوي.

د دولت ټول عایداتي منابع له تحصیل څخه وروسته په عامه دارایئ بدلیږي لکه په لاندې توګه:(عارف، ۱۳۷۴)

۱. هغه مالیات چې له قانون سره سم اخیستل کیږي.

۲. هغه مصرفي حق الزحمې چې د دولتي او غیر دولتي ارګانونو څخه اخیستل کیږي. دغه عواید معمولاً د خدماتو او اجناسو د قیمت په بڼه وي چې دولت یې په مستقیم ډول د مصرف کوونکو څخه ترلاسه کوي، اکثره دغه ډول عواید د دولت د انحصاري فعالیتونو د ترسره کولو له امله ترلاسه کیږي لکه د اوبو، برق، ګاز او نورو څخه ترلاسه شوي عواید.

۳. د دولتي ادارو لخوا تر لاسه کیدونکې تکتانه.

۴. له دولتي تصدیو څخه تر لاسه کیدونکې ورکړې او نورې ګټې. دا هغه عواید دی چې دولتي تصدی یې د ګټې په نامه ترلاسه کوي.

۵. د دولتي ملکیتونو له خرڅلاو او اجارې څخه تر لاسه کیدونکې عواید.

۶. د راډیو ګانو د فریکونسیو په ګډون د تفحصاتو او نورو طبیعي منابعو څخه

د ګټې اخيستنې عوايد، د معنوي شتمنيو عوايد او د دولتي اداراتو کنترول لاندې حقوقو اجاره ورکول او پلورلو له درکه عوايد.

۷. دولتي حق الامتيازونه.

۸. اداري او اجرايوي عوايد: دا ډول عوايد د هغو عوايدو څخه عبارت دی چې دولت يې د خپلو قانوني دندو د اجرا پر مهال د مزد په عنوان د ځينو فعاليتونو د څارنې او يا سرته رسولو په مقابل کې د ټولنې د اصولو د حمايت او څارنې په خاطر ترلاسه کوي. لکه په محاکمو کې د مدني دعواګانو محصول، د پاسپورت محصول، د تذکرې صدور، د مالکيت د سندونو صدور، نقدي جريمو، د خساراتو د جبران، ظبط او مصادره کولو، ، د بيمې له درکه عوايد او داسې نور چې دولت ته سپارل کيږي.

۹. هغه بلا عوضه مرستې او عوايد چې دولت پورې تعلق پيداکوي.

۱۰. دولتي پورونه.

۱۱. د پورونو اړوند هغه پولي انتقالات چې دولتي ادارات يې له قانون سره سم اخلي.

۱۲. د ملي او نړيوالو ارزښت لرونکو اسنادو د صادرولو له لارې تر لاسه شوي پيسې او نور.

## د دولت تشبثاتي عوايد

د دولت تشبثاتي عوايد هغه عوايد دي چې دولت يې په اختياري ډول لاسته راوړي. دولت دغه عوايد هغه وخت تر لاسه کوي چې دولت د خصوصي سکتور په شان په بازار کې اجناس او خدمات عرضه کړي او د هغه په مقابل کې پيسې تر لاسه کړي، په دې اساس د دولت تشبثاتي عوايد د اقتصاد په عمومي شرايطو پورې اړه لري. کله چې اقتصاد د کړکيچ په حال کې وي د

دولت عواید کم او کله چې اقتصاد په ښه حالت کې وي د دولت عواید زیات وي.

د دولت عواید د تشبثاتي دارایی په واسطه لاسته راځي، دلته مو تشبثاتي دارایي نه یادونه وکړه چې ویلی شو د دولت دارایي په دوه ډوله دي:

۱.عامه دارایي

۲.تشبثاتي دارایي

**۱. عامه دارایي:** د ټولو هغو داراییو (شتمنیو) مجموعه ده چې د عامه چارو د ترسره کولو له لارې لاسته راځي، لکه د اقتصادي زیربناوو، عام المنفعه تأسیساتو او داسې نورو له لارې چې کومې دارایی لاسته راځې.

**تشبثاتي دارایي:** تشبثاتي دارایي د عامه شتمنیو هغه برخه ده چې د اقتصادي او مالي داراییو د تحقق له لارې په لاس راځي او په دوامداه او منظمه توګه عواید رامنځته کوي.

شتمني یا دارایي(Wealth) چې ورته ثروت هم ویل کیږي، هغه څه ته ویل کیږي، چې د بازار د ارزښت لرونکی وي، یعنې هغه په پیسو یا یوه جنس سره تبادله کړای شو، لکه فزیکي اجناس، کور، موټر، غالۍ، تلویزیون او نور، مالي شتمنۍ بیا د (پیسې، سعر) او د وګړو مهارتونه څخه عبارت دی چې وکولای شي ګټې رامنځته کړي. همدغه شتمنۍ په بازار کې په پیسو تبادله کیدای شي.

مالي شتمنۍ بیا د ګټې د ترلاسه کولو لپاره په کار اچول کیږي، نو ځکه شتمن او پانګوال یو بل سره توپیر لري. پانګوال شتمن دی، خو هر شتمن پانګوال نه دی. په ملي اقتصادي پرمختیا کې تر شتمن د پانګوال دریځ او اهمیت اوچت دی.(دودیال، ۱۳۹۵)

**محصول:** محصول د دولت د ځانګړو خدماتو په وړاندې د مؤسساتو او وګړو اجباري او حتمي ورکړې دي. محصول د دولت له خوا د سيده (مستقيم) خدماتو لپاره پاداش او د هغو جبران دی، لکه: د لايسنس په وړاندې د محصول ورکړه، د جواز نامې، د کار جواز، پاسپورت، د تيلفون، پست او د بريښنا د محصول سپارل او داسې نور.(دوديال، ۱۳۹۵)

**سهميه**

سهميه د دولت هغه عوايد دي چې دولت يې په اجباري ډول د خپل خدمت په مقابل کې د ټولنې نه تر لاسه کوي. لکه د دوکانونو او کورونو پرمخ د پلو لارو جوړول، کاناليزاسيون، بدرفتونه او نور چې د دغه ډول مصارفو لګښت دولت د هغه کسانو څخه اخلي کوم چې د دغو وسايلو او خدماتو نه استفاده کوي.

له ماليې سره د محصول او سهميې توپير دا دی چې د ماليې پر وړاندې يو ځانګړی خدمت نه اجرا کيږي. د دولت له انتفاعي عوايدو سره يې توپير دا دی چې انتفاعي يا تشبثاتي عوايد په اختياري توګه او د بازار له طريقه تر لاسه کيږي، حال دا چې سهميه ځينې وخت په اختياري توګه، خو ځينې وخت په اجباري ډول او د دولت د تدارک په اساس راټوليږي.

**ب. په نړۍ او افغانستان کې د مالياتو تاريخچه**

**۱. په نړۍ کې د مالياتو تاريخچه:** ماليات په نړيواله توګه ډېر زوړ تاريخ لري چې ډېر پخوا د قبيلوي ژوند په رامنځته کېدو سره د ټولنې د اقتصادي ستونزو د حل لپاره او د اربابانو، مشرانو، د قبيلې د رئيس او نورو د چارو اسانتيا په خاطر به خلکو ورکولې، کله چې تمدن او مدنيت رامنځته شو او نوي حکومتونه جوړ شول، ماليه هم پر مخ لاړ او شکل يې تغيير وکړ.(هربرت، ۱۳۶۰)

د مثال په ډول په مصر کې د مالياتو تاريخ له ميلاد څخه(۲۰۰۰) کاله مخکې دورې ته رسيږي، چې مختلف ډولونه يې لرل، آن دا چې په مصر کې به له

هغو غوړيو څخه هم ماليه اخيستل کيده چې يوې کورنۍ به د خپل پخلي لپاره ورڅخه کار اخيسته، همدا راز په مصر کې به مرييان او خارجيان هم مجبوره ول چې ماليه ورکړي.

په روم کې په پلورنو، پيرودلو او صادراتو او وارداتو هم ماليه و. له ميلاد څخه درې پيړۍ د مخه په روم کې د ميراث څخه په سلو کې لس ماليه اخيستل کيده. همدا راز له ځينو طبقو څخه د باج، خراج او جزيې په نامه هم ماليات اخيستل کيده چې په عام المنفعه چارو کې به په مصرف رسيده، چې دغه ډول چلند آن د اسلام د مقدس دين تر راتګه پورې دوام درلود.

د اسلامي حکومت په داخل کې د اوسيدونکو ذمي کافرو (هغه کافرو څخه چې د تورې په زور به تابع شوې وې) يوه اندازه ماليات د خراج په نامه وضع او اخيستل کيږي او هغه کسان چې خپله تسليم شوي وي يا په سوله باندې يې معاهده کړي وي، د هغوی څخه بيا خراج نه اخيستل کيږي، بلکه د معاهدې مطابق به ورڅخه ماليات اخيستل کيږي. خراج د هغو ځمکو څخه اخستل کيږي چې يو اسلامي حکومت يې فتح کړي او بيا يې بيرته هماغو کافرو ته ورکړي چې کرکيله پکې وکړي. د خراج نصاب او اندازه نه ده معلومه بلکې د حالاتو او ځمکو مطابق د هغې څخه ماليات يا خراج اخيستل کيږي چې اندازه يې د مالياتو څخه ډيره او لوړه ده.

جزيه هم يو ډول حکومتي عوايد او ماليات دي چې اسلامي حکومتونه يې د ذمي کسانو څخه د عسکري خدمت او د هغوی د ساتنې او امنيت په بدل کې اخلي، يعنې په ذمي کسانو باندې د دې جزيې په مقابل کې عسکري خدمت نشته، که چيرې کوم يو ذمي د عسکري خدمت ته حاضر شي، نو په هغه باندې بيا جزيه نشته، جزيه يوه ډيره کمه ماليه ده چې د هغوی څخه اخيستل کيږي. جزيه يواځې د مالدارانو او ګټه کوونکو ځوانانو څخه اخيستل کيږي، د دې برعکس بې ګټې او غريبو ذميانو باندې هم دغه ډول ماليه نشته. (صابر، ۲۰۰۷)

نو په دې توګه ویلی شو چې مالیات د حکومتونو نه جلاکیدونکې برخه ده چې د وخت په تیریدو سره یې لړ او ډیر بدلون کړی دی، سمون او اصلاح پکې راغلی دی او بیلابیلې بڼې یې غوره کړې دي.

**۲. په افغانستان کې د مالیاتو تاریخچه:** د لومړي ځل لپاره په افغانستان کې د عالي حضرت احمد شاه بابا د سلطنت په دوران کې مالیات او مالي چارو ته پاملرنه وشوه، همدغه وخت و چې د دولت په تشکیلاتو کې د دیوان همایون اعلی شعبه(ننی د مالیې وزارت) تاسیس شو. د دغې شعبې متصدي یا لومړنی مسول سردار عبدالله خان پوپلزی نومیده چې د دیوان بیګي په نامه یادیده مقرر شو، د دیوان بیګی نوم په وخت او زمان سره په مستوفي الممالک بدل شو، په دغه وخت کې ټولې مالي چارې په مرکز کې مستوفي المالک او په ولایاتو کې د تحصیلدارانو لخوا ترسره کیده او مستوفي المالک په ټول هیواد کې د مالي چارو د انسجام، مراقبت او کنترول مسولیت پر غاړه لرله.(دودیال، ۱۳۹۲)

مالیات په هیواد کې په مختلفو ډولونو سره تحصیل کیده چې ځینې مالیاتو اجباري شکل درلود او ځینې نورې یې په اختیاري ډول سره دولت ته پرداخت کیدل، مثلاً د سر چربئ په نامه یو ډول مالیه موجوده وه چې د هزاره جاتو خلک به په اختیاري ډول یوه اندازه غوړي د پادشاه دربار ته ورکول، چې بلاخره د وخت په تیریدو سره دغه عوایدو هم اجباري شکل ځانته غوره کړ او د دولت په مالیاتو کې وشمیرل شو.

وروسته د امیرعبدالرحمن خان د سلطنت په دور کې ځینې مالیات چې په اجباري ډول له خلکو څخه راټولیده معاف شول، مګر د ګردیز خلکو څخه آن تردې دمه هم یو مقدار غوړي او څو سره اسونه د سلامانې په نامه په اجباري ډول اخیستل کیده او د دولت په عوایدو کې حسابیدل.

تر(۱۲۰۰) لمریز کال پورې مالیات له خلکو څخه د جنس په ډول اخیستل کیده او حتی تر دې چې د دولت مامورینو به له زمیندارانو څخه خپل میاشتنی معاش د دولتي تعرفو له مخې د جنس په ډول اخیسته. وروسته په کال ۱۲۹۸ لمریز

کال کې د حضرت امان الله خان په دور کې مالیات له جنس څخه په نقده یا پولي شکل بدلون وموند او ځیني مالیات چې په جبري شکل له خلکو څخه اخیستل کیده معاف شول(د مالیې وزارت په ۱۹۱۹یا۱۱۲۵ کال کې ایجاد شو)

**۳. د مالیې ټاکنې میتودونه:** د تاریخ په اوږدو کې د مالیاتو د راټولولو یا تر لاسه کولو لپاره له درېیو میتودونو څخه کار اخیستل شوی چې په لاندې ډول دي:

۱. د اجاره دارۍ میتود.

۲. د حکومتي دفترونو په لاس د مالیاتو لاټولول.

۳. مالیاتي انحصار.

**الف. د اجاره دارۍ میتود:** د مالیې اجاره دارۍ میتود د مالیاتو د تحصیل یا تر لاسه کولو یوه ډېره پخوانۍ طریقه ده چې په دغه طریقه کې د یوې سیمې او ایالت مالیات د یوه ټاکلي وخت لپاره د ټاکلو پیسو په مقابل کې په اجاره ورکول کیږي. دا په هغه حالاتو کې کیده او کیږي چې د مالیاتي ارګانونو تشکیل کفایت ونه کړي او حکومتونه ونشي کولی چې خپل مالیات په خپله راټول کړي، نو دلته دولت اړ کیږي چې مالیات نورو ته په اجاره ورکړي، لکه د ترانسپورت د سکتور مالیات او نور چې اوس هم په اجاره ورکول کیږي.

د اجارې دغه بڼه په افغانستان کې هم موجود و چې د امیر عبدالرحمن خان تر وخته پورې مروج و، چې د ځمکو د مالیاتو عواید به خانانو او ملکانوته په اجاره ورکول کیده. د مالیې د اجارې د ورکولو لویه نیمګړتیا دا وه چې مالیه به د اجاره اخیستونکې له خوا د دوی په خوښه ټاکل کیده او کوم قانوني معیار یې نه لرله، نو ځکه یې قانوني مشروعیت نه درلود، له دې پرته له دې امله چې ګڼ شمیر خلک به د هغه وخت د اشرافو، روحانینو او نورو نومونو باندې له مالیې ورکولو څخه معاف کیدل، نو ځکه به اجاره لرونکو په مستضعفو خلکو باندې مالیاتي مکلفیت لوړ کړ، چې له همدې امله به لویه مالیاتي بې عدالتي رامنځته کیدله، دا چې پر دغو شرایطو به د مالیاتو پر مکلفینو باندې مالیاتي

فشارونه زیاتیدل، نو ګڼ شمیر لږ ځمکه لرونکو بزګرانو به د مالیې د ورکولو وس نه درلود، ځکه به اړ شول چې د مالیې پر ځای خپلې ځمکې دغه اجاره دارانو ته په واک کې ورکول چې د فیوډالي نظامونو د رامنځته کیدو یو لامل همدا د مالیې په اجاره ورکول و.

**ب. د حکومتي دفترونو په لاس د مالیاتو ټولول:** نن ورځ په ټوله نړۍ کې د مالیاتو د راټولول واک حکومت پورې اړه لري او حکومت د خپلو اړوندو دفترونو او کارمندانو پواسطه مالیات په سیده توګه له مالیاتي مکلفینو یا مالیه ورکونکو څخه ټولوي، دا چې په دې طریقه کې مالیات له قانون سره سم اخیستل کیږي، نو ځکه په دې میتود کې مالیاتي بې عدالتي او تبعیض کم لیدل کیږي. مالیات د خلکو له وس څخه پورته نه ده، نو ځکه د مالیاتو ورکوونکي د اجاره دارۍ د دوران په شان نه اړ کیږي، چې کله د اجارې د دوران په شان خپل د مالیاتو اصلي موضوع لکه ځمکه، جایداد یا څاروي وپلوري او د ډیرې درنې مالیې پر ځای خپل د تولید عامل له لاسه ورکړي او خپل مالیاتي مکلفیت اداء کړي.

**ج. مالیاتي انحصار**: مالیاتي انحصار د دولت د انحصاراتو یو ځانګړی ډول دی چې په غیر مستقیم ډول په یوه ټاکلي جنس باندې د مالیاتو ټاکنه ښکاره کوي چې دې ډول انحصار ته د مالیاتو عوض هم ویل کیږي. د دې لپاره چې دولت خپلو اهدافو ته ورسیږي، د ځینو اجناسو واک په خپل اختیار کې ساتي، نو په هغو باندې مالیه لوړوي چې د هماغه لوړې مالیې په اساس بیا اجناس په لوړ قیمت سره خرڅوي، لکه په هند کې سګریټ، همدا راز دولت ځینې وختونه د لوړې مالیې د اخیستلو په وخت کې اجناس د اجتماعي سیاست د پلي کولو لپاره په ټیټ قیمت سره پلوري.

### ۴.د مالیې ټاکنې حدود او تخنیک

د دې لپاره چې په یوې ټولنې کې د دولت د مالیاتو د ټاکلو سیاست په بریالیتوب سره پرمخ ولاړ شي او د خلکو منفي غبرګونونه را ونه پاروي او د مالیاتي مقاومتونو باعث ونه ګرځي، نو باید د مالیاتو په ټاکلو کې یو شمیر روحي او اقتصادي عوامل او تخنیکي شرایط مراعات شي.

**۱. د ماليې ټاکنې تخنيک:** د ماليې ټاکنې تخنيک هغه هنر دی چې په هغه سره يوه مالياتي مفکوره په عمل کې تطبيق کيږي، لکه څرنګه چې د ماليې علم تاريخ ګواه دی چې ځينې وختونه يو شمير هيوادونو کې د غلطې مالياتي ټاکنې، غلطې مالياتي تګلارې او نيمګړي ميتود له امله په يوه هيواد کې انقلابونه رامنځته کيږي او بلاخره د يوه هيواد تجزيه واقع کيدای شي، لکه د فرانسې په هيواد کې د درنې او اوچتې ماليې د وضع کولو په نتيجه کې د فرانسې ستر انقلاب رامنځته شو.

د ماليې ټاکنې تخنيک له هغه تدابيرو څخه عبارت دی چې د مالياتي مکلفيتونو د تثبيت، د ماليې د تر لاسه کولو او د ماليې د کنترول لپاره په پام کې نيول کيږي. د يوې نوې ماليې د وضع کولو څخه مخکې بايد د مالياتي پاليسيو جوړونکې د تخنيک له پلوه د ماليې لپاره يو غوره نوم انتخاب کړي. په تيره بيا د فوق العاده حالاتو په ترڅ کې، د جنګ په حالت کې او يا د جنګ څخه وروسته بايد د مالياتو د راټولولو د نوم لپاره ډيره پاملرنه وشي، چې په زړه پورې نوم ورته وټاکل شي او په پايله کې له رواني پلوه په خلکو باندې مثبت تاثير وکړي.

د مثال په ډول د دويمې نړيوالې جګړې پر مهال په سويس هيواد کې چې د دولت مالياتي اړتياوې ډيرې زياتې شوې وې پر شتمنيو يو ډول يو ځليزه(يک مرتبه يي) ماليه وضع شوه چې د جګړې له امله زيات شوي مصارف پوره شي، خو دا چې د مالياتي تخنيک له پلوه د دغې ماليې نوم ډير په زړه پورې وو، نو ددې لپاره چې د هغې ورکولو ته خلک چمتو شي، نو هغې ته يې د دفاعي فداکارۍ نوم ورکړ، همدا راز په المان کې هم د اړتيا پر مهال د دولت لخوا پر وضع شوي ماليې د دولت سره مرسته او فداکارۍ نوم کيښودل شو، نو په دې توګه د ماليې په برخه کې د پورتنيو اصطلاحاتو يا نومونو کيښودل په دې خاطر وو چې ماليه پر خلکو باندې منفي روحي اغيزه ونه کړي او د مالياتي مقاومت باعث ونه ګرځي.

**۲. د مالیې ټاکنې حدود:** د مالیې ټاکنې حدود په یوه هیواد کې په ځانګړې توګه ملي شتمنۍ او ملي عاید جوړوي، د دې مانا دا ده: هغه مالیات چې دولت یې ترلاسه کوي باید له ملي شتمنۍ او ملي عاید سره په یوه معقول انډول کې وي. له دې امله چې دغه انډول او تناسب د هر جلا جلا هیواد د ځانګړې طبیعي او ټولنیزو شرایطو له مخې توپیر کوي، نو ځکه د مالیې ټاکنې سیاست هم باید د هر هیواد له شرایطو سره په توپیر کې وي. یا په بله وینا: نشو کولای چې کټ مټ د مالیې ټاکلو هغه شرایط چې په یوه هیواد کې د تطبیق وړ دي، په عین شکل او کټ مټ یې په بل هیواد کې هم تطبیق کړو.

د مالیاتي ټاکنو د حدودو په هکله باید ووایو چې د اقتصاد په تیورۍ کې د تحلیل دوه ډولونه شته دي چې یو یې د کوچني اقتصاد یا د تصدي اقتصاد نظر او بل یې د ملي اقتصاد یا لوی اقتصاد له نظره دی. د کوچني اقتصاد د تحلیل له نظره د اقتصاد کوچني واحدونه تر څېړنې او تحلیل لاندې راځي، لکه د یوې کورنۍ یا یوې تصدۍ د عاید تحلیل، د پس اندازونو یا سپما تحلیل، د لګښت تحلیل او د پانګې اچونې تحلیل چې د هرې کورنۍ او تصدۍ تحلیلونه په ځانګړې توګه ترسره کیږي.

هغه بدلونونه چې په دغه جزیي او کوچنیو واحدونو کې رامنځته کیږي، په کورنیو یا تصدیو باندې ډیره لویه اغیز کوي، خو په لوی اقتصاد باندې ډیره اغیزه نه کوي، یعنې په ټول اقتصاد یې اغیزه ډېر نه احساس کیږي. د بیلګې په توګه د یوې کورنۍ په عاید کې زیاتوالی یا د یوې تصدۍ په لګښت کې زیاتوالی یا کموالی چې د ټول ملي اقتصاد عاید او لګښت په پرتله ډېر کوچنی ښکاري، نو ځکه یې په ملي اقتصاد کې تاثیر نه محسوس کیږي.

د کلي یا لوی اقتصاد د تحلیل طرز بیا د کوچني اقتصاد معکوس یا سرچپه ده او هغه دا چې په یوه هیواد کې د لویو اقتصادي واحدونو یا د تر ټولو لویو اقتصادي کمیتونو تحلیل ترسره کیږي، چې دغه لوی اقتصادي کمیتونه د بیلګې په توګه دا دي: د ملي عاید تحلیل، د مجموعي پانګې اچونې تحلیل، د مجموعي

پس اندازونو تحلیل، د لګښت تحلیل او داسې نور. دغو کمیتونو باندې هر ډول بدلون په مجموعي یا په کلي اقتصاد باندې فوق العاده لویه اغیز کوي.

د بیلګې په توګه کله چې مجموعي پانګې اچونې په اقتصاد کې اوچتې شي، د هیواد دننه د عاید او استخدام کچې هم اوچتیږي، چې د ملي عاید او د مجموعي تولید د زیاتوالي لامل ګرځي.

همدارنګه په مجموعي لګښت کې کمښت د ډب کیدو لامل کیږي، که چیرې په خپل وخت یې مخه ونه نیول شي، نو اقتصاد د کړکیچ خواته بیایي.

اوس به وګورو چې آیا دغه دوه تحلیلونه د مالیې ټاکنې د حدودو په هکله په کوم طرز ځیرل کیدای شي. کله چې دولت له موسساتو او افرادو څخه مالیات ټولوي د هغوی په واسطه په اول قدم کې د مالیې ورکوونکو موسساتو او افرادو د عاید یوه برخه کموي او ورپسې بیا د هغوی د مالیې د پیسو په اندازه د هغوی مفیدیت له منځه وړي یا یې منفي کوي، دا ځکه چې که چیرې دغه افراد او مؤسسات دغه مالیه دولت ته ونه سپاري، نو د دغو پیسو په واسطه کولای شي، د خپلو اړتیاوو یوه برخه پوره کړي او په دې ډول سره یو مفیدیت د خپلو ځانونو لپاره رامنځته کولای شي چې دغه مفیدیت د مالیې په ورکولو سره بیرته له منځه ځي، له دې امله چې دولت مالیاتي عواید تر لاسه کوي، بیرته هغه د خپلو مصارفاتي پروژو د تمویل له طریقه د ټولنې د ګټو د تأمین په خاطر په اقتصاد کې په کار او دوران کې اچوي، نو ځکه یې بیرته مفیدیت د عامه دولتي پروژو د استفاده کوونکو په واسطه په ناسیده توګه د ټولنې په ګټه تمامیدای شي، چې دغه مالیه ورکوونکي بیا په خپله د همدغې ټولنې غړي دي.

د پورتني ټکي په پام کې نیولو سره د کوچني اقتصاد د تحلیل له پلوه یا د فردي اقتصاد په تحلیل کې پورتنۍ مالیاتي ټاکنه هغه وخت ګټوره تمامیږي، چې هغه ګټورتوب او مفیدیت چې دولت یې د خپلو پروژو د لګښت له طریقه رامنځته کوي، د هغه مفیدیت په پرتله چې افراد او موسسات یې دولت ته د مالیې په ورکولو سره له لاسه ورکوي زیات وي. پرته له هغه به د دولت له خوا مالیه

ټاکنه یوازې له خصوصي سکتور څخه دولتي سکتور ته د مالي او پولي وسایلو لیږد وي او بس او د ملي اقتصاد له نظره به کوم خالص مفاد رامنځته نه کړي، نو ځکه ویل کیږي چې د کوچني اقتصاد د تحلیل له نظره چې کله دا پایله تر لاسه شي، چې هغه مفیدیت چې دولت یې د خپلو مصارفاتي پروژو له درکه افرادو او موسساتو ته رامنځته کوي له هغه مفیدیت څخه کم دی چې افراد او موسسات یې د مالیاتو په ورکولو سره له لاسه ورکوي. مالیه ټاکنه له خپلو اقتصادي حدودو څخه تیرى کوي او په دې توګه هم د فردي اقتصاد او هم د مجموعي اقتصاد په زیان تماميږي او د دې ډول پالیسۍ پر مخ بیول پرته له دې چې د اقتصادي پیښو جریان ګډوډ شي او ټولنیز محصول کم شي بله کومه ګټه نه لري، نو ځکه باید د مالیې پالیسۍ جوړونکي د دغه ډول مالیاتي سیاست یا پالیسۍ له تدابیرو څخه ډډه وکړي.

د دولت د مالیې ټاکنې په برخه کې د دغه ډول ارزیابۍ او تحلیل ډیره لویه نیمګړتیا داده چې په دغه ډول تحلیل کې له یوې خوا د دولت ټاکنې د فعالیتونو اغیزې د عاید مجدد یا بیا ویش په پام کې نه نیول کیږي او له بلې خوا د دولت د مصارفاتي فعالیتونو ټول نتایج په مقداري بڼه یانې د پیسو په واسطه نه شي سنجش کیدای او د هغو مقایسه د افرادو او موسساتو د له منځه تللي مفیدیت سره نه شي مقایسه کیدای، ځکه د دوی له منځه وړل شوی مفیدیت په پیسو سره په مقداري توګه محاسبه کیږي او نتیجه د پیسو په بڼه نه شي ښودل کیدای، علت یې دا دی چې دولت د خپلو مصارفاتي پروژو اداړنه کې یو شمیر معنوي او غیر مقداري ارزښتونه ایجادوي چې په پیسو سره نه شي ارزیابي کیدای.

د بیلګې په توګه هغه پیسې چې له مالیاتو یې تر لاسه کوي د هغو یوه برخه د علمي او څیړنیزو موسساتو، روغتونونو، ښوونې او روزنې او نورو په برخه کې لګول کیږي، اوس نو ستونزمنه ده چې هغه زده کړې چې نوي روزل شوي کدرونه یې له تعلیمي او تحصیلي موسسو څخه ترلاسه کوي یا په روغتونونو کې چې ناروغان روغتیا تر لاسه کوي هغه ټول په پیسو محاسبه او ارایه کړو او له هغو پیسو سره یې مقایسه کړو چې د مالیې په بڼه اخیستل

شوي دي او د عايد د بيا ويش په برخه کې هم مخکې وويل شول، وايو چې د دولت د را ټولې شوې ماليې محاسبه او د هغې ګټورتوب هغو کسانو ته هم نه شي محاسبه کيدای چې ډير لږ عايد لري او يا هيڅ عايد نه لري، نو ځکه د دغه طرز العمل دوه نيمګړتياوې په پورته توګه دي.

په يوه هيواد کې د لوی يا ملي اقتصاد د تحليل له نظره ماليه ټاکنه بايد په دومره اندازه وي چې د پانګې جوړيدنه او د پانګې په کار اچول محدود يا بې مخه ونه نيسي، دا ځکه چې نن ورځ پانګه اچونه د اقتصادي پرمختيا يو مهم او بنسټيز عامل دی چې د پانګې اچونې په محدودولو سره په طبيعي توګه اقتصادي وده هم ډب کيږي، نو ځکه د کُل يا لوی اقتصاد د تحليل له نظره د ماليې ټاکنې حدود په پانګه اچونه باندې د هغې د منفي اغيزې له مخې ټاکل کيږي. يانې هر کله چې داسې احساس شي چې ماليه ټاکنه يا د ماليې د يوه بريد ټاکنه د پانګې اچونې ځنډ کيږي، نو بايد دولت د دغه بريد ماليې له ټاکنې ډ ډه وکړي.

له پورتنيو خبرو څخه ښکاري چې د يوه هيواد مالي پاليسي جوړونکي د يوې ماليې له ټاکنې يا د موجوده مالياتي تعرفو له اوچتولو مخکې بايد د ټولنې له ټولنيزو او اقتصادي شرايطو او د ماليه ورکونکو له تفکر او روحياتو څخه خبر وي، چې وکولای شي په ښه بڼه د ماليې حدود وټاکي او د ماليې پاليسي يې په بريالي، معقوله او اقتصادي بڼه عملي شي.

### د ماليې ټاکنې رواني (روحي) حدود

د ماليې ټاکنې رواني حدود يانې دا چې يو مالياتي سياست تر کومه حده او تر کومې اندازې پورې د يوه هيواد د خلکو له خوا له رواني يا روحي پلوه د منلو او د زغم وړ دی. دغه زغم د شرايطو او وخت له مخې توپير لري، نو ځکه نه شو کولای چې په هر وخت او هر ډول شرايطو کې ماليې ټاکنې ته ټاکلي بريدونه او مشخص رواني حدود چې په هر ځای کې د تطبيق وړ وي وښيو.

په يوه ټاکلي هيواد کې د ماليې ټاکنې رواني حدود د وخت په تيريدو سره توپير

کوي، دا ځکه چې د وخت په تیریدو سره ټولنیزه اقتصادي او کولتوري شرایط تل توپیر مومي او د خلکو د تفکر طرز هم بدلیږي، نو ځکه په مجموع کې مالیاتي ذهنیت بدلیږي. د وګړو د ذهنیت د همدې بدلون له امله ده چې په بیلابیلو هیوادونو کې یوه ټاکلې مالیه بیلا بیلې مالیاتي تعرفې لري.

لکه څرنګه چې د عمل په ډګر کې لیدل کیږي، په یو شمیر پرمختللو هیوادو لکه د امریکې متحده ایالاتو، انګلستان، المان او نورو کې د مترقي مالیاتو تعرفې د عاید په سلو کې نوي (۹۰) څخه هم اوچتې دي.

د احصایې نامتو عالم (سویفټswift) داسې فکر کاوه چې په مالیاتي موضوعاتو کې(۲*۲) ځیني وخت د څلور عدد په لاس نه راکوي، بلکې له هغې څخه کمیږي. د دې مانا دا ده چې که مالیات دوه برابره اوچت شي، نو هرومرو د دولت د مالیاتي عوایدو دوه برابره کیدو لامل نه کیږي، نوموړی خپله دغه خبره د مالیاتو په هکله په لاندې توګه سپینوي.

د بیلګې په توګه که چیرې وغواړي چې په یوه هیواد کې ګمرکي محصول په سلو کې سل لوړ کړي، د دولت دغه ګام اوچتول ښکاره خبره ده چې د وارداتي اجناسو د بیو د لوړیدو لامل کیږي. په دې ډول که واردونکي سوداګر وغواړي چې خپل مفاد ثابت وساتي، نو د خپلو وارد کړل شویو اجناسو په بیه کې د ګمرکي اضافه شوي محصول په اندازه زیاتوالی راولي چې په دې توګه د ګمرکي محصول په اندازه د واردو شویو اجناسو په تمام شد بیه باندې زیاتوالی راځي او بیې لوړیږي.

له پورتنیو خبرو څخه ښکاري چې د یوه بریالي مالیاتي سیاست لپاره یو اساسي شرط چې د دولت د مالیاتي عوایدو د لوړیدو لامل شي، د خلکو د مالیاتي ذهنیت په هکله د کافي معلوماتو لرل دي او په دې تفکر باندې پوهیدل دي چې آیا خلک به د دولت د مالیاتي تدابیرو په وړاندې څه ډول غبرګون کوي.

## مالياتي مقاومتونه

که چيرې د يوه هيواد مالياتي پاليسۍ جوړونکي د ماليې ټاکنې حدود په پام کې ونه نيسي او په خپلې خوښې مالياتي سياستونه جوړ او تطبيق کړي، نو په دې صورت کې به ممکن د ټولنې غبرګونونه د مالياتي ټينګار په بڼه راڅرګند شي. د مالياتي مقاومت په صورت کې د ماليې مکلفين هڅه کوي چې په بيلابيلو بڼو او لارو چارو له هغې ماليې څخه سرغړونه وکړي چې په دوی باندې تحميل شوې ده. مالياتي ټينګار او د هغې په وړاندې مبارزه د مالياتو د راټولولو لګښت لوړوي چې په پای کې د دولت د مالياتي خالص عايد د کمښت لامل کيږي.

مالياتي مقاومت کيدای شي د خپل اهميت او ځانګړتيا له مخې په بيلا بيلو بڼو راڅرګند شي چې د آلمان د نامتو ماليه پوه (و.ګرلوف w.Gerloff) په وينا دغه ډول مقاومت په دوو برخو ويشل کيدای شي:
۱.مالياتي جنايي مقامتونه.
۲.مالياتي قانوني مقاومت.

### ۱. مالياتي جنايي مقاومتونه

مالياتي جنايي مقاومتونه د مالياتي دوکې او له ماليې ورکولو څخه د مخ اړولو په بڼه راڅرګنديږي، دغه ډول مالياتي مقاومت د مالياتي قوانينو او مقرراتو مخالف عمل دی، نو ځکه د جزا د حقوقو د احکامو سره سم د هغو مرتکبين د سزا وړ دي. مالياتي دوکه يا فريب هغه وخت تر بحث لاندې راځي چې ماليه ورکوونکی تر ماليې لاندې شيان يا موضوعات پټ کړي او له ماليې ورکولو څخه سرغړونه وکړي. که چيرې د ماليې مامورينو او موظفينو ته غلط معلومات او ځوابونه وويل شي، نو په دې صورت کې د مالياتي تقلب نوم ورباندې ايښودل کيږي. دغه ډول مالياتي تقلب په تيره بيا په ګمرکونو او همدارنګه د قاچاقي اجناسو په برخه کې د يادونې وړ دی. د مالياتي مقاومت د له منځه وړلو لپاره بايد لومړی د دغه ډول مقاومتونو په علت ځان پوه کړو او بيا وروسته د هغه لپاره هغه تدابير ونيول شي چې په کار دي. د بيلګې په توګه

د قاچاق د مخنیوي لپاره کیدای شي چې د ګمرکي ډیر لوړ محصول اندازه راکمه کړو. د ګمرکي محصول کمول یوه اغیزمنه لاره ده، دا ځکه چې د لوړ ګمرکي محصولاتو په موجودیت کې د هغو اجناسو بیې چې د ګمرکي محصول تابع دي کم له کمه د عین قاچاق شویو اجناسو د بیو په پرتله لوړیږي چې په دې توګه د قاچاق کولو لپاره ګټه رامنځته کیږي، نو ځکه قاچاق وړونکي په قاچاق لاس پورې کوي، خو که چیرې ګمرکي محصول ورته له منځه یوړل شي یا کم شي، نو په دې صورت کې به قاچاق اړونکي ته هیڅ ګټه پاتې نه شي، یا به ډیره لږه ګټه ورته پاتې شي بیا په قاچاق لاس نه پورې کوي. په دې اړه یو ځانګړې ستونزه هغه مهال رابرسیره کیږي، چې دولت د حمایوي هدف په خاطر لوړ ګمرکي محصول ټاکلی وي، په دغه صورت کې د قاچاق د مخنیوي په ضد د مبارزې د هدف او د حمایوي هدف تر منځ د اهدافو تضاد راپیدا کیږي. د دې مانا دا ده، که چیرې دولت وغواړي چې ګمرکي محصول په خپل حال پریږدي، قاچاق زیاتیږي او که وغواړي چې د قاچاق د مخنیوي په خاطر ګمرکي محصول ټیټ کړي، نو دکورنیو صنایعو حمایه ناممکنه کیږي.

د دولت د اقتصادي او مالي سیاست د اهدافو ترمنځ د دغه ډول ضدیت رامنځته کیدل ځینې وخت نه مخنیوی کیدونکی وي چې د دغه ډول ضدیتونو یا تضادونو په رامنځته کیدو سره باید دولت د بیلا بیلو اهدافو تر منځ د هر هدف ښیګڼې او نیمګړتیاوې د ملي اقتصاد له نظره وڅیړي او بیا وګوري چې آیا د کوم یوه هدف تطبیق کول زیات د ملي اقتصاد په ګټه دی. دا ځکه چې داسې امکان واقع کیدای نه شي چې دواړه متضاد هدفونه په عین وخت کې په بشپړ ډول تر لاسه شي.
د ګرلوف له نظر سره سم د پورتنیو ذکر شویو مالیاتي مقاومتونو په وړاندې مبارزه په لاندینیو درې لارو سره کیدای شي:
**الف. د ښوونې او روزنې د کچې د لوړولو له لارې د مالیاتي مقاومت پر ضد مبارزه:** د اوږدې مودې په ترڅ کې د مالیاتي مقاومت د ختمولو لپاره ډیره ښه لاره د یوه ملت د وګړو د تعلیم او تربیې او روزنې د کچې لوړول دي.

دا ځکه چې د خلکو د روزنیزې او تعلیمي سويې په لوړيدو سره د خلکو د ماليې ورکولو ذهنيت او د ماليې ورکولو اخلاق لوړيږي او په دې توګه د مالياتو ورکړې ته د خلکو چمتو والی لا زياتيږي او په پايله کې يې مالياتي مقاومت په خپله له منځه ځي. دا ځکه هر څومره چې د يوې ټولنې خلک د ښوونې او روزنې له ښيګڼو څخه برخمن کيږي هومره يې خلک د دولت په مقابل کې خپل مکلفيتونه او وجايب ښه او آسانه پيژني، نو ځکه بيا د دولت د حقوقو په ورکړه کې بيړه کوي او مالياتي مقاومت هم له منځه ځي.

له همدې امله په پرمختيايي هيوادونو کې مالياتي ذهنيت منفي دی او د ماليې ورکولو اخلاق ټيټ دي، دا ځکه چې د دغو هيوادونو ګڼ شمير خلک بيسواده دي او د دولت مقابل کې خپل مسوليت نه شي درک کولای.

له دې پرته يو بل عامل چې په پرمختيايي هيوادو کې د مالياتي مقاومت لامل ګرځي هغه د عايد د کچې ټيټوالی دی، دا ځکه کله چې د يوه هيواد اکثريت وګړي له اقتصادي پلوه په داسې دريځ کې وي چې د دوی عوايد د دوی د حياتي اړتياوو حد اقل هم پوره نه شي کړای، نو ښکاره خبره ده چې په هر شکل چې ممکن وي له مالياتي مقاومت څخه د ماليې د تيښتې په خاطر استفاده کوي. په پرمختللو او مترقي هيوادونو کې له دې امله چې له يوې خوا د خلکو د پوهې کچې لوړه وي او د دولت په وړاندې خپل مسوليت او مکليفت په ښه ډول پيژني، له بلې خوا يې د ژوند د لوړې کچې له امله د ښه عايد په لرلو سره لوړه اندازه پس انداز لري، نو له همدې امله دی چې ماليه ورکول د دوی د حياتي اړتياوو او لګښتونو د محدوديت لامل نه کيږي، نو هلته مالياتي مقاومت د له منځه وړلو لپاره يوه بله لاره د پرمختيايي پلانونو تطبيق کول دي چې د هغوی په واسطه د ملي عايد او د فردي عوايدو د لوړيدو لپاره لاره هواره شي.

**ب. د ماليې تاکنې د ښو ميتودونو غوره کول:** همدارنګه د مالياتي مقاومت په وړاندې د مبارزې يوه بله لاره د ماليې ټاکنې غوره ميتودونه او د ماليې د ډول ښودل دي. د بيلګې په توګه مالياتي مقاومتونه د واقعي مالياتو په صورت کې د شخصي مالياتو په حالت کې ډير واقع کيږي، دا ځکه چې د شخصي مالياتو په

صورت کې د مکلفیتونو خاص حالات او شرایط لکه د کورنۍ د غړو شمیر، ناروغي، پورووړتوب او نور په پام کې نیول کیږي او د مالیاتو د ټیټولو یا مالیاتي معاف کولو لارې هم هواریږي، چې په پایله کې یې د مالیې په مکلفیتونو باندې د مالیې فشار کمیږي او مالیاتي مقاومت هم ورسره کمیږي.
د واقعي مالیاتو په صورت کې چې د مالیه ورکوونکو شخصي شرایطو ته پکې پاملرنه نه ده شوې، بلکې د مالیې موضوع یو ډول ځانګړې مالیې پورې تړل شوې ده، نو صرف نظر له دې څخه چې په مالیه باندې مکلف شي یا موضوع کوم شخص پورې اړه لري، نو ځکه په دې صورت کې طبیعي خبره ده چې مالیه د مالیې په هغو مکلفینو باندې یو څه فشار راوړي چې نامساعد یا ضعیف اقتصادي شرایط لري او په پایله کې دوی هڅه کوي چې په هره هغه طریقه چې ممکنه وي له مالیاتي مقاومت څخه استفاده وکړي او د مالیې له ورکولو څخه ډډه وکړي.
د مالیاتي مقاومت یو بل مهم عامل په پرمختیایي او ورسته پاتې هیوادو کې دا دی، چې په دغه یو شمیر هیوادونو کې یو شمیر مالیاتي ځانګړو ډولونو کې باید مالیاتي معافیتونه رامنځته شي، د بیلګې په توګه د اوسیدلو د کور د یوې برخې په کرایه ورکول، چې په خپله مالک هم په کې اوسیږي یا د اقتصادي مجبوریت له مخې په ډیره ټیټه کرایه د کور په کرایه ورکول یا هم ځینې وخت بیخې مالیاتي معافیتونه نه وي او یو شمیر مالیاتو کې مالیاتي معافیتونه وي چې هغه یوازې له شکلي پلوه وي او یو واقعي معافیت نه دی، د بیلګې په توګه په یوه داسې پرمختیایي هیواد کې پرعایداتو د مالیاتو په برخه کې تر یوه برید پورې دومره مالیاتي معافیت چې له هغه پورته د کورنیو عواید د دوی د حد اقل ژوند لپاره کفایت نه کوي، حال دا چې په پرمختللو هیوادونو کې دغه مالیاتي معافیت په دومره اندازې کې وي چې د موجوده شرایطو له مخې نه یوازې دا چې د حیاتي اړتیاوو لپاره کفایت نه کوي، بلکې یو مناسبه کولتوري سطحه او سویه هم خلکو ته د امکان وړ ګرځوي.
د پورتنیو دلایلو له مخې د پرمختیایي او وروسته پاتې هیوادو په پرتله پرمختللو هیوادونو کې مالیاتي مقاومتونه ډیر لیدل کیږي.

د ماليې د يوه ښه ډول د غوره کولو ترڅنګ د ماليې ټاکنې د غوره ميتودونو په پام کې نيول هم يو هغه لامل دی چې د مالياتي مقاومت په وړاندې مجادله ورباندې کېدای شي. د بېلګې په توګه د مقاومت کوونکو په اړه معلومات ترلاسه کول او د دوی په اړه له هغو کسانو څخه مرسته غوښتل چې له مالياتي مقاومت څخه کرکه لري او نه غواړي چې مالياتي مقاومت موجود وي. په دې صورت کې د مالياتي مقاومت موضوع ښه کشف کېږي او دوی ټول ماليې ورکولو ته تابع کيږي. له تحصيلي ځانګې سره سم د مامورينو په دنده ګومارل هم پر مالياتي مقاومت اغيزه کوي، دا ځکه چې دوی د خپلو رشتو او مسلکې مهارت او وظيفوي پوهې له مخې په ښه ډول کولای شي، مالياتي مقاومت کشف او د امکان تر بريده يې له منځه يوسي. د مالياتي مقاومتونو په له منځه وړلو کې يو بل عامل دا دی چې د مالياتو او عوايدو اړوند چارو کې دولت د امکان ترحده داسې کسان وګوماري چې استفاده کوونکي نه وي. لکه څرنګه چې واقعيتونه څرګندوي د دولت د مالي ادارو د مامورينو ناوړه استفاده په پرمختيايي هيوادو کې د دې لامل شوې ده چې مالياتي مقاومت ته لاره هواره شي.

**ج. د قانون له لارې له مالياتي مقاومت کوونکو سره مجادله:** له مالياتي مقاومت سره کېدای شي چې د حقوقي تدابيرو، جزا او د اداري حقوقو له مخې هم مجادله وشي. د دې مانا دا ده چې په ماليه غير فعال قانوني مقاومتونه د هغو ټولو ستونزو لرونکې دي چې د ماليې د سنجش د اساس د تثبيت پر مهال راڅرګنديږي لکه د بزګرانو او نورو آزادو مشاغلو د حقيقي عايد په ټاکلو کې ستونزې.

د دې مانا دا ده چې د بزګرانو او آزادو کاروباريانو د حقيقي عايد سنجول ډير ستونزمن دی، دا ځکه چې بزګران د مالي کال په اوږدو کې له کرونده څخه د ورځنيو اړتياوو د پوره کولو لپاره استفاده کوي او په آزادو کاروبارونو کې هم په سم ډول نه شي کيدای چې د دوی حقيقي عايد په دقت وښودل شي.

نو ځکه په پورتنیو بیلګو کې د پورتنیو ستونزو له کبله زیاتره وختونه هغه عاید د مالیې تابع ګرځول کیږي، د رښتیاني یا حقیقي عاید په پرتله ډیر کم وي چې همدا هم یو ډول غیر فعال قانوني مقاومت دی.

فعال قانوني مالیاتي مقاومت له مالیې څخه د خلاصون او له مالیې د ډېره کولو په بنه راڅرګندیږي. له مالیې ورکولو څخه ډېره کول داسې پیښیږي چې د مالیې ټاکنې له امله د اجناسو د بیو د لوړیدو پرمهال مستهلکین یا مشتریان د نوموړي جنس له تقاضا او پیرودلو څخه ډډه کوي او د هغو پر ځای نور اجناس اخلي او بلې خواته مخ اړوي، یانې له عوضي اجناسو څخه استفاده کوي.

د بیلګې په توګه کله چې دولت په سندي رختونو باندې مالیه نظر تاري منسوجاتو ته لوړه کړي، نو ځکه له سندي رختونو مخ اړوي او نور منسوجات پیري، دغه ډول ډډه کول چې پرمستهلک یا مشتري د مالیې د ورکړې څخه ډډه کول بلل کیږي، په هغو شیانو کې لیدل کیږي چې په هغو کې د پیریدلو یا تقاضا زیات ارتجاعیت وي او د عوضي اجناسو امکان یې هم موجود وي، خو په هغو اجناسو کې چې تقاضا یې کم ارتجاعیت ولري یعنې لږ عوضي ولري، نو په دې صورت کې له مالیې ورکولو څخه ډډه کول لږ امکان لري، دا ځکه چې د دغو اجناسو بیې که هر څومره هم لوړې شي بیا هم د تقاضا د بدلون سلنه یې د بیو د بدلون د فیصدۍ په پرتله ډیره لږه وي.

همدارنګه بهر ته د پانګې د وتلو لامل کیدای شي ځینې وختونه له مالیې څخه د ډډې کولو په موخه وي، سره له دې چې بهر ته د پانګې د وتلو(د پانګې د تیښتې) موضوع یو شمیر اقتصادي او غیر اقتصادي نور عوامل هم لري. د بیلګې په توګه له بهرنیو هیوادونو څخه د لا زیاتې ګټې تر لاسه کول چې عین اندازه پانګه یې د هیواد دننه نه شي ترلاسه کولای یا د هیواد دننه د پانګې اچونې عدم مصونیت او نور. خو د پانګې تیښته او له هیواد څخه وتل هغه مهال هم پیښیږي چې د هیواد دننه په سرمایوي اجناسو باندې مالیات نظر بهر کې په سرمایوي اجناسو باندې مالیې ته زیات وي، چې په دې صورت کې د

نورو عواملو د ثابت والي په صورت کې دغه کار د پانګه والو په ګټه وي چې خپلې پانګې بهرنيو هيوادونو ته وليږدوي او هلته د ټيټې ماليې له بنيګڼو څخه ګټه پورته کړي.

له ماليې څخه د خلاصون خبره هغه مهال کېدای شي چې يو شمير ټاکلي خلک يا يوه ځانګړې طبقه په يوه هيواد کې له سياسي واکه په استفادې سره ټول يا يوه برخه د ماليې له ورکولو څخه ډډه وکړي، لکه اشرافو ته د مالياتي امتيازونو ورکول، روحانيون له ماليې معافول، چې په منځنيو پيړيو کې يې مثالونه موجود وو، يا نور هغه ډول امتيازات چې په قانون کې په پام کې نيول شوي وي، نو ځکه د قانوني مقاومت په نوم ياديږي، نو له همدې امله د سزا وړ نه بلل کيږي.

## د مالياتو ډولونه

ماليات له هغه انفرادي او اجباري ورکړو څخه عبارت دی چې کوم متقابل پاداش او عوض نه لري او له حقيقي او حقوقي اشخاصو څخه د هغوی ملکيت، اقتصادي فعاليتونو او يا د پولي وسايلو د رهبری د يوې برخې په توګه د دولت د مالي ډاډمنتيا د تامين کولو په خاطر اخيستل کيږي، ماليات کولای شو په لاندي ډولونو باندې وويشو:

۱.مستقيم او غير مستقيم ماليات Direct and Indirect Taxes

۲.مترقي او تنزيلي ماليات Progressive and Regressive Taxes

۳. متناسب ماليات Taxes Proportional

۴.د قيمت يا ارزښت په اساس او معين ماليات Specific and Advalorm Taxes

۵.د اضافه شوي ارزښت په اساس ماليات Value Added taxes

**۱. مستقیم او غیر مستقیم مالیات**

مستقیم مالیات هغه دي چې حامل او مؤدي يې عين شخص وي.

غیر مستقیم مالیات هغه مالیات دي چې حامل او مؤدي يې جلاجلا اشخاص وي.

**د مستقیمو مالیاتو ښیګڼې Merits of direct taxes**

مستقیم مالیات ځیني ښیګڼې لري چې له یو څو ښیګڼو څخه يې دلته یادونه کوو:(صمیمی، ۱۳۸۵)

۱. اجتماعي حس پیدا کوي.

۲. جمع اوري يې اسانه ده، نو ځکه د اقتصادیت د اصل سره مطابقت کوي.

۳.عدالت د اصل سره مطابقت کوي، نو عاید په غیر عادلانه ویش کې کموالی راولي.

۴. یقیني دي او فرار ورڅخه ناممکن دی.

۵. د ارتجاعیت د اصل درلودونکي دي.

۶. عام المنفعه پروژو کې پانګه اچونې ورڅخه معاف یا د تخفیف وړ ګرځي.

۷. د افرادو شخصي شرایط په نظر کې نیول کیږي.

**د مستقیمو مالیاتو زیانونه Demerits of direct taxes**

۱. مستقیم مالیات په عوایدو وضع کیږي، نو ځکه د تادیه کوونکو لپاره د بوج سبب ګرځي.

۲. پانګه اچونه او پس اندازونه ور څخه متضرره کیږي.

## د غیر مستقیمو مالیاتو ښیګڼې Merits of indirect taxes

غیر مستقیم مالیات له ځانه ځینې ښیګڼې لري چې له دغو ښیګڼو څخه یې په لاندې ډول یادونه کوو:

۱.په اسانی سره تادیه کیږي ځکه چې دغه مالیات د جنس د قیمت سره یو ځای تادیه کیږي.

۲.د تادیې څخه یې فرار نه شي کیدلی، نو د عوایدو راټولونه اطمناني ګڼل کیږي.

۳.د ارتجاعیت د اصل درلودونکي دي، د تولید په زیاتوالي سره زیات او برعکس یې د تولید په کموالي سره کمیږي.

۴.د مضره اجناسو د استعمال څخه مخنیوی کیږي.

۵ .ټوله ټولنه پکې برخه اخلي.

## د غیر مستقیو مالیاتو زیانونه Demerits of indirect taxes

غیر مستقیم مالیات ځینې زیانونه هم لري چې په وار سره یې دلته ذکر کوو:

۱.بوج یې پر غریبو خلکو وي.

۲.غیر اطمناني دي ځکه په وضع کولو سره یې قیمت لوړیږي چې په نتیجه کې یې تقاضا کمیږي.

۳. اجتماعي حس نه پیدا کوي.

## متزاید یا مترقي مالیات Progressive Taxes

متزایده یا مترقي مالیات هغه دي چې د عاید په زیاتوالي سره په کې زیاتوالی راځي او په کموالي سره یې په کې کموالی راځي. (دودیال، ۱۳۹۵)

مالیه یوه قانوني فردي او اجباري ورکړه ده چې مالیه ورکوونکې(مودي) يې له خپل عاید څخه د قانون له مخې د بنودل شوي سلنې له مخې دولت ته د دولت د دندو د ښه پرمخ بیولو او د عامه چارو د پرمختګ لپاره ورکوي. مالیه بیلابیل ډولونه لري چې یو ډول يې تصاعدي یا مترقي مالیه ده. دا د مالیې هغه وضعیت دی چې د عایداتو په زیاتیدو سره د مالیې د ورکړې سلنه هم لاپسې زیاتیږي. په ګڼ شمیر لویدیزو هیواونو کې اوس هم تصاعدي یا مترقي مالیه رواج ده. په افغانستان کې له نیمې پیړۍ څخه دود شوې ده. هغه اقتصاد پوهان چې د عوایدو له برابروالي سره علاقه لري، دغه ډول مالیه خوښوي او دا د ټولنیز عدالت یوه نښه هم بولي. په تصاعدي یا مترقي مالیه ټاکنه کې د مالیه ورکوونکي اضافه عواید سنجش کړي او بیا يې مالیه اخستل کیږي.(دودیال، ۱۳۹۵)

## د متزایدو مالیاتو ګټې

۱.متزاید مالیات په دې فرضیې سره وضع کیږي چې د پیسو نهایي افاده د امیرانو لپاره کمه وي، نو ځکه د دوی څخه مالیات اخیستل په دوی نه بوج کیږي.
۲.د عاید په ویش کې مساوات رامنځته کوي.
۳.د دولت د عوایدو په لوړوالي کې ډیر کمک کوي، خصوصاً په جنګ او ضطراري حالاتو کې.
۴.دولت د دغه ډول مالیاتو په اخیستلو سره زیاتو قرضونو ته اړتیا نه لري.
۵.د اجتماعي عدالت او اقتصادي رفاه د ضرورتونو سره مطابقت کوي.

## د متزایدو مالیاتو نیمګړتیاوې

۱.دا شاید حقیقت نه وي چې د امیرو لپاره د پیسو نهایي افاده کمیږي، کیدای شي یو کس ډیر عاید ولري، مګر په هغه اتکاء کوونکي شاید ډیر وي.
۲.پس انداز او پانګه اچونه تهدیدوي، نو په دې توګه د پانګې تشکل نقص کوي.
۳.د مالیاتو څخه د فرار زمینه مساعدوي.
د دغو نواقصو څخه علاوه پخوانیو او اوسنیو اقتصاد پوهانو د دغه ډول مالیاتو

وضع کول حمایه کړی. لکه څرنګه چې Pigou , Marshall او کینز نوموړی مالیه حمایه کوي او د استخدام د سطحې د لوړوالي وسیله یې ګڼې، پرمختیایي او پرمختللي دواړه ډلې هیوادونه په نوموړي مالیه اتکاء کوي مګر پرمختیایي هیوادونه نه شي کولی د دغه ډول مالیې له لارې زیات عواید لاسته راوړي. د دې څخه علاوه دغه مالیات پانګه اچونه ډیره متاثره کوي، نو ځکه پرمختللي هیوادونه په غیر مستقیمو مالیاتو اتکاء کوي.

## تنزیلي مالیات Regressive Taxes

تنزیلي مالیات هغه مالیات دي چې د خلکو د عوایدو په زیاتوالي سره یې په نرخ کې کموالی راشي. دا د متزایدو مالیاتو معکوس دي، مګر بدوالی یې دا دی چې د امیرو په نسبت غریب خلک باید ډیر قرباني ورکړي.

## متناسب مالیات

د متناسب مالیاتو د تطبیق لاندې د خلکو په عوایدو باندې یو ډول مالیات وضع کیږي. په دې ډول مالیاتو کې د لوړ عاید لرونکو او ټیټ عاید لرونکو تر منځ هیڅ ډول فرق په نظر کې نه نیول کیږي. که چېرته په یو هیواد کې په عاید باندې د مالیاتو اندازه ۱۰٪ ټاکل شوې وي، نو هر څوک باید پرته د دې چې د عاید اندازه په نظر کې ونیسي ۱۰٪ مالیات باید د خپلو عوایدو تادیه کړي.

## د متناسبو مالیاتو ګټې

۱.هر مالیه تادیه کوونکی په اسانۍ سره متناسب مالیات تشخیص او تعینولی شي.

۲.په ساده ګۍ او اسانۍ سره د پوهیدو وړ دي.

۳.په عایدکې د لوړ تغیر سبب نه کیږي، په دې توګه د یو هیواد اجتماعي او اقتصادي ژوند په لوړه اندازه ور څخه متاثره کیږي.

**د متناسبو مالیاتو نیمګړتیاوې**

۱.بوج یې د ټولنې په غریبه طبقه وي، حقیقت دی چې د دولتمندې طبقې لپاره د پیسو نهایي افاده کموالی مومي، که چیرته د ټولنې دواړه طبقې یو شان تر مالیې لاندې راشي، نو دا به غیر منطقي وي.
۲.د دغه ډول مالیې په صورت کې د عاید غیر مساویانه ویش کمیږي.
۳.دغه ډول مالیات همدارنګه د ظرفیت د تیورۍ سره په مخالف کې قرار لري، چې نوموړي تیورۍ څخه هدف دا دی چې هر څوک باید د خپل ظرفیت مطابق تر مالیې لاندې راوستل شي.

**معین او د کالیو د قیمت په اساس مالیات**

دا هغه مالیات دي چې په اجناسو وضع کیږي او په لاندې ډول ورځینې یادونه کوو:

**۱. معین مالیات** Specific Taxes: کله چې یو جنس د اندازې او وزن په اساس تر مالیې لاندې راشي، دغه ډول مالیاتو ته معین مالیات ویل کیږي. که چیرته په بوره باندې د هغه د وزن په اساس مالیات وضع شي یا په رخت د متر په اساس مالیات وضع شي، معین مالیات بلل کیږي، چې دغه ډول مالیات ډیر ګټور وي، ځکه چې په اسانۍ سره وضع کیږي او نقص یې په دې کې دی چې په غریبو باندې یې بوج ډیر وي.

**۲. د کالیو د قیمت په اساس مالیات:** که چیرته یو جنس د هغه د ارزش په اساس تر مالیې لاندې راشي دغه ډول مالیې ته Addvalorm مالیات وایي، دغه ډول مالیات یوازې د جنس د ارزش په اساس وضع کیږي، په دې کې د جنس وزن او اندازه په نظر کې نه نیول کیږي.

دغه مالیات په دې اساس ګټور دي چې بوج یې په امیر وي چې د مساوات د اصولو سره مطابقت کوي مګر پیچیده ګي یې دا ده چې د جنس دقیق ارزش پیداکول ډیر مشکل او ستونزمن کار دی، معمولاً واردونکې او کاروباریان د جنس دقیق ارزش نه ښیي.

**۳. د اضافه شوي ارزښت ماليه (Value added Taxes)**: دغه ماليات پر خرڅلاو مالیاتو پورې تړلي دي. دغه ډول ماليات د جنس په ټول ارزش نه وضع کيږي، بلکې د يو جنس په اضافه شوي ارزښت وضع کيږي.

**د اضافه شوي ارزښت د ماليې ښيګڼې**

۱.دغه ډول ماليات په خرڅلاو يا توليد منفي تاثيرات نه واردوي، ځکه دغه ډول مالياتو په خالص زيات شوي ارزش وضع کيږي.

۲.د مالياتو څخه د فرار لږ چانس لري.

**د اضافه شوي ارزښت د ماليې نيمګړتياوې**

۱.خصوصاً پرمختيايي هيوادونو لپاره ډيره پيچيده ماليه ده. دلته په مالياتي اداره کې فشار موجود وي، په ښه توګه زيات شوی اندازه نشي سنجولی.

**پر عوايدو ماليات(Income Taxes)**

پر عوايدو د مالياتو د مفهوم له مخې د اشخاصو عوايد د ماليې تابع ګرځي، څرنګه چې په عوايدو د ماليې موضوع د ماليې مکلف د عايد څخه عبارت دی، نو په لومړي مرحله کې بايد د ماليې د مکلف عايد تثبيت شي.

که نوموړي عايد د ثابت کار څخه وروسته لاسته راځي، نو تشخيص يې ساده وي او که ازاد کاروبار وي، نو تثبيت يې ډير مشکل دی، نو په دې مورد کې د تخميناتو او له ظاهري علايمو کار اخيستل کيږي. په دې ډول اکثر وخت د واقعي عايد او تخميني عايد تر منځ ډير فرق وي، که تخميني عوايد لوړ وي، نو تاديه کوونکې متضرره کيږي. همدارنګه د جنسي عوايدو د ثبت په صورت کې لوی مشکل موجود وي، په دې مانا چې د جنسي عوايدو ارزيابي بايد په داسې قيمتونو ترسره شي چې په هماغه وخت کې د امتعې د ورځني قيمت سره مطابقت وکړي چې د قيمتونو يو منظمې احصايې ته ضرورت لري چې دا يو

مشکل کار دی چې دغه مشکل په پرمختیایي هیوادونو کې په فوق العاده ډول وجود لري چې مهم یې په لاندې ډول دي:

۱. د منظم مالیاتي سیستم نه موجودیت
۲. د مالیې د ورکړې ضعیفوالی
۳. مالیاتي تقلبات
۴. د فني پرسونل قلت

د عاید د دقیق تثبیت څخه علاوه بل مشکل دا دی چې که عاید دقیق ثبت هم شي، نو آیا د عاید لوړوالی د خلکو د مالي قدرت د درک په صورت کې یوازینی مقیاس کیدای شي.

**د کورنۍ غړي(شخصي شرایط)**

بله دا چې که چیرته په یو فامیل یا کورنۍ کې یو کس او په بل فامیل کې پنځه کسان کار کوي، عین عاید لاسته راوړي، نو د عدالت د پرنسیپ په اساس دویم فامیل ته باید سهولت تهیه شي، ځکه د کار متحملین یې ډیر دي. همدارنګه د عاید منبع هم باید په نظر کې ونیول شي، آیا عاید د کار د لورې لاسته راځي او که د پانګې اچونې د لارې.

د کار د عاید په نسبت د پانګې اچونې عاید باید د لوړو مالیاتو لاندې راشي، مګر په ځینو مواردو کې عاید د کار او پانګې څخه په مشترک ډول تر لاسه کیږي. مثلاً که یو سوداګر پخپله پانګه خپله کار کوي، په دې صورت کې مالیات په دوه طریقو اخیستل کیږي، لومړی په تشریحي ډول په دارایي باندې او بیا په عوایدو مالیات وضع کیږي.

دویم میتود کې لومړی د شخص په عوایدو او په دویم قدم کې د اضافي مالیې په حیث په دارایي مالیات وضع کیږي.

**پر عوایدو د مالیاتو ګټې**

۱.په عوایدو د مالیاتو له مخې خالص عاید د مالیې تابع ګرځي.
۲.د لوړ عاید لرونکو څخه لوړ مالیات د مترقي مالیاتو په صورت کې اخستل کیږي.
۳.هغه لوی عایداتي مصارف چې د بازار د اقتصاد له مخې رامنځته شوي دي تر یوه حده کمیږي، په دې توګه د اقتصادي سیاست د اهدافو د تحقیق په برخه کې خدمت کوي.
۴. د حیاتي ضرورتونو سره مطابقت درلودونکي عواید د نومړو مالیاتو څخه معاف کیږي.
۵. د مکلفو اشخاصو شخصي شرایط د رعایت وړ ګرځي.
۶. د عاید د منبع په نظر کې نیولو سره په کېفي ډول تفکیک او په نظر کې نیول کیږي.

**پر عوایدو د مالیاتو نواقص**

**۱. د عاید ثبتول:** په دې توګه د عاید ثبتول پراخه اداري تشکیلاتو او د تادیه کوونکو همه جانبه همکاري او احصایوي ارقامو موجودیت ته ضرورت لري. چون دغه شرایط په پرمختیایي هیوادونو کې په کافي اندازه وجود نه لري، نو مالیاتي تقلبات، د مالیې څخه فرار او په نتیجه کې د دولت د عوایدو کموالی رامنځته کیږي.
۲. د عاید دقیق ثبتول مالیاتي او د هغه جمع اوري لوړو مصارفو ته ضرورت لري چې په نتیجه کې د خالصو عوایدو د کمښت سبب کیږي.

## د مالیې تابع عواید

د مالیاتو تابع عواید هغه عواید دي چې د مالیاتو تابع وي او مالیات پرې وضع کیږي.

لاندې لاسته راغلی عاید پر عایداتو باندې د مالیاتو تابع دي:

۱. معاش، فیس، مزد او کمیشن.
۲. د سوداګریزو صنعتي ودانیزو او نورو اقتصادي فعالیتونو د معاملو ټول عواید.
۳. د منقول او غیر منقول ملکیت له پلورلو څخه تر لاسه شوي عواید.
۴. ټکټ پولي، د ونډې ګټه، کرایه، حق الامتیاز، جایزې، مکافات، د قرعې او بخششیو له درکه عواید.
۵. د تضامني شرکتونو له عاید څخه شریکه ونډه.
۶. له کار، پانګې یا اقتصادي فعالیت څخه تر لاسه شوي نور عواید.
۷. نور هغه حالت چې په قانون کې تصریح شوي وي.
۸. نور هغه عواید چې د مالیاتو په قانون کې اټکل شوي نه وي.

**د مالیاتو غیر تابع عواید**

د مالیاتو غیر تابع عواید هغه عواید دي چې د مالیاتو تابع نه وي او مالیات پرې نه وضع کیږي.

لاندې لاسته راغلي عایدات پر عایداتو باندې د مالیاتو تابع به ګرځي:

۱. د دولت له خوا بخششي، تحفې، انعامونه، جایزې او نور مکافات.
۲. هغه بخششی، تحفې، انعامونه، جایزې او مکافات چې بهرنیو دولتونو، نړیوالو او غیرانتفاعي موسساتو له خوا د علمي هنري فعالیتونو، ټولنیز پرمختګ او نړیوالو مفاهیمو د تقدیرولو په منظور ورکول کیږي.
۳. د معلوماتو د زیاتیدو یا د کیفیت مسلکې او فني ښوونو د اصلاح او ترقۍ په منظور سکالرشیپونه، فیلوشیپونه او نورې مرستې.
۴. د روغتیایي ټکر(تصادم) له بیمې څخه د عاید او بیکارۍ د بیمې له ګټو.
۵. د ژوند له بیمو څخه عاید چې له مړینې وروسته ورکول کیږي.
۶. له ټپ (زخم)، ناروغۍ یا د حیثیت له اعادې څخه د راپیدا شوو زیانونو په بدله کې تلافي.
۷. د شرکتونو په واسطه د ونډې سندونه او د پور(قرضې) د سندونو له صادرولو څخه لاسته راغلي عواید.
۸. استقراض یا له پورونو څخه تر لاسه شوي پیسې.

## ګمرکي محصولات

ګمرکي محصولات د غیر مستقیمو مالیاتو په کټګورۍ پورې تړلي دي او معمولاً د یو سرحد څخه د اشیاو د عبور په وخت کې تادیه کیږي.

ګمرک عبارت له هغه دولتي اداري څخه ده چې د صادراتي او وارداتي اموالو، ترانزیتي اموالو، د مسافرینو د محمولې، د پوستي پارسلونو او نورې چارې د ګمرکي تقنیني اسنادو مطابق اجرا او کنترولوي.(باتلر، ۱۳۷۷)
ګمرکونه د خارجي هیوادونو اقتصاد تر خپل تاثیر لاندې راولي او په دې توګه د خارجي تجارت د سیاست د ډیر مهمو وسایلو څخه شمیرل کیږي. ګمرکي محصولات د مختلفو دلایلو له مخې په مختلفو ډولونو ویشل کیږي:

**۱. د امتعې د سمت د حرکت له مخې ګمرکونو په لاندې ډولونو ویشل کیږي:**

**الف. وارداتي ګمرکونه**

وارداتي ګمرکونه په پخوانیو وختونو کې د مالي سیاست د اهدافو د براورده کولو ډیره مهمه وسیله ګڼل کیده، یا په بل عبارت د دولت لپاره د عوایدو د لاسته راوړلو مهمه منبع وه، حال دا چې نن ورځ د رقابت د شرایطو د تنظیموونکې وسیلي په توګه د نړیوال اهمیت درلودونکې ده. همدارنګه وارداتي ګمرکونه د پرمختیایي هیوادونو لپاره د عوایدو له مخې د ډیر اهمیت درلودونکې دي، ځکه د دې هیوادو د ضروت وړ صنعتي اجناسو لویه برخه د صنعتي هیوادونو څخه واردیږې او د ګمرکي محصولاتو تابع ګرځي.

**ب. صادراتي ګمرکونه**

صادراتي ګمرکونه د امتعې د صادرونکې څخه د هیواد په داخل کې اخیستل کیږي، چې لوړوالی یې د تقاضا د ارتجاعیت د درجې او د امتعې د نوعیت له مخې تعینیږي، چې معمولاً په دې حالت کې په لوړو ګمرکي محصولاتو خاصتاً په هغو امتعو وضع کیږي چې په نسبي ډول د یو انحصاري مقام درلودونکی وي.

**د. عبوري يا ترانزيټي ګمرکونه**

دغه ډول ګمرکي محصولات د يو هيواد سرحد څخه د امتعې د انتقال په وخت کې وضع کيږي، په داسې حال کې چې دغه ډول امتعه د هيواد په داخل کې په فروش نه رسيږي، بلکې يو بل هيواد ته انتقاليږي. دغه ډول ګمرکي محصول د سوداګريزو تسليحات په رامنځ ته کولو او د امتعې د انتقال د تشريح په برخه کې د ډير اهميت درلودونکي دي.

**۲. د حصول د هدف مطابق دغه ډول ګمرکونه په لاندې اقسامو ويشل کيږي:**

**۱. مالي ګمرکونه:** د مالي ګمرکونو اساسي هدف څرنګه يې چې د نوم څخه معلوميږي، د دولت لپاره د عايداتي منابعو د لاسته راوړلو څخه عبارت دی، چې په دغه ډول ګمرکونو کې صادراتي او وارداتي دواړه ډوله ګمرکات راځي.

**۲. حمايوي ګمرکات:** د حمايوي ګمرکاتو څخه اساسي هدف دا دی، تر څو د لوړو ګمرکي محصولاتو د وضع کولو له لارې د خارجي هيوادونو په مختلفو اشياوو باندې چې هيواد ته واردیږي محدوديتونه وضع کړي او په دې توګه داخلي رقابت تنظيموي او په دې توګه د هغه مشابه اشياوو چې د هيواد په داخل کې توليديږي، د انکشاف او تقويې لپاره زمينه مساعده وي.

**۳. د محصولاتو د تعين او ارزيابۍ په اساس په لاندې ډول ويشل شوي:**

**۱. ارزشي ګمرکونه:** دغه ډول ګمرکونه د امتعې ارزښت د محصول د سنجش اساس ټاکي او د هغې له مخې ګمرکي محصولات تعينيږي. د دې ډول محصول مزيت دا دی چې د قيمتونو د صعود او نزول سره تړلي دي، مګر عمده نقص يې دا دی چې د تقلب کارى امکان پکې ډير زيات دی.

**۲. نوساني ګمرکي محصولات:** دغه ډول ګمرکي محصولات د ارزشي ګمرکونو يو پر مخ تللى شکل دی چې دغه ډول ګمرکي محصول د خارجي

اجناسو د قیمتونو د لوړوالي په صورت کې کموالي مومي او بر عکس دغه ډول محصول هغه وخت لوړوالی مومي چې د خارجي اجناسو قیمتونه ټیټ شي چې د ګمرکي محصولاتو د دغه دواړو ډولونو تدابیرو څخه هدف په داخل د هیواد کې د خارجي اجناسو د قیمتونو د لوړوالي مخنیوی دی او په دې توګه د یوې خوا څخه د ګمرکي محصولاتو نامطلوب تاثیرات په مستهلکینو باندې وارد نه شي او د بلې خوا د دولت عواید د امکان تر حده لوړ شي.

**۲. اختصاصي ګمرکونه:** د دې ډول ګمرکي محصول له مخې د محصول وړ امتعې مشخص علایم د مالیې د سنجش د اساس لاندې راځي او ګمرکي محصولات د امتعې وزن، حجم او نورو مشخصاتو له مخې تر لاسه کیږي چې دغه ډول ګمرکي محصولات طبعاً یوې مفصلې متفاوتې درجه بندۍ ته ضرورت لري. په افغانستان کې معمولاً ګمرکي محصولات د ارزشي ګمرکونو او اختصاصي ګمرکونو څخه عبارت دی.

**د ګمرکي محصولاتو تاثیرات**

**۱. د عاید په توزیع باندې د ګمرکي محصولاتو تاثیرات:** چون د ګمرکي محصولاتو تاثیرات له یوه طرفه د ګمرکي محصول د پایې له مخې او له بلې خوا د محصول شوې امتعې د نوعیت له مخې تفکیک کیدای شي چې په دې اساس یې د امتعې درجه بندي له مخې په لاندې ډول تفکیک کولای شو.

**الف:** سرمایوي اجناس چې د تولیدي اجناس او نیم کاره محصولات هغه که په هیواد کې د تولید قابلیت ولري او که د هیواد څخه بهر احتوا کوونکې وي.

**ب:** استهلاکي اشیاء چې د لاندې مواردو درلودونکې دي.
۱. د حیاتي ضرورت وړ استهلاکي اجناس.
۲. نیمه تجملي اجناس یا د حیاتي ضرورت له مخې د لږ اهمیت لرونکې استهلاکي اجناس.
۳. تجملي استهلاکي اجناس.

د استهلاکي اجناسو په پورته درجه بندۍ کې د حیاتي ضرورت وړ اجناس د هغه اجناسو څخه عبارت دي چې اغلباً ټیټ عاید لرونکي اشخاص یې خریداري کوي او په مصرف یې رسوي همدارنګه استهلاکي تجملي اجناس هغه اجناس احتوا کوي چې د لوړ عاید لرونکي او د خارجیانو له خوا خریداري او مصرفیږي. په یوه اقتصاد کې چې د یو شخص مصرف د اقتصاد د طرز درلودونکي وي، یعنې مؤلدین خپلو محصولاتو زیاته برخه په خپله مصرفوي او یا طبعي تبادله رواجوي، نو په هغه صورت کې دولت ته د مالیې لاسته راوړل مشکلیږي، ځکه په هغه صورت کې د تولید یوه برخه بازار ته نه عرضه کیږي. نو بناً د اقتصاد په دې مشکل کې داسې نتیجه تر لاسه کیږي چې د نفوسو غریبه طبقه چې تقریباً خپل ټول احتیاجات د شخصي تولید له مخې وضع کوي د مالیي د فشار لاندې نه راځي، بلکې د مالیي ټول فشار په هغه افرادو واردیږي چې خپل احتیاجات د پولي اقتصاد له لوري حلوي، څرنګه چې نن ورځ ټول اقتصادي عاملین په لږه یا ډیره پیمانه په پولي اقتصاد کې شامل دي، نو بناً هر کس د خپل مصرف د سهم مطابق د مالیي د فشار لاندې راځي، د مثال په ډول په ۲۰۰۱ کال کې د ټولو ګمرکي عوایدو ۴٪ د استهلاکي اشیاوو چې د حیاتي ضرورت پورې تړلي وو د وارداتو څخه تر لاسه شوي وو ۵۵٪ د حیاتي ضرورت له مخې د لږ اهمیت لرونکو اجناسو څخه تر لاسه شوي وو، چون د دغه ډول اجناسو زیاته برخه د کم عاید لرونکي مصرفوي، نو بناءً د ګمرکي محصولاتو لوړ فشار په دغه ذکر شویو کلونو کې د لږ عاید لرونکو باندې وارد شو.

همدارنګه باید یادونه وکړو چې د سرمایوي اجناسو په صورت کې د داخلي صنایعو د تقویي او حمایي په منظور مالي فعالیتونه رامنځته کیږي.

**۲. د ګمرکي تعرفې حمایوي تاثیرات:** د ګمرکي محصول اساسي هدف دا دی چې د دولت لپاره عواید تهیه کړي یا دا چې د داخلي صنایعو تقویه او حمایه وکړي چې د هغې مطابق ګمرکي محصولات په لمړي حالت کې مالي اهداف او په دویم حالت کې حمایوي هدف درلودونکي وي چې په دې صورت کې په

دغه اهدافو کې يو ډول رقابت رامنځته کيږي، په دې مانا چې د يوه هدف تعقيب د بل هدف د عدم تحقق سبب کيږي، د دې په اړه چې په کوم حالت کې د کومو شرايطو لاندې يو ګمرکي محصول د مالي هدف لپاره او په کوم حالت کې د حمايوي هدف لپاره په کار وړل کيږي، لاندې نقاط په نظر کې نيسو.

١.يو ګمرکي محصول د مالي هدف په خاطر په عمومي صورت په هغه وخت کې خدمت تر سره کوي چې ګمرکي محصول د هغه امتعو او اشياو څخه تر لاسه شي چې په داخل د هيواد کې نه توليديږي، په هغه صورت کې چې هر څومره محصولاتي يا ګمرکي تعرفه راشي تاثيرات يې يواځې د دولت په عوايدو وارديږي.

٢. اما د حمايوي هدف په لړ کې د ګمرکي محصولاتو څخه صنعتي سياست د يوې وسيلې په توګه کار اخيستل کيږي، په هر صورت ګمرکي محصولات يوه حمايوي جنبه او يوه مالي جنبه لري، اما د عمل په ساحه کې يو د دغه دوه اهدافو څخه يوه ته د اوليت حق ورکول کيږي.

**د صادراتي ګمرکي محصول تاثيرات**

په دې اړه چې آيا يو صادراتي ګمرکي محصول د صادراتو حجم او اندازه د منفي تاثيراتو لاندې راولي، دغه مسئله د واردونکې هيواد د تقاضا په ارتجاعيت پورې اړه لري. په هغه صورت کې چې د تقاضا ارتجاعيت د صفر سره مساوي وي، په هغه صورت کې په صادراتو د ګمرکي محصولاتو د زياتوالي په صورت کې نه يواځې د صادراتو حجم کموالی مومي، بلکې د دولت عوايد هم زياتيږي، نو بناً هر څومره چې د خارجي هيواد تقاضا صادراتي اجناسو ته ډيره وي، په هماغه اندازه لوړ ګمرکي محصولات پرې وضع کيږي. په هغه صورت کې چې په اوله مرحله کې ګمرکي محصولات مالي جنبه ولري، په هغه صورت کې په صادراتو کيدای شي لوړ ګمرکي محصولات وضع شي، مثلاً فرض کيږي چې د تقاضا ارتجاعيت تقريباً لايتناهي دی چې په دې صورت کې صادرونکی هيواد په نړيوال بازار کې په قيمتونو هيڅ نوعه تاثير نه واردوي.

## د څلورم فصل پوښتنې

لومړۍ پوښتنه: عايد څه ته ويل کيږي، تشريح يې کړئ؟

دويمه پوښتنه: ماليات تعريف کړئ؟

دريمه پوښتنه: د مالياتو د مشروعيت او رواوالي په هکله د علماوو نظريات څه دي تشريح يې کړئ؟

څلورمه پوښتنه: د دولت غير مالياتي عوايد کوم دي، د مثالونو په څرګندولو سره يې تشريح کړئ؟

پنځمه پوښتنه: د دولت منظم اوغير منظم عوايد کوم دي تشريح يې کړئ؟

شپږمه پوښتنه: د دولت تشبثاتي عوايد کوم ډول عوايد دي؟

اوومه پوښتنه: محصول او سهميه تعريف کړئ او هم يې ترمنځ فرقونه په ګوته کړئ؟

اتمه پوښتنه: باج، خراج او جذيه څه ته ويلی کيږي، تشريح يې کړئ؟

نهمه پوښتنه: په افغانستان کې د مالياتو پر تاريخچې خپل نظر څرګند کړئ؟

لسمه پوښتنه: د مالياتو د راټولولو لپاره له کومو ميتودونو څخه کار آخيستل کيږي، تشريح يې کړئ؟

يوولسمه پوښتنه: د مالياتي ټاکنو د تخنيک څخه هدف څه ده، تشريح يې کړئ؟

دولسمه پوښتنه: د مالياتي ټاکنو رواني حدود څه معنی لري، تشريح يې کړئ؟

دیارلسمه پوښتنه: مالیاتي جنایي مقاومتونه تشریح کړئ؟

څوارلسمه پوښتنه: د ګرلوف له نظره د مالیاتي جنایي مقاومتونو سره مبارزه د کومو لارو چارو په ترسره کولو سره ترسره کیدای شي؟

پنځه لسمه پوښتنه: مالیات په څو ډولونو ویشل شوي، نومونه یې ذکر کړئ؟

شپاړسمه پوښتنه: متزاید یا مترقي مالیات کوم ډول مالیات دي، واضح یې کړئ؟

اوه لسمه پوښتنه: د ګمرکونو تاثیرات پر عوایدو باندې څه دي، واضح یې کړئ؟

## پنځم فصل

## بودیجه

په دولتي کچه په لاس راغلي منابع د عوایدو په نامه یادیږي او هغه منابع چې تر استفادې لاندې نیول کیږي، د مصارفو په نامه یادولای شو. په عمومي ډول سره بیا دولتي ارګانونه یا دولتي ادارې دغه دواړو برخو او د هغې مدیریت ته بودجه وایي چې په عام ډول سره د عوایدو او مصارفو معامله په دولتي او خصوصي اداراتو کې یو له بله فرق کوي.

د خصوصي سکتور عواید او مصارف سره ډیر نژدې او ښکاره رابطه او اړیکه لري چې مستقیماً دلته مصارف د یو جنس له تولید یا خدمت سره اړیکه نیسي او په دې ترتیب د جنس د تولید یا د هغه د خرڅلاو لپاره زمینه برابروي. له همدې امله ده چې خصوصي سکتور هر څومره چې په خپلو تولیداتو باندې زیات مصرف وکړي، هماغومره یې فروشات یا خرڅلاو ډیریږي. په خصوصي سکتور کې د مصارفو او عوایدو تر منځ د نسبت پیدا کول ډیره ساده ده او دا په دې مانا چې یو خصوصي سکتور یا سوداګر کولای شي په اسانۍ سره خپل د مصارفو او عوایدو ترمنځ نسبت پیدا کړي، یعنې یو سوداګر کولای شي په ښه او اسانه ډول خپل مصارف د خرڅلاو له مجموعي څخه منفي کړي چې په نتیجه کې د سوداګر ګټه ښکاره کیږي. مګر د دې برعکس بیا په دولتي سکتور کې عواید او مصارف سره نژدې او ښکاره اړیکه نه لري. عواید او مصارف دلته په دغه سکتور کې په جلاجلا ډول اداره کیږي. دولتونه خپل عواید تر ډیرې اندازې له مالیاتو څخه لاسته راوړي چې پر خلکو او تشبثاتو باندې وضع کیږي، مګر مصارف بیا کیدای شي په یو بل عامه ځای کې تر

سره شي چې له مالیاتو سره به هیڅ اړیکه ونه لري. دلته په دولتي سکتور کې د عوایدو او مصارفو ترمنځ د نسبت پیداکول یې هم ډېره ستونزمنه ده او دا ځکه چې په دولتي سکتور کې د مصارفو د ګټې سنجول ډېر وخت ته ضرورت لري او حتی ناشونی هم دی.

د بودیجې کلمه په لغت کې د بکسې یا چرمي بکس څخه اخیتسل شوی چې په سلسله واره توګه د Bulga د لاتیني کلمې څخه د انګلیسي دBudget کلمې ته چې په پښتو کې د بودیجې په نوم یادیږي راورسیده.

د بودیجې اصطلاح په فرانسه کې د لمړي ځل لپاره په کال ۱۸۱٤ م کې په رسمي ډول د دولت د عوایدو او مصارفو په برخه کې په کار ویوړل شوه او وروسته له همدغه وخت څخه په تدریجي توګه د نړۍ په ټولو ملکونو کې یې شهرت وموند او د استعمال وړ وګرځید.

بودیجه د نن ورځې د موډرنو شکلو سره سم په افغانستان کې د ۱۲۹۸ هـ ش کال څخه را په دیخوا عام رواج ومونده. د بودیجې په هکله بې شمیره تعریفونه شوي دي چې:

۱.د کلاسیکو علماوو د تعریف له مخې بودیجه یو داسې قسم سند څخه عبارت دی چې په هغې کې د دولت مجموعي عواید او مصارف د یوې ټاکلي دورې، معمولاً یو کال لپاره پیش بیني او تصوبیږي .

د بودیجې په هکله کاملاً او جامع تعریف چي د یو آلماني عالم فریش نوي مارک له خوا وړاندې شوی او ټولو علماوو ته د منلو وړ دي عبارت دي له:

۱.بودیجه د یو داسې منظمې طرحې څخه  عبارت ده چې په هغې کې د دولت مجموعي پلان شوي مصارف د تخمیني او پیش بیني شویو مجموعي عوایدو سره مقایسه او په قرار کې واقع کیږي چې دغه مصارف په یوې معین دورې معمولاً راتلونکي یو کال کې څرنګه تکافو کړي چې دا بیا د مکلفیت د پرنسیب په اساس د تطبیق لاندې نیول کیږي.

۲. بودیجه یو تقنیني سند دی، چې پکې د دولتي واحدونو ټول عواید او لګښتونه د یو ځانګړي مودې (یو مالي کال) لپاره اټکل شوی وي. دا سند د دولت د لرلید او موخو د پوره کوولو لپاره باید د دولت سیاسي، اقتصادي، پوځي، ټولنیز او کلتوري هڅو د پراختیا لامل وګرځي.

د بودیجې په هکله د نن ورځ مهمه مسله د ملي اقتصاد سره د بودیجې د رابطې څخه ده چې په دې معنا بودیجه څه ډول تاثیرات د ملي اقتصاد په برخه کې واردوي چې د دغه تاثیراتو اندازه د دولت د بودیجې د حجم سره مستقیمه رابطه لري، دا په دې مانا په هره اندازه چې د دولت د بودیجې اندازه د ملي عاید یوه زیاته فیصدي په بر کې ونیسي، نو په همغه اندازه د دې بودیجې تاثیرات په ملي اقتصاد زیات او برعکس په هره اندازه چې د دولت بودیجه د یو ملک د ملي عاید کمه فیصدي په برکې ونیسي، نو په همغه اندازه د هغې تاثیرات په ملي اقتصاد هم کم وي.

د لومړي ځل لپاره د بودیجې تصویب او کنټرول د انګلستان هیواد په پارلمان کې پیل شوه او په رسمي ډول د بودیجې اصطلاح په فرانسه کې د لومړي ځل لپاره په ۱۸۱۴م کال د دولت د عوایدو او مصارفو په برخه کې په کار یوړل شوه. که په لنډ ډول ووایو بودیجه د روزانه مصارفو لپاره د پیسو شتون او نشتون څخه عبارت دی. یا هم بودیجه د یو مالي حساب له صورت حال څخه عبارت دی چې د راتلونکي لپاره پلان جوړوی، چې بودیجه په درې ډوله ده:

۱.عملیاتي بودیجه
۲. نقدي او په دوران کې بودیجه
۳. د اخراجاتو نقدي بودجه

## د بودیجې اهمیت

لکه څرنګه چې د دولت لومړنۍ دنده د ټولنې دفاع، امنیت او عدالت څخه عبارت ده چې د یوې ټولنې لپاره د دغو دندو ترسره کول یو لږ لګښتونو ته اړتیا لري چې باید د ټولنې د افرادو له لوري وټاکل شي، خو د ټولنو له پرمختګ سره په تدریجي توګه د دولت د مکلفیتونو او دندو سیستم مهم او پیچلی شوی، د دې سره سره دولتونه د اقتصادي رغاونې د کاري فرصتونو د ایجاد، د اقتصادي ثبات او تعادل رامنځته کول، په ټولنه کې د رفاه تأمین کول او د خلکو د ضروریاتو او اړتیاوو د پوره کولو مسؤلیت هم پرغاړه لري چې له همدې امله دولتونه د هغو څرګندو خدمتونو د تر سره کولو په لټه کې دي چې په تطبیق سره یې د دولت پر وړاندې د ملت قناعت تر لاسه شي. مګر بیا هم له دولت څخه د خلکو غوښتنې او هیلې دومره پراخې او بې شمیره دي چې پوره کول یې د هر دولت له توانه پورته ښکاري، د دغو مسؤلیتونو د ښه ترسره کولو لپاره دولتونه یو اندازه عوایدو ته ضرورت لري. څرنګه چې پوهیږو د دولت یو له غوره او د پام وړ عایداتي منابعو څخه د مالیاتو راټولول دي چې د دولت ډیری ستونزې او د خلکو غوښتنې پرې هواریدای شي.

دا چې د دولت د ټولو سکتورونو او د دولتدارۍ د ټولو سیستمونو پرمختیا پر بودیجې تړلې ده، نو له همدې امله بودیجه د ډیر اهمیت درلودنکی دی. کله چې په یوه هیواد کې د هغه هیواد د عوایدو راټولونه له ننګونو او محدودیتونو سره مخ شي، ښکاره ده چې د هغې ټولنې د پرمختیا مخه نیول کیږي، نو ښکاره ده چې د عوایدو په راټولونه او بلاخره د بودیجې په ټاکنه کې د هماغې ټولنې خلک ډیر رول لري، خلک باید د عوایدو په ورکړه کې له دولت سره مرسته وکړي چې دولت ورته ښه خدمات وړاندې کړي.

د دولت بودیجه د حجم او غتوالي له مخې د دولت تر ټولو لوی او د اهمیت له مخې په ملي اقتصاد کې تر ټولو مهم سند ګڼل کیږي چې د هیوادونو د اداري او اقتصادي پرمختګ لپاره په کار اچول کیږي. (فرجوند، ۱۳۸۴)

## د بودیجې د پیدایښت تاریخي پړاو

د بودیجې اړوند باید زیاته کړو چې بودیجه شروع او اجرا د ۱۲۱۵ م کال حکومتونو پورې تړل کیږي او په دولتي اداراتو کې د مصارفو پلان تصویب د ۱۷۳۳م کال د انګلستان په هیواد کې پیل شو او د لومړي ځل لپاره د انګلستان هیواد پارلمان څرګنده کړه چې پارلمان نه یواځې مالیات تصویبوي بلکې په مصارفو او عوایدو باندې کنترول هم کولای شي.
په افغانستان کې هم بودیجه مختلفې مرحلې تیرې کړي دي. دلته زموږ د هیواد په مالي نظام کې د بودیجې سیستم او د عوایدو او مصارفو پیشبیني په(۱۲۹۹) لمریز کال کې مینځته راغی چې ورسره ورسره هڅه وشوه چې د شاهي خزانې او د دولت د بودیجې تر منځ تفکیک صورت ونیسي.

### د بودیجې قانوني او څلور ګوني مراحل

د یوه حکومت یا دولت لپاره د بودیجې تهیه او ترتیب اسانه کار نه دی. د دې لپاره چې یو دولت د خلکو پر وړاندې ځواب ویوونکی وي، نو بودیجه باید قانوني حیثیت غوره کړي. د دولت بودیجه څو مراحلو ته ضرورت لري چې د دغو مراحلو له طی کولو وروسته بودیجه د ټولو لپاره د منلو وړ او قانوني وي .
د یوې دولتي بودیجې دوران د څلورو مراحلو درلودونکی وي چې عبارت دی له:

۱. د بودیجې د ترتیب او تهیې مرحله

۲. د بودیجې د تصویب مرحله

3. د بودیجې د اجرا مرحله

4. د بودیجې د کنترول مرحله (تینګار، ۱۳۹۳)

**۱.د بودیجې د ترتیب مرحله:** دا د بودیجې لومړنی او فني مرحله ده چې د تهیه کولو او ترتیب ټولې چارې طبقه بندیو د بودیجې اطلاعات، معلومات او وړاندیزونه او همدارنګه د ټولو قوانینو او مقرراتو پورې اړه لري چې د

بوديجې دغه ترتيب له يوې خوا د عوايدو د راتلونکي انکشاف تخمين په اساس او له بله پلوه د مالي سياستمدارانو نظريې او مشورې د دولت په راتلونکو لګښتونو کې شاملوي. د ټولو هيوادونو په قوانينو کې د بوديجې ترتيب د اجراييه قوې(حکومت) دنده ښودل شوې ده. بوديجه داسې ترتيبيږي چې لومړی د ټولو ادارو مالي اړتياوې د اړونده مامورينو لخوا په ګوته کيږي چې په افغانستان کې هم داسې معمول دی چې د وزارتونو ټولې اړتياوې سنجول کيږي، بيا وروسته اړونده مرجع د سنجول شويو اړتياوو لګښتونه د ماليې وزارت ته ليږدول کيږي. د ماليې وزارت د ټولو وزارتونو وړانديزونه په بوديجه کې د خپلې مالي توانايي له مخې ځای پر ځای کوي او بيا تصميم ورته نيسي.

د ماليې وزارت بوديجه د ترتيب او تنظيم وروسته د وزيرانو شورا ته ليږدوي چې خپل نظر پرې څرګند کړي، وروسته بيا مقننه قوې ته وړاندې کيږي، تر منلو وروسته ولسمشر ته د توشيح لپاره ليږل کيږي او بيا د ماليې وزارت له لارې تطبيق، کنترول او نظارت يې صورت نيسي.
د بوديجې دا مرحله د يوې خوا په راتلونکې کې د عوايدو د انکشاف د يو تخمين له مخې اساس ګذاري کوي او د بلې خوا د دولت د راتلونکو مصارفو د حدودو په اړوند د مالي سياستمدارانو نظر په کې ځای پرځای کوي.
**۲. د بوديجې د تصويب مرحله:** د بوديجې تصويب په ډيرو هيوادونو کې د مقننه قوې له دندو څخه شميرل کيږي، يعنې کله چې بوديجه د اجرايه قوې له خوا ترتيب او تنظيم شوه، بوديجه د خلکو استازو ته يعنې ولسي جرګې ته د تصويب لپاره وړاندې کيږي او د ولسي جرګې مربوطه کميسون د هيواد د اقتصادي شرايطو په نظر کې نيولو سره په بوديجه کې جر او بحث کوي او د رايو په اکثريت سره د بوديجې په تصويب او يا د هغې په رد اقدام کوي، که بوديجه تصويب شوه، نو قانوني حيثيت يې موندلی او د اجرا پړاو ته يې لار موندلې، خو که بوديجه د ولسي جرګې لخوا رد کړای شوه، نو په دې صورت کې بوديجه د اجراييه قوې لخوا له توافق سره سم بدلون مومي. يا به يې په ارقامو کې زياتوالی راشي يا کموالی، خو هيڅ يوه بوديجه له تصويب څخه

پرته نشي اجرا کېدلی، کله چې د ځينو عواملو په اساس د نوي مالي کال د پيل څخه د مخه بوديجه تصويب نه شوه، نو تر هغې پورې د تير کال بوديجه تطبيقيږي.

**۳. د بوديجې د اجرا مرحله:** بوديجه تر تصويب وروسته قانوني حيثيت پيدا کوي. دغه مرحله تر ټولو مهمه مرحله ده، ځکه له دې سره د بوديجې ناکامی او بریالیتوب تړلی دی، نو ويلی شو چې د بوديجې د عملي کولو ډله د بوديجې د تطبيق مسوله ده چې په سر کې يې وزير قرار لري. ټولې هغه بوديجې چې د ولسي جرګې لخوا په تصويب رسيدلي وي، که هغه د مصارفو بوديجه وي او که د عوايدو په عملي توګه په مصرف رسول او يا د عوايدو تر لاسه کول په برکې نيسي.

**۴. د بوديجې د کنټرول مرحله:** کنټرول، تفتيش يا ارزيابي د بوديجې وروستی مرحله ده. د بوديجې د کنټرول مرحله په دې مانا چې تصويب شوی بوديجه په درست ډول تر اجرا لاندې نيول شوی او که په کې بدلون رامنځته شوی. دغه مرحله د دې په خاطر تر سره کيږي چې د بوديجې په مصرف کې له ضايعاتو څخه مخ نيوی شوی وي او په صادقانه ډول د بيت المال پيسې په مصرف رسيدلي وي. د دغه حالاتو کنټرول او څارنه د يوې ډلې مسوليت ګڼل کيږي. له همدې امله ده چې بوديجه بايد په هغه ډول تطبيق شي، په کوم ډول چې په تصويب رسيدلی. (ټينګار، ۱۳۹۳)

## د بوديجې حالات

ښکاره خبره ده چې د دولت بوديجه په ځانګړي ډول له دوو برخو څخه تشکيل شوې ده چې يوې برخې ته يې د بوديجې د عوايدو برخه او بلې برخې ته يې د بوديجې د مصارفو برخه ويل کيږي. کله چې په دغو دوو برخو کې تغيير رامنځته شي، نو همدې د تغيير حالاتو ته د بوديجې تغيير ويل کيږي چې هر يو يې په خپل وار سره تشريح کوو.

**اول. د بودیجې د توازن حالت:** بودیجه هغه وخت متوازنه بلل کیږي، چې د بودیجې د عوایدو برخه د بودیجې د مصارفو سره برابر وي، یعنې کله چې مصارف له عوایدو سره برابر شي، دې حالت ته د بودیجې د توازن حالت ویل کیږي.

لکه څنګه چه اقتصادي تاریخ یې په ګوته کوي چې تقریباً ټول لوی انفلاسیونونه د دولتونو د فوق العاده مالي اړتیاوو د پوره کولو لپاره د پیسو د مقدار د زیاتوالي په اثر منځ ته راغلي دي.

ځکه چې یو انفلاسیون هغه وخت منځ ته راځي، چې په اقتصاد کې تادیاتي وسایل د ملي اقتصاد د ضرورت څخه زیات په جریان کې ولویږي او په مقابل کي په شیانو او کالیو کې د هغوی مطابق زیاتوالی نه وي راغلی یا په بل عبارت: یو انفلاسیون هغه وخت منځ ته راځي چې په اقتصاد کې مجموعي تقاضا د پیسو د مقدار د زیاتوالي په اثر د مجموعي عرضې څخه زیاته وي.

هغه ناوړه تاثیرات چې یو انفلاسیون یې په اقتصاد باندې واردوي، عبارت دي له د قیمتونو لوړوالی، د پیسو د ارزش کموالی، د دائنینو د متضرر کیدو، د ثابت عاید لرونکو د متضرر کیدلو، د صادراتو د کموالي، د اوږد مهاله قراردادونو د عقدکولو په اړوند کمه علاقه، د سرمایه ګذاریو کموالی، د بیکاریو منځ ته راتګ، د مادي ارزشونو په لوري فرار او نور.

له دې امله د انفلاسیون د دې ډول تاثیراتو او په خاص ډول د نړیوال انفلاسیون د تاثیراتو په نظریه ډیر تائید او ملاتړ وشو چې د بودیجې د توازن د اصل رعایت کول د یو سالم پولي سیاست او د پیسو د ارزش د استقرار لپاره چې د اقتصادي سیاست او د مرکزي بانک د سیاست د مهمو هدفونو څخه یو هدف دی چې یو مهم او اساسي شرط تشکیلوي.

په دې اساس نن ورځ د حد څخه زیات د پیسو د نشر د مخنیوي لپاره چې د انفلاسیون تمایلاتو د منځ ته راتګ باعث ګرځي، تقریباً په ټولو هیوادونو کې د

بانکي قرضو او پورونو د ورکولو حد او حدود د بانکي قوانینو او نورو قوانینو پواسطه تعین شوي دي چې په دې توګه په جریان کي د حد څخه زیات د پیسو د چلند څخه مخنیوی وشي.

که چیري بیا هم دولت غوښتي وي چې شیانو او خدمتونو ته خپله تقاضا پراخه کړي او په عین حال کي د زیات انفلاسیون څخه مخنیوی وشي، نو په دې صورت کي دا هدف هغه وخت لاس ته راځي چې دولت د خپل ضرورت وړ پیسې د زیاتو مالیاتو د اخیستلو له لارې(په داسې حال کې چې د مالیه ورکونکو مالي قدرت او اقتصادي شرایط اجازه ورکړي) او یا د خصوصي اقتصاد څخه د قرضو او پورونو د اخیستلو له لارې تامین کړي چې په دې صورت کي په اقتصاد کي د پیرودنې قدرت زیاتوالی نه مومي، بلکه صرف د خصوصي سکتور څخه دولتي سکتور ته د پیرودنې د قدرت یو انتقال صورت مومي.

البته د هغو وسایلو انفلاسیوني تاثیرات چې دولت یې د قرضونو او پورونو په شکل د خصوصي اقتصاد څخه لاس ته راوړي. د خصوصي اقتصاد په ساحه کي د هماغو وسایلو د استعمال په طرز پورې اړه لري. په دې مانا چې که چیرې نوموړي وسایل چې دولت یې د قرضونو او پورونو په شکل د خصوصي اقتصاد څخه تر لاسه کوي. په اقتصادي دوران کې شامل وي، نو انفلاسیوني تاثیرات یې نظر داسې قرضو او پورونو ته کم دي چې دولت د ذخیره شویو پیسو له لارې لاس ته راوړي، ځکه کله چې دولت راکد او زخیره شوي پولي وسایل د قرضو او پورونو په شکل لاس ته راوړي، نو په دې صورت کي په اقتصاد کي اضافي تقاضا خلق کیږي او په نتیجه کې انفلاسیوني تاثیرات واردوي.

د دې تجاربو په اساس وو چې د بودیجې د توازن اصل د بودیجې د کلاسیکو اساساتو د یو اصل په توګه د شلمې پیړۍ د اوایلو پورې په جدي توګه رعایت کیده، ولې په نوې پیړۍ کې په خاص ډول د اول نړیوال جنګ څخه وروسته د بودیجې د توازن اصل متضرره شو، ځکه چې د یوې خوا د جنګ لپاره د

مصارفو په زياتوالي سره او د بلې خوا د جنګ څخه د راولاړ شوو خساره لپاره د دولت د مصارفو په لوړوالي سره په جنګ کې د شاملو هيوادونو بوديجه د کسر سره مخامخ شو، د اول نړيوال جنګ څخه يو څه وروسته کوشش وشو چې بيرته د بوديجې د توازن اصل برقراره کړي، ولې نړيوال اقتصادي بحران او د هغه وروستنۍ نتايج د دې سبب شول چې جان مينارد کينز Jan Maynard Keynes دولت ته کسري بوديجه پيشنهاد کړي چې په دې توګه دولت وکولای شي چې د کومکونو ورکولو له لارې، د ارزانو پورونو يا په بل عبارت د کمي ربحي لرونکو پورونو د ورکولو له لارې پانګه اچونه تشويق او په دې ډول د اقتصادي بحران پر ضد مبارزه وکړي.
په ننني اقتصاد کې هم د بوديجې کسر يوه ناګريزه پديده ده، چې د مختلفو عواملو په اساس منځ ته راځي.
**دويم. د بوديجې د مازاد يا تفاضل حالت:** کله چې په يوې بوديجوي مرحلې کې د مصارفو په پرتله د دولت د عوايدو نسبت لوړ شي، نو دې حالت ته د بوديجې د مازاد حالت ويل کيږي، چې دا په دوو حالتونو کې صورت مونډلی شي. لومړی دا چې موجوده عوايد ثابت وساتل شي او مصارف کموالی ومومي او بل دا چې عوايد پورته ولاړ شي او مصارف ثابت پاتې شي چې معمولاً له عملي نظره لومړنۍ طريقې ته رجحان ورکول کيږي. ځکه د ماليات لوړوالی له قانوني او تخنيکي ستونزو سره يو ځای وي. په بوديجه کې د مازاد د منځته راوړلو اساسي موخه په قصدي توګه د قيمتونو د لوړوالي يا صعود د مخنيوي په مقصد، د مصارفو د کموالي له درکه د اقتصاد د تقاضا له محدوديت څخه عبارت دی. البته د بوديجې د مازاد په هکله داسې نظر شته، که چيرې دغه حالت دوام وکړي، په دې مانا چې دولت هر کال خپل ولس يو لړ منابعو ته له لاسرسي څخه محروموي، پرته له دې چې دولت خپله له هغې څخه استفاده وکړي، يعنې دا په دې مانا چې دولت يوه اندازه پيسې د ماليات په نامه له خلکو څخه راټولوي او بيا يې په کار هم نه اچوي، همدا علت دی چې پيسې د خلکو له کاره څخه هم وباسي او خپله دولت هم ورڅخه ګټه نه پورته کوي، پس دا حالت د منلو وړ نه ده چې دغه حالت په ټولنه کې بيکارۍ ته لمن وهي، ځکه شته پيسې په کار نه دې اچول شوي بلکه راکد پاتې ده.

**دریم. د بودیجې د کسر حالت:** کله چې تر عوایدو د دولت مصارف زیات شي، نو دې حالت ته بیا د بودیجې د کسر حالت ویل کیږي. په دې حالت کې بیا ویلی شو چې دولت د کسر له حالت سره مخ دی. د دولت د بودیجې کسر ممکن بیلابیل دلایل او لاملونه ولري. کله چې دولت خپل فعال اقتصادي نقش ترسره کړي او له رکود څخه خلاصون وغواړي. د سرمایه ګذارۍ لپاره بیا زیاتو مصارفو ته اړتیا لری، همدغه لامل ده چې د بودیجې له کسر سره مخ کیږي. دغه حالت هم په اقتصاد کې د منلو وړ نه ده، مګر بیا هم ډیری هیوادونه له دغه حالت سره مخ کیږي.

څه وخت چې د دولت مصارف د هغه له عوایدو څخه اظافه شي، نو ویل کیږي چې د دولت بودیجه د کسر سره مواجه ده، چې دغه میزان د عوایدو او مصارفو د ارقامو څخه په اسانۍ سره محاسبه کیدای شي، په اقتصاد کې په عمومي شکل سره د دولت د بودیجې کسر د مختلفو د لایلو په واسطه منځته راتلی شي، چې ځیني وخت دولت د هیواد په اقتصادي فعالیتونو کې د فعال رول لوبولو او د ملک د پرمختګ په خاطر د هیواد د اقتصاد د رکود د مخنیوي په خاطر د خپلې پانګې اچونې په مصارفو کې زیاتوالی راولي چې په دغه وخت کې د دولت بودیجه د کسر د سیاست سره مخ کیږي چې کوشش کوي د دغه کسر په نتیجه کې د هیواد اقتصاد د تعادل او توازن حالت ته راوړي.

ځیني وختونه پرته له دې څخه چې دولت د ملک په اقتصادي فعالیتونو کې کوم خاص رول ولوبوي، د یو فعال مالي سیاست په رامنځته کولو او عملي کولو کي هم د دولت بودیجه د کسر سره مخ کیږي چې دغه ډول د بودیجې کسر په اقتصاد کې د دولت ضعیف رول ښکارندوی کوي، چې دغه کسر د دولت د ضعیف مالي سیاست له مخې را منځته شوی چې مختلف تاثیرات په اقتصاد باندې لري، نو په دې لحاظ د بودیجې د کسر رامنځته کیدل په هیڅ صورت کې په دې نه توانیږي چې د دولت له خوا د یو فعال مالي سیاست ښکارندویي وکړي. ( صمیمی، ۱۳۷۷)

نو په دغه ځای کې دولتونه د خپلې بودیجې د کسر د منځه وړلو لپاره لازم تدبیرونه نیسي او د تعادل په حالت کې د اقتصاد د ساتلو لپاره له ځینو سیاستونو څخه استفاده کوي او کومې وظیفې دي چې باید دولت یې سرته ورسوي، په راتلونکي لیکنې کې ذکر کیږي.

د بودیجې د کسر د سیاست په برخه کې دولت یو نورمې سیاست تعقیبوي او کوشش کوي چې د دغه سیاست په وسیله اقتصادي حالت داسې تر تاثیر لاندې راولي چې د ملک اقتصاد په سرعت او تیزی سره د بهبود په طرف میلان پیدا کړي او دغې هدف ته هغه وخت رسیدی شي چې د یو داسې بحراني اقتصاد په حالت کې قرار ولري چې د مجموعي تقاضا د اندازې په کموالي سره مجموعي عرضه کمه کړي یا د مجموعي تقاضا د کموالي په واسطه نظر مجموعي عرضه تشخیص کړای شي.

دولت د بودیجې د سیاست د وسایلو د پکار اچولو له لارې په اقتصاد کې مجموعي تقاضا تقویه کوي، نو په دغه حالت کې د دولت مصارف باید تر هغه وخته لوړ لاړ شي چې د قرضې د پیسو او یا د خرید د قوت څخه مکمله استفاده وشي او د هغې په واسطه د تولیدي امکاناتو څخه کامله استفاده وکړای شي.

## د پنځم فصل پوښتنې

لومړی پوښتنه: بودیجه څه ته ویلی کیږي، تعریف یې کړئ؟

دویمه پوښتنه: د بودیجې شتون د یوه هیواد لپاره څه اهمیت لري، واضح یې کړئ؟

دریمه پوښتنه: د بودیجې مراحل کوم دي، تشریح یې کړئ؟

څلورمه پوښتنه: بودیجه څو حالته لري، تشریح یې کړئ؟

## شپږم فصل

## عامه مالي مسایل

### ۱. مالي پالیسي

مالي پالیسي د دولت د عوایدو(مالیاتو) اومصارفو مجموعه ده، چې د ټولنې په اقتصاد او اقتصادي وضعیت باندې د اغیزو درلودلو او اغیزمن کولوپه موخه کارول کیږي.عواید او مصارف د مالي پالیسی دوه هغه مهم فکتورونه ګڼل کیږي چې د دغو دوو فکتورونو په واسطه کولای شو د یوې ټولنې اقتصادي ستونزې او بحرانونه مهار کړو. مالي پالیسي د اقتصاد او سیاست تر منځ یو مشترک خط او د وصل نقطه ګڼل کیږي چې سیاست پرته د اقتصاد څخه ناشونی او کامله نه ګڼل کیږي، همدغه مالي پالیسی ده چې دولتونه یې د ښه تطبیق په اساس کولی شي د ټولنې او د ټولنې د اوسیدونکو لپاره عامه کارونه او نور خدمات وړاندې کړي او په نتیجه کې دولت په اقتصادي برخه کې یو ښه او غوره سیاستمدار او پالیسي جوړوونکی وپیژندل شي.

د مالي پالیسیګانو د پلي کولو څخه هدف په یوه هیواد کې د هغه هیواد د اقتصادي بحرانونو او تحولاتو مهار کول دي، په دې سره یو حکومت کولی شي خپل اقتصادي ستونزې چې په ټولنه کې خلک او دولت ورسره مخ دي حل کړي او د هیواد راتلونکی پیشبیني کړي، همدا راز د دغه سیاست په پلي کولو سره داخلي کاروباریان او تولیدي سکتور کولی شي په ښه شان او ډاډ سره خپلې چارې پر مخ بوځي، همدغه مالي پالیسي ده چې له امله یې د سرمایه دارانو څخه د قانون په چوکاټ کې یوه اندازه عواید(مالیات) اخستل کیږي او

بیرته پر ټولنې باندې د عامه خدماتو او عامه تولیداتو له لارې ویشل کیږي چې له امله یې د هیواد بې وزله طبقه هم مستفید کیږي.

سره د دې چې افغانستان یو پرمختیایي او جنګ ځپلی هیواد دی او ډیر قانون ماتوونکي او زورواکي په کې شتون لري خو بیا هم له نیکه مرغه د افغانستان دولت په دې وروسیتو کلونو کی د راز راز ستونزو او ناامنیو سره سره په دې برخه کی اوچت ګامونه اخیستی دی. د افغانستان د مالي پالیسی ارزونه یو ضرورت دی او د ارزونی پایله موږ ته دا امکان راکوي چې د غوره پالیسی او په دې جمله کی د انقباضی او کله هم د انبساطی روشونو او لارو چارو مؤثریت باندی پوه او په لازم وخت کې یې په کار یوسو، البته دا ټول پالیسیګانې ثابت ندی، بلکه نظر وخت او شرایطو ته فرق کوی. یو موفق او بریالی پالیسي جوړوونکی دغه شرایط او وضعیتونه ډیر ښه تحلیلولای شي.

### مالي پالیسي یعنې څه؟

د یوه ځانګړي وخت په نظر کې نیولو سره د یوه هیواد د عوایدو د پالیسی او د مصارفو د پالیسی د دقیق او سم تعادل د رامنځته کولو لپاره پلان جوړونې ته مالي پالیسي یا مالي سیاست ویل کیږي، د عوایدو پالیسي بیا هغه پلان او پالیسی ته ویلی کیږي چې له امله یې د یوه ټاکلي وخت( معمولاً یو کال) لپاره د عوایدو ډولونه او جوړښت پیشبیني او تنظیم کیږي. د یوه دولت د عوایدو تر ټولو مهمې برخې مسقیم مالیات(مالیات پر عایداتو)او غیر مستقیم مالیات(مالیات پر مصارفو) جوړوي، له همدې کبله ویلی شو چې د یوه هیواد مالي پالیسي کولی شي د هغه هیواد عایداتي پالیسی ته تغییر ورکړي. همدا راز د مالي پالیسی مصارفاتي برخه یا مصارفاتي پالیسي بیا له هغه پالیسی او پلان څخه عبارت دی چې په هغه کې د مصارفو ډولونه، د مصارفو جوړښت او څرنګوالی په کې د یوه ټاکلي مودې لپاره پیش بیني او تنظیم کیږي چې د دولت مصارف بیا په دوو مهمو برخو ویشل شوي چې یوه برخه یې د عادي یا جاري مصارفو(لکه د دولتي کارمندانو حقوق او معاشات) په نامه او بله برخه یې د انکشافي مصارفو په نامه یادیږي.(آیسنګ، ۱۳۷۸)

**د مالي پالیسی موخې**

مالي پالیسي د دولت یو له هغو پالیسیو څخه ده چې له امله یې کولای شي خپل پیش بیني شوي سیاسي او اقتصادي موخې او پلانونه په ښه شان سره عملي کړي. د دغه پالیسی ځینو موخو ته په لاندې ډول اشاره کوو:

۱. د اقتصادي پرمختګ رامنځته کول( د داخلي ناخالصو تولیداتو د کچې لوړوالی): د دې لپاره چې د اقتصادي پالیسی او مالي پالیسی ترمنځ ښه توپیر وشو کولی نو ویلی شو چې د یوه دولت د مالي پالیسی تر ټولو مهم هدف د داخلي ناخالصو تولیداتو د کچې ډیروالی دی، ځکه چې په ټولنه کې د حقیقي تولیداتو او خدماتو د کچې یا اندازې لوړالی د یوې ټولنې د عمومي سوکالۍ او هوساینې د لوړوالي ضامن ګڼل کیدای شي، د یوې ټولنې د تولیدي ظرفیت لوړول د هغې ټولنې د اقتصادي پرمختګ په معنی ده چې دغه پالیسي همدغه موخې ته کار کوي ترڅو وشي کولی د ټولنې اقتصادي اړخ غښتلی او خلک هوسا و اوسي، دا په دې معنی ده چې د دغه پالیسی د پلي کولو له امله په ټولنه کې د اشتغال یا د کار لپاره زمینه مساعدیږي او د بې کارۍ سطحه کمیږي چې ورو ورو په ټولنه کې د کامل اشتغال یا استخدام لپاره زمینه برابریږي او بې کاري له منځه ځي. د حقیقي تولیداتو د کچې د لوړوالي له امله د ټولنې سړي سر عاید زیاتوالی پیداکوي چې له امله یې خلک کولی شي نظر پخواني حالت ته د خرید ښه توانایي او قدرت ولري.(آیسنګ، ۱۳۷۸)

د خریداری د قدرت زیاتوالی په خپل ذات کې د مصرف یا لګښت په اندازه کې زیاتوالی رامنځته کوي چې ورسره خلک کولی شي یوه اندازه پس انداز هم وکړي، دغه پس انداز د دې باعث ګرځي ترڅو په ټولنه کې سرمایه ګذاري رامنځته شي.

د پرمختللو هیوادونو تجربې دا راښایي چې د اقتصادي هوساینې د کچې لوړوالی په ټولنه کې کاري او سرمایوي فرصتونه رامنځته کوي چې په همدې اساس د یوې ټولنې د حقیقي تولیداتو(ملي ناخالصو داخلي تولیداتو) د کچې لوړوالی د مالي پالیسی یو له مهمو موخو څخه شمیرل کیږي.

۲. د اقتصادي ثبات ساتنه: د نړۍ اقتصاد دانان دا عقیده لري چې د اقتصادي ثبات پر وړاندې ستر تهدید اقتصادي رکود دی. اقتصادي رکود یو داسې حالت دی چې په هغې کې اقتصادي فعالیتونه نزولي حالت غوره کوي او غالباً د خصوصي سرمایه ګذاریو د انګیزې د حجم په کموالي د داخلي تولیداتو کچه یا میزان هم کموالی پیداکوي، په ټولنه کې د تولیدي او خدماتي ظرفیتونو د کچې د کموالي او په نتیجه کې د هیواد د اقتصاد د کوچنیوالي له امله د بې کارۍ نرخ یا اندازه زیاتوالی پیدا کوي چې د ټولنې د مصرف، سرمایه ګذارۍ او په عمومي ډول سره د ټولنې د هوساینې د کچې په کموالي او ټیټوالي تمامیدای شي. په دغسې حالاتو کې که چیرې دولت د اقتصادي رکود پر وړاندې جدي او مؤثره ګامونه پورته نه کړي نو د دې احتمال را پیښیدای شي چې دغه اقتصادي رکود د بحران لور ته روان شي او اقتصاد به د بې ثباتۍ خواته حرکت وکړي. له همدې امله د اقتصادي بې ثباتۍ پر وړاندې مبارزه د هر دولت یو له مهمو دندو او اهدافو څخه شمیرل کیږي چې دا ټول د مالي پالیسۍ له لارې ترسره کیدای شي.

د اقتصادي رکود په حالت کې دولتونه د ځینو اساسي ستونزو سره مخامخ وي چې دغه ستونزې د کل تقاضا د سطحې له حقیقي کموالي او د تولیداتو د سطحې له کموالي څخه عبارت دی، دولت کولی شي د مصارفاتي سرمایو د سطحې په زیاتوالي سره د دغه ستونزو پر وړاندې مبارزه وکړي، لکه: د ساختماني او بیا رغنیزو چارو د پلانونو او طرحو عملي کول کولی شي په اشتغال او په حقیقي کل تقاضا باندې مؤثره اغیزه ولري. له دې پرته پر عوایدو باندې د مالیاتو د کچې کموالی او د دولت لخوا د جاري مصارفو شتون نور هغه فکتورونه دي چې په مرسته یې دولت کولی شي د کل یا عمومي تقاضا اندازه لوړه کړي.

۳. د عوایدو عادلانه ویش: د مالي پالیسۍ دریمه موخه د ملي عوایدو مجدده یا بیا ځلي عادلانه ویش ده چې په واقعیت کې همدغه موخه یا د ملي عوایدو ویش د ټولنې طبقاتي فاصلو په کمولو او د اجتماعي عدالت په تأمین او پلي کولو کې

مهم نقش لري. په یوه هیواد یا یوې ټولنې کې لوی اجتماعي ډلې شتون لري چې د ټولنې د داخلي ملي ناخالصو تولیداتو په لوړولو او لاسته راوړلو کې مهمه ونډه لري لکه د ټولنې اشراف او سرمایه داره طبقه. د دې ترڅنګ په همدغه ټولنه کې بیا ځینې نورې اجتماعي ډلې او خلک(لکه هغه کارګران چې ورځنی مزد لري، کارمندان او نور په کور ناست خلک او ډلې) هم شتون لري چې د کار او شغل له مخې د ملي عاید ډیره کمه برخه په واک کې لري.(آیسنګ، ۱۳۷۸)

دا چې په ټولنه کې ځینې د ښو عوایدو او ښو اقتصادي امتیازاتو درلودونکي وي او نور بیا د کمزوري اقتصاد او کم عاید څخه برخمن وي چې حتی نشي کولی خپل ورځنی چارې پر مخ بوځي نو دغه د عوایدو نابرابري د دې باعث ګرځي چې په ټولنه کې دې یو بې عدالتي رامنځته کړي او خلک دې ورو ورو د حکومتونو څخه فاصله اختیار کړي، نو مالي پالیسي د همدغې موخې د ترلاسه کولو لپاره کار کوي تر څو په ټولنه کې دغه بې عدالتي او بې انصافي له منځه یوسي، د همدې لپاره یې مالیاتي پالیسي په کار اچولی ترڅو پر عایداتو د مالیاتو د پالیسی له لارې له ثروتمندو او مالدارو کسانو څخه یوه اندازه عواید راټول او د هغو کسانو لپاره یې مصرف کړي چې د کم عاید درلودونکي دي، دولت له شتمنو څخه د مالیاتو په نامه عواید راټولوي او د عامه خدماتو او عامه تولیداتو په نامه یې د هغو کسانو لپاره په مصرف رسوي کوم چې د کم او ټیټ عاید درلودونکي دي ترڅو له دې لارې وشي کولی د هغو کسانو څخه حمایت وکړي چې د کمو عوایدو درلودونکي او بې بضاعته دي.

د دې ترڅنګ دولت له هغو کسانو څخه مالیات نه راټولوي کوم چې د کم عاید درلودونکي دي ترڅو دوی ته هم زمینه مساعده شي چې خپل اقتصادي ژوندانه ته پرمختګ ورکړي او د نورو سرمایه دارانو سره سیال شي. (آریا، ۱۳۹۴)

## د مالي پالیسی ډولونه

مالي پالیسي په مطلوب ډول سره د مالي منابعو له مدیریت څخه عبارت ده، د مالي پالیسیو په واسطه دولتونه خپل اقتصادي تحولات مهار کوي او نه پرېږدي چې د اقتصادي تحولاتو او بحرانونو په واسطه ټولنه او د ټولنې اقتصاد زیان وموميء مالي تصامیم او تګلارې په ټولنه کې کاروبار ته یو سرحد ښيي او له کاروباریانو سره په کې مرسته کیږي.(رحیمي، ۱۳۹۸)

مالي پالیسی په دریو برخو ویشلی شوی چې دولت او د وخت حاکمان یې نظر وخت ته د دولت د مصارفو د تأمین په موخه او یا هم د اقتصادي او اجتماعي بحرانونو څخه د مخنیوي لپاره عملي کوي چې دغه درې برخې یا فکتورونه د انبساطي، انقباضي او متوازنه پالیسیوغوره کول دي. یو پرمختیایی هیواد باید د مالی پالیسیو د تیوری په رڼا کې هغه موقعیتونه او وضعیتونه ډیر ښه تشخیص کړی چې د دوی د ملی اقتصاد د پرمختیا او بهبود لپاره مهم بریښي.(د افغانستان بانک بولټن،۱۳۹۳)

لکه څرنګه چې یادونه وشوه مالي پالیسي په خپل ذات کې په دریو ډولونو ویشل شوی چې له دغو پالیسیو څخه په لاندې ډول یادونه کوو:

۱. مالي انبساطي(توسعوي) پالیسي: انبساطي پالیسي هغه پالیسي ده چې د هغه په ترڅ کې دولت مالي وسایلو ته وسعت یا پراختیا ورکوي، یعني له مالي وسایلو څخه په کار اخیستو د اقتصادي وضعیت د ټینګښت او ثبات لپاره اقتصاد کې پراختیا راولي ترڅو اقتصادي رونق تحقق ومومي. د دې موخې لپاره دولت په مالي لګښتونو کې زیاتوالی راولي، کیدای شي مالیات هم لوړ کړي، او ځینې سکتورونو کې د مؤلدینو د تشویق لپاره مالیه کمه کړي، یعنې هغه تدابیر چې د اقتصادي رونق په موخه د هغو د تحقق لپاره مالي وسایل وکارول شي مالي انبساطي پالیسي یادیږي.(دودیال، ۱۳۹۵)

د مالي انبساطي یا توسعوي پالیسی څخه هدف هغه پالیسي ده چې د هغې په

تطبیق سره دولت کولی شي د جاري یا سرمایوي مصارفو پواسطه د ټولنې مجموعي(کل) تقاضا ته لوړوالی ورکړي ترڅو د ټولنې ملي ناخالص تولیدات لوړوالی پیداکړي.

دولت د دریو برخو په مراعاتولو سره کولی شي د ټولنې مجموعي تقاضا لوړه کړي چې دغه برخې د دولت د مصارفاتو د لوړوالي، د مالیاتو د کچې کموالی او د دواړو څخه په یوه ځایي توګه د ګټې اخستنې څخه عبارت دي. (ټینګار، ۱۳۹۱)

لکه څرنګه چې د دولت د جاري سرمایوي مصارفو ډیروالی د ټولنې د مصرف او د ملي اقتصاد په کچه تولیداتو ته لوړوالی وربخښي نو له همدې امله دغه پالیسي د ټولنې پر اقتصادي پرمختیا باندې مؤثره واقع کیدای شي. همدا راز دولت کولی شي د دولتي مصارفو د لوړوالي پرځای د دولتي عوایدو پرکموالي اتکاء وکړي، یعنې دولت کولی شي مستقیم او غیر مستقیم مالیات کم کړي، د مثال په ډول که چیرې دولت په کلي ډول پرعایداتو د مالیاتو اندازه له ۲۰٪ څخه ۱۵٪ ته کمه کړي نو دا د دې سبب کیږي چې دولت خپله د عوایدو یوه برخه خصوصي سکتور ته انتقال کړي، د عوایدو پراختیا یا لوړوالی کورنیو ته دا زمینه مساعدوي ترڅو د مصارفو په برخه کې یې زیاتوالی رامنځته شي او یوه اندازه د خپلو عوایدو څخه پس انداز کړي.

د عوایدو د سطحې زیاتوالی نه یوازې دا چې مصارف لوړوي بلکې پس اندازونو ته هم زمینه مساعدوي چې پس اندازونه سرمایه ګذارۍ ته لاره هواروي او چې سرمایه ګذاري رامنځته شي واضحه ده چې بې کاري کموالی پیدا کوي او په ټولنه کې خلکو ته د کار زمینه برابریږي چې دولت به د خپل پالیسی هدف ته یې له کبله رسیدلی وي.

د کلاسیکو علماوو په نظر مالي انبساطي پالیسي پر ملي تولیداتو او ملي عاید باندې په سیده توګه اغیزه لري او د دغه ملي تولیداتو او ملي عاید اندازه کموي چې له امله یې خارجي سرمایه ګذارۍ ته زمینه مساعدیږي او په نتیجه کې

خارجي سرمايه هيواد ته جذبيږي. په دغه حالت کې د هيواد رايجو پيسو ته تقاضا ډيريږي چې په نتيجه کې يې خارجي توليدات نسبت داخلي توليداتو ته ارزانه او په کم نرخ ترلاسه کيدای شي. دلته ده چې په هيواد کې د صادراتو کچه کمه او ورسره واردات زياتوالی پيداکوي، که دغه حالت دوام پيدا کړي واضحه ده چې د هيواد اقتصاد او اقتصادي حالت د انديښنې وړ ګرځي.

۲. انقباضي مالي پاليسي: انقباضي مالي پاليسي هغه پاليسی ته ويلی کيږي چې له امله يې دولت په خپل عايداتي او مصارفاتي سياست کې تغيير راولي. په دغه پاليسی کې د دولت د مصارفو کموالي ته اولويت ورکول شوی، دا په دې معنی چې دولت د دغه پاليسی په اساس غواړي خپل مصارفات کم کړي او له بله پلوه خپل عوايد د مستقيمو اوغير مستقيمو مالياتو له لارې زيات کړي. دولتونه کولی شي د خپلو مصارفاتو د کموالي له لارې، د مالياتو د ډيروالي له لارې او يا هم د دواړو برخو څخه د ګډې استفادې په اساس خپل انقباضي پاليسي پلی کړي، څکه په دې سره د دولت بوديجه د کسر خواته حرکت کوي.(تيينګار، ۱۳۹۱)

د مجموعي تقاضا د کموالي له امله دولتونه کولي شي د انفلاسيون د مخ نيوي په موخه کار واخلي، دلته د انفلاسيون د مخ نيوي لپاره د مجموعي تقاضا د څلورو برخو په تقويې سره لوړيدای شي چې دغه برخې د مصرف، سرمايه ګذاری، د دولتي د مصارفو او د خالصو صادراتو څخه عبارت دي، دولت کولی شي د دغو برخو په تقويې سره په ټولنه کې مجموعي يا کل تقاضا کمزوری کړي.(تيينګار، ۱۳۹۱)

د دولت د انبساطي پاليسی د تطبيق له امله له خلکو څخه يوه زياته اندازه عوايد ترلاسه کيږي چې دولت هم پرې خپل جاري مصارف نه ترسره کوي چې په دې سره په ټولنه کې اقتصادي فعاليتونه کميږي او دولت کولی شي د ځينو اقتصادي ستونزو مخه پرې ونيسي.

مالي انقباضي پالیسي بیا د مالي انبساطي پالیسی برعکس حالات او وضعیتونه منعکسوي، کله چې په یوه هیواد کې د داخلي رایجو پیسو حجم ډیر وي او په هیواد کې انفلاسیوني وضعیت موجود وي د دغه حالت د کنترول لپاره له دغه پالیسی څخه استفاده کیږي چې د مالیاتو د ډیروالي له لارې له ټولنې څخه د پیسو حجم او اندازه کموي چې په نتیجه کې د کالیو یا اجناسو نرخونه کمیږي، صادرات زیاتوالی پیدا کوي او واردات ورسره کمیږي.

۳. متوازنه مالي پالیسي: د متوازنې مالي پالیسی څخه مقصد هغه پالیسي ده چې د دولت عواید او مصارف سره برابر وي او د دولت کلنی بودیجه د مالي منابعو د کسر او یا مازاد سره مواجه نه شي.

دغه درې واړه پالیسیګانې چې د مالي پالیسی په نوم یادیږي د یوې ټولنې د اقتصادي وضعیت د کنترول په موخه پلی او تطبیق کیږي.

د نړۍ ټول هیوادونه د دغو پالیسیو څخه د خپلو اقتصادي بحرانونو د مهارولو لپاره استفاده کوي چې افغانستان هم په دې هکله د یوه ښکاره پالیسی درلودونکی دی چې متأسفانه سیاسي تحولات، جنګونه او نا امنۍ د دغه پالیسیو د پلي کیدو په لاره کې ستر خنډ بلل کیږي. که خدای کول یوه ورځ به په دغه هیواد کې د قانون د تحکیم پر وړاندې کومه ستونزه موجوده نه وي، نو دغه هیواد به لکه د نورو پرمختللو او ارامو هیوادونو په شان د یو ښه مالي پالیسی درلودنکی وي چې له امله به یې دولت وشي کولی د خپلو مصارفو او عامه چارو د ترسره کولو لپاره د خپلو عوایدو ډیره برخه د دغه پالیسی د پلي کولو له لارې ترلاسه کړي.

## د مالي پالیسی ستونزې

که څه هم کنزیان په عمومي ډول سره مالي سیاست یا مالي پالیسیګانې د رکود او انفلاسیون د مخنیوي په خاطر مؤثره ګڼي خو بیا هم د ځینو نیمګړتیاو د درلودلو له امله په دې هکله ځینې تشویشونه شتون لري چې ځینې یې په لاندې ډول یادوو:

۱. زماني تأخیر: د مالي پالیسی یا مالي سیاست په جوړولو کې کنګره او رئیس جمهور باید سره یو ځای کار وکړي تر څو مالي پالیسیګانې په ټاکلي وخت او مؤثره توګه سره جوړ او تصویب شي، مګر په عمل کې دغه کار میاشتې او کله کله کلونه هم دربر نیسي چې دغه تأخیر په اقتصاد باندې تآثیر واردوي. دلته درې ډوله زماني تأخیر وجود لري چې د مالي پالیسی اجراات محدودوي چې په لاندې ډول ورځینې یادونه کوو:

الف. د تأخیر پیژندنه: دا د هغه وخت له پیژندلو څخه عبارت دی کوم چې د رکود او تورم ترمنځ واقع کیږي، مثلاً: که چیرې اقتصاد د سنبلې په میاشت کې د رکود سره مخامخ کیږي نو دغه حالت تر دریو یا څلورو میاشتو نه ښکاره کیږي چې دا د مالي پالیسی لپاره یوه ستونزه بلل کیږي.

ب. اداري تأخیر: همدا راز په کنګره کې مالي پالیسیګانو باندې کار کول هم ډیر وخت نیسي چې دا هم په اقتصاد باندې تأثیر واردوي.

ج. اجرایوي تأخیر: کله چې مالي پالیسیګانې تصویب شي نو د اجرا لپاره یې وخت ته اړتیا پیښیږي چې خپله وخت ته اړتیا یوه ستونزه ده او د مالي پالیسی له ستونزو څخه بلل کیږي.

۲. جبراني اثر: د مالي پالیسیګانو پر وړاندې بله ستونزه جبراني اثر دی چې په دې سره خصوصي مصارف د مصارفو یا سرمایه ګذاریو په نتیجه کې ډیریږي چې حکومت او بودیجه سقوط کوي.(ټینګار، ۱۳۹۱)

## د مالي پالیسی اقتصادي اغیزې

دولتونه د مالي پالیسیو څخه په اقتصاد کې د کل تقاضا پر سطحې باندې د اغیزې په موخه کار اخلي، دولتونه کوښښ کوي چې د مالي پالیسی له لارې یو لړ اقتصادي موخې لکه د قیمتونو ثبات، کامل اشتغال، اقتصادي پرمختیا او نور په لاس راوړي. کینزي اقتصاد پوهان په دې عقیده دي چې د دولت د مخارجو زیاتوالی او د مالیاتي ورکړو په اندازه کې کموالی د عمومي تقاضا د لوړوالي لپاره غوره لاره ده چې د دولتي مخارجو کموالی اود مالیاتي ورکړو زیاتوالی بیا د اقتصادي رونق له دورې څخه ورسته پیل کیږي. کینزیان دا استدلال کوي چې له دغه پالیسی څخه د اقتصادي رکود په دورې(هغه حالت کې چې اقتصادي فعالیتونه ډیر ښکته شوي وي) د یوې قوي اقتصادي پرمختیا د رامنځته کیدو او د کاري فرصتونو د پیدا کیدو لپاره ګټه اخیستل کیږي.(فراهانی، ۱۳۹۳)

دولتونه د بودیجې مازاد په دوو ځیزونو پورې تړلي بولي چې یو یې د قوي اقتصادي پرمختیا په سرعت او بل هم د قیمتونو پر ثبات باندې په هغه حالت کې چې په ټولنه کې د انفلاسیون سطحه لوړه وي.

د کلاسیکانو په نظر مالي انبساطي پالیسي خالص صادراتو ته کموالي وربخښي چې د صادراتو د دغه کموالي اغیزه پر ملي تولیداتو او ملي عاید باندې هغه وخت اغیزه درلودلی شي چې د دولت پورونه د ګټې نرخ ته لوړوالی ورکړي، نو په دې صورت کې بیا سرمایه هم له خارجي سرمایه ګذارانو څخه جذبیږي او په ټولنه کې کاري فرصتونه رامنځته او بلاخره اقتصاد د پرمختیا په لور حرکت کوي، او علت یې هم دا کیدای شي چې په دغه وخت کې شرکتونه یا خصوصي سکتور هم غواړي د مالي پروژو په برخه کې له دولت سره رقابت وکړي، دلته ده چې خارجي سرمایه ګذاران د قرضې د اوراقو د لاسته راوړلو لپاره د یوه ځانګړي هیواد مروجې پیسې ترلاسه کوي، له همدې امله کله چې د خارجي یا بهرنیو سرمایو جریان په هیواد کې زیات شي نو د هیواد د داخلي مروجو پیسو د ترلاسه کولو لپاره تقاضا ډیریږي. د تقاضا دغه ډول زیاتوالی د

دې باعث ګرځي چې په هیواد کې دې رایجې پیسې ترقي او پرمختګ وکړي، او کله چې د یوه هیواد مروجې پیسې ترقي وکړي اجناس یا داخلي تولیدات وده کوي او ورو ورو داخلي تولیدات نسبت خارجي مشابهو تولیداتو ته چې پخوا یې ډیر لګښت درلود په کم لګښت سره تولید او تولنې ته وړاندې کیږي چې په دغه حالت کې به داخلي کالي یا اجناس نسبت خارجي مشابهو اجناسو ته ارزانه وي.

**د افغانستان د مالي پالیسی ارزونه**

لکه څرنګه چې اشخاص، افراد او کورنۍ د خپل اقتصادي ژوندانه د پرمخ بیولو لپاره یوه اندازه عوایدو او پیسو ته ضرورت لري نو ښکاره خبره ده چې حکومتونه هم پرته د عوایدو او پرته د پیسو د لاسته راوړلو څخه خپلې چارې پرمخ نه شي وړلای. افراد، اشخاص، کورنۍ او حتی حکومتونه کوښښ کوي چې له مختلفو لارو او منابعو څخه خپل د ضرورت وړ عواید لاسته راوړي ترڅو و شي کولی خپل ضروریات او غوښتنې پوره کړي. مالیات او د مالیاتو راټولونه د حکومتونو لپاره یو له هغو ستروعایداتي منابعو څخه شمیرل کیږي چې حکومتونه یې له لارې د دولت زیات مصارف پوره کوي، که چیرې دولتونه د دغو عوایدو(مالیاتو) د ترلاسه کولو لپاره یوه سالمه پالیسي او سیاست ونه لري او هغه په ښه شان سره عملي او پلي نه کړي، ښکاره ده چې دولتونه د خپلو چارو د ترسره کولو لپاره له مالي او پولي ستونزو سره لاس او ګریوان کیږي چې پای کې اړ کیږي تر څو د عوایدو د ترلاسه کولو لپاره له هغو لارو څخه استفاده وکړي چې په اوږد مهاله کې پر اقتصادي پرمختګ منفي اغیزه کوي. (باتلر،۱۳۷۷)

ښکاره خبره ده چې له دوو لسیزو څخه راپدیخوا د افغانستان د بیا رغاونې، قانونمندی، ښه حکومتولۍ، د امنیت تأمین، د خلکو د ژوندانه پرمختیا، تعلیم، بهرنیو اړیکو او نورو په هکله نړیوال او خپله د افغانستان حکومت کار کړی او ښې پایلې یې درلودلي دي چې د افغانستان تقریباً ټول سکتورونه اوس مهال فعاله او د ځانګړو کړنلارو، پالیسیو او سیاستونو درلودنکی دی، چې په دې لړ کې د افغانستان مالي پالیسی ته هم پوره توجه شوې.

ښکاره ده چې د يوې ټولنې مالي پاليسي او دې پورې اړونده د نورو پاليسيګانو درلودل او د هغو تطبيق د ښه حکومتولۍ او د خلکو د ژوندانه د پرمختيا لپاره ګټور تماميداى شي. د همدې پاليسي پواسطه دولتونه کولی شي خپل اقتصادي وضعيت کنترول او ورسره په ټولنه کې د مالي بحرانونو مخه ونيسي، همدا راز حکومتونه کولی شي د دغه پاليسی په واسطه په ښه شکل سره د هيواد کلنۍ بودجه تمويل او د هيواد ټول مصارف لاسته راوړي، که چيرې يو هيواد ښه مالي پاليسي ونه لري واضحه ده چې ښه عوايد به ونه لري او تل به د نورو لاس ته ناست وي، پردي پروژې به پلي کوي چې له امله به يې په هيواد کې خارجي لاسوهنې ډيرې او هيواد به د هلاکت لوري ته روان شي.(رحيمي،۱۳۹۷)

دا چې د دغه ډول پاليسی درلودل او د هغې تطبيق د هيواد په اقتصادي پرمختګ باندې سيده تاثير لري، له همدې امله ده چې دغه موضوع د ډير اهميت درلودنکي ګڼل کيږي.

زمونږ ګران هيواد افغانستان چې د نړۍ د پرمختيايي هيوادونو څخه ګڼل کيږي او د ګاونډيو او نورو سيالو هيوادونو د رقابت ښکار شوی، ډيرو ناخوالو او بدو اقتصادي ستونزو او شرايطو سره هم مخ شوی، شاوخوا څلويښت کاله په دغه هيواد کې سياسي ستونزو شتون درلود چې له امله يې په هيواد کې شته اساسي قانون، د پول او بانکدارۍ قانون، مالي او پولي پاليسيګانې او ورسره په هره برخه کې د لوايحو، تګلارو او مقررو تطبيق ستونزمن بريښيده چې له امله يې د هيواد اقتصاد او اقتصادي پرمختګ سخت زيانمن شوی. له دوو لسيزو څخه راپديخوا د افغانستان د بيا رغاونې، قانونمندی، ښه حکومتولۍ، د امنيت تأمين، د خلکو د ژوندانه پرمختيا، تعليم، بهرنيو اړيکو او نورو په هکله نړيوال او خپله د افغانستان حکومت کار کړی او ښې پايلې يې درلودلي دي چې د افغانستان تقريباً ټول سکتورونه اوس فعاله او د ځانګړو کرنلارو، پاليسيو او سياستونو درلودنکی دی، چې په دې لړ کې د افغانستان مالي پاليسی ته هم پوره توجه شوی ده، خو بيا هم يو څه ستونزې لا پاتې دي چې بايد حل شي، له دغو ستونزو څخه په لاندې توګه يادونه کيږی:

## په افغانستان کې د مالي پالیسی پر وړاندې پرتې ستونزې

دا چې افغانستان یو له پرمختیایي او بیا له جنګ ځپلو هیوادونو څخه دی نو د خپلو پالیسیو د تطبیق پر وړاندې د ستونزو درلودونکی هم دی، سره له دې چې په افغانستان کې د۱۳۸۰ کال راپدیخوا ځینې تحولات او اقتصادي پرمختګونه رامنځته شویدي او په هره برخه کې مونږ د ځانګړو پالیسیو او تګلارو درلودونکي یو خو بیا هم د تطبیق په وړاندې یې ګڼ شمیر ستونزې لرو، همدا راز د افغانستان د مالي پالیسی پر وړاندې هم ډیرې ستونزې شتون لري چې د دغه پالیسی تطبیق او پلي کولو پر وړاندې ګواښ ګڼل کیږي او نه پریږدي چې کما حقه دغه پالیسي تطبیق شي.

هغه ستونزې او تهدیدونه چې د افغانستان د مالي پالیسی پر وړاندې شتون لري، که د افغانستان دولت یې په اړه جدي ګامونه پورته کړې واضحه ده چې تر یوې کچې به دغه ستونزې حل شوي وي او پاتې نور به هم که خدای کول حل او له منځه ولاړ شي، د دغو ستونزو څخه په لاندې ډول یادونه کولای شو:

۱. د امنیت نشتوالی: په هیواد کې د امینت نشتوالی د مالي او مالیاتي پالیسیو د تطبیق پر وړاندې یو له اساسي ستونزو او تهدیدونو څخه ده چې نه پریږدي دغه پالیسیګانې په ښه ډول سره تطبیق او ښې پایلې ولري، د امنیت د نشتوالي له کبله مالیاتي سکتور نه شي کولي چې مالیات(عواید) له خلکو څخه راټول او د مالي پالیسیګانو د برقراره کولو په موخه یې وکاروي.( رحیمي،۱۳۹۳)

زمونږ په ټولنه کې د دولت مخالف لسګونه ګروپونه شتون لري چې د هیواد د پرمختیا او ترقۍ مخه یې ډب کړې او آن دا چې د هیواد د نافذه قانون او نورو قوانینو او سیاستونو سره متضاد دي او د خپلو شخصي اغراضو په خاطر نه غواړي د دولت پالیسیګانې پلي شي.

۲. د سواد د کچې کموالی: د سواد د کچې کموالی په دغه هیواد کې د قانون ماتونې بل اساسي علت دی، دا چې دلته په دغه هیواد د تعلیم او تحصیل کچه

ټیټه ده له همدې امله خلک د دولت د پالیسیو، پلانونو او تګلارو په ارزښت نه پوهیږي. دولت باید د ټولنې د تعلیمي کچې د لوړوالي لپاره کار وکړي تر څو په راتلونکي کې د هیواد وګړي نسبتاً د دولتي برنامو په ارزښت پوه شي او دې ته جوګه شي تر څو د دولت سره همکاره او په ضمن کې د دولت پالیسیو ته احترام ولري چې په دې سره د دولت مالي او مالیاتي پالیسیګانې هم ښه تطبیق کیدای شي.(رحیمي. ۱۳۹۳)

۳. د مالیاتو په اړه د دولت د عامه پوهاوي کموالی: سره د دې چې په دغه هیواد کې د تعلیم او تحصیل کچه ټیټه ده خو ورسره دولت هم خپله دنده نده ترسره کړې، دولت باید د اساسي قانون د تطبیق او نورو پالیسیو د تطبیق او پلي کیدو په موخه په هیواد کې د عامه پوهاوي برنامې ولري، دولت باید خلکو ته د خپلو برنامو او پالیسیګانو په هکله عامه پوهاوی ورکړي، د ټولنې په دننه کې خلک وګماري تر څو د خلکو ذهنونه روښانه کړي او دغه پالیسیګانې خصوصاً د مالي پالیسی د پلي کیدو چانس پیدا شي.(رحیمي،۱۳۹۳)

۴. د مسلکي متخصیصینو نشوالی: د متخصصینو شتوالی په یوه هیواد کې د هیواد د ابادی په معنی ده، ځکه مسلکي کادرونه او متخصیصین د یوه هیواد سرمایه ګڼل کیږي او همدغه سرمایه کارول کیږي ترڅو نوره سرمایه ورڅخه ترلاسه شي. دا چې افغانستان یو د پرمختیایي او جنګ ځپلو هیوادونو څخه ده نو دلته په دغه هیواد د مسلکي کادرونو کموالی او که ووایو نشتوالی شتون لري.

د مالي او پولي چارو په هکله د متخصیصینو موجودیت د مالي پالیسی د جوړولو او بلاخره د دغه پالیسیو د پلي کیدو په لاره کې ګټوره ثابتیدای شي، که مونږ د مالي چارو او مالي پالیسی په برخه کې ښه مسلکي کادرونه او متخصصین ولرو نو واضحه ده چې له امله به یې ښه مالي پالیسي هم ولرو او په نژدې راتلونکي کې به د مالي اړخه د ګاونډیو هیوادونو سیال شو.

۵. په ټولنه کې د خارجي پیسو چلښت: دا چې دهیواد په اکثرو ولایاتو او سیمو کې د افغانیو پر ځای خارجي پیسې په چلند کې دي نو همدغه د خارجي پیسو چلښت په خپله د مالي پالیسیو پر وړاندې یو ډول ستونزه ګڼل کیږي، دلته په دغو سیمو کې خلک کاروبار په خارجي پیسو( پاکستاني کلدارو، ایراني تومن، او ډالر) باندې ترسره کوي، نو نه شي کولی حکومت ته د مالیاتو په نامه افغانۍ پیدا کړي، او حتی داسې هم شته چې ځینې سیمې د سره افغانۍ نه پیژني چې دا د مالیاتو د راټولولو او د مالي پالیسیو په وړاندې له سترو ننګونو او ستونزو څخه بلل کیږي.

۶. د زور واکو شتوالی: په ټولنه کې د زورواکو شتون حکومت ته د قانون د تطبیق په وړاندې یو له سترو ګواښونو څخه شمیرل کیږي. همدغه زورواکي دي چې د ټولنې ټول مادي او مالي امکانات او منابع په ځان پورې اړوند ګڼي او ټول منابع یې په خپل اختیار کې ساتلي او د دغو منابعو د لاسه نه ورکولو په خاطر د حکومت د مالي پالیسیو په وړاندې خنډ ګرځیدلي او دولت ته د دولت حقوق او نور نه ورکوي بلکې د حکومت په وړاندې تخریبي کارونه هم ترسره کوي.

۷. د صنایعو عدم توسعه: لکه څرنګه چې پوهیږو پانګه اچونه او صنعت په افغانستان کې په خپل لومړنیو مراحلو کې قرار لري چې ورسره زمونږ خلک د کاروبار په هکله ښه مدیریت، جرأت او پوهه هم نه لري او له بله پلوه هغه یو لږ کم خلک چې په ټولنه کې یې پانګه اچونه کړیده خپلو تولیداتو ته د بازا د پیدا کولو په تشویش کې دي او تولیدات یې نظر دې ته چې مشابه خارجي تولیدات په بازار کې په ارزانه تر لاسه کیږي مشتریان نه لري د مالیاتو د ورکولو څخه عاجزه دي، چې دولت باید له دوی سره په دې برخه کې پوره مرسته وکړي تر څو د خارجي تولیداتو په مقابل کې ماتې ونه خوري او په راتلونکي کې دولت وشي کولی د کاروبار څخه یې د لاسته راغلو عوایدو څخه یوه اندازه عواید(مالیات) هم لاسته راوړي.

په پورته توګه د مالي سیاست یا مالي پالیسی موضوع تر بحث لاندې نیول شوی او په نتیجه کې یې دا راڅرګنده شوه چې پولي سیاست د عمومي اقتصادي سیاست یوه برخه ده اما د مالي سیاست څخه جدا ده چې د جدا او ځانګړو موخو د ترلاسه کولو لپاره د حکومتونو(مرکزي بانکونو) لخوا تطبیق کیږي.

له همدې امله ویلی شو چې پولي سیاست یا پولي پالیسي معمولاً د تولید د مجموعي تقاضا د تنظیم او کنترول لپاره طرح کیږي. د دغه پالیسی په تطبیق سره دولت کولی شي د پولي ابزارو په استفادې سره په ټولنه کې د بهرې نرخ ته تغییر ورکړي، مالي مؤسساتو ته پراختیا ورکړي او همدارنګه کولی شي د دولت د ضرورت وړ مالي منابعو په ترلاسه کولو کې هم رول ولري.

د دې برعکس، مالي سیاست بیا د ځانته اهدافو درلودونکی دی چې په پلي کولو سره یې دولت په مالي او مالیاتي برخو کې کولی شي ښې لاسته راوړنې ولري.

مالي سیاست عموماً د دولت د بودجې په ترتیب او توضیح پورې تړاو لري چې دولت د بودجې په لرلو سره یو لړ خدمات ترسره کوي چې دغه خدمات د اقتصاد له مخې تر ډیره د تولیدي عواملو د په کار اچولو او په اقتصاد کې د کامل استخدام د شرایطو برابرول دي.

مالي پالیسی د ټولنې د موجوده اقتصادي وضعیت په نظر کې نیولو سره د کامل استخدام، اقتصادي توازن، د اقتصادي پرمختیا تسریع او د اقتصاد د رهبري په اړه یو لړ تدابیر نیسي. له دې پرته مالي پالیسي د ټولنې د انکشافي او عمراني پلانونو په پلي کولو کې د رغنده رول درلودونکی دي چې پرته د دغو پالیسیو څخه یو هیواد نشي کولي پرمخ لاړ شي او یا ښه اقتصادي وضعیت ولري.
افغانستان د مالیاتو د وضع کولو او راټولولو په برخه کې د مالي پالیسو او د

پیسو په برخه کې د پولي غوره پالیسیو درلودونکی دی چې که دغه پالیسیګانې د حکومتونو لخوا تطبیق شي ښکاره ده چې حکومت به یې له امله د زیاتو عوایدو درلودونکی او په پایله کې به ښه او روښانه اقتصادي وضعیت ولري.
د دغو پالیسو او سیاستونو د پلي کولو مسؤلیت د ماليې وزارت پر غاړه ده چې د دغه پالیسي او خدماتو په ارائیه کولو کې ډیر او ستر رول ترسره کوي، له همدې امله د ماليې وزرات د دولت د مالي چارو له اداري څخه عبارت دی. همدا راز د مصارفو سم مدیریت او د مالي ثبات د تأمین په موخه د عوایدو منظم راټولول او بسیج کول د دغه وزارت له لومړیتوبونو څخه شمیرل کیږي.

د ماليې وزارت د دغو چارو د ترسره کولو په خاطر په(۱۳۸۴) لمریز کال کې یو پنځه کلن ستراتیژیک پلان ترتیب کړ چې په دې وروستیو پنځو شپږو کلونو کې یې د مالیاتو د یوه منظمه او شفافه اداري، مالیاتي اصلاحاتو او د عوایدو ټولولو په نظام کې یې ښې لاسته راوړنې درلودې. همدا راز د ماليې وزرات د لوی اقتصاد کاري جوړښت(Macro-economic frame work) هم ترتیب کړی چې د ملي انکشاف د ستراتیژۍ یوه برخه ګڼل کیږي او له هغې لارې پلی کیږي.

له دې پرته د ماليې وزارت د مالیاتو د یوه مؤثره او شفافه نظام د رامنځته کولو په خاطر د آفمس په نامه یو کمپیوټري سیستم رامنځته کړی چې په راتلونکي کې به دغه سیستم نورو وزارتونو ته هم پراختیا پیدا کړي. همدا راز د ماليې وزرات د معاشاتو یو تائید شوی برنامه هم معرفي کړی چې په اوس وخت او راتلونکي کې به د دولت ټول کارمندان د هغې تر چتر لاندې راوستل شي او د معاشاتو لپاره به یو بانکي سیستم او حساب افتتاح شي.(ټینګار، ۱۳۹۱)

د دغو لاسته راوړنو او پرمختګونو له مخې ښکاري چې د افغانستان دولت د مالیاتو او مالي پالیسیو په وړاندې بې تفاوته نه دی او تل یې د دې لپاره کار کړی.

## ۲. مالي مدیریت

مالی چارې د هر حقیقي او حقوقي شخص د ژوندانه یوه برخه جوړوي چې له دوو مختلفو لید لوریو څخه ورته کتل کیږي، لومړی دا چې له کومې لارې څخه ډیر مالي وسایل ترلاسته کیدای شي؟ چې پورته دواړه ډلې یې بیا دارنګه ځوابوي چې، مالي وسایل باید له هغې لارې ترلاسه شي چې ترټولو مناسبه وي.

دوهم دا چې مالي وسایل دلاسته راوړلو څخه وروسته باید په څه ډول په مصرف ورسیږي؟ نو مناسبه ده ترڅو د دغو دوو پریکړو لپاره هر شخص یو علمي او مسلکي چوکاټ ولري.

مالي مدیریت په مطلوب ډول سره د مالي منابعو له مدیریت څخه عبارت ده، مالي چارې په مالي تصامیمو، تصمیم ګیریو او کاروبار کې د اقتصادي اصولو او مفکورو له عملي کولو څخه عبارت ده چې له امله یې د یوې مؤسسې ستونزې او مشکلات حل او ګټه یې اعظمي کیږي. په مالي مدیریت کې تصامیم یا تصمیم ګیری د تصدی بیلانس له برقراری، د کریدیتونو زیاتوالی، له بانکونو څخه د پورونو اخستل، د اسهامو او قرضې د اسنادو له صادرولو څخه عبارت دی.

ښکاره خبره ده که دغه پریکړې په علمي او مسلکي ډول ترسره شي تر ډیره بریده به ښې لاسته راوړنې او بریاوې ولري.(رابرت آلن، ۱۳۹۳)
مالي چارې د مالي منابعو د مدیریت څخه عبارت دی چې مالي چارې په کاروبار کې د اقتصادي اصولو او په مالي چارو یا مالي کاروبار کې د ښو مفکورو او نظریو تطبیق او عملي کولو څخه بحث کوي ترڅو د مالي ستونزو لپاره د حل لارې چارې ولټول شي. (جیمز،۲۰۰۹)

## د مالي مديريت اهميت

په پيل کې بايد ووايم چې مالي مديريت د يوې معاصرې ادارې، سازمان او يا يوې کمپنۍ په پراختيا او انکشاف کې مهم رول لوبوي او دا ځکه چې د هرکاروبار او بزنس د پيل او پراختيا لپاره پولي او مالي پانګې ته اړتيا ده او دغه د اړتيا وړ پولې پانګه کيدای شي چې له مختلفو مالي منابعو څخه ترلاسه او بلاخره لاسته راغلې پانګه په مختلفو ډولونو سره په يوه کاروبارکې پکار واچول شي.

ښه به دا وي چې مالي مديريت د مالي چارو په مديريت ونوموو، ځکه پدې جملې کې ډير غوره والی ليدل کيږي او د مالي چارو ټول اړخونه په بر کې نيسې نو له همدې امله له دې وروسته به د مالې مديريت پرځای د مالي چارو مديريت کليمه کاروو ترڅو له دغه اصطلاح سره کاملاً آشنا شو.

د مالي چارو مديريت چې په بله ژبه ورته(Corporate finance) او(Business Finance) هم ويلی کيږي په مالي چارو کې د کاروبار په هکله د تصاميمو او پريکړو سره سروکار لري.

د مالي مديريت په هکله د تصاميمو نيونه، د نقده بيلانسونو ثبات، د کريدټونو زياتوالی، له بانکونو څخه د پورونو آخستنه، د اسهامو صدور او د پورونو اسناد(Bonds) پدې مديريت کې شامليږي.(غفوررزی، ۱۳۹۵)

دا چې دغه منابع څرنګه په لاس راشي، څرنګه په کار واچول شي او بيا په يو پيچلي او تغيير په حال محيط کې څرنګه مالي تمويل ته زمينه سازي وشي ټول په مالي مديريت کې شامل ګڼل شوي.

د مالي چارو مديريت د ښه روښانتيا لپاره ويلی شو چې مالي مديريت هغه پوهه ده چې د مالي چارو تنظيم، رهبري، د هغو پلان( د بودجې جوړول) او د مالي موسساتو له خطر څخه د ساتنې دنده ورترغاړې ده. يا په بل عبارت ويلی شوچې: مالي مديريت د يوه خاص هدف په نظر کې نيولو سره د يوې ادارې د

شتمنیو دلاسته راوړلو، د هغې د تمویل لارو چارو د موندلو او تنظیمولو په اړه بحث او څېړنه کوي. د دې ترڅنګ د شتمنیو مدیریت یا( Assets Management) بیا هغه پوهه ده چې د قانوني دارایي ګانو او پانګې په کار اچولو او دهغو د ګټو د اعظمي کولو دنده پر غاړه لري.

په ساده ژبه مالي مدیریت دارنګه تعریفولای شو چې: مالي مدیریت د مالي موخو د ترلاسه کولو په خاطر د یوې ادارې یا د ادارې دغړو له سمبالولو څخه عبارت دی(سهیل، ۱۳۹۶)

مالي ثروت(Wealth) ټولې هغه دارایي ګانې دي چې په مالي بڼه موجودې دي. همدا راز د شتمنیو په هکله ویلی شو چې: شتمني چې پرملکیت یې قانوني دعوا کیدای شي لکه ونډه، بانډ، پیسې او نور دي چې د اسمي دارایي( Paper Assets) اصطلاح هم ورته کارول کیږي.

اسعاري معاملات، پور، په دوران کې لویدلې پانګې مدیریت، نقده وجهې، د طلباتو وصول، دجاري دارایی مدیریت او ډېر نور معاملات چې دواړو خواووته یې مسولیت او ژمنه ورترغاړې کوي هم په مالي مدیریت کې شامل ګڼل کیږي.

مالي منجمنټ یا د مالي چارو مدیریت د پانګې د منابعو او د هغې د مصرف کولو د داسې تنظیم کولو او مدیریت څخه عبارت دی چې د هغې په نتیجه کې د یوې ادارې یا شرکت د سهم لرونکو ګټه اعظمي حد ته ورسیږي.

نغدې پیسې د مالي سیستم لومړی جز دی چې راکړې ورکړې، پس انداز او تمویل وربادنې صورت نیسي. مالي مدیریت د پیسو همدغه دندې تنظیم، رهبري، پلان او همغږی کوي. په دې توګه مالي مدیر او مالي مدیریت هغه دی چې د مالي موسساتو ټولې اړونده غوښتنې، د هغو اقتصادیتوب، له زیان څخه ساتنه، د مولدیت او موثریت لوړولو او ګړندیو او رڼو اجراأتو غوښتنې او موخې تنظیموي.(دودیال، ۱۳۹۵)

نو مالي منيجران يا د مالي چارو مديران بايد د يوې ادارې او يا يوې تصدۍ د شتمنيو او د هغې د رشد د اندازې په ټاکلو کې کوښښ وکړي او وپوهيږي چې تصدي بايد په کومو شتمنيو کې پانګه اچونه وکړي او د سهم لرونکو د ګټې د لوړولو لپاره له کومو مالي منابعو څخه ګټه پورته کړي، يعنې مالي منيجران بايد د ادارې د شتمنيو د يو ښه ترکيب په اړه غور وکړي او تصميم ونيسي.

## د مالي مديريت مفهوم

مالي مديريت د مالي منابعو د رهبرۍ له سيستم څخه عبارت دی چې د مالي سياستونو، مالي تګلارو، وسايلو او افرادو د سالم استعمال او تصميم نيونې په اساس يې موخې( مالي ثبات او مالي پياوړتيا) تحقق مومي. مالي منجمنټ يا مالي مديريت د مالي سيستم ټولې خواوې په بر کې نيسي او د بازار د اقتصاد د يوه مهم او جوړونکې برخې په توګه کار کوي.

د مالي رهبرۍ سيستم يا مالي منجمنټ په معاصر اقتصاد کې دارنګه تعريفولای شو چې مالي مديريت د هغو تدابيرو، روابطو، اقتصادي وسايلو او تصاميمو څخه عبارت دی چې کولای شو د هغې د تطبيق په وسيله د مالي سيستم ثبات او مؤثريت رامنځته او د اقتصادي سکتور ستونزې او پرابلمونه حل کړو.

مالي مديريت په بل عبارت د مالي منابعواو په سرمايه ګذاريو کې له هغه رهبرۍ څخه عبارت دی چې د سهمدارنو يا مالکينو شتمنۍ اعظمي حد ته ورسوي.

مالي منجمنټ په تجارت او مالي چارو کې له هغو تخصصي مباحثو څخه شميرل کيږي چې د اقتصادي موسساتو په اداره او رهبرۍ کې مؤثره او ارزنده رول لري.

د مالي مديريت علم د پيسو او سرمايې په بازار(د مالي او اړوندو وسايلو بازار) کې د کمي اوکيفي تغييراتو او تحولاتو ته د پاملرنې له کبله اهميت پيدا

کړ. همداراز د مدیرانو په تصامیمو کې د کمي او کیفي مالي اطلاعاتو د نقش زیاتوالی د مالي مدیریت اهمیت زیات کړی.

د اقتصاد او تجارت په برخه کې پرله پسې تحولات او تغییرات د دې باعث شو چې مالي مدیریت د کمي او کیفي نظره پراختیا ومومي، نن سبا مالي مدیریت د اقتصادي موسساتو او سازمانونو له سطحې څخه پورته تللی او د ټولنې په کچه مطرح شوی چې اوس په ټولنیزه کچه مسؤلیت ورکړل شوی.

بناءً ویلی شو چې مالي مدیریت د منابعو د مؤثره پکار وړلو څخه عبارت دی یا په بل عبارت داسې هم ویلی شو چې مالي مدیریت د منابعو او د سرمایې د مصارفو له اداري څخه عبارت دی چې د یوه اقتصادي مؤسسې یا شرکت اهداف پرې براورده کیږي.(عارف، ۱۳۹۶)

د مالي مدیریت دنده هم هماهنګي، تخصیص، د پانګې او پیسو په بازارونو کې د پانګه اچوونکو او سرمایه اخیستونکو د غوره کولو دنده لري، د مالي مؤسساتو ترمنځ هماهنګي راولي، پلانونه تنظیموي، راپورونه ارائیه کوي او تفتیش او څارنه پیاوړی کوي. په لنډ ډول باید ووایو چې مالي مدیریت د اقتصاد او نورو ډیرو علومو سره نژدې اړیکې لري. د پیسو او شتمنیو معاملات اوس ډیر پراخه شویدي او له سپاربنتي تبادلاتو او اسنادو څخه نیولی تر سوداګریزو اسنادو پورې ټول په کې راځي.(احمدزی، ۱۳۹۵)

## د مالي مدیریت اهداف

په شرکتونو او اقتصادي مؤسساتو کې کمي او کیفي برخې ته د توسعې ورکولو په خاطر د مالي مدیریت یو د اهدافو څخه د ګټې یا مفاد لاسته راوړل دي، د ډیرې ګټې یا مفاد لاسته راوړل د شرکتونو د لنډ مهالو اهدافو څخه شمیرل کیږي په همدې اساس ویلی شو چې د شرکتونو او اقتصادي مؤسساتو په چوکاټ کې د مالي مدیریت تر ټولو مهم او اصلي هدف د شرکت د ونډه والو(سهمدارانو) د شتمنیو ډیروالی او اضافه والی دی. د ونډه والو د شتمنیو د

اندازې ډیروالی د شرکت د مالي شتمنیو د ډیروالي له کبله منځته راځي، د شرکت په مالي شتمنیو کې ډیروالی د یوه شرکت ارزښت او اعتبار لوړوي چې دا هم په خپل ذات کې د ګټې زیاتوالی ده.(عارف، ۱۳۹۶)

یو ځلې بیا هم یادونه کوو چې د شرکتونو په نظر کې نیولو سره د مالي مدیریت هدف داده چې ګټه لاسته راشي، مګر ددې تر څنګ مالي مدیریت ډیرې نور اهداف هم لري چې د مالي مدیریت له مهمو او اساسي برخو څخه شمیرل کیږي مثلاً د مؤسسې، سازمان یا شرکت بقاء، د مالي ستونزو د راپیدا کیدلو او ورشکستګۍ څخه مخ نیوی، په کاروبار کېله خپلو سیالانو یا رقیبانو څخه لومړیتوب، د تولیداتو د خرڅلاو اعظمي حد ته رسول، د مصارفو ټیټې سطحې(حد اقل) ته رسول، د ګټې اعظمي حد ته رسول او نور.(غفورزی، ۱۳۹۵)

## د مالي مدیریت تاریخچه

د مالي چارو د مدیریت اهمیت هغه وخت ښکاره شو چې په ۱۹۳۳-۱۹۲۹ میلادي کلونو کې د آلمان او نورو اروپایي هیوادونو په مالي چارو کې بیساری بحران راپیښ شو. نه یوازې دا چې د شلمې پیړۍ په ترخ کې بلکې د یوویشتمې پیړۍ په ترخ کې هم ډیرو هیوادونو کې پانګې او شتمنۍ او بانکونه او شرکتونه له زیانونو سره مخامخ شول. د دې په پایله کې مالي مدیریت ته پاملرنه زیاته شوه او اوس دې برخه کې پوره علمي او لارښودونکي اثار شته، آن دا چې یو شمیر بنسټونه مثلاً(Bassel Cmmittee For Banking Supervision) د مالي مدیریت برخه کې د نړۍ په کچه د مشورو ورکولو او ټرایننګ کولو په موخه تاسیس او فعالیت کوي. مخکې مو اشاره وکړه چې له دوهمې نړیوالې جګړې څخه وروسته غربي نړۍ ژور مالي بحران سره مخامخ شوه. د برټن ووډز د کنفرانس دایریدل، د پیسو د نړیوال صندوق جوړیدل، د بازار د کمیټې مشورې او دې ته ورته نور اقدامات په دې موخه وو چې ددې ډول مالي بحران مخنیوی وشي. همدا اوس (Barclys bank PLC) چې یو بریتانیوي بانک دی او مرکزي دفتر یې په لندن کې دی او د نړۍ په ګوټ ګوټ کې

بانکي عملیات لري د مالي خطرونو په څېړنه کې ښه پوره بوخت دی. دغه بنسټونه د مالي مدیریت برخه کې په نړیواله کچه فعال او بیا مالي مؤسسو په تیره بیا بانکونو ته خپلې مشورې ورکوي.

لکه چې مخکې وویل شول د دوهمې نړیوالې جګړې له پای ته رسیدو څخه وروسته(ALM) ته پاملرنه وشوه، په اویایمه میلادي لسیزه کې یو شمیر لوی بانکونه لکه د فرانکلین ملي بانک او بانکوس هیرشتات بانکونه له ماتې سره مخامخ شول، په انګلستان کې یو شمیر کوچنی بانکونه له فعالیت څخه پاتې شول، په ۱۹۸۰ میلادي کلونو کې د پس اندازونو ۲۰۰۰ څانګې او بانکونه یا له منځه لاړل او یا هم له نورو پیاوړو مالي مؤسساتو سره مدغم شول، د هسپانیا او سکندناوي هیوادونو هم ډیرې ستونزې او د زیانمن کیدو خطرونه وزغمل. په ۱۹۹۰ میلادي کال کې د کریدت او کمرس نړیوال بانک( Credit & Commerce International Bank) او په مجموع کې د جاپان بانکونه اغیزمن شول. په ۲۰۰۰ میلادي کال کې د جرمني په بانکونو کې بحران ولیدل شو او په ۲۰۰۷ میلادي کال کې د امریکا په بانکونو کې بحران ولیدل شو چې دغه وروستی بحران د ۱۹۳۰ میلادي کال له بحران څخه وروسته تر ټولو لوی بحران و چې د ټولې نړی اقتصاد ته یې ټکان ورکړ. د پوروونو په ادا کولو کې له ضعف پرته مالي مدیریت یوې بلې ستونزې سره هم مخامخ کیږي چې هغه د مشتریانو لخوا د ترلاسه شویو کریدتونو بیرته نه دیبت کیدل دي. د بانکونو تاریخچه په تیره بیا په اروپا او د امریکا په متحده ایالاتو کې دا ښکاره کوي چې وروسته تر ۱۹۵۰ میلادي کال څخه د بانکونو په وضعیت کې بدلون راغی، یعنې دوی د پس اندازونو په فعاله اخستونکو بدل شول آن دا چې د سپما یا پس اندازونو د ترلاسه کولو په خاطر یو بل سره په سیالۍ اخته شول. په متحده ایالاتو کې د پوروونو په ترلاسه کولو کوم کنټرول نه وو، کله چې په ۱۹۶۰ او ۱۹۷۰ میلادي کلونو کې له بانکونو څخه پور اخیستل ډیر زیات شول نو معاملاتي بانکونه او نورو غټو بانکونو پوروونه ترلاسه کړل او بیا یې پور اخستونکو ته دغه پیسې ورکولې او د پور ورکولو لپاره بازارونو پیسې ترلاسه کړې او په دې توګه بانکي چارې په بازار بدله شوه دغې پروسې د مالي خطرونو ډولونه زیات او د مالي خطرونو د مدیریت دنده یې مهمه کړه.

په افغانستان کې هم ورته پیښې په ۱۳۸۹ لمریز کال کې د کابل بانک قضیه چې د یوه بیساري فساد او د ونډه والو د ناوړه چلند له امله ولیدل شوه. د دغه

بانک د مدیریت بې مسؤلیتي د افغانستان لپاره د مالي خطرونو یوه بده پیسبنه وه چې نه یوازې دا چې د هیواد اقتصاد ته یې زیان واړاوه بلکې تر ټولو بده دا وه چې په هیواد کې یې په بانکي سیستم کې بې اعتمادي رامنځته کړه. دغه قضیه د ۱۳۷۲-۱۳۷۱ کلونو د تنظیمي جګړو په ترڅ کې د بانکي څانګو له لوټ کیدو وروسته د مالي زیانونو او خطراتو یوه ډیره بده بیلګه وه. دغې بانکي ناوړه پیښې د مالي خطراتو اهمیت ته خلک ځیر کړل، د افغانستان دولت او د هیواد مرکزي بانک هم له ګنو اندیښنو او پوښتنو سره مخامخ شو، بلاخره د ۱۳۸۹ لمریز کال د وږي په ۱۴ مه نیټه د افغانستان بانک مجبور شو چې د دغه بانک واک په خپل لاس کې واخلي. د ارزونو پایلو وښوده چې د دغه بانک د مدیریت څانګې او ونډه والو هغه مقررات نه و رعایت کړي کوم چې د بانکي چارو په هکله دي. دوی بانک ته په ملیونونو ډالره خساره ورسوله، دا په داسې حال کې چې د یو شمیر راپورونو له مخې زمونږ د هیوادوالو د شتمنۍ په سلو کې ۳۴ دغه بانک ته سپارل شوې وه خو بانک د ټول ملت اعتبار زیانمن او د افغانستان پټمن خلک یې د هیواد په بانکي سیستم بې باوره کړل.(احمدزی، ۱۳۹۵)

د مالي چارو مدیریت په (۱۹۰۰) میلادي کال کې د یوې علمي رشتې په توګه وپیژندل شو او له هغې زماني تر اوسه د مالي مدیریت دندې او مسولیتونه د تغییر او بدلون په حال کې دي او په دې کې شک نه شته چې په راتلونکي کې به هم د تغیراتو درلودنکي وي.

تر(۱۹۰۰) کاله پورې مالي مدیریت د اقتصاد د علم یوه برخه وه چې د دوو لسیزو(۱۹۰۰-۱۸۹۰ کلونو) په موده کې څو لوی امریکایي شرکتونه په خپل منځ کې سره ادغام شول، د دې ادغام په نتیجه کې چې کوم(۷۸) شرکتونه رامنځته شول د اړونده صنایعو د مجموعي تولیداتو نیمایي یې تولید کولو چې دغو ادغامونو د زیاتې پانګې ضرورت رامنځته کړ او د پانګې د جوړښت منجمنت د منیجرانو له مهمو دندو څخه وشمیرل شو.
باید یادونه وکړو چې په هغه موده کې د مالي صورت حسابونو تهیه او د هغوی تحلیل خپل لومړني دورې طی کولې او په لومړنیو او ابتدایي مراحلو کې یې قرار درلود.

مالي تحليل او تجزيه به يواځې د شرکتونو په داخل کې ترسره کيده او هغوی ته چې د شرکت نه د باندې ول لکه پانګه اچوونکو لخوا به د شرکتونو د مالي وضعيت او فعاليتونو په هکله معلومات نه ورکول کيده ترځو وکولای شي چې د پانګې اچوونې په هکله تصميم ونيسي.

د نويو صنايعو په رامنځته کيدلو او د نوي تکنالوژۍ د رامنځته کيدو له امله د رامنځته شويو تغيراتو او بدلونونو د تطابق په خاطر زاړه صنايع له منځه ولاړ او دغه اقدامات د دې سبب شو چې مالي مديريت يا د مالي چارو مديريت نور په علمي توګه پرمخ ولاړ شي.

په(١٩٥٠) ميلادي کال کې د موجوده ارزښت اهميت ته په کتلو سره مالي مديران دې ته وهڅيدل ترڅو د خپلو وظايفو او مسوليتونو ساحه پراخه کړي او د پانګې اچوونې د پروژو په انتخاب کې هم برخه واخلي.

لکه څرنګه چې وويل شو مالي مديريت يا مالي منجمنټ د(١٩٠٠) ميلادي کال په حدودو کې د يوې ځانګړې يا خاصې رشتې په توګه وپيژندل شو او په لومړي قدم کې يې د مالي مديرانو پام يې ځانته واړوله. په (١٩٢٠) ميلادي کال کې د شرکتونو د لنډ مهاله سياليت مسلې د مالي مديرانو دويم لومړيتوب و ګڼل شو.(عارف، ١٣٩۶)

د اقتصادي بحران په موده کې د ورشکستګۍ، د شرکتونو د بيا تجديد مسلې ته د مالي مديرانو پام هم ورواوخت. له(١٩٥٠) ميلادي کال څخه تر ننه پورې مالي تأمين په ځانګړو پريکړو او تصاميمو پورې تړاو موندلی چې له امله يې بايد له ځينو افزارو او تګلارو څخه استفاده وشي چې د ماهيت له نظره يوه تحليلي جنبه لري. هغه وسايل چې نن ورځ مالي مديران ورڅخه استفاده کوي عبارت دی له: حسابداری، د اقتصاد علم، د کمپيوټر علم، کمي تجزيه او تحليلونه او نور

د مالي مديريت تکاملي سير درې مهمې ځانګړتياوې لري چې عبارت دي له:

۱ . د مالي مديريت رشته يا څانګه نسبتاً نوې او د مديريت د علم له څانګو څخه شميرل کيږي.

۲ . د مالي مديريت په تصميم نيونه باندې اتکاء لري، د ارقامو او اعدادو په تجزيه او تحليل کې له کمپيوټر، اقتصاد او سنجش څخه استفاده کوي.

۳ . د دغه علم دوامداره او چټک پرمختګ د دې ښکارندوی دی چې دغه علم(مالي مديريت) به نور هم د يوه علمي رشتې په توګه پرمختګ وکړي.(عارف، ۱۳۹۶)

## په افغانستان کې د مالي مديريت او مؤسساتو څرنګوالي ته لنډه کتنه

په افغانستان کې سکه او پيسې له ډيرو لرغونو زمانو راهيسې چلند درلود. د دولت مالی منابع له مالياتو، کاروان سرايونو او سوداګرو له محصول څخه تدارک کيدل. د لومړي ځل لپاره احمد شاه بابا د ماليې وزارت په بڼه يوه اداره جوړه کړه چې مستوفي المالک يې په راس کې وو، غازي امان الله خان د مالياتو قانون جوړ او ماليات يې له جنسي بڼې واړول او د پيسو په ډول يې د تاديې بنسټ کيښود. په کال(۱۳۱۱) لمريز کال کې د افغانستان د اداراتو تشکيل نوی شو چې د ماليې وزارت او تجارت وزارتونه جوړ شول تر څو چې بلاخره افغانستان وکولای شول په کال(۱۳۱۲) لمريز کې خپل لومړنی بانک يعنې ملي بانک تاسيس کړي. له (۱۳۱۲) لمريز کال څخه مخکې هيڅ داسې مؤسسه نه وه چې مالي چارې ور په غاړه وي بلکې يو شمير نيمګړي مالي معاملات، کريډتونه او داسعارو تبادله په کابل او کندهار کې د منفردو صرافانو په واسطه ترسره کيده.

لومړنی مالي مؤسسه په نننی مفهوم سره د هاشمي سهامي شرکت و چې په کال(۱۳۱۱) لمريز کې جوړه شوه او وروسته يې د ملي بانک په نوم تکامل وکړ او په (۱۳۱۴) کال کې يې بانکنوټ نشر کړ. (عارف، ۱۳۹۵)

په (۱۳۱۸) لمریز کال کې د هیواد مرکزي بانک یا د دولت بانک( د افغانستان بانک) جوړ شو چې ورسره یو ځای نور مالي مؤسسات لکه د بیمې شرکت، د تقاعد خزانه، رهنما او تعمیراتي بانک، د کرنې د پراختیا بانک، د افغانستان صنعتي بانک، ګڼ شمیر سهامي شرکتونه او دې ته ورته مؤسسات تشکیل او جوړ شول. اوس په هیواد کې دولتي او خصوصي بانکونه، شرکتونه او مالي بازارونه فعال دي. په کال(۱۳۸۲) لمریز کې د هیواد بانکې چارو نوی قانون نافذ شو چې ورسره یو ځای د افغانستان بانک قانون هم نافذ او د تطبیق وړ وګرځید چې د بانکونو د بانک یا د دولت د بانک په توګه پکې تعریف او مسؤلیتونه ورته سپارل شوي.(احمدزی، ۱۳۹۵)

## د شپږم فصل پوښتنې

لومړۍ پوښتنه: مالي پالیسي څه ده تعریف یې کړئ؟

دویمه پوښتنه: د مالي پالیسۍ موخې کوم دي واضح یې کړئ؟

دریمه پوښتنه: اقتصادي رکود د اقتصاد کوم حالت ته ویلی کیږي؟

څلورمه پوښتنه: مالي پالیسي په څو ډوله ده، هر ډول یې تشریح کړئ؟

پنځمه پوښتنه: د مالي پالیسیو ستونزې په ګوته کړئ؟

شپږمه پوښتنه: د مالي پالیسیو تطبیق د هیواد په اقتصادي پرمختګ کې څه اغیزې لري؟

اوومه پوښتنه: ولې په افغانستان کې مالي پالیسۍ په سمه توګه نه تطبیق کیږي لاملونه یې په ګوته کړئ؟

اتمه پوښتنه: مالي مدیریت تعریف کړئ؟

نهمه پوښتنه: مالي مدیریت د کومو اهدافو درلودونکی دی واضح یې کړئ؟

لسمه پوښتنه: په افغانستان او نړۍ کې د مالي مدیریت پر تکامل لنډ نظر ورکړئ.

یولسمه پوښتنه: په افغانستان کې د مالي مدیریت مرستندویه مؤسسات کوم دي او څرنګه یې خپل فعالیتونه پیل کړل؟

دولسمه پوښتنه: انقباضي او انبساطي پالیسي ګانې سره څه توپیر لري واضح یې کړئ؟

## اووم فصل

## عامه پولي مسایل

### ۱. پیسې او د پیسو د تکامل دوره

یو له هغو ستونزو او مشکلاتو څخه چې ټوله نړۍ او په ځانګړي توګه پرمختیایي هیوادونه ورسره مخامخ دي هغه د پیسو په هکله راپورته شوي ستونزې او مشکلات دي. البته دغه ستونزې نه یواځې د یوه هیواد اقتصادي جوړښت ته زیات رسوي بلکې د هغه هیواد اجتماعي، سیاسي، کولتوري او نورو جوړوښتونو ته هم زیان رسولی شي. د دغه ستونزو ښکاره مثالونه د نړۍ په زیاترو هیوادونو کې وجود لري چې سیاسي ناقراري، جنګونه او نور د پیسو د عدم استقرار له امله رامنځته شوي او د هیوادونو اقتصاد یې د رکود سره مخاخ کړیدی، لیکن په مختلفو وختونو کې پوهانو د دغو مشکلاتو د مخنیوي لپاره هڅې کړیدي او اوس هم په دې لټه کې دي چې د پولي او مالي وسایلو په هکله دغه ستونزې له منځه یوسي.

### ۱,۱. د طبیعي تبادلې دوره

کله چې انسان د بیخي لومړني پړاو څخه را ووت د ښارویو په روزنه او ساتلو بوخت شو، په هغه وخت کې تبادله وجود نه درلوده، ځکه چې په هغه وخت کې انسان یواځې د ځان د احتیاج د رفع کولو لپاره طبیعي او ساده تولید ترسره کاوه، له همدې کبله تولید محدود او په لږه پیمانه وه.

د بشري ټولنې د پراخیدو سره د انسانانو احتیاجات او اړتیاوې هم مخ په زیاتیدو شوې او انسان په دې هڅه کې شو ترڅو د خپلو احتیاجاتو د رفع کولو لپاره اضافي اجناس تولید کړي، ترڅو وشي کولی د هغې په مقابل کې د خپل

ضرورت وړ اجناس ترلاسه کړي، هماغه وو چې د بشر په اقتصادي ژوندانه کې په تصادفي توګه د مبادلې مفکوره پیدا شوه او په اقتصاد کې یې مهمه او اساسي نقش پیدا کړه.

تبادله د خپل انکشاف په لومړي او ابتدايي پړاو کې تصادفي خصوصیت درلود چې تر(۳۴۰۰تر۳۲۰۰) قبل المیلاد کلونو پورې پیسو وجود نه درلود او په هغه وخت کې معاملات جنساً سرته رسیدل او محصولات د مؤلدینو د ځانګړو ضروریاتو د رفع کولو په خاطر تولید کیدل.

لومړی هغو ټولنو چې نژدې سره اوسیدل د هغو شیانو په مبادله پیل کړه چې د دوی د ضرورت نه به اضافه ول. په لومړیو وختونو کې به یو جنس د بل جنس سره تبادله کیدله او هر کس مجبوره وو چې خپل تولید کړی شوی جنس د بل هغه چا سره تبادله کړي چې د ده د ضرورت وړ جنس ورسره موجود وي ترڅو د تبادلې په نتیجه کې د دواړو خواوو احتیاج رفع شي. کله چې به یو کس د بل جنس لپاره ضرورت پیدا کړ نو د هغه لپاره به په هغه وخت کې ډیر مشکل وو ترڅو داسې یو کس پیدا کړي چې خپل تولید کړی شوی جنس د هغه بل جنس په مقابل کې تبادله کړي کوم چې د هغه سړي سره موجود دی چې دې تبادلې ته متسقیمه تبادله یا د بارتر(جنس په جنس) تبادله ویلی شي.(ګلداد. ۱۳۶۱)
دا د تبادلې هغه لومړنی شکل دی کوم چې دوه جنسه به په تصادفي شکل سره مبادله کیدل، مثلاً یو متره رخت به د درې منه غنمو سره تبادله کیدله(یو متر رخت= درې منه غنم) په دې معنی چې دغه دوه ډوله اجناسو په خپلو کې سره د تبادلې قابلیت درلود او دغه یو متر رخت به یواځې د درې منه غنمو سره تبادله کیدله او بل هیڅ جنس ورسره نه تبادله کیده چې د تبادلې دغه شکل ته ماکس د ساده او تصادفي ارزښت درلودنکی شکل ویلی دی.(ګلداد. ۱۳۶۱)
د بشري ټولنې د تکامل په جریان کې د ارزښت دغه شکل خپل ځای د ارزښت و بل شکل ته چې د کامل یا پراخ ارزښت شکل بلل شوی دی پریښود چې د تبادلې د دغه شکل معادله په لاندې ډول کتلای شو:

درې منه غنم، دوه دانې تبرونه، دوه ګرامه طلا او څو نور مشخص شیان  به له یو متر رخت سره تبادله کیدل.

پورتنی معادله داسې معنی ورکوي چې یو متر رخت به د دوه منه غنمو یا دوه دانې تبرونو او یا هم د دوه ګرامه طلا سره تبادله کیدله ځکه چې د دغو اجناسو ارزښتونه سره مساوي ول او له دې پرته دغو اجناسو نشو کولی چې د نورو اجناسو سره تبادله شي.

د جنسونو د تبادلې دغه شکل په عمل کې زیاتې ستونزې او مشکلات منځ ته راوړل چې په تدریجي ډول سره د بشري ټولنو تاریخي تکامل له یوه طرفه او د انسانانو د تجربو زیاتوالی له بله طرفه د کامل یا پراخ ارزښت شکل د عام ارزښت په شکل او بلاخره د عام ارزښت شکل د پولي ارزښت په شکل بدل شو او قیمتي فلزاتو خصوصاً طلا د پیسو شکل ونیوه چې د هر جنس سره به د تبادلې وړ وو او هر شی(جنس)به د طلا په مقابل کې تبادله کیدله.

په دې ترتیب سره پیسو وکولی شول چې د طبیعي اقتصاد مستقیمه تبادله د پولي اقتصاد په پولي تبادلې باندې بدله کړي.(فرهنګ، امین. ۱۳۵۴)

لکه څرنګه چې په طبیعي تبادلوي اقتصاد کې طبیعي تبادله(جنس په جنس) یا مستقیمه تبادله موجوده وه او نوموړی تبادله د کار د اجتماعي ویش د پرمختګ سره او همدارنګه د تولید د پراختیا سره څه آسانه کار نه وو او د زیاتو ستونزو او مشکلاتو سره مخامخ کیدل نو ځکه خلک په دې لټه کې شول ترڅو د مستقیمې(جنس په جنس) تبادلې پر ځای یو داسې(غیر مستقیمه) تبادله رامنځته شي ترڅو د ټولو خلکو د تقاضا او قبول وړ وګرځي او د نورو اجناسو په پرتله یې اهمیت او ارزښت زیات وي او د وساطت(منځګړیتوب) دنده د تبادلې په عملیه کې سرته ورسوي.

هماغه وو چې په مختلفو وختونو کې مختلفو اجناسو د تبادلې د وسیلې(پیسو) په توګه کاریدلي او په ځینو ځایونو کې دغه اجناس د ټولو د قبول وړ هم وو لکه:

مالګه، صدف، مرواريد، فلزات، د کبانو د نيولو چنګک، د ښايسته مارغانو ښکې، کودۍ، د فيل غاښ، پوستکي، تمباکو، حيوانات، سوما نومې مقدسه واښه، د پړانګ پنجې، چای، غشي، ليندۍ، تبرونه، مريان، پسونه، اوښان، غوايان، خوسکي، ښايسته تيرې او بلاخره کاغذ هم د پيسو(د تبادلې د معيار) په توګه وپيژندل شو. لکه په لويديځه آسيا او روم کې د بحر په غاړو کې چې افغانستان او هند هم په کې موقعيت درلود د شيانو راکړه ورکړه(تبادله) په پراخه پيمانه د څارويو په ډول ترسره کيده چې د دې ډول راکړې ورکړې يادونې په اروپايي ژبو کې اوس هم پاتې دي. (په نورستان کې لاتراوسه هم يو شمير شيان د غوا په بدل کې رانيول کيږي)

همدارنګه په ځينو ټولنو کې چې د خلکو دنده يې ښکار وو د څارويو پوستکي يې د پيسې په ډول په کار وړل آن تر دې چې د ډاکترانو په فيس او حق الزحمو کې به يې يو ډول څاروي ورکول.(ګلداد. ۱۳۶۱)

ويل کيږي چې د لرغوني آريانا آريايي خلک چې هند ته لاړل دوی به چې د سوما مقدس واښه د رانيولو لپاره افغانستان ته راتلل نو يو قسم غوايي(پيسو) به يې د تبادلې لپاره راوستل او يا به سوداګرانو نوموړی واښه د افغانستان له غرونو څخه هغو ته وروړله او په بدل کې به يې طلايي رنګه غوايي راوستل چې دې غوايو ته يې(pasu)ويئل چې بلاخره له دې کليمې څخه پيسه جوړه شوه.( خپلواک، عبدالستار، ۴ ګڼه.۱۳۵۶،۲۲)

د تبادلې د معيار ټاکل او منځته راتګ د ټولنو د ژوندانه په مختلفو شرايطو پورې اړه درلوده، لکه د ټولنې موقعيت، آب وهوا، کولتوري پرمختګ او نور، د مثال په ډول هغه خلک چې د بحر خوا سره اوسيدل ملغلري، د ماهيانو د نيولو چنګ، په سړو سيمو کې پوستکي چې د اغوستنې د کاليو پرځای ورته اړ ول د مبادلې د واحد په توګه استعماليدل. د ګرمو سيمو قبيلې چې کاليو ته يې دومره پوره ضرورت نه درلودل او خوراکي شيان هم د طبيعت له پلوه ورته تيار وول د ځان په ښکلا پسې ګرځيدل، دوی به د مرغلرو او فيروزو اميلونه،

د فیل غاښ، د ښایسته مرغانو بڼکې، د اوبو د خوګ، نهنګ او شارک غاښونه، د پړانګ پنجې د سینګار او جنګي وسایلو او آلاتو په څیر کارول. (تقوی، مهدی،۱۳۷۲)

د نمونې په ډول په یو شمیر هیوادونو کې لاندې شیان د تبادلې د وسیلې یا معیار په توګه کارول کیدل:

په افغانستان کې څاروي، ملغلرې او کودې، په حبشه کې مالګه، په هندوستان کې ملغلرې، د اطلس د بحر په جزایرو کې د مارغانو بڼکې، په کولمبیا کې اوسپنه، په تبت کې چای، په امریکه کې تمباکو، په روسیه کې د سمور پوستکي، د روم د امپراطورۍ په لومړیو وختونو کې خوسکیان او غوایي د بدلون(د تبادلې) د وسیلې په توګه کاریدل او د شیانو د ارزښت معیار بلل کیدل.(خپلواک،۱۳۵۶:۲۲)

همدا رنګه په ځینو هیوادونو کې غشي، لیندې، مریان، پسونه، اوښان، وچ ماهیان، اسونه او داسې نور شیان د تبادلې د وسیلې(پیسو) په توګه استعمال شوي. په نتیجه کې دارنګه ویلی شو چې انسانانو راز راز ګیڼې او فلزات د ارزښت معیار ټاکلی او د سرو او سپینو زرو توټې به یې په کار اچولې او وروسته به یې بیا دا توټې د خپلو تولنو د واکدارو کسانو د نامه په کیندلو (ضرب وهلو) سره د باور وړ وګرځولې او د سکو په شکل به را ووتې چې په دې ډول د سکو وهلو دود هم عمومي بڼه غوره کړه.(خپلواک،۱۳۵۶: ۲۳)

## ۲,۱. د فلزي پیسو تاریخچه او د هغې د تکامل دوره

د پیسو اصلي اختراع معلومه نه ده، ځینې یې یونانیانو او ځینې یې هم آسیایانو ته نسبت ورکوي، ولې تر اوسه پورې د پوهانو څیړنې په دې ندې بریالي شوي چې په قطعي توګه د پیسو د اختراع اصلي ځای معلوم کړي.

کوم وخت چې فلزات مبادلې ته راووتل مخکې له دې چې د حقیقي سکې په څیر تبادله شي بیلابیل پړاونه یې تیر کړیدي، په مصر کې د فرعونانو په وخت

کې چې سکه موجوده نه وه ټول فلزات لکه سره زر، الکترم، سپین زر، مس، سرب او اوسپنه په تبادلې کې استعمالیدل. نوموړو فلزاتو هره بڼه چې درلوده د یوې کوچنۍ تلې په واسطه به تلل کیدل او د هغو معیار او اندازه به ټاکل کیده. د دې کار ستونزو مصریان اړکړل چې د ټاکلو وزنونو مقطوعه ټوټې جوړې کړي.(خپلواک:۴ ګڼه، ۲۳ص)

ویل کیږي چې طلا لومړنی فلز دی چې د بشر په وسیله کشف شویدی او له دغه فلز څخه به(۵۰۰۰)کاله مخکې له میلاد څخه په مصر کې استفاده کیده، همداراز نقره د ډیرې پخوا زمانې راپدیخوا تر استفادې لاندې نیول شویدی.(تقوی، مهدی،۱۳۷۲ : ۱۵۸)

په پخواني مصر کې د یوه اوږده وخت لپاره نقره د طلا څخه باارزښته ګڼل کیده مګر د زر(۱۰۰۰) قبل المیلاد کال په شاوخوا کې نقره خپل ارزښت د دغه فلز د زیاتې عرضې په واسطه له لاسه ورکړه، ځکه چې د هسپانیې د معادنو څخه به نقره استخراج او بلاخره به مصر ته د فنیقیانو په واسطه واردیده.

لومړنی فلزي سکه شاید د(۷۰۰) اوه سوه قبل المیلاد کال په شاوخوا کې ضرب وهل شوی وي چې دغه سکې د طلا او نقرې د ترکیباتو څخه جوړې شوې وې.( تقوی، مهدی،۱۳۷۲)

د پیسو انکشاف تر ټولو مخکې په یونان خصوصاً په اتن کې ترسره شوی چې په هغه وخت کې سکې ضرب وهل کیدې چې طلایي او نقره ئي سکو په کې چلند درلود چې تقریباً د(۲۵) پینځه ویشتو پیریو په حدودو کې یې په دنیا کې حکمروایي درلوده.

د اتن د ښار خلکو په فلزاتو سکه ووهله چې هرې ټوټې یې د یوه پسه ارزښت درلود او په کلیشه یې د پسه عکس انځور کیده چې د پیسو کار یې په ټول ملک کې ورکاوه.(خپلواک،.۱۳۵۶)

په بابل کې د میلاد نه اوه سوه(۷۰۰) کاله پخوا سره او سپین زر او الماس د پیسو په ډول به کاریدل او ورسته بیا پریکړه وشوه چې په هره پیسه دې مخصوص مهر ووهل شي چې په دې وخت کې د لومړي ځل لپاره پیسي تاریخي ډګر ته داخلې شوې چې د پیسو د پیدایښت سره تړلې هغه ستونزې چې د طبیعي تبادلې په وخت کې وجود درلود له منځه لاړل او پولي تبادله(جنس= پول= جنس) چې د غیر مستقیمې تبادلې په نامه هم یادیږي رامنځته شوه.

د پیسو د پیدایښت سره سم د تبادلې عملیه په دوو برخو وویشل شوه چې د اخستلو او ورکولو(پلورلو او پیریدلو) عملیې منځ ته راغلې.

لومړنی نقره ئي سکې د حکومت لخوا په رسمي توګه په(۲۶۸) دوه سوه اته شپیته قبل المیلاد کال کې په روم کې ضرب ووهل شوې، اما د دغه قرن په وروستیو کې روم د نقرې د کمبود سره مخ شو چې سکې هم ډیرې نه ضرب کیدې لیکن د دغه قرن په اوروستیو کې څرنګه چې روم پر هسپانیې باندې غلبه پیداکړه او د هغې نقره ئي معادن یې لاس ته ولویدل بیرته د نقرې د کمبود مشکل له منځه ولاړ چې په دغه وخت کې طلا په روم کې ډیر کم پیدا کیده. باید ووایو چې د همدغه قرن په بیخي اواخرو کې طلا په روم کې زیاتوالی پیدا کړ او لومړنی طلایي سکه په روم کې په(۲۰۶) دوه سوه شپږ قبل المیلاد کال کې ضرب ووهل شو.( تقوی، مهدی،۱۳۷۲: ۱۵۹)

د روم د امپراطورۍ د سقوط سره طلایي سکو هم خپل نقش په غربي اروپا کې له لاسه ورکړه، لیکن په غربي نړۍ کې له هغې څخه استفاده لا هماغسې روانه وه او د تبادلې د وسیلې په توګه ورڅخه استفاده کیده.

وروسته مصریانو د سرو او سپینو زرو حلقې جوړې کړې چې اوتن(Outen) ورته ویل کیده او یو واحد یې په لس کټ(Kut) ویشل شوی وو چې د یوې دانې تول(وزن) یې(۵،۷۲) ګرامه وو. دغه حلقې یو ډول سکې وې.(خپلواک،:شماره۴: ۲۴)

دغه راز د روم په امپراطورۍ کې طلايي سکو جريان وموند او حتی په پخواني فارس او هند کې هم دغه سکې پیدا کیدلې.

همداراز کلدانیانو او علامیانو همدغه مراتب تیر کړي او کرار کرار د ګردو او حلقه ئي سکو خاوندان شویدي. په آسیایي خلکو کې ترټولو لومړی د کلدي اوعلام خلکو فلزات وپیژندل او د هغو فلزي واحد چې د سکې کار یې ورکاوه مین(Mine) نومیده او دغه بیا په دوه ډوله وو چې په لوی او کوچني مین باندې ویشل شوي وو چې لومړنی یې یو زر لس(۱۰۱۰) ګرامه او دوهم یې د دې نیمایي یعنې پنځه زره پنځه(۵۰۰۵)ګرامه تول(وزن) درلود. (خپلواک،عبدالستار.۱۳۵۶. شماره۴، ۲۴ص)
کله چې د انسانانو ټولنیز ژوند پراخه شوه ورسره غوښتني او اړتیاوې یې هم زیاتې شوې، راکړه ورکړه پراختیا وکړه، سوداګري منځته راغله او وده یې وکړه په نتیجه کې د فلزاتو لاس په لاس کیدل هم ډیر شول نو په دې وخت کې د دې لپاره چې د ټګۍ او تقلب څخه په صفا والي او سچه والي کې ډاډ شوی وي د هغه وخت ټولنیزې قواوې او سوداګران په دې فکر کې شول چې باید د فلزو ټوټې نشاني(په نښه) کړي، لکه چې په قلم، څټک او سندان سره یې غوڅ شوي فلزات په نښه کول څو چې عامو خلکو ته د وزن او سوچه والي له مخې اعتبار ولري، دغه وخت د سکو د منځته راتګ لومړنی مرحله ده چې د میلاد څخه شاوخوا اوم(۷) پیړۍ سره سمون خوري.(خپلواک،۱۳۵۶:شماره۴، ۲۵)

**۳٫۱. لومړنۍ ترلاسه شوې سکې**

لکه څرنګه چې مخکې مو وویل چې د پیسو اختراع په اساسي ډول معلومه نده اما اساسي خبره دا ده چې نجیبه فلزات د تخنیکي او نورو اوصافو په لحاظ په تبادله کې د معیار په توګه قبول شول چې په دې توګه د منځګړیتوب دنده په ښه شان سرته رسولی شي. لکه څرنګه چې د زمانې په تیریدو سره شاید له میلاد څخه اوه(۷) پیړۍ مخکې د پیسو په توګه سکه ووهل شو چې د پیسو د پیدایښت سره ټولې هغه ستونزې چې د طبیعي تبادلې په وخت کې شتون درلود له منځه لاړل او غیر مستقیمه(پولي) تبادله رامنځته شوه.

بناءً پیسې د محصول جنس څخه عبارت دي کوم چې د هر ډول نورو اجناسو سره تبادله کیږي. یا په بل عبارت: پیسې د نورو اجناسو سره معادل(برابر) دي چې د زرهاوو اجناسو له منځه راوتلی او د چینک، اندازه کولو، معیار او د وساطت دنده د نورو اجناسو لپاره د تبادلې په وخت کې سرته رسوي. ټول اجناس خپل ارزښت د پیسو په واسطه معلوموي، پیسې د عمومي تبادلې د وسیلې په توګه هم یادیږي.

اوس راځوخپل اصلي مقصد ته او هغه دا چې د سکو او پیسو اصلي اختراع معلومه نه ده مګر د زیاتو هڅو او څیړنو په نتیجه کې یو څه معلومات لاسته راغلي دي چې له دې جملې څخه پولوکس(Pollux) د (کومود) د دورې د امپراطورۍ مؤرخ او د لغت د کتاب مؤلف لیکي چې:

فیدون(Phidon) د آرګوش بادشاه لومړنی سړی دی چې سکه یې ضرب کړیده چې د سکو نښې یې د سمندري کشپ تصویر دی.

هغه سکې چې د هیرا(Hera) د معبد څخه لاسته راغلي او په(۶۷۰) شپږسوه اویا قبل المیلاد کال پورې اړه لري آرګوش ته یې نسبت ورکوي.(خپلواک، عبدالستار.۱۳۵۶، ۵ شماره،۷صــ)
فیلو کور(Philochore) چې د آتن د مؤرخینو د ډلې څخه دی عقیده لري چې د سکې مخترع تزه(Thesec) افسانوي قهرمان دی.
ځیني خلک د نښه شویو مقطوعه فلزاتو د اختراع نسبت د کوچني آسیا پخواني مملکت لید(Lyd) د پایتخت سارد(sord) د ښار خلکو ته او ځیني یې د آژین(Ejine) د جزیرې یوناني اوسیدونکو ته کوي. دغه جزیره د آژین په خلیج کې واقع ده چې د لید(Lyd) ښار پخوانی او په تجارت کې له ټولو مخکې دی، نو ټول خلک د نښه شویو مقطوعه فلزاتو اختراع دوی ته منسوبوي او وایي چې د میلاد څخه پخوا اتمه (۸) پیړۍ کې د مرم ناد (Mermnades) سلطنتي کورنۍ مؤسس ژي جس (Gy ges) هغه سړی دی چې پخوانۍ نښه شوي مقطوعه فلزات یې منځته راوړي چې وزنونه یې (۱۰،۸۲۰) ګرامو څخه تر(۱۴،۲۵۵) ګرامو پورې فرق کاوه.(خپلواک، ۱۳۵۶:شماره۵، ۷)

ګزنفون(Xenophone)اوهرودت(Herodote)یوناني مؤرخین هم په دې عقیده دي چې په لید (Lyd) کې تر ټولو لومړنی سکې ضرب وهل شوي دي. د لید د بل پاچا کرورس(Croerus) په زمانه کې چې د(۵۵۱- ۵۶۷) قبل المیلاد کلونو ترمنځ یې بادشاهي او سلطنت کړیدی سکه یو ګام نور هم مخ ته تللی دی او صنعتي خواص یې پیدا کړیدی لکه چې د مقطوعه فلز په بڼي(راست) مخ باندې د زمري او غوایي نیم بدن یو تربله مخامخ او په بل مخ باندې یې دوه مربع ژوروالي معلومیږي.

که څه هم هخامنشیانو د کوچني آسیا له فتح کولو وروسته سکه وپیژندله خو په هغو زمانو کې دوی په خپله سکه ونه وهله. د هرودت د وینا له مخې د هستاشب لومړی او مشر زوی(داریوش) سکه رواج کړه او نورو نائب الحکومه ګانو او ښاروالیانو ته یې اجازه ورکړه چې په سپینو زرو او مسو سکه ووهي، مګر فرانسوي سکه پیژندونکی (دومرګان) وایي چې نائب الحکومه ګان او ښاروالیان د خپلو سکو د فلزاتو په ټاکلو کې آزاد ول.(خپلواک، ۱۳۵۶: شماره۵)

د هخامنشي زمانې شاهي سکه د سرو زرو سکه ده چې(دادیک) نومیدله او(۸،۴۲) ګرامه وزن یې درلود او د وزن له مخې د فوسه(Phocee) کوچني آسیا د ښار سکې د نیمایي سره برابر وه څکه چې د فوسې د ښار سکې(۱۶،۸۴) ګرامه تول درلود. یونان که څه هم د هخامنشیانو ترلاس لاندې وو او که نه وو(الکترم) یعني د هغه فلز څخه به یې سکه ضربوله چې درې برخې به یې سره زر او یوه برخه به یې سپین زر وو. هخامنشیانو هیڅکله هم د مفرغو(دا یو الیاژ دی چې د مس اوقلعي څخه په مختلفو رنګونو جوړیږي، د صنعت له لحاظه دا د خالص مس نه بهتره ده او بهتره مفرغه هغه ده چې(۶۰٪) مس او (۴۰٪) قلعي وي) نه سکه نده ضرب کړې.(خپلواک، ۱۳۵۶: شماره۵، ۹ص)

د دريم داريوش تر وخته پورې د سکې په بل مخ باندې هيڅ شی(کوم تصوير) نه وو بې له هغه ستوري ښخه چې د ضرب په وخت کې په سندان باندې ايښودل کيده، ليکن د دريم داريوش په زمانه کې په ښټ باندې يې هم ساده شکلونه له دوه نوي مياشتې، شاه په شاه ښپاند خطونه او نور شيان پيدا شول. دغه سکې ليکنې نه لرې، يواځې د سکې په مخ باندې د ضرب نښه يا بل توری لرې چې تر اوسه پورې لوستل شوي نه دي. د دغو سکو شکل عموماً گردوالي او يا بادامي شکل ته مايل دي.
همداراز د هند په ځمکه ملغرې د تبادلې د وسيلې په توګه استعمال شويدي او کله چې په نړۍ کې د فلزاتو استعمال مروج شو نو( کودۍ) د هند د پيسو خورا کوچنۍ واحد وو او وروسته بيا ګندا(Ganda) د څلورو کوديو معادل او برابر وو، له دغه شيانو جګ(با ارزښته) پانا (Pana)وه چې شل(۲۰) ګندا او يا اتيا کودۍ کيدلې، له دې ښخه هم جګ(باارزښته) ټنګه(Tangka)، آنه(Ana) او بلاخره کورسه(Korsa) لوړ واحد وو چې د څلورو ټنګو سره برابر او(۳،۶۲۸) ګرامه سپين زر کيده.(خپلواک،۱۳۵۶: شماره۵، ۱۲)
ځينې سکه پيژندونکي د هند د سکې قدامت له ميلاده زر(۱۰۰۰) کاله پخوا بولي، خو دومرګان وايي چې په دغه نظريه کې مبالغه شويده او ګمان کيږي چې د دغه هيواد د سکې لومړي وختونه د پنځمې يا شپږمې قبل الميلاد پيړۍ په شاوخوا کې وي. دومرګان دا هم وايي چې معلومه نه ده چې په هند کې د سکې اختراع محلي او بومي ده او که د باندې ښخه ورغلې وه او که د باندې ښخه راغلی وي هرومرو به د فنيقيانو، هخامنشيانو او يونانيانو تر اغيزې لاندې وي.

لنده دا چې بې نومه او بې نښانه سکې د هند په ټوله خاوره کې معمول او مروجې وې او شکلونه يې عموماً څلور کنجه او اوږده ول او هغه نښه چې وربانديې لګيدله يواځې د سکې په مخ باندې وو او بله خوا يې خويه وه او تر اوسه پورې د ښيرنو له مخې درې سوه(۳۰۰) نښې په هند کې لاسته راغلي دي.(خپلواک، ۱۳۵۶: شماره۵، ۱۱ص)

## ۴،۱. د افغانستان پولي سیستم

### د افغانستان مسکوکات

ښکاره خبره ده چې زمونږ په ګران هیواد افغانستان کې هم د شیانو راکړه ورکړه په جنس ترسره شوې. بیا وروسته چې په لویدیځه آسیا کې شیان په څارویو بدلیدل خامخا په افغانستان کې هم دا ډول مبادلې رواج درلود، لکه چې تر اوسه په نورستان کې ډیر شیان د غوا په بدل کې رانیول کیږي. همدارنګه د شیانو بدلون په مرغلرو هم په افغانستان کې دود وو. ویلای شو چې دا دوره زمونږ په هیواد کې خورا اوږده وه بلکې تر یوې پیړۍ دمخه هم د کودۍ او ګرچې په مقابل کې اجناس رانیول کیده او تر اوسه پورې د شیانو د بې اهمیتی په هکله وایي چې( په یوه کودۍ نه ارزي) وروسته بیا غوخ شویو فلزاتو، سپینو زرو، مفرغو او نورو سکو هم خپلې دورې تیرې کړیدي.(خپلواک، ۱۳۵۶: شماره۵، ۱۲ص)

په پخوانیو وختونو کې د افغانستان په مختلفو سیمو کې د تیږو، کوډیو، اواسپنو(فلزاتو) سکې(خصوصاً طلایي او نقره یي سکو) د پیسو دنده سرته رسولې او د تبادلې د معیار په توګه پاتې شویدي لیکن د دغو سکو ترڅنګ په لریو پرتو سیمو کې حبوباتو، غله جاتو او کودیو هم د تبادلې د معیار په توګه خپلې دندې سرته رسولي دي. (شبان، ۱۳۷۳: ۱۶۲)

د اسلام د ظهور(خپریدو) څخه مخکې د افغانستان په اکثرو سیمو کې د هندي، یوناني او فارسي سبک درلودونکي سکې پیدا کیدلې چې د هغه وخت د سکو پرمخ د مارغانو او حیواناتو(لکه طاوس، غوایي، فیل، زمري او نورو) شکلونه رسم شوي ول لیکن د اسلام د مقدس دین د ظهور څخه وروسته عربي سکې زمونږ په هیواد کې مروجې شوې او د تبادلې د معیار په توګه به یې دنده سرته رسوله چې د هغه وخت دغه عربي سکې د دینار، درهم او پیسې په نوم یادیدل.( شبان، محمد انور.۱۳۷۳)

په (۱۹۳۳) میلادي کال کې د کابل د حضوري چمن(د جشن سیمې) څخه سکې لاس ته راغلې چې لیکنې یې نه لرلې او یواځې نښې او خاص ډول علامې یې لرلې. د حضوري چمن د لاسته راغلې خزانې یو شمیر سکې د یونانیانو د دورې دي چې د میلاد څخه پخوا په شپږمې تر څلورمې پیړۍ پورې اړه لري چې د هخامنشیانو د پیسو اغیزې او نښې هم په کې لیدلې کیږي چې د دې خزانې سکې په څلورو برخو ویشل کیږي:

**یوناني پیسې:** په دې ډله کې(۳۴) آتني او(۳۰) دانې د یونان د بیلابیلو ایالاتو پیسې دي. باید ووایو چې (۳۳) دانې یې څلور درهمي دی چې د آتنه په تصویر انځور شویدي، په داسې حال کې چې د آتنه په سر سرچپه کونګ چې د افتخار علامه ده کښل شویدی. د یونان د ایالاتو د سکو ځینې نښې نه معلومیږي مګر نورې یې په ښکاره معلومیږي چې یو درهمي، دوه درهمي او درې درهمي دي.(خپلواک، عبدالستار.۱۳۵۶. شماره۵)

په هغه سکو کې چې د هخامنشیانو نښې لري دا ډول دي چې پادشاه د تاج سره په داسې حال کې لیدل کیږي چې لینده یې په کیڼ لاس کې او ژوبینی(Jupiter)(ژوپیتر- د یونانیانو او پخواني رومیانو په نزد د هغوی د خدایانو رئیس) یې په ښي لاس کې دی.

د کابل د حضوري چمن د سیمې پیسې نوي مشخصات لري چې د نښو او شکلونو له مخې په بیلابیلو برخو ویشل کیږي مثلاً هندسي، ګلدارې، خرما ډوله نښې، د پسه تصویر او نور.(خپلواک، عبدالستار.۱۳۵۶. شماره۵، ۱۲ص)

د کابل د خزانې د ځبیدو تاریخ د سکندر د لښکر کشۍ سره سمون خوري چې د میلاد څخه پخوا د(۳۸۰) کال په شاوخوا کې دی. لکه چې لیدل کیږي د آتني سکو سلسله چې د آتنه نیم مخی ښودل شوی همدې وخت ته رسیږي. همدارنګه د کابل د سکو خزانه د لومړي ځل لپاره د یوناني سکو خپرول د هخامنشیانو په ختیځ قلمرو کې ښئي، معنی دا چې لومړی ځل د میلاد څخه پخوا د افغانستان د خاورې په زړه کې سکې خپرې شویدي.

د سکندر فتوحاتو په اوایلو کې د مفتوحه او نیول شویو دولتونو په سکو باندې ځه اغیزه ونکړه بلکې د یوناني فاتح سکې تر نفوذ لاندې راغلې لکه د سکندر په ځینو سکو کې لومړی توریځ د هغه ځای نوم په فنیقي رسم الخط لیکل شویدی چې په هغه ځای کې سکې ضرب وهل شویدي. سربیره په دې په ځلورو سکو کې چې سکندر د هرپولیس(Hierapolys) یا د بام لیس(Bamlys) په ښار کې چې د شام (ننني سوریه) له ښارونو څخه دی ضرب کړیدی د ده نوم په سامي رسم الخط لیکل شویدی. دغه ډول څه موده نور هم یوناني سکې د ختیځ د سکو تر اغیزې لاندې وې لکه چې(۲۵) کاله د هخامنشیانو د امپراطورۍ د سقوط نه د سکندر تر مرګه پورې تیریږي د هخامنشیانو په سبک او ډول ضربیدلې. د سکندر د مرګ نه وروسته کله چې د لویدیځې آسیا لویه برخه د سلو سیدیانو په لاس ورغله نو دې خپلې سکې په یوناني مخصوص ډول وګرځولې خو تر دغه وخته پورې هم په ځینو سکو چې په(فینسي-Phencie) په سیمه کې( د شام د لویدیځو سواحلو په غاړه) کې ضرب شوي تر دغه وخته د سکو وهلو د کارخاني نوم په سامې رسم الخط لیکل شویدی.(خپلواک، عبدالستار.۱۳۵۶. شماره۵، ۱۴ص)

د اسلام د ظهور څخه وروسته افغانستان د ضرابخانو درلودونکی وو چې په هغه کې به فلزي پیسې ضرب وهل کیدلې. لومړنی ضرابخانه د یوې فابریکې په شکل د امیر عبدالرحمن خان په وخت کې په کابل کې تأسیس شوه.

خارجي سکې(لکه د ایران طلایي او نقره یي سکې، روسي او بخارایي سکې) آن د امان الله خان د سلطنت تر زمانې پورې هم زمونږ د هیواد د مروجه او ملي سکو سره یوځای په دوران کې وې مګر په(۱۳۰۵ لمریز یا ۱۹۶۲ میلادي) کال کې د سکو یو اصلاح شوی سیستم په افغانستان کې منځته راغی او افغانۍ د قانوني تبادلې د وسیلې په توګه انتخاب شوې.
یو افغانۍ په سلو(۱۰۰) برخو وویشل شوه چې هره برخه(هر واحد) یې د پول په نامه یاده شوه او په دې ترتیب داخلي پیسو د خارجي پیسو ځای ونیوه.( شبان، ۱۳۷۳: ۱۶۲)

فلزي پیسې نن سبا د وړو او مستقیمو تادیاتو لپاره معمولاً د خزاینو لخوا ضرب او وروسته د مرکزي بانک په اختیار کې ورکول کیږي، معمولاً د فلزي پیسو ذاتي ارزښت د هغې د اسمي ارزښت څخه ښکته وي.

## کاغذي پیسې یا بانکوټ

کاغذ تر ټولو لومړی په دوهم قرن مخکې له میلاد څخه په چین کې اختراع شو چې په اروپا کې له ډیرو پیړیو څخه وروسته تر استفادې لاندې ونیول شو، لیکن د کاغذي پیسو مثالونه(کاغذ ته ورته پیسې) د کاغذ د اختراع څخه مخکې هم مروجې وې لکه څرمن چې د پیسو په ځای ورڅخه استفاده کیده او د کاغذي پیسو مشابه د یونانیانو او رومیانو په واسطه له میلاد څخه مخکې هم مروجې وې. په آتن کې مسي سکې هم مروجې وې چې د فلزي سکو څخه یې زیات ارزښت درلود.

کاغذي پیسې د لومړي ځل لپاره په اتم(۸) میلادي قرن کې د چین په هیواد کې د دې لپاره مروجې شوې چې د فلزي سکو حمل ونقل مشکل وو نو هماغه وو چې د دې مشکل د حل لپاره کاغذي پیسې نشر ته وسپارل شوې. د کاغدي پیسو نشرول له اتم(۸) میلادي قرن څخه د (۱۷) میلادي قرن تر نیمایي پورې د چین د امپراطورۍ لخوا نشریده او وروسته بیا د مغولانو لخوا هم نشر ته وسپارل شوې.( تقوی، مهدی. ۱۳۷۲، ۱۶۰ص)
د بانکنوټونو تاریخچه دا راپه ګوته کوي چې د پیسو د نشرولو امتیاز د لومړي ځل لپاره د انګلستان بانک ته په(۱۶۹۴) میلادي کال کې ورکړ شو چې وروسته دا عمل د نورو هیوادونو لخوا هم تعقیب شو، وروستنی هیواد چې په دغه عمل باندې یې اقدام کړی د امریکا د متحده ایالاتو هیواد وو.
زمونږ په هیواد کې په(۱۳۱۴ لمریز) کال کې چې د(۱۹۳۵ میلادي) کال سره سمون خوري د لومړي ځل لپاره کاغذي پیسې(بانکنوټ) او د خزانې اسناد نشر ته وسپارل شوې چې د خزانې اسنادو سل په سلو(۱۰۰٪) او بانکنوټ ۵۰٪ په طلا باندې پشتیبانه درلوده.

په(۱۲۱۱) کال کې لومړنی بانک د سهامي شرکت ترنامه لاندې د داخلي سرمایه دارانو او تجارانو لخوا جوړ شو او دولت څو قلمه اجناس نوموړي بانک ته د تجارت په منظور په انحصاري ډول ورکړل چې د هغې څخه مهم قلم يې د قره قل پوستکي وو.

دا بانک په(۱۳۱۴) لمریز کال کې د بانکنوټ په نشر موفق شو چې د هغې نشر تر(۱۳۱۸) لمریز کاله پورې د همدې بانک لخوا اجرا کیده اما په(۱۳۱۶) لمریز کال کې نوموړی بانک په ملي بانک باندې بدل شو او تر نوموړي نوم لاندې يې خپل ټول فعالیتونه سرته رسول. نوموړی بانک(بانک ملي) د افغانستان بانک تر تأسیسه پورې د مرکزي بانک ټول وظایف(دندې) سرته رسول او د پیسو د نشر حق يې هم درلود مګر د افغانستان بانک د تأسیس څخه وروسته په(۱۳۲۹) لمریز کال کې د پیسو نشر نوموړي بانک( د افغانستان بانک) ته وسپارل شو. اګر چې کاغذي پیسې (۵۰٪) په طلا او نقرې باندې متکي وو لیکن عملاً د دغو پیسو په واسطه تبادله صورت ونه نیوه لیکن د دوهم عمومي جنګ څخه مخکې کاغذي پیسو چلش پیدا کړو او د ملي پیسو په توګه وپیژندل شو.( شبان،۱۳۷۳:۱۶۲)
په(۱۳۴۱) لمریز کال کې د افغانیو پشتیوانه له(۵۰٪) څخه(۲۵٪) ته کموالی پیدا کړ او د یوې افغانۍ ارزښت د(۰،۰۱۹۷۴۳۲۲۰) ګرامه طلا سره معادل وولیکن په(۱۳۵۴) لمریز کال کې د یوې افغانۍ ارزښت(۰،۰۲۲۲) ګرامه طلا ته ورسید.
افغانۍ په ډالرو باندې اتکاء درلوده او نړیواله(خارجي) تجارت اکثره په ډالرو باندې صورت نیوله. د افغانیو تبادله په ډالرو باندې د رسمي نرخ مطابق په مختلفو وختونو کې نظر اقتصادي حالاتو ته مختلف و، مثلاً په(۱۳۳۹) کال کې یو ډالر(۲۰،۲۵) افغانۍ، د(۱۳۴۲) کال په لومړیو کې یو ډالر(۳۲،۲۵) افغانۍ او وروسته له هغې (۴۵،۳۰) افغانیو ته ورسیدل.

د پولي نوساناتو د مخ نیوي لپاره او د پیسو د خرید د قدرت د ساتلو لپاره لازم دی چې بې پشتیوانې پیسې چاپ نه شي او د اجناسو، خدماتو او د پیسو د

ګردش تناسب په معیاري ډول مراعات شي او اقتصادي وابستګي له منځه ولاړ شي. د صنعت په سکتور او نورو سکتورونو کې باید پانګه اچونه تشویق او د هیواد د پیسو او بانکدارۍ د قانون مطابق د افغانستان بانک باید د نشر شویو بانکنوټونو په مقابل کې دارایي چې د طلا او خارجي اسعارو څخه مشتمله ده د پشتیوانې په توګه په خپل اختیار کې ولري.

لکه څرنګه چې مخکې هم یادونه وشوه چې د بانکنوټونو د نشرولو صلاحیت قانوناً د افغانستان بانک ته ورکړل شوی وو اما د فلزي سکو ضربول د دولت لخوا سرته رسیده چې د کمونستي رژیم د اقتدار تر دورې پورې بانکنوټونه په لندن او سویس کې او وروسته له هغې څخه په روسیه(شوروي) کې نشریدل، د کمونستي رژیم د اقتدار په زمانه کې او د جهادي تنظیمونو د حکمروایی په دوره کې هم جعلي بانکنوټونه نشر شوي او نشریده چې د تبادلې د معیار په توګه په دوران کې وې.( شبان،۱۳۷۳: ۱۶۳)

د کمونستي رژیم د اقتدار په زمانه کې د پیسو حجم له(۷۶۱۳) ملیارد څخه ورو ورو ډیریده چې بالمقابل اجتماعي محصولات هم د کموالي سره مخامخ ول، زراعتي تولیدات او صنعتي تولیدات هم ښکاره کموالی پیدا کړ چې دغه فیصدي د کمونستي رژیم د سقوط څخه وروسته نور هم په کمیدو شو چې همدغه پیښې په ټولنه کې د اجتماعي عدالت د عدم توازن سبب وګرځید او زمونږ د هیواد ټول سکتورونه له سقوط سره مخامخ شول.

د بانکي سیستم د وظایفو څخه یو هم د پیسو نشرول دي. د پیسو نشرول په ځینو هیوادونو کې د مرکزي بانک لخوا او په ځینو هیوانو کې د مالیې وزارت لخوا صورت نیسي. د مالیې د وزارت یوه شعبه معمولاً د خزاینو شعبه ده چې د پیسو په نشرولو او د سکو په ضرب وهلو مامور شوی وي.

کله چې بانکنوټ نشر شي او یا سکه ضرب ووهل شي د مالیې وزارت هغه په مرکزي بانک باندې خرڅوي، یعنې مرکزي بانک بیا د حکومت حساب په هغه بانک کې کریډت کوي، بانکنوټونه د نړۍ په ټولو هیوادونو کې د دارایی د

سنجش له لحاظه د مرکزي بانک د بیلانس په پاسیف یا ښي اړخ کې د حکومت د طلباتو ترنامه لاندې درج کیږي مګر دا عمل د نورو بانکنوټونو په وړاندې معکوسه وي یعنې د بیلانس چپ اړخ ته د موجوده کسې لاندې درج کیږي.

## په افغانستان کې د کاغذي پیسو تاریخي بهیر

کاغذي نوټونه له خپله ځانه کوم ارزښت نه لري اما ځینې مبرم اقتصادي ضرورتونه دي چې مونږ یې اړ کړي یو تر څو پیسو او له هغې جملې کاغذي پیسو ته اهمیت ورکړو.

کاغذي پیسې د اقتصادي جریان یوه خاصه مرحله کې خپل غوره اهمیت ترلاسه کوي، که نه پرته له هغه لکه د نورو کاغذونو په شان همداسې تش په نامه کاغذونه دي، البته د طلا، زیوراتو یا نورو قیمتي شیانو او یا هم د یوه هیواد د پیاوړي اقتصاد او د دولتي پالیسیو په ملاتړ یې ارزښت لوړیږي. د کاغذي پیسو ارزښت دې کې دی چې د فلزي پیسو په مقایسه د خلکو لپاره په وړن راوړن(حمل ونقل) کې اسانتیاوې پیښوي.

همدغه پیسې دي چې د ښو پالیسو په درلودلو سره که په ښه شان استعمال شي د یوه هیواد اقتصادي وضعیت ښه کوي، خو کله چې د مختلفو عواملو له مخې مثلاً د داخلي جنګونو او د دولت د ورانیدو او ګډوډ کیدو له امله د یوه هیواد اقتصادي حالت بحراني او کړکیچن وي او یا د یوه هیواد اساسي شتمنۍ د غلو او ګوډاګیو حکومتونو لاس ته ولویږي نو بیا دا کاغذونه د هغه هیواد د اقتصاد د تینګولو توان نه لري او خلک له اساسي ستونزو سره مخامخ کیږي.

افغانستان هم یو له هغو هیوادونو څخه دی کوم چې له تیرو پنځوسو کلونو راهیسې یې د پردیو د یرغل او ګوډاګي حکومتونو له لاسه سیاسي او اجتماعي وضعیت ګډوډ شوی، اقتصادي منابع یې فلج شوي، بانکي شتمنۍ یې لوټ شوي او د طلا ملاتړ یې له لاسه ورکړی نو له همدې امله افغاني نوټونه په تیرو څو لسیزو کې د توت د پاڼو ارزښت سره برابر وو. د افغانستان ملت له درنو

اقتصادي ستونزو سره مخامخ شوی او د پیسو بیه یې ورځ په ورځ راټیټیده. د دې ترځنګ د بې توله نوټونو چاپېدل د افغانۍ حیثیت او ارزښت ته نوره هم صدمه رسولې وه او داسې حالت یې رامنځته کړی وو چې د افغانستان په ګڼو ښارونو کې پردۍ سکه چلیده او افغانانو په سخته تنګسه او مشکلاتو کې ژوند تیروله مګر خوشبختانه چې پدې وروستیو (۱۳۸۱ لمریز کال راپدیخوا) کې د ښو اقتصادي، مالي او پولي پالیسیو په تطبیق سره افغانستان وشو کولی د افغانیو ثبات وساتي او تر یوه کچه یې ارزښت هم پورته کړي.

په افغانستان کې د نوټونو د چلند ژوند ډیر اوږد نه دی، کله چې په(۱۲۹۷) لمریز کال کې د هیواد د خپلواکۍ جنګ پیل شوه او په(۱۲۹۸) کال کې خپلواکي ترلاسه شوه د هیواد استقلال په رسمیت و پیژندل شو نو د هیواد ځوان نسل او خپلواک دولت د نورو سوغاتونو ترځنګ د نوټونو چاپولو ته هم لاس وغځاوه او په (۱۲۹۸) لمریز کال کې کاغذي پیسې چاپ او په چلند کې ولوییدي.(رفیع، حبیب الله. ۱۳۷۵، شماره ۲، ۶ ص)

اما د کاغذي پیسو د تاریخي قدامت په هکله باید ووایو چې زرګونه کلونه پخوا چې بشر لومړي ځل اجتماعي ژوند غوره کړ او یو بل ته د ځینې شیانو د راکړې ورکړې لپاره اړ شول نو د شي په شي(جنس په جنس) تبادلې ته یې مخه کړه او د جنس مبادله پیل شوه چې دا سیستم اوس هم ځینو وروسته پاتې سیمو کې شته او زمونږ د هیواد د کلیو او ښارونو اوسیدونکي د خپل ژوند اړتیاوې د جنس په جنس بدلون له لارې ترسره کوي خو څرنګه چې د جنس په جنس بدلون ځینې مواردو کې سختیږي او ځینې شیان لکه ژوندي ځاروي د تجزیې او ویش وړ نه دي نو ځکه دې کار د خلکو په معاملاتو کې خنډونه پیدا کړل او همدا وو چې د( ارزښت) د معیار په توګه د پیسو په لټه کې شول. په ځینو ټولنو کې ځینې کانې د ارزښت معیار وګرځیدل، ځینو خلکو د کوډړو او ځینو د مخصوصو ونو له پاڼو څخه دې برخه کې کار واخیست خو دې شیانو هم ونه شو کړای چې د(ارزښت) معیار پوره کړي نو په نتیجه کې انسانانو راز راز ګینې(زیورات) او قیمتي فلزات د(ارزښت) د معیار په توګه وټاکه، د سرو

او سپینو زرو او نورو فلزاتو ټوټې به یې په کار اچولې او بیا وروسته یې په دې ټوټو د خپلو ټولنو د واکمنانو د نوم د کیندولو سره دا ټوټې د باور وړ کړې او د سکو په بڼه یې غوره کړل.

د فلزي سکو ترڅنګ د سپکو او کم وزنه پیسو فکر هم لرغونی دی او له فلزاتو نه را وروسته د پوستکو پیسو هم د ډیرو خلکو اړتیاوې پوره کولې او د سرو او سپینو زرو کار یې ورکړی. په کومو هیوادونو کې چې ښکار او ښکاري حیوانات رواج و نو د هغو د پوستکو نه د پیسو په توګه کار اخیستل کیده.

د اعتباري پیسو لرغونی شکل د څارویو هغه پوستکي دي چې پرې د پاسه به د هغه چا مهر چې هغه په چلند کې اچولی وو موجود وو. له میلاد نه یوه پیړۍ مخکې یوه چیني امپراطور د سپینې هوسۍ د پوست پیسې رواج کړې او د دې لپاره چې د دې پوست اعتبار او ارزښت پرځای پاتې شي له دې کار نه مخکې یې امر وکړ چې د هیواد ټولې سپین پوستي هوسۍ دې یو ټاکلي ځای ته راوستل شي او هم یې د هغه ځای خلک د سپینې هوسۍ له ساتلو او ښکار څخه منع کړل.

د مغولو وختونو کې ( له اوس نه ۷۰۰ کاله مخکې) یو کاغذي نوټ د(چاومبارک) په نوم چاپ او په چلند کې و چې تر هغه دمخه هم په خراسان کې د نقدو حوالو(چک) رواج و، او د فضایل بلخ له کتاب نه ښکاري چې بلخ د چک پلورونکو یو بازار هم وو.

په اروپا کې کاغذي نوټونه لومړی ځل د(۱۵) پیړۍ په شاوخوا کې منځته راغلل او په ایټالیا کې یې رواج وموند چې د ایټالیې د بانکونو صرافانو به خلکو ته د نقدو پیسو بدل کې کاغذي رسیدونه ورکول او د نقدو پیسو په شان یې چلند درلود.( رفیع، حبیب الله. ۱۳۷۵، شماره۶، ۲ص)

واکمنو بانکونو کې کاغذي پیسو باندې وعده ورکړ شوې وه چې د دې سند لرونکی هر وخت کولای شي چې فلزي پیسې ترلاسه کړي چې په دې ترتیب د قیمتي فلزاتو د پشتیوانۍ په اساس چلیدل او همدې ډاډ خلک د کاغذي پیسو چلند

سره روږدي کړل او لکه د زرو غوندې ارزښت يې پيدا کړ او اوس ټوله نړۍ کې کاغذي پيسې د ارزښت د معيار په حيث چليږي چې د خلکو راکړه ورکړه يې اسانه کړيده.

د افغانستان په هکله يو روايت دا دی چې د لوی احمد شاه بابا د واکمنۍ(۱۱۶۰-۱۱۸۶) لمريز کلونو په موده کې د غيران(قران) سکه د چرم دپاسه د سروزرو په اوبو وهل شوې وه. د افغانستان خلکو کې يو اصطلاح شته او کوم څوک چې د چا پوروړی وي او پور يې ور نه کړي نو ورته وايي( پر پوست به دې سکه ووهم او خپل پيسې به درنه بود کړم) او هم کله پوروړی د ناداری په صورت کې ځواب ورکوي چې(د ځان پر پوست خو سکه نشم وهلی) نو ښايي چې دا اصطلاح د پوستکي د پيسوله رواج نه منځته راغلی وي چې د پوستي پيسو په باب له چينې او نورو فولکوري کيسو څخه راپيدا شوي او يا خپله هيواد کې کوم وخت پوستي پيسې موجودې وي او دا اصطلاح به هغه وخت رامنځته شوی وي او فولکلور کې به پاتې شوی وي.

**الف: د هيواد لومړنی کاغذي پيسې:** کله چې د(۱۲۹۷) لمريز کال د کب په(۹) نيټه د امير حبيب الله خان تر وژل کيدو وروسته د هيواد د اقتدار واګي د ده ځوان او د ځوان فکر لرونکي زوی سردار امان الله خان لاسته ورغلې نو ده په لومړي قدم کې په هماغه ورځ د افغانستان بشپړه خپلواکي اعلان کړه او انګريزانو ته يې اخطار ورکړ چې( د افغانستان خپلواکي ومني) د ډير جنګ او جګړې څخه وروسته انګريزانو د افغانستان خپلواکۍ ته غاړه کيښوده، خو کله چې افغانانو بری ترلاسه کړ نو انګريزان مجبوره شول چې د افغانستان خپلواکي ومني.

په هر حال د خپلواکۍ د ترلاسه کولو سره سم د هيواد ټولو چارو ته اساسي توجه وشوه، مطبوعات پراخه شول، معارف د بې ساري پرمختګ خواته مخه وکړه، د هيوادوالو ژوند د هرې برخې لپاره قوانين او نظامنامې جوړې شوې او د هيواد د هر اړخيز پرمختګ لاره کې صادقانه هڅې وشوې. د نورو تحولاتو

ترځنګ پولي سیستم هم پخپل حال پاتې نه شو او د سرو، سپینو زرو او نورو فلزاتو د سکو په ځنګ کې د پیسو د وړن راوړن (انتقالاتو) په برخه کې د اسانتیاو رامنځته کیدو په خاطر کاغذي پیسې هم خپرې او مروجې شوې.

د افغانستان لومړنی پیسې او کاغذي نوټونه په ډیر ابتدایي او ساده ډول په(۱۲۹۸) لمریز کال کې هیواد کې دننه خپاره شول. دې نوټونو د لاټرۍ د ټکټونو په شان کوندې درلودې چې په شبکې سره بیلیدل او بیا کوندې یې بانک کې پاتې کیدې او نوټونه چلند ته وتل. د نوټ او کندې نومره به سره یوه وه خو ځرنګه چې له یوې خوا یې چاپ ډیر ساده او بسیط وو نو ځکه د(۱۲۹۹) لمریز کال د سلواغې په(۱۸) نیټه د دې نوټونو د راټولیدو په باب فرمان صادر شو چې د دغو نوټونو د راټولیدو اخري نیټه د (۱۳۰۰) کال لومړۍ ورځ ښودل شوې وه. فکر کیږي چې د دې فرمان له صادریدو او د(۱۳۰۰) لمریز کال د نوروز تر رارسیدو وروسته د هیواد هغه لومړنی نوټونه چې په(۱۲۹۸) کال کې خپاره شوي ول( یو ګون، پنځه ګون، شلګون او سلګون) له چلند نه لویدلې وې او ښایي د وعدې سره سم په(۱۳۰۰) لمریز کال کې نوي نوټونه خپاره شوي وي.(رفیع، ۱۳۷۵: شماره۵۰،۶ص)

همدا راز له یوې قلمي نسخې څخه ځرګندیږي چې په اماني دوره کې یو سل ګون جعلي نوټ چې د تحقیقاتو په برخه کې د باچا حضور ته وړاندې شوی ځرګندیږي چې د نوټونو له راوتلو سره سم هندوستان کې د افغانستان د مالي کمزورتیا په غرض جعلي نوټونه هم جوړ شوي وواو افغانستان ته د بیلابیلو کسانو په لاس رالیږل شوی وو. دا چې د لومړنیو نوټونو د ناچلۍ په باب فرمان صادر شوی کیدای شي د جعلي نوټونو د مخ نیوي په منظور شوی وي او د دې لپاره چې بیا هم څوک جعلي نوټونه جوړ نه کړي دوهم ځل نوټونه یې له سادګۍ څخه ایستلي او په مخصوص ډول یې جوړ کړي.(رفیع، ۱۳۷۵: شماره۵۱،۶ص)

څرنګه چې د لومړنيو نوټونو ارزښت په څلورو (پښتو، درې، اردو او ترکي) ژبو ليکل شوي ښکاري چې دا نوټونه حتماً له افغانستان څخه بهر په ايران، هند او ترکيې کې هم چليدل چې وروسته چاپ شوي نوټونو فرانسوي ليکنې او انګليسي عددونه هم درلودل.

يو بل د يادولو وړ مطلب دا دی چې په لومړنيو نوټونو کې د افغانستان سکه د (روپۍ يا روپه) په نامه وه خو وروسته چاپ شويو نوټونو کې د(افغانۍ) په نامه اوښتی.

د افغانستان د پيسو نوم د روپۍ نه په افغانۍ هم د امان الله خان په وخت کې شوی او دا کار په دې خاطر شوی چې د افغانستان خلک د يوه واحد ملت په عقيده سره راټول شي، نو د دې لپاره چې د افغان کليمه بې له اجباره د خلکو په خولو کې کينې دا کار ترسره شو او د روپۍ نوم يې په افغانۍ واړاوه او د ملت هر وګړی به د پيسو راکړه ورکړه کې د افغاني نوم اخلي او په دې وسيله به يې د افغان نوم په ذهن کې ځای نيسي او يو واحد ملت ته به ټينګه عقيده پيدا کوي.

همداراز د امان الله خان په وخت کې د امان افغان د(۱۲۹۹) کال د جوزا د(۶) نيتې له يو چاپي اعلان نه څرګندېږي چې د دې نوټونو سپارښتنه او څارنه امان الله خان خپله کړې وه او د نوټونو ډيزاين او جوړښت کې يې زياته علاقه ښودلې وه او د نوټونو د چاپ په باب يې د اعلان متن کې ځينې تشريحات ورکړي چې د نوټونو د چاپ او چلند برخه کې معلومات ورڅخه ترلاسه کيږي. په اعلان کې د(۲۵) ګون نوټ يادونه هم شوې، څرنګه چې دا نوټونه (۱۲۹۸) لمريز کال کې خپاره شوي او د اعلان خپريدو کال(۱۲۹۹) لمريز دی نو فکر کيږي چې(۲۵) ګون نوټ به هم خپور شوی وي خو چلند کې نه دی لويدلی.

د امان افغان د همدې کال(۱۷) ګڼه کې د ۱۲۹۹ کال د اسد(۶) کې د( مسکوک نوټ د متهمين آن) تر عنوان لاندې يو خبر خپور شوی چې په کې د کاغذي پيسو په باب لاندې ټکي ترلاسه کيږي:

- دا نوټونه په (۱۲۹۸) لمریز کال کې خپاره شوي او د (۱۲۹۹) کال په جوزا کې په چلند کې ولیدل.
- نوټونه د افغانستان په ماشین خانه کې خپاره شوي.
- ډیزاین او نقشه یې د غلام محمد خان په قلم شوی.
- د نوټونو د ډیزاین او چاپ مراقبت او د جوړونې نظر په خپله د وخت پاچا لخوا شوی.
- د لومړي ځل لپاره د یوګون، پنځه ګون، پنځوس ګون، او سل ګون نوټونه خپاره شوي او له (۲۵) ګون پرته نور ټول چلیدل.
- دا نوټونه د (۱۲۹۹) لمریز کال د دلوې د میاشتې له چلنده لویدلي او یواځې څو میاشتې چلیدلي.
- د چلند په باب یې ځینې قیود موجود وو چې عام چلند یې نه درلود.

له دې وروسته نوټونه هم په خپله په افغانستان کې خپاره شوي او ډیزاین او نقشه یې د هیواد مشهورو خطاطانو او نورو لخوا ترسره شوي.( رفیع، حبیب الله. ۱۳۷۵ ،شماره۶، ۵۲ص)

**ب: په هیواد کې د کاغذي پیسو دوهم ځل خپریدل:** د (۱۳۰۷) لمریز کال په مرغومي کې هیواد ته د سقوي اړو دوړ په راتلوسره د تمدن لاره کې پورته شوي ګامونه ټول پښنه پر ځای شول او پاتې خاپونه یې له منځه ولاړل، په دې لړ کې د کاغذي پیسو چاپیدل هم وځنډیدل خو له چلنده ونه لویدل او خصوصاً نوي چاپ شوي لسګون نوټونه چې مطبعه کې پراته ول را وویستل شول، نومرې پرې ووهل شوې، مهرونه پرې ولګول شول او چلند ته وړاندې شول.

د(۱۳۰۸) لمریز کال د لړم میاشت کې د نادري حکومت رامنځته کیدو سره د اداري تشکیلاتو بیا رغاونه پیل شوه او دې ترځ کې د اصلاحاتو پروګرام ځینې برخې چې حساسیت یې نه درلود او خطر نه ترې پیښیده هم را ژوندی شو لکه د هلکانو د ښوونځیو پرانیستل، د وزارتونو بیا جوړول، د لمریز کال بیا رسمي کول او داسې نور خو د اصلاحاتو د پروګرام هغو برخو چې حساسیتونه یې

راپارول وځنډېدل، لکه د انجونو ښوونځي، د ښځو مخ لوڅي او د آزادو خپرونو چاپېدل او داسې نور چې په دې لړ کې نوټونه هم وځنډېدل او دا ښيي چې له کاغذي نوټونو سره حساسيت موجود وو او چا د پيسو په ارزښت ورته نه کتل او له اخيستو يې ډډه کيده، له همدې کبله وو چې (۱۳۰۷) نه تر(۱۳۱۵) کاله پورې نوټونه چاپ نه شول او د پخوا په شان د سرو او سپينو زرو د فلزاتو سکې چليدلې.( رفيع، حبيب الله. ۱۳۷۵، شماره ۶، ۴۹ص)

د نوټونو د توقف په دې دوران کې د هيواد عمومي مطبعې ته د نوټونو د ګراف او چاپ لپاره نوي ماشينونه راوړل شول. پروفيسور غلام محمد او د ده ملګرو د پخوا په شان نوټونه په ښکلي شکل، ډيزاين کړل او بيا چاپ شول. د نوټونو د چاپ په باب استاد عزيزالدين خان وکيلي ليکي چې دا نوټونه په عمومي مطبعه کې چاپيدل خو استاد قاسم رښتيا ليکي چې کاغذي نوټونه اروپا کې په ډير دقت او ښکلي ډول چاپ شوي ول.

څرنګه چې ياد شوي محققان دواړه عيني شاهدان دی، سرې د دوی له وينا نه داسې نتيجه اخيستلی شي چې د دې کاغذي نوټونو نقشه او ډيزاين ترپايه پورې په هيواد کې دننه ماشينونو په واسطه ترسره کيده خو د چاپ لپاره به اروپا ته ليږل کيدل چې نوټونه په معياري کاغذ چاپ شي او پولي نفاست او ځانګړتيا ولري. دا خبره د دې دور د نوټونو له هغه جرمني ليکنې نه هم ثابتيږي چې هر يو نوټ کې په واړه ليک ليکل شوی او ښيي چې دا نوټونه زوريخ(Zurich) کې چاپ شوي. (رفيع، حبيب الله. ۱۳۷۵، شماره ۶، ۵۰ص)

**د مصورو نوټونو خپريدل**

د(۱۳۱۵) لمريز کال د نوټونو راوتلو په افغانستان کې د کاغذي پيسو د چليدو تجربه کاميابه کړه او له همدې امله د افغانستان دولت د اساسي او معياري نوټونو چاپولو ته اقدام وکړ. په(۱۳۱۸) لمريز کال کې يې د کاغذي نوټونو د يوې پراخې لړۍ په خپريدو لاس پورې کړ، دا نوټونه چې د وخت د باچا پټ او ښکاره عکسونه په کې و په ښکليو لازمه شکلونو او ډيزاين را ووتل چې دوه

ګون، پنځه ګون، لسګون، شل ګون او سل ګون نوټونه يې درلودل.( رفيع، حبيب الله.۱۳۷۶، ۴۳ص).

په کاغذي نوټونو کې د وخت د پاچا د عکسونو خپريدو په ديني حلقو کې د مخالفت يو لړ ګونګوسې را ولاړې کړې او داسې ښکاريده چې يو ځل بيا د دولت له دې کار سره پراخه مخالفت را ولاړ شي. دا ګونګوسې د وخت د مقتدر او مستبد صدراعظم سردار محمد هاشم خان غوږونو ته ورسيدې خو بې له دې چې عکس العمل وښيي او يا کوم عاجل اقدام وکړي يوه پاخه تدبير ته يې لاس واچوه، هغه دا چې شاهي ارګ کې يې د قرآن عظيم الشان د يو شانداره ختم تابيا(بندوبست) وکړه او د هيواد نوم لرونکي ټول عالمان او ملايان يې دې ختم ته را وبلل. د قرآن کريم د ختم کيدو وروسته يې ټولو راغلو ميلمنو ته يو يو پاکټ نوټونه وويشل، ټولو خپلو جيبونو کې کيښودل، بيا ډوډۍ وخوړل شوه، تر ډوډۍ وروسته په جمع د ماسپښين لمونځ اداء شو او تر لمانځه وروسته ټول ملايان او عالمان خپولو کورونو ته لاړل، په دې توګه تصوير لرونکي نوټونو سره پر جمع د لمونځ کولو د مخالفت ګونګوسې غلي شو او پرته له دې چې د وخت ملايان يا حکومت تشدد ته لاس واچوي د مصورو نوټونو د چليدلو موضوع حل شوه.( رفيع، حبيب الله. ۱۳۷۶،۴۴ ص)

## ۲. الکترونیکي یا بریښنایي پیسې

### د الکترونیکي پیسو پیژندنه

دا چې افغانستان یو وروسته پاتي هیواد دی، له همدې امله ده چې د نورو وروسته پاتي هیوادنو په څیر یې لا تر اوسه تبادله او اقتصادي معاملات په ساده اوعنعنوي شکل وجود لري، په افغانستان او نورو پرمختیایي هیوادونو کې اوس هم په اکثرو سیمو کې جنس په جنس تبادله صورت نیسي. بانکونه، پولي او مالي سازمانونه او نورمالي معاملات په دغه ټولنه کې یا هیڅ شتون نه لري او یا هم نوی او تازه یې په کار پیل کړی، نو د الکترونیکي یا برقي پیسو کارول هم نوې مرحلې ته داخل شوی چې له مسلکي کادرونو او مسلکي کارکونکو څخه پرته نور څوک یې حتی په معنی او مفهوم هم نه پوهیږي. همدا راز په افغانستان کې په عمومي ډول سره مالي مدیریت هم نوی په کار پیل کړی چې لا د ځوانۍ مرحلې ته ندی رسیدلی، زمونږ دهیواد د لرې سیمو ډیری اوسیدونکي حتی د بانک، بانکدارۍ، پولي او مالي فعالیتونو څخه آګاهي نلري. له همدې امله ضرورت پیښیږي ترڅو دولت، د افغانستان بانک او ورسره نور پولي او مالي سازمانونه او موسسات د خلکو ذهنیتونو د روښانه کولو لپاره کار وکړي او خپل پولي او مالي فعالیتونه عملا په هره سیمه کې پیل کړي ترڅو خلک ورو ورو له نړیوالو پولي او مالي معاملاتو څخه خبر او بالاخره نوی عصري تبادلوي سیستم او ورسره برقي یا الکترونیکي پیسو چلند ته هم زمینه برابره شي ترڅو له دې لارې هم د خلکو لپاره په اقتصادي معاملاتو کې آسانتیاوې برابرې شي.

په مالي مدیریت کې د الکترونیکي پیسو چلند په حاضر وخت کې په پرمختللو هیوادونو کې یو عام مفهوم ګرځیدلی، مګر په وروسته پاتې هیوادونو کې اوس خلک ورسره ورو  ورو آشنا کیږي، نو لازمه ده چې لومړی باید مونږ د الکترونیکي پیسو په مفهوم او تعریف باندې پوه شو.
په نړۍ کې د پیسو مختلف ډولونه شته چې د تبادلې د وسیلې په توګه کارول

کیږي، په معاصره زمانه کې الکترونیکي چکونه، د بدیهی کارتونه، د ارزښت د ذخیرې کارتونه، برات، حوالې او الکترونیکي پیسې یو له دغو پیسو څخه شمیرل کیږي چې ورځ تربلې یې د استعمال کچه ډیریږي. دغه پیسې چې د کتبي یا اعتباري پیسو په نوم یادیږي د هیوادونو دمرکزي بانکونو او یا د مالیې وزارتونو لخوا نه بلکه د تجارتي بانکونو لخوا نشریږي. الکترونیکي یا برقي بانکداري او الکترونیکي پیسې عام او کلي مفاهیم دي چې مونږ باید پدې وپوهیږو چې له څه شي څخه بحث کوي.(زمانی فراهانی، ۱۳۸۶)
ځینو علماوو ویلي دي چې الکترونیکي پیسې داخلي(نه لمس کیدونکي) پیسې دي حال دا چې مروجې پیسې یو خارجي(لمس کیدونکي) پیسې بنودل شویدي.

د امریکا د فدرال ریزف ټولنې د مصرف کوونکو مالي مشاور الکترونیکي پیسې دارنګه تعریفوي:

الکترونیکي پیسې هغه پیسې دي چې په الکترونیکي ډول حرکت او ګردش کې وي او کولی شي د یوه هوشمند کارت او یا هغو کارتونو په ډول چې په هغې کې ارزش ذخیره کیږي د خرڅلاو په معاملاتو کې پرته له دریم ګړي د موجودیت څخه ترې استفاده وشي.

په پخوا زمانو کې انسانانو ښاري او اجتماعي ژوند نه درلود بلکې هر چا په انفرادي ډول ژوند کاوه، په دغه دوره کې تبادله شتون نه درلود، هر چا خپلې غوښتنې او ضروریات په خپله پوره کاوه، له همدې امله د تبادلې مشخصې وسیلې یا پیسو ته ضرورت نه لیدل کیده.

د وخت په تیریدو سره د انسانانو ضروریات ډیر شو نو یوه کس نشو کولای چې خپل ټول ضروریات او غوښتنې په خپله پوره کړي نو ضرورت پیښ شو ترڅو تبادله او راکړه ورکړه رامنځته شي نو هماغه وو چې انسانانو خپل جنس په جنس تبادله شروع کړه چې دې ته به یې بارتر تبادله ویله.
دا چې د انسانانو خواهشات او ضروریات ورځ تر بلې ډیریدله دغه سیستم هم ونشو کولای چې په تبادله کې خپل پوره رول وکړي نو انسانان په لټه کې شول

ترځو یو داسې جنس د تبادلې د معیار په توګه غوره کړي چې په ټولو تبادلو او تبادلوي چارو کې د ټولو لپاره د منلو وړ وي نو د ډیرو تجربو او پلټنو څخه وروسته انسانان وتوانیدل چې پیسې د تبادلې د وسیلې په توګه وکاروي.(Nisar,2009)
لیدل کیږي چې پیسې له پیل څخه تر اوسنۍ زمانې پورې ډیرې مرحلې تیرې کړیدي چې اوسنۍ مرحلې ته رسیدلی چې یو له هغو څخه په اوسني عصر کې الکترونیکي پیسې دي. الکترونیکي پیسي د تبادلې نوی، عصري او ماډرنه طریقه او سیستم ده چې د الکترونیکي وسایلو او الکترونیکي ارتباطاتو له طریقه مالي معاملات او تبادلې ترسره کوي.

په پرمختللو هیوادونو کې الکترونیکي بانکداري او الکترونیکي پیسې عام او کلي مفاهیم دي چې خلک ورسره اشنایي لري مګر په پرمختیایي هیوادونو کې دغه کلیمات او معاملات اوس اوس نوي په مروج کیدو دي.

الکترونیکي پیسې د الکترونیکي انقلاب محصول ګڼل کیږي اویوه نوې پدیده ده چې لاتراوسه یې په تجارتي اومالي معاملاتو کې د استفادې لازم بستر دځان لپاره نه ده پیداکړې او د خپل پرمختګ په لومړیو پړاونو کې قرار لري، همدالامل دی چې په هکله یې لا تر اوسه کوم ځانګړی او واحد تعریف هم نشته، مختلفو کسانو د الکترونیکي پیسو لپاره مختلف تعریفونه کړیدي.

الکترونیکي پیسې په انګلیسي ژبه کې په مختلفو نومونو لکه: Digital money، E- cash ، E- Money او نورو یادیږي چې په پښتو ژبه کې هم د غیر قابل لمس پیسو، برقي پیسو او یا الکترونیکي پیسو په نوم پیژندل شویدی. (جلیلی، ۱۳۷۹)

الکترونیکي پیسې له هغه رسنیزه مادې، ابزار یا سیستم څخه عبارت دی چې د اطلاعاتو د انتقال له لارې د ذخیره کیدو او د الکترونیکي ورکړې وړتیا اوقابلیت ولري.(شیرانی، ۱۳۸۵)

د اقتصاد علم د ځينو علماو له نظره بيا الکترونيکي پيسې داخلي پيسې ګڼل شوی پداسې حال کې چې فزيکې پيسې يو ډول خارجي پيسې دي، يا په بل عبارت اسکناس او سکې د دولت( مرکزي بانک) لخوا چې نشر يې هم د دولت په تعهد او انحصار کې وي نشريږي، مګر الکترونيکي پيسې بيا يوقانوني طلب ښودل شوی چې لرونکی يې دولت او مرکزي بانک نه بلکه د همدغه الکترونيکي پيسو نشرونکی بانک ګڼل کيږي.(سليمانی، ۱۳۸۳)
د تجارتي معاملاتو د آسانتياو په خاطر په تدريج سره د بانکنوټ ترڅنګ چک هم مروج شو چې په پرمختللو هيوادونو کې کورنۍ او مصرف کوونکي د پلاستيکي اعتباري کارتونو څخه هم استفاده کوي.

الکترونيکي انقلاب د تبادلې وسايل، سکه، بانکنوټ، د چک ډولونه، د پلاستيکي کارتونو ډولونه اونور يې هم ترخپل تاثير لاندې راوستل آن ترديې چې نن سبا په هرې تادياتي معاملې خصوصاً په نړيوالو راکړو ورکړو کې د الکترونيکي پيسو څخه نوم آخستل کيږي.

د اطلاعاتي او ارتباطي تکنالوژۍ لکه انټرنيټ، موبايل، مشخص کمپيوټرونه، د صرافۍ اتومات ماشين او داسې نورو په چټک پرمختګ سره پخواني او عنعنوي روشونه او تګلارې چې تر ډيره حده په کاغذي عملياتو بنا وو تر سوال لاندې راوستل، او بانکونه د دې په لټه کې شول ترڅو وکولای شي په کم مصرف او لږ وخت کې پرته له کوم زماني او مکاني محدوديت څخه بانکي خدمات عرضه کړي، چې بلاخره پدې و توانيدل چې الکترونيکي (برقي يا بريښنايي) بانکي سيستم رامنځته کړي او په ډير سهولت سره خپل بانکي چارې سرته ورسوي، چې نوموړی بانکي سيستم د مصارفو د کموالي، د مشتريانو د زياتوالي او رضايت او بانکي عايداتو د زياتوالي باعث کيږي.

په همدې ډول تجربو ثابته کړې چې هر څومره له نوي تخنيک څخه استفاده کيږي په مقابل کې يې مثمريت هم زياتيږي نو لدې لپاره چې بانکونه هم له دغه ډول نوي او عصري روشونو او سيستمونو څخه استفاده وکړي ضروري ده

چې اول له دغه ډول بانکي سیستم څخه ځان خبر کړي او پدې وپوهیږي چې پدغه سیستم کې څه ډول معاملات ترسره کیږي.

## د الکترونیکي پیسو ډولونه

الکترونیکي پیسې په اوس وخت کې په دوو ډولونو ویشل شویدی:

الف. پیژندل شوې الکترونیکي پیسې: دا ډول الکترونیکې پیسې د استفادې څخه مخکې او یا وروسته د پیسو د مالک په هکله د معلوماتو درلودونکی وي چې کیدای شي پرته له مالک څخه یې بل هیڅ یوکس ورځینې استفاده ونشي کړای.

ب. ناپیژندل شوي الکترونیکي پیسې: دا ډول د یجیتالي پیسې یو خصوصیت لري چې د پیسو دمالک هویت پکې پټ ساتل کیږي له همدې امله د مروجو کاغذي پیسو په شان بلل کیږي، کله چې دا ډول الکترونیکي پیسې له حساب څخه برداشت شي پرته له دې چې د برداشت کوونکي کومه نښه یا اثر پاتې شي له حساب څخه برداشت کیدای شي. یعنې پدې ډول معاملاتو کې له مختلفو لاسلیکونو څخه استفاده کیدای شي چې تعقیب او پیګیري یې په هیڅ بانک کې امکان نه لري.(زمانی فراهانی، ۱۳۹۱)

## د الکترونیکي پیسو ځانګړتیاوې

الکترونیکي پیسې د ځینو ځانګړتیاو درلودونکی دی چې له ځینو څخه یې دلته یادونه کوو:

۱: د پیسو په هکله د خوښیو د یوه نوي مفهوم ارائیه کول: ښکاره خبره ده چې که هرڅومره د انساني ژوندانه په چارو کې نوښت او بدلون رامنځته کیږي هومره ورسره انسانان آرامه، سوکاله او د خپل ژوندانه په چارو کې ښه پرمختیا کولی شي او د خپلو ستونزو لپاره د حل لارې چارې پیداکولی شي.

۲: د تبادلوي پروسې د مصارفو او لګښتونو کموالی او دپیسو د انتقال آسانتیا: د الکترونیکي پیسو یا د الکترونیکي تبادلې په وسیله د تبادلې په چارو کې

لګښتونه کمیږي دا ځکه چې معامله لرونکي اړ نه دې چې د معاملاتو د ترسره کولو لپاره له یوه ځای نه بل ځای ته لاړ شي او بیا ورسره خپلې پیسې په فزیکي ډول انتقال کړي، له همدې امله د دغه تبادلوي وسیلې په برکت د تبادلوي پروسې په چارو کې لګښتونه کم او آسانتیاوې رامنځته شویدي.

۳: د پولي تبادلې او معاملې د جانبینو فزیکي شتون ته نه اړتیا: د الکترونیکي تبادلې په پروسې کې د جانبینو فزیکي شتون او موجودیت ته ضرورت نشته، په عنعنوي تبادلې کې حتی د جانبینو څخه څخه پرته دریم ګړي خلک به په تبادلوي پروسې کې د شاهدانو په توګه موجودې وې او د شاهدانو له حضورداشت څخه پرته به کومه معامله نه ترسره کیدله مګر د الکترونیکي تبادلې پروسه دا هر څه له منځه ویوړل او حتی د جانبینو شتون ته هم پکې ضرورت نشته ځکه جانبین د سیستم له لارې خپله تبادلوي معاملات سره ته رسوي چې همدغه د اعتبار وړ ده.
۴: شخص نه شخص ته د ورکړې امکان: د دغه سیستم له برکته هر وخت او په هر ځای کې یو شخص کولی شې خپلې پیسې پرته له کوم دریم ګړي شخص له منځګړیتوبه تسلیم شي.
۵: د سوداګرو اوآخستونکو لپاره دپرچون او عمده فروشیو د معاملاتو ساده او ارزانه کول: په همدې توګه د دغه سیستم له برکته د اجناسو او خدماتو په پلورلو او وړاندې کولو کې اخستونکو ته آسانتیا رامنځته شوې او اخستونکي اړ نه دې چې له ځانه سره پیسې ولرې او په ځنګ کې خرڅونکې هم کولای شي هر څومره چې یو مشتري اجناس وغواړي په ډیرې آسانۍ سره ورته اجناس او خدمات وړاندې کړي. (Nisar,2009)

## پر بانکونو باندې د الکترونیکي پیسو اغیزې

د الکترونیکي ورکړو ابزار د الکترونیکي سوداګرۍ په پراختیا کې مهم رول لري او د الکترونیکي بانکدارۍ خدمات او محصولات، له هغې جملې څخه الکترونیکي پیسې کولای شي ښه موقع د بانکونو لپاره ترلاسه کړي. الکترونیکي بانکداري او الکترونیکي پیسې بانکونو ته دا امکان برابروي ترڅو خپل بازار له سنتي حالت نه وباسي او هغه ته پراختیا ورکړي.

الکترونیکي بانکداري او الکترونیکي پیسې کولای شي د بانکونو عملیاتي مصارف راټیټ کړي. په وسیع مفهوم سره ویلی شو چې د الکترونیکي بانکداری او الکترونیکي پیسو پرمختګ کولی شي په ملي او نړیواله توګه د پرچون سوداګری د معاملاتو د مصارفو په ټیټوالي کې همکاري وکړای شي چې دا کار په خپله بیا د دې سبب ګرځي ترڅو تولیدات ډیر او اقتصادي سوکالي رامنځته شي.(سلیمانی، ۱۳۸۳)

البته د دغو بنیګنو سره سره د الکترونیکي بانکداری او الکترونیکي پیسو ترویج او پراختیا د سنتي بانکونو پر وړاندې ځینې ننګونې هم رامنځته کړیدي ځکه چې د الکترونیکي پیسو معاملات تر نورو معاملاتو ډیر ارزانه او ساده دي.(مجتهد، ۱۳۸۴)

## د الکترونیکي پیسو نیمګړتیاوې

سره له دې چې الکترونیکي پیسې د ډیرو بنیګنو درلودونکی دی خو بیا هم په اقتصادي معاملاتو کې د ځینو ستونزو او نیمګړتیاو څخه یې خبرې کیږي چې له یو څو نیمګړتیاوو څخه یې په لاندې ډول یادونه کوو:

1. د الکترونیکي پیسو د ورکړو په صورت کې د پیسو دبیرته راګرځولو نه امکان: دا چې دغه الکترونیکي پیسې بې نوم اونښانه او کاملا مخفي یا پټې پیسې دي د سرقت او غلا په صورت کې د دغه پیسو لرونکي د هویت پیژندنه غیر ممکن بریښي.
2. د جعل کاری د ستونزې د رامنځته کیدو امکان: په الکترونیکي سیستم کې کیدای شي څوک د جعل زمینه برابره کړي چې د جعل کاری په صورت کې د جعل او تذویر مخه نیول یو څه ګران کار دی.
3. د پیسو په عرضه کې د اخلال رامنځته کول. دا چې الکترونکي پیسې یو څو کمپیوټرې پارچې او د کمپیوټر د یوڅو فعالیتونو څخه عبارت دی په همدې دلیل کاپي کول یې یوآسانه کار بریښي.
4. د الکترونیکي معاملاتو له طریقه د مالي بحرانونو د رامنځته کیدو امکانات: کیدای شي ځینې وختونه د الکترونیکي معاملاتو له وجهې په مالي برخه کې بحرانونه رامنځته شي له همدې امله ده چې اکثره وخت ددغه سیستم د پلي کیدو له وجهې بحرانونه رامنځته کیږي او د ټولنې شته مالي سازمانونه او ادارې له بې اعتماده کوي لکه په افغانستان کې د کابل بانک بحران او نور.

5. د الکترونیکي پیسو څخه د پراخې استفادې پر وړاندې د خنډونو شتون: په پرمختیایي هیوادونو کې د الکترونیکي پیسو د ترویج پر وړاندې ډیر زیات خنډونه( لکه د برق نه شتون، د انټرنیټ نه شتون، د کمپیوټر او کمپیوټري وسایلو سره د خلکو نا اشنایي او د دغو سهولیتونو نشتوالی، د مسلکي کادرونو نشتوالی، د سایبری قوانینو نه شتون، د مالي خدماتي سازمانونو او اداراتو کموالی او نور) شتون لري د همدغه ستونزو او خنډونو شته والی دی چې نه پریږدي دغه پیسې په دغو هیوادونو کې پلي شي.(سلیمانی، ۱۳۸۴)

## د الکترونیکې پیسو ښیګڼې

الکترونیکې یا برقي پیسې د لاندې ښیګڼو درلودونکی دی چې په مختصر ډول ورځینې یادونه کوو:

1.الکترونیکي پیسې تر نورو پیسو د ښه امنیت درلودونکی دی.
2.الکترونیکي پیسې د ښه سرعت درلودونکی دی: د دغو پیسو پواسطه مالي معاملات تر ترویجي پیسو ژر ترسره او ډیر وخت ته اړتیا نه لري.
3. الکترونیکي پیسې په آسانی سره استعمالیږي او په استعمال کې یې آسانتیا ده: د دغه سیستم د ترویج له کبله د پیسو انتقال او فزیکي ډول باندې د پیسو شتون ته ضرورت نه لیدل کیږي.
4. الکترونیکي پیسې تر نورو پیسو د مصارفو کموالی لري: دا چې الکترونیکي پیسې په فزیکي ډول شتون نه لري له همدې امله د پیسو پر انتقال او د معاملاتو د ترسره کولو لپاره مصارف نه ترسره کیږي.
5. الکترونیکي پیسې د وخت مطابق ښه مدیریت ده: د الکترونیکي پیسو رامنځته کیدل د وخت او زمان مطابق ښه مدیریت ده چې په غه برخه کې یو نوښت شمیرل کیږي، شاید له دې وروسته په دغه برخه کې نور پرمختګونه او نوښتونه هم رامنځته شي.
6. په الکترونیکي پیسې کې د انساني اشتباهاتو کموالی شتون لري.

## د الکترونیکي پیسو معاملات(راکړې ورکړې)

دغه معاملات د ځان لپاره ځانګړی تعریف لري او هغه دا چې د الکترونیکي پیسو انتقال له هرهغه انتقال څخه عبارت دی چې د یوه الکترونیکي ترمینال، تیلفون، کمپیوټر او یا نورو برقي او مقناطیسي لارو څخه د یوه حساب کریدت کولو او یا دیبت کولو لپاره یوې مالي موسسې ته خبر ورکول کیږي.

په الکترونیکي بانکي سیستم کې پرداخت یا ورکړې د تجارتي معاملو د ترسره کولو اصلي رکن شمیرل کیږي. الکترونیکي سوداګري پرته له الکترونیکي بانکي سیستم او د پرداخت له سیستمونو څخه نشي کولای معاملې ترسره کړي. پس د الکترونیکي بانکي سیستم په اساس مشتري کولای شي چې پرته و بانک ته له تګ څخه د (Website) له لارې خپل د اړتیا وړ اجناس خریداري کړي. اوس غواړو چې د پرداخت له څو ډولونو څخه یادونه وکړو. یا په بل عبارت ویلی شو چې الکترونیکي پیسې د یوې تبادلوي وسیلې په توګه ډیر ډولونه لري چې په لاندې توګه ورځینې یادونه کوو:

۱. د بدیهي یا د قرض کارتونه: دغه کارتونه د اعتباري کارتونو په توګه یو اخستونکی له یوه حساب څخه د الکترونیکي پیسو د انتقال له لارې د جنس په اخستلو قادروي.

دغه کارتونه د اعتباري کارتونو په شان دي چې د دې پواسطه مشتري کولای شي اجناس واخلي او د نومړو اجناسو د قیمت په اندازه پیسې د خپل بانکي حساب څخه په الکترونیکي ډول تادیه کړي. نومړي کارتونه ډیر په هغه ځایونو کې چې هلته د تاجر حساب ته کریډیټ کارت قبلیږي (د نومړو کارتونو د استعمال امکان موجود وي)، استفاده کیږي چې اوس مهال د نقدو پیسو څخه زیات استعمالیږي مثلاً په هغه وخت کې چې مونږ له غټو کارخانو او خرڅلاو ځایونو څخه یو جنس خریداري کوو نو نومړی کارت د ( Card Reader) په ماشین کې ور داخلوو او په نومړي ماشین کې مشخصه بټن کیکاږو چې د نومړي بټنې په کیکاږلو سره په اتوماتیک ډول د اخیستل شوي

جنس پیسي زمونږ له حساب څخه د خرڅونکي حساب ته لیږل کیږي.

۲. د ارزښت د ذخیرې کارتونه: دا کارتونه د بدیهی د کارت او د اعتباري کارتونو په ډول دي مګر توپیر یې پدې کې دی چې د ارزښت د ذخیرې کارت د یوه ټاکلي مقدار اسمي پیسو درلودونکی وي لکه سمارت کارت چې د یوه کمپیوټري چپ درلودونکی دی او کولی شي د ضرورت په وخت کې له خپل حساب څخه لګښت وکړي، سمارت کارتونه کولی شي د ATM، شخصي کمپیوټرونو او ځانګړو تیلفونونو له لارې معاملات ترسره کړي. دغه کارتونه هم د قرض او اعتباري کارتونو په شان دي ولې فرق یې پدې کې دی، چې دغه کارتونه د اسمي مبلغ د ثابت مقدار درلودونکي دي.(ویم کوستر، ۱۳۹۳)

د نومړو کارتونو د خریدارۍ مبلغ تر ټولو عادي ډول چې مخکې مشخص شوې ډالر دی، چې مصرف کونکی په آینده کې هغه په مصرف رسوي. د ارزش د ذخیره کیدو کارتونو مجرب ترینه او غوره کارت هوښیار کارت (Smart Card) دی، چې د دې په واسطه کولای شو د خپل ضرورت په وخت کې له خپل بانکي حساب څخه مصرف وکړو.

هوښیار کارت کولای شي د(ATM)، شخصي کمپیوټرونو( Personal Computer) او ځانګړو تیلیفونونو په واسطه بانکي معاملات اجرا کړي.

په وروستیو کې د ارزش د ذخیرې کارتونه له امریکا څخه بهر هم معمول شول چې اکثراً د کمپیوټري پروګرامونو په اساس په استرلیا، کاناډا، چلي، کلمبیا، ډنمارک، فرانسه، ایټالیا، پرتګال، سنګاپور، هسپانیا، تایوان او انګلستان کې ترې استفاده ترسره شوه، یو له دغه پروګرامونو څخه په لندن کې د موندکس (Mondex) د شرکت له لارې وسعت ورکړل شو چې دغه ازمایش یې په ۱۹۹۵ م کال په جولای میاشت په انګلستان (Win don) کې ترسره کړ.

۳. الکترونیکي نقده پیسې: دا ډول پیسې د الکترونیکي نقده پیسو یو ډول دی چې د انټرنیټ له لارې د اجناسو اوخدماتو د خریدارۍ او استعمال لپاره پکار

وړل کیږي، یو مشتري کولی شي په بانکونوکي د یوه حساب په پرانستلو سره پدې شرط چې له انټرنیټ سره وصل وي الکترونیکي پیسو ته لاسرسی پیداکړي او هغه خپل پي سي یا شخصي کمپیوټر (Personal Computer)ته انتقال او بیا ورځیني استفاده وکړي.

په هغه صورت کې چې مشتري و غواړي د الکترونیکي پیسو په واسطه خریداري وکړي نو مشتري هغه خرڅلاو ځایونو ته چې هغه له انټرنیټ سره وصل وي، تماس نیسي او د خپل اړتیا مطابق جنس د اخیستلو لپاره د خریداری(Buy) کلمه انتخابوي، چې په نتیجه کې په الکترونیک ډول د مشتري له کمپیوټر (حساب) څخه د تجارکمپیوټر (حساب) ته پیسې انتقالیږي او تاجر کولای شي د جنس د خرڅولو نه مخکې له مشتري څخه د نوموړي جنس پیسې ترلاسه کړي.(ویم کوستر، ۱۳۹۳)

الکترونیکي پیسې د لومړي ځل لپاره په یوه هالندي کمپنی (Dig Cash) کې ابتکار شو او په ۱۹۹۵ م کال د اکتوبر په میاشت کې د ( Mark Twain Bancshares) شرکت اعلان کړ چې دغه کمپنۍ اولینه کمپنۍ وه چې الکترونیکي پیسې یې نشر کړې.

۴. الکترونیکي چکونه: دا چکونه هغو کسانو ته چې انټرنیټ کاروي اجازه ورکوي ترڅو له خپل حسابونو څخه پرته له دې چې کاغذي چکونه وروليږي استفاده وکړي، پدې حالت کې د چک لیکونکی دخپل شخصي کمپیوټر له لارې چک لیکي او هغه بل کس ته انتقالوي چې دا بیا په خپل وار سره نوموړي بانکي حساب ته لیږل کیږي، که نوموړی بانک دا ومنله چې چک سم دی او صحت لري نو پدې صورت کې ټاکلي پیسې چې په چک کې ذکر شوي لیږونکي حساب څخه د آخستونکي حساب ته انتقالوي. (رحیمی، ۱۳۹۳)

که چیرې ترلاسه کونکی بانک اعلام وکړي چې الکترونیکي چکونه سم او صحیح دي پدې صورت کې یو اندازه پیسې د لیږدونکي بانک له حساب څخه ترلاسه کوونکي بانک ته انتقالیږي.

په دې هکله بانکونه  پدې اند دي چې د الکترونيکي چکونو پواسطه د 3/1 برخه د کاغذي چکونو په پرتله يې د انتقالاتو مصارف راکم شوي، يعنې په نتيجه  کې د مصارفو کموالی راځي او د ذکرشوي ګټې په اساس زياتره سازمانونه ديته اړ شوي چې د الکترونيکي چکونو په واسطه خپل پرداختونه ترسره کړي.

## د الکترونيکي پيسو وړاندې کوونکي شرکتونه او ادارې

که په نړيواله توکه د دغو پيسو وړاندې کوونکي تر مطالعې لاندې ونيسو نو ډيرې داسې واړه او غټ شرکتونه به مو ترسترګو شي چې ددغه ډول پيسو معاملات ترسره کوي، زه دلته د نمونې په توګه صرف د يو څو شرکتونو څخه يادونه کوم:

۱. **پی پال(PayPal):** پی پال يو الکترونيکي حساب دی چې د نړۍ په پنځه پنځوس هيوادونو کې د پيسو دليږد او انتقال لپاره ورځينې ګټه اخستل کيږي.

پی پال د يوه منځګړي په توګه پيسې له خريدار يا اخستونکي څخه ترلاسه کوي او خرڅونکي ته يې تسليموي. دا سيستم پرته له دې چې د يوه اعتباري کارت شميره په مختلفو سايټونو کې دايل شي کيدای شي له دې لارې بنه په امن سره پيسې انتقال او يا ګټه ورځينې واخستل شي.(رحيمی، ۱۳۹۳)

۲. **ويب ماني(Web Money):** ويب ماني الکترونيکي پيسې په کال(۱۹۹۸) ميلادي کې رامنځته شو، د دې شرکت څښتن (W.M.trasfar Ltd )نوميږي، له ويب ماني څخه په نړيواله توګه په اوس وخت کې له شپږ مليونو څخه زيات کسان ګټه اخلي چې ورځ تر بلې يې ګټه آخستونکي زياتيږي، دغه سيستم د يوه ښه امنيتي سيستم  درلودونکی دی. د يوه ويب ماني حساب له پرانستلو څخه وروسته د ګټه اخستونکي لپاره يو کليدي فايل جوړيږي چې د همدغه کليدي فايل په ګټه اخستنې سره حساب ته لاسرسی ممکن کوي. (رحيمی، ۱۳۹۳)

## په نړیواله توګه له الکترونیکي پیسو څخه ګټه اخستنه

د الکترونیکي پیسو څخه د نړۍ ډیر پرمختللي هیوادونه ګټه اخلي چې یو څو بیلګې یې دلته د مثال په ډول یادوو:

۱: په انګلستان کې د انټرنیټ ٪۵۰ ګټه اخستونکي خپل بانکي فعالیتونه د شخصي تیلفونونو له لارې ترسره کوي.

۲: په نړیواله توګه تر اوسه(۴۰۰)ملیاردو کسانو د خپل هوایي سفرونو ټکټونه د انټرنیټ له لارې خریداري کړیدي.

۳: په نړیواله توګه د انټرنیټ کارونکي٪۵۱ ځوانان او نور د خپلې علاقې وړ موسیقي له انټرنیټ څخه ډاونلوډ کوي چې ډیرى کسان بیا دغه چاره د اعتباري کارتونو د ګټې اخستنې له لارې ترسره کوي.

۴: تر اوسه د نړۍ ٪۱۰ خلکو آنلاین خریداري ترسره کړیده.

۵: په چین کې ٪۲۰ خلک آنلاین خریداري ترسره کوي.

۶:هره ورځ ٪۴ بالغ امریکایان خپل د خریدارى چارې د انټرنیټ له لارې ترسره کوي.

۷: په جاپان کې (۴۰) میلیونه خلک له E-Money څخه ګټه اخلي.

۸: همداراز فرانسه، المان، کوریا، هالنډ، روسیه، سنګاپور، سویس او جاپان کې هم له ۳۲۹ میلیونو الکترونیکي کارتونو څخه ډیر صادر شوي چې ډیره برخه یې په جاپان او المان کې کارول کیږي. (رحیمی، ۱۳۹۳)

# په افغانستان کې د الکترونیکي پیسو چلند

افغانستان یو له هغو پرمختیایي هیوادونو څخه ده چې ډیر کم کلنی د سړي سر عاید لري، همدغه د سړي سر عاید کموالی او که په ښکاره ډول یې ووایو د کار نشتوالی د دې باعث ګرځیدلی چې په دې هیواد کې ستونزې او ناخوالې راوزیږوي، ښکاره خبره ده چې دلته پدغه خاوره کې دعاید کموالی بیکاري، نا امني او بې سوادي رامنځته کړی.

کله چې په یوه هیواد کې د سړي سر عاید کم وي، هلته خلک همدومره کوي چې د وخوره مه مره(بخور نمیر) ژوند وکړي، دلته خلک فقط خپل ژوند ساتي او د دي امکانات نه وي چې خلک سپما(پس انداز) وکړي، خپلې پیسې په بانکونو کې جمع کړي او بیا د بانک له طریقه خپلې معاملې ترسره کړي.

په افغانستان کې الکترونیکي پیسې او الکترونیکي معاملات خو پریږده آن دا چې مالي معاملات او بانکونه هم د خلکو لپاره یوه نوې پدیده ده. ډیری خلک لا پردې نه پوهیږي چې بانکونه کوم فعالیتونه ترسره کوي، تر کومه حده چې پدې اړه معلومات لرم نو جوته شوې چې خلک بانکونه صرف د پیسو د چاپ ځایونو او دستګاوو په معنی پیژني نو ځکه دوی کوښښ نه کوي چې د بانکونو په اړه نور څه واوري.

الکترونیکي بانکداري او الکترونیکي پیسې د بانکونو زیږنده دي خو ښکاره ده چې دلته لا خپله بانکونه هم نوي او تازه فعال شوي نو دې ته زمینه لا ښه نده مساعده چې التکرونیکي معاملات دې مروجې شي. سره له دې چې په افغانستان کې د بانکدارۍ د ترویج څخه دومره زیات وخت نه تیریږي خو بیا هم دلته خصوصي بانکونو خپله وړتیا او علاقه ښودلې ترڅو د الکترونیکي بانکدارۍ او الکترونیکي پیسو ترویج ته لاره هواره کړي.

په افغانستان کې تقریباً ۱۷ خصوصي بانکونه فعالیت کوي چې له دې جملې څخه یې کابل بانک، عزیزي بانک، میوند بانک، باختر بانک او افغان ملي

بانک د الکترونیکي پیسو د معاملاتو لپاره تولنې ته سهولتونه وړاندې کړیدي.

کابل بانک، عزیزي بانک، د افغانستان ملي بانک او نور خصوصي بانکونه د افغانستان د پر نفوسو ولایاتو او ښارونو لکه کابل، هرات او مزار ښار په لویو مارکیټونو او چوکونو کې د الکترنیکي معاملاتو د ترسره کولو په موخه (ATM) ماشینونه نصب کړیدي خو دا چې دغه ماشینونه، په هغوی کې شته فزیکي پیسې او نور تخنیکي وسایل یې تر ګواښ لاندې دي او ډیری ځایونه لا له دغو ماشینونو څخه نقده او فزیکي پیسې هم غلا شویدي، نه پریږدي چې دغه معاملات عام شي بلکې نوره یې هم د دغه رنګه معاملاتو د پرمختیا مخه ډب ګړیده.

ښکاره ده چې په افغانستان او افغانستان غوندې جنګ ځپلو او پرمختیایي هیوادونو کې د دارنګه تکنالوژیکي پرمختیاوو یو ځلیز رامنځته کیدل ګران کاردی. دغه او دې ته ورته نورې پرمختیاوې وخت ته ضرورت لري ترڅو تولنه په لومړي قدم کې ورسره آشنا، له ښیګڼو څخه یې خبر او وروسته ورته زمینه مساعده شي ترڅو خلک یې له ښیګڼو څخه ګټه واخلي.

دلته په افغانستان کې ډیری ستونزې شته چې د الکترونیکي پیسو د ترویج په مخ کې خنډ ګرځیدلي او نه پریږدي ترڅو دغه چاره ژر عملي شي. د مثال په توګه ویلی شو چې د برق کموالی یا نشتوالی یو له هغو لاملونو څخه ده چې د پیسو برقي یا الکترونیکي معاملات له خنډ سره مخ کوي، ځکه انترنیټ برق ته اړتیا لري او الکترونیکي معاملات پرته له انترنیټه نشي کیدای ترسره شي. همداراز دعلم او تخنیک د سطحې ټیټوالی بله ستونزه ګڼل کیدای شي چې د الکترونیکي پیسو او دې ته ورته معاملاتو په لاره کې پرته ده، دا چې الکترونیکي بانکداري او انټرنیټ سره ځان ځانته علمونه ګڼل کیږي نو لازمه صلګڼل کیږي چې خلک ترهرڅه وړاندې له دغه علمونو سره آشنایي پیدا او بیا یې په خپلو ورځنیو اقتصادي چارو کې د استفادې وړ وګرځوي.
د الکترونیکي پیسو د قانون نشتوالی هم یو له هغو لاملونو څخه شمیرل کیږي

چې د پیسو دارنګه معاملات دې ترسره نه شي، ځکه که د یو چا لپاره د پیسو د لیږد رالیږد په برخه کې کوم قانوني ستونزه راپیدا شي، یا یې د پیسو کوم تضمین کوونکی اداره موجود نه وي نو ښکاره ده چې خلک دارنګه معاملاتو ته هیڅکله هم زړه نه ښه کوي، همدا لاملونه دي چې په دغه ټولنه کې د الکترنیکي پیسو ترویج ته د وخت ضرورت لیدل کیږي ترڅو شته ستونزې حل او بیا الکترونیکي معاملات مروج شي نوګورو چې الکترونیکي پیسې په نړیواله کچه د خپل تکامل په لومړۍ درشل کې قرارلري، دا چې دغه پیسې او د دغو پیسو معاملات په پرمختللو هیوادونو کې ښه نتیجه ورکړې او د خلکو د خوښۍ وړ ګرځیدلی د دې لامل شوی چې ورځ تربلې یې د استعمال کچه لوړه اوخلک دغو معاملاتو ته مخه وکړي، د الکترونیکي پیسو په رامنځته کیدو سره د سنتي پولي راکړو ورکړو اندازه ټیټه شویده او په معاملاتو کې تردیره حده اسانتیاوې، چټکتیا او د امنیتي لحاظه یوڅه ډاډ رامنځته شویدی نو پرمختللو هیوادونو ته په کتو سره په پرمختیایي هیوادونو کې هم دغه معاملاتو یو څه رنګ اخستی. دلته په پرمختیایي هیوادو کې کچیرې د الکترونیکي پیسو اوالکترونیکي معاملاتو لپاره امکانات برابر او زمینه مساعده شي ښکاره ده چې نظر پرمختللو هیوادونو ته دغه معاملات ډیر ګټور تمامیدای شي ځکه دلته په دغو هیوادونو کې د عاید سطحه ټیټه ده او د بیکارۍ سلنه لوړه ده نو د فزیکي پیسو شتون او درلودل له امنیتي لحاظه یو ډول ستونزې رازیږوي چې د دغو ستونزو د سطحې د کموالي لپاره د الکترونیکي معاملاتو ترویج ګټور تمامیدای شي. په اوسني یا عصري مالي او بانکي نظام کې عصري، لویو او پرمختللو کمپیوترونو او نورو الکترونیکي وسایلوڅخه استفاده او ورسره ورسره پدغه کمپیوتري نظام کې د امنیت او آسانتیاو شته والی دا زمینه برابروي چې په راتلونکي کې به چک، بانکنوټ او نور تبادلوي وسایل خپل ځای تلکسي اوتلګرامي انتقالاتو ته پریږدي او په تجارتي انتقالاتو کې به بانکنوټ حذف او الکترونکي پیسې به مروجې شي.

دا چې الکترونیکي پیسې په یوه هیواد کې د خصوصي بانکونو لخوا ترسره کیږي او په ځانګړي توګه په هغو هیوادونو کې چې بانکونه یې د انټرنیټ له

سهولتونو څخه برخمند وي او کارکوونکي يې يو څه الکترونيکي او تخنيکي پوهه او مهارت هم ولري، نو ويلی شو چې الکترونيکي پيسي او الکترونيکي بانکداري يو له بله سره لازم او ملزوم دي.

## د الکترونيکي او مروجو پيسو مقايسه

له نويمې(۹۰) ميلادي لسيزې يعنې له هغه وخت څخه چې د تجارانو او خرڅوونکو لخوا انټرنيټ د لومړي ځل لپاره پراختيا پيدا کړه او ومنل شو خلک د دې په انتظار کې ول چې يوه ورځ به شته مروجې پيسې او ورسره به دغه قلمي حساب او شته فزيکي کتابونه راټول او له منځه ولاړ شي، اما کله چې په کال(۲۰۰۰) ميلادي کال کې د الکترونيکي تجارت فعاليتونه له خنډ او ځنډ سره مخامخ شول ځينې له کارپوهانو څخه په دې عقيده ول چې الکترونيکي پيسې به ډير دوام ونه کړي ولې د آنلاين(Online) ورکړو او پرداختونو د بهير بريا او ګړنديتوب او ورسره د جاپان د پنځه لس(۱۵) مليونه نفوسو لخوا د الکترونيکي پيسو څخه استفاده نړيوالو ته دا وښوده چې د کاغذي اسکناسو څخه د ګټې اخستنې زمانه مخ په خلاصيدو ده.
د الکترونيکي پيسو او د مرکزي بانک د رايجو پيسو مقايسه دا ښيي چې الکترونيکي پيسې د رايجو پيسو لپاره يو جدي رقيب او ګواښ دی، بناءً ممکنه ده چې الکترونيکي پيسې د مرکزي بانک د رايجو پيسو ځای ناستی شي. د الکترونيکي پيسو د موفقيت او بريا لپاره اصلي دلايل د يوه الکترونيکي شبکې خارجي(باندنی) مسايل ګڼل کيږي، د شبکې دغه باندنی مسايل دا ښيي چې سره له دې چې د الکترونيکي پيسو څخه ګټه اخستنه ډيرې ګټې د تجارانو او کورنيو لپاره ده خو بيا هم په اسانۍ سره د کاغذي پيسو ځای ناستی نه ګرځي.
په اوسنۍ وخت کې الکترونيکي پيسې نظر رايجو پيسو ته د مکان يا ځای په نظر کې نيولو سره د محدود بازار درلودونکی دی، په داسې حال کې چې رايجې پيسې د هيواد په ټولو ولاياتو، ولسواليو او لريو پرتو سيمو او باندو کې د خلاص بازار درلودونکی دی او ټول خلک کولی شي د دغو پيسو معاملات ترسره کړي.

الکترونیکي پیسې د ډیرو خدماتو د وړاندې کولو توانایي لري، په داسې حال کې چې رایجې پیسې بیا دا توانایي نه لري. همدا راز الکترونیکي پیسې د مشتریانو د غوښتنو په اساس چټک خدمات ترسره کولی شي مګر رایجې پیسې بیا د دغه چټکتیا درلودونکی نه دی.

الکترونیکي پیسې د وخت او زمان په نظر کې نیولو سره کولی شي(۲۴) ساعته خدمات سرته ورسوي مګر رایجې پیسې بیا دغه قدرت نه لرې.

د الکترونیکي پیسو په معاملاتو او ترویج سره د انساني قوې او کاغذ د حجم په اندازې کې کموالی رامنځته کیږي چې رایجې پیسې بیا دا کار نشي ترسره کولی.( عارف، ۱۳۸۵)

**په ملي اقتصاد کې د الکترونیکي پیسو اهمیت**

په مالي مدیریت کې الکترونیکي پیسې او الکترونیکي بانکداري د یوه هیواد د ملي اقتصاد پیاوړتیا او پرمختګ لپاره ډیر مهم ګڼل کیږي. هغه هیوادونه چې مالي اداري او مالي سازمانونه یې له ابتدایي او لومړني حالت څخه وتلي او لږ څه انکشاف یې کړی دی هغو اداراتو کې الکترونیکي معاملات ترسترګو کیږي. نن سبا د نړۍ ټول پرمختللي هیوادونه خپل ټول سوداګریز، بانکي او مالي معاملات او راکړې ورکړې د الکترونیکي پیسو، الکترونیکي بانکدارۍ او الکترونیکي سوداګرۍ له لارې ترسره کوي.

دغه معاملات نسبت عنعنوي معاملاتو ته سریع، چټک، شفاف او د امنیتي نظره مطمین او پرته له ویرې ترسره کیږي، په دغو طریقو سره د مالي معاملاتو ترسره کول مالي معاملات او د پیسو ګردش او دوران ګړندی او چټک کوي او هر څومره چې په یوه هیواد کې د پیسو دوران او ګردش ډیر ګړندی وي هماغومره یې د پیسو ارزښت ثابت او عواید یې زیاتیږي، د ملي عوایدو له زیاتیدو څخه دا جوتیږي چې د هیواد په سطحه د خلکو یا سړي سر عاید زیات شوی.(زمانی فراهانی، ۱۳۹۱)

کله چې په یوه هیواد کې ملي عواید لوړ شي نو ورسره پس انداز زیاتیږي، د پس اندازونو د زیاتوالي په نتیجه کې سرمایه یا پانګه زیاتیږي چې د دغو ذخیره شویو سرمایو په اساس په هیواد کې په مختلفو برخو کې سرمایه ګذاریاني ترسره کیږي او کله چې سرمایه ګذاري رامنځته شي ښکاره ده چې د سرمایه ګذاریو په نتیجه کې کار یا د اشتغال سطحه لوړه او بیکاري له منځه ځي چې د دغه حالت په رامنځته کیدو سره د یوه هیواد د ملي اقتصاد په ټولو برخو کې تغیر رامنځته کیږي. او اقتصاد د انکشاف او پرمختیا پر لور حرکت کوي. د دغه دوران په زیاتوالي او ځڅیدا سره یو هیواد کاملاً له بیوزلی، غربت، او اقتصادي بې ثباتی څخه وځي او خود کفاء یا پرخپلو پښو ودریږي، له همدې امله ویلی شو چې د ملي اقتصاد په سطحه د الکترونیکي پیسو، الکترونیکي بانکدارۍ او الکترونیکي سوداګرۍ معاملات او د هغو ترویج ډیر مهم او له اهمیته ډک ګڼل شوی او په مالي مدیریت کې نه هیریدونکي اغیز لري.(شیرانی، ۱۳۸۵)

د دغو الکترونیکي سیستمونو په ترویج سره په ټولنه کې د علم او تخنیک په برخه کې هم بدلون رامنځته کیږي، د کمپیوټر، تکنالوژی، انټرنیټ، عصري سیستمونو او عصري علومو زده کړو ته زمینه برابریږي، د نړۍ او نړیوالو علومو ته لاسرسی پیداکیږي، د خلکو ظرفیت لوړونه رامنځته کیږي چې په نتیجه کې نوښت رامنځته کیږي او بلاخره یوه ټولنه کولی شي په ښه شکل او آسانۍ سره خپلو موخو ته ورسیږي، نو لازمه ده چې حکومت په مالي مدیریت کې د الکترونیکي پیسو، الکترونیکي بانکدارۍ او الکترونیکي سوداګرۍ په برخه کې لازم اقدامات ترسره کړي تر څو له امله یې په هیواد کې ښه مالي نظام ولري.(ستانکزی، ۱۳۸۸)

کچیرې الکترونیکي پیسې او الکترونیکي بانکداري په ټولنه کې مروج شي ښکاره ده چې ټولنه به د سنتي پولي تبادلاتو او معاملاتو له نیمګړتیاو او ستونزو څخه خلاص او له بلې خوا به خلک له یوه نوي عصري تکنالوژۍ سره بلد او د هغه له ښیګڼو څخه به یې استفاده کړي وي. د الکترونیکي پیسو د

معاملاتو په ترویج سره په ټولنه کې د فزیکي پیسو د ګرځولو او انتقال ستونزه له منځه ځي او ضرورت نه پیښیږي چې په معاملاتو کې دې فزیکي پیسې وکارول شي چې دې سره د پیسو د امنیت په هکله هم ډاډ تر لاسه کیږي، د پیسو د سرقت او نه خوندیتوب ویره له منځه ځي او په ټولنه کې د جنایاتو کچه هم ټیټیږي، له بلې خوا د پیسو جریان او دوران ګړندی کیږي چې ورسره په تجارت کې هم پرمختګ رامنځته او د کاروبار لپاره زمینه مساعده کیږي نو لازمه ده چې دولت د دغې الکترونیکي پروسې د علمي کیدو لپاره جدي ګامونه پورته کړي.

لکه څرنګه چې ټولو ته دا جوته ده چې تخنیک او تکنالوژي د پرمختګ په حال کې دی او په هره برخه کې یې چې د هغې له جملې څخه لکه بانکداري او داسې نورو په برخه کې ډیر سهولتونه رامنځته کړي او په همدې ډول د اطلاعاتو او ارتباطاتو په برخه د تکنالوژۍ پرمختګ لکه موبایل، انټرنیټ او داسې نور چې له ټولې نړۍ څخه یې یو کور جوړ کړی، بانکونه دیته مجبور کړي چې خپل فعالیتونه په اتوماتیک ډول اماده کړي.

الکترونیکي پیسې او الکترونیکي بانکداري د یوه نوي اوعصري روش په توګه په بانکونو کې یو ډول جدي رقابت رامنځته کړی او یو مناسب فرصت یې د مشتریانو د تحکیم لپاره رامنځته کړی دی. او په همدې ډول د الکترونیکي بانکي سیستم په اساس چې د عوایدو د زیاتوالي، د مصارفو د کموالي او د مشتري د رضایت سبب هم کیږي، بانکونو دیته اړ کړي چې پخپلو فعالیتونو کې لوي لوي سرمایه ګذارۍ تر سره کړي او د نوموړی بانکي سیستم څخه په ستراتیژیک ډول استفاده وکړي.

او په همدې ډول په بانکونو کې د تخنیک او تکنالوژۍ د لازیات پرمختګ په اساس علاوه له الکترونیکي بانکي سیستم څخه انټرنیټي، آنلاین(Online) او د موبایل په ذریعه بانکي سیستمونه هم په وجود راغلل چې نوموړي بانکي سیستمونه نظر الکترونیکي بانکي سیستم ته د زیاتو سهولتونو درلودونکي دي

او هغه مشکلات چې په پخوانیو سیستمونو کې موجود وو، تر ډیر بریده له منځه یوړل، چې اوس مشتریان کولای شي د خپل موبایل په واسطه بانکي معاملې ترسره کړي. د مثال په توګه هر کله که یو تجار وغواړي له بل هیواد څخه اجناس وارد کړي نو پدې صورت کې کولای شي نوموړې معامله د خپل موبایل په ذریعه او یاهم د انټرنیټ له لارې په ډیر امنیت او سهولت سره ترسره کړي او په همدې ډول دیته هم نه په انتظار کې کیږي چې بانک ته لاړ شي او پیسې راواخلي، چې دغه نوی او عصري سیستم د مشتریانو لپاره هم آسان دی او د مشتریانو د رضایت سبب هم کیږي.

## د اووم فصل پوښتنې

لومړی پوښتنه: بارتر تبادله کومې تبادلې ته ویلی کیږي، د مثال په ویلو سره یې تشریح کړئ؟

دویمه پوښتنه: د طبیعي تبادلې په دوران کې کوم شیان د پیسو د تبادلې د وسیلې په توګه کارول شوي؟

دریمه پوښتنه: پول یا پیسې تعریف کړئ؟

څلورمه پوښتنه: په نړۍ کې د فلزي پیسو تاریخچه او د تکامل دوره تشریح کړئ؟

پنځمه پوښتنه: د کاغذي پیسو ترویج تشریح کړئ؟

شپږمه پوښتنه: په هیواد کې کاغذي پیسو د لومړي ځل لپاره څه وخت چاپ او څرنګه په چلند کې ولویدل، تشریح یې کړئ؟

اوومه پوښتنه: په افغانستان کې د مصورو نوټونو د چلند دوره او څرنګوالی تشریح کړئ؟

اتمه پوښتنه: الکترونیکي پیسې کومې پیسې دي، تعریف یې کړئ؟

نهمه پوښتنه: الکترونیکي پیسې د کومو ځانګړتیاو درلودنکي دي؟

لسمه پوښتنه: الکترونیکي پیسې په څو ډولونو ویشل شوي، تشریح یې کړئ؟

یوولسمه پوښتنه: د الکترونیکي پیسو په معاملاتو کې کومې ستونزې او نیمګړتیاوې لیدل کیږي، په ګوته یې کړئ؟

دولسمه پوښتنه: د الکترونیکي پسو معاملات کومې ښیګڼې لري، تشریح یې کړئ؟

دیارلسمه پوښتنه: د الکترونیکي پیسو معاملات تشریح کړئ؟

څوارلسمه پوښتنه: د الکترونیکي پیسو د معاملاتو ترویج د هیواد په اقتصادي پرمختګ کې څه تاثیر لري؟

پنځه لسمه پوښتنه: د الکترونیکي او مروجو پیسو معاملات څرنګه مقایسه کوئ، کوم یو یې ډیرې ښیګڼې لري واضح یې کړئ؟

# ماخذونه


۱. احمدزی، میرویس.(۱۳۹۵). د شتمنیو مدیریت او د هغه څرنګوالی په افغانستان کې، د اقتصاد پوهنځی: کابل.

۲. آریا، کیومرث.(۱۳۹۴). پالیسی های پولی و مالی، انتشارات نشر نی تهران، چاپ اول

۳. ایسنگ، اوتمار.(۱۳۷۸). پالیسی اقتصادی عمومی، ترجمه: هادی، صمدی، ناشر: سازمان مطالعه و تدوین کتب علوم انسانی دانشگاها(سمت)، تهران

۴. ایسینگ، اتمار.(۱۳۷۴). تاریخ اندیشه ها وعقاید اقتصادی، ترجمه صمدی، هادی، موسسه تحقیقات دانشگاه تربیت مدرس، تهران.

۵. باتلر، ایمون.(۱۳۷۷). اندیشه های اقتصادی فریدمن(ترجمه: فریدون تفضلی) نشرنی، تهران.

۶. تقوی، مهدی.(۱۳۷۲).مبانی علم اقتصاد، مرکز اموزش و پژوهش صنایع ایران، تهران

۷. تینګار، سید محمد.(۱۳۹۳). مدیریت مالی عامه، پوهنتون کابل.

۸. تینګار، سید محمد.(۱۳۹۱). تیوری و پالیسی بودجه عامه، پوهنتون کابل، پوهنځی اقتصاد.

۹. جلیلی، سعید و آبادی، مهدی.(۱۳۷۹). بررسی مکانیزم‌های امنیتی سیستم‌های پرداخت الکترونیکی در شبکه اینترنت، اولین همایش بانکداری الکترونیکی: تهران- انتشارات بانک توسعه ایران

۱۰. خپلواک، عبدالستار.(۱۳۵۶). د افغانستان بانک مجله، شماره ۵-۷ کابل

۱۱. خپلواک، عبدالستار.(۱۳۵۶). د افغانستان بانک مجله، شماره ۲-۴، کابل

۱۲. دودیال، محمد بشیر.(۱۳۹۵). د اقتصاد تشریحي قاموس، مومند خپرندویه ټولنه: ننګرهار.

۱۳. دودیال، محمد بشیر.(۱۳۹۲). د عامه مالي چارو بنسټونه، ګودر خپرندویه ټولنه، ننګرهار.

۱۴. رابرټ آلن هیل.(۱۳۹۳). ستراتیژیک مالي مدیریت، ژباړه: محمد خالد، مستقبل خپرندویه ټولنه، کابل.

۱۵. رحیمي، ریحان الله.(۱۳۹۳). تحول و چالشهای پولی در افغانستان (تیزس ماستری)، کابل: پوهنتون کابل.

۱۶. رحیمي، ریحان الله.(۱۳۹۷). عامه اقتصاد، هاشمي خپرندویه ټولنه، جلال آباد.

۱۷. رحیمي، ریحان الله.(۱۳۹۸). د افغانستان په مالي مدیریت کې د الکترونیکي پیسو د چلند تحلیل، علمي اثر، ننګرهار پوهنتون

۱۸. رودلف ه هاسه، هیرمن شنایدر.(۱۳۸۶). فرهنگ اقتصاد بازار با اصول اجتماعی، ترجمه: داکتر نورعبار- داکتر بهبود، کابل

۱۹. فولکرس، کی.(۱۳۸۵). اقتصاد عامه، ترجمه: داکتر اشرف زی و داکتر سمیع نور، موسسه همکاری های اکادمیکی المان، کابل

۲۰. زمانی فراهانی، مجتبی.(۱۳۹۳). پول، ارز وبانکداری، ناشر: انتشارات ترمه تهران- چاپ هجدهم

۲۱. زمانی فراهانی، مجتبی.( ۱۳۸۶).پول، ارز و بانکداری، ویرایش سوم، تهران: نشرترمه، ایران.

۲۲. زمانی فراهانی، مجتبی.(۱۳۹۱). پول، ارز وبانکداری، چاپ شانزدهم، تهران: نشرترمه، ایران.

۲۳. ستانکزی، محمد ناصر.(۱۳۸۸).اهمیت پول در معاملات اقتصادی، ماهنامه کابلبانک، شماره بیست ویکم: کابل.

۲۴. سلیمانی، بهزاد.(۱۳۸۳). تأثیر پول الکترونیکی بر عرضه و تقاضای پول، چاپ اول، مجموعه مقالات دومین همایش تجارت الکترونیکی، تهران:معاونت برنامه ریزی و بررسی‌های اقتصادی.

۲۵. سلیمانی، بهزاد.(1384). انتقال الکترونیکی وجوه و بانکداری الکترونیکی، چاپ اول، مجموعه مقمالات سومین همایش تجارتی الکترونیکی، تهران: معاونیت برنامه ریزی و امور اقتصادی، ایران.

۲۶. سهیل، جهانزیب.(۱۳۹۶). د مالي مدیریت پیژندنه، د افغان ملي بانک، مجله، دوهم کال، دوهمه گڼه.

۲۷. سیدمسعود. (۱۳۸۷). پول کریډیټ، انتشارات فرهنگ مرکز چاپ و نشر کتاب: کابل.

۲۸. شبان، محمد انور.(۱۳۷۳). امکانات استفاده از تیوری وسیاست پولی د بانکداری در افغانستان، فلادلفیا، ایالات متحده امریکا

۲۹. شیرانی، علیرضا.(1385). طرح جامع نظام پرداخت: پیش نیاز بانکداری الکترونیک، پول و تجارت الکترونیک (عملکرد و چالش‌ها)، شانزدهمین همایش بانکداری اسلامی، تهران، ایران

۳۰. صابر، عبدالواسع.(۲۰۰۷). نړیوال اقتصادي نظامونه، نیو کابل کتاب پلورنځی، پیښور ص(۱۰۶).

۳۱. صمیمی، احمد جعفر.(۱۳۷۷). اقتصاد بخش عمومی، چاپ اول

انتشارات سازمان مطالعه وتدوین کتب انسانی دانشگاه سمت، تهران

۳۲. صمیمی، احمد جعفر.(۱۳۸۵).اقتصاد بخش عمومی(۱)، چاپ مهر، (قم): تهران.

۳۳. عارف، عبدالقیوم.(۱۳۹۶). اقتصاد عامه، چاپ چهارم، انتشارات یوسف زاده، کابل.

۳۴.عارف، عبدالقیوم.(۱۳۹۵). مدیریت در سیستم بانکی، پوهنځی اقتصاد، پوهنتون کابل، کابل: مطبعه کاروان.

۳۵. عارف، عبدالقیوم.(۱۳۸۵). ارزیابی سیستم بانکی افغانستان، پوهنځی اقتصاد، پوهنتون کابل: کابل

۳۶. عارف، عبدالقیوم.(۱۳۷۴). بودجه دولتی و تاثیرات آن بالای انکشاف اقتصادی واجتماعی، اجتماعی علوم(مجله، ۲-۳ گڼه): کابل پوهنتون.

۳۷. غفورزی، همایون وحبیبی شفیق.(۱۳۹۵). مدیریت مالی، کابل: انتشارات تمدن شرق.

۳۸. فرجوند، اسفندیار.(۱۳۸۴). بودجه، انتشارات فروزش، تهران.

۳۹. فرهنگ، امین.(۱۳۵۴). تیوری پول، پوهنځی اقتصاد، پوهنتون کابل

۴۰. ګلداد.(۱۳۶۱). سیاسي اقتصاد، لومړی برخه، کابل پوهنتون

۴۱. مجتهد، احمد و حسن‌زاده، علی.(۱۳۸۴). پول و بانکداری و نهادهای مالی، چاپ اول، تهران :پژوهشکده پولی و بانکی.

۴۲. معروفی، محمد موسی.(۱۳۸۴). سیر انکشاف حقوق مالی و مالیات عامه در افغانستان. موسسه نشراتی شوخک، کابل.

۴۳. ه، کارل او شیمیل فینګ.(۱۳۹۱). عامه اقتصاد، ژباړه: محمد بشیر دودیال او عبدالله عادل، ګودر خپرندویه ټولنه، جلال آباد.

۴۴. ویم کوستر.(۱۳۹۳). اقتصاد پولي، طبع چهارم، ترجمه: شعیبي، احمد جاوید، انتشارات رسالت: کابل.

۴۵. هربرت، ګیرس.(۱۳۶۰). سیاست های اقتصادی، ژباړونکی: شرف، سیدشرف، کابل.

۴۶. رفیع، حبیب الله.(۱۳۷۵).شماره ۴ و۵، د افغانستان د کاغذي پیسو تاریخي بهیر، تعاون(متا) خپرونه.

۴۷. رفیع. حبیب الله.(۱۳۷۵).شماره ۶، د افغانستان د کاغذي پیسو تاریخي بهیر، تعاون(متا) خپرونه

۴۸. رفیع، حبیب الله.(۱۳۷۶).شماره اول، د افغانستان د کاغذي پیسو تاریخي بهیر، تعاون(متا) خپرونه

۴۹. وزارت عدلیه.(۱۳۸۴). جریده رسمی شماره (۸۴۷) د ګمرکاتو قانون، کابل.

۵۰. د افغانستان بانک، اقتصادي او احصائیوي بولټن.(۱۳۹۳). مالي تګلاره، کابل

۵۱.James.c.van Horne. John Wachowicz, jr. l fundamentals of finance Management 13th Edition. (۲۰۰۹)

۵۲.Nasir, M.saeed. (2009). Money Banking & Finance, Faisalabad

# غیر طبي چاپ شوي کتابونه (زراعت، انجنيري، اقتصاد، ښوونې او روزنې، ساينس او ژورناليزم) ۲۰۲۱-۲۰۱۵

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ١ | عمومي رياضيات | پوهنوال گل محمد جنت زی | خوست | ٢ | د عالی ریاضیاتو عمومي کورس | پوهندوی محب الرحمن جنتي | ننگرهار |
| ٣ | عالي کلکولس I، A ٤٣٤ رياضي | پوهندوی حمیدالله یار | ننگرهار | ٤ | عالي کلکولس II | پوهندوی نظر محمد | ننگرهار |
| ٥ | د نفوسو جغرافيه | پوهنوال لطف الله صافی | ننگرهار | ٦ | فزيکی کیمیا II، الکترولیتی محلولونه او الکتروکیمیا | پوهاند دوکتور خیر محمد ماموند | ننگرهار |
| ٧ | فزیکی کیمیا III، کیمیاوی کنتک او کتلسس، کروماتوگرافي او اسپکتروسکوپي | پوهاند دوکتور خیر محمد ماموند | ننگرهار | ٨ | د ژويو فزيولوژي | پوهاند غنچه گل حبيب صافی | ننگرهار |
| ٩ | د ودانيو د تودولو تخنيک، لومړی برخه، د سون تخنيک | داکتر غلام فاروق میر احمدی | ننگرهار | ١٠ | د متیورولوژی مبادی | پوهنوال عبدالغیاث صافی | ننگرهار |
| ١١ | معیار های جدید اعمار ساختمان | داکتر انجنیر محمد عمر تیموری | ننگرهار | ١٢ | چگونگی مصرف انرژی در ساختمان های رهایشی | داکتر انجنیر محمد عمر تیموری | ننگرهار |
| ١٣ | الجبر او د عددونو تیوری، لومړی برخه | سطان احمد نیازمن | ننگرهار | ١٤ | د ژوند چاپیریال | پوهاند عارف الله مندوزی | ننگرهار |
| ١٥ | د اوسپیز کانکریټي عناصرو د لومړي صنفي کار متودیکي لارښود | پوهندوی انجنیر عبادالرحمن مومند | ننگرهار | ١٦ | جامداتو میخانیک | پوهنوال محمد اسحق رازقی | ننگرهار |
| ١٧ | عضوی کیمیا،کړیوال ترکیبونه | پوهاند دوکتور محمد غوث حکیمی | ننگرهار | ١٨ | د ودانیو د جوړولو مهندسي اساسات، لومړی ټوک | دیپلوم انجنیر اسدالله ملکزی | ننگرهار |
| ١٩ | د ودانیو د جوړولو مهندسي اساسات، دویم ټوک | دیپلوم انجنیر اسدالله ملکزی | ننگرهار | ٢٠ | کیمیايي عنصرونه، لومړی ټوک | محمد طاهر کاڼی | ننگرهار |
| ٢١ | کیمیايي عنصرونه دويم ټوک | محمد طاهر کاڼی | ننگرهار | ٢٢ | د اقتصاد او تجارت اصطلاحات (انگلیسی-پښتو تشریحی قاموس) | پوهنیار عبدالله عادل او امان الله ورين | ننگرهار |
| ٢٣ | خطي الجبر | داکتر عبدالله مهمند | ننگرهار | ٢٤ | روانشناسی و ضرورت آن در جامعۀ افغانستان | داکتر اعظم دادفر | کابل پوهنتون |
| ٢٥ | مبادی اقتصاد زراعتی | پوهاند ولی محمد فائز | بلخ | ٢٦ | اساسات هندسه ترسیمی مسطح | پوهنوال سید یوسف مانووال | بلخ |
| ٢٧ | تأسیسات و تجهیزات تخنیکی ساختمان | داکتر انجنیر محمد عمر تیموری | پولی تخنیک کابل | ٢٨ | د راديويي خپرونو توليد | پوهنوال دوکتور ماسټر واحدي | خوست |
| ٢٩ | د خاورې تخریب او د چاپیریال ککړتیا | پوهنیار محمد حنیف هاشمي | خوست | ٣٠ | تیوری و سیاست بودجه عامه | پوهنوال داکتر سید محمد تینگار | کابل |
| ٣١ | حیوانات مفصلیه | پروفیسور داکتر دیپلوم علی آقا نحیف | هرات | ٣٢ | عضوي کیمیا، د اروماتیک او هیتروسیکلیک برخه | پوهنوال دوکتور گل حسن ولیزی | کابل |
| ٣٣ | د پروژې تحلیل او مدیریت | پوهاند محمد بشیر دوډیال | ننگرهار | ٣٤ | د انجنیری میخانیک | پوهنوال محمد اسحق رازقی | ننگرهار |
| ٣٥ | کلکولس او تحلیلي هندسه، لومړی برخه | پوهندوی سید شیر آقا سیدي | ننگرهار | ٣٦ | کلکولس او تحلیلي هندسه، دوهمه برخه | پوهندوی سید شیر آقا سیدي | ننگرهار |
| ٣٧ | د کرنیزو محصولاتو بازار موندنه | پوهاند محمد طیب | ننگرهار | ٣٨ | کارتو گرافی با اساسات توپوگرافی | پوهنوال دوکتور محمد طاهر عنایت | ننگرهار |
| ٣٩ | انرژي سمپا کوونکي ودانۍ | انجنیر اسد الله ملکزی | ننگرهار | ٤٠ | د موادو مقاومت | پوهنمل بهرام امیری | خوست |
| ٤١ | فزيکی کیمیا گازونه او کیمیاوی ترمودینامیک | پوهاند خیر محمد ماموند | ننگرهار | ٤٢ | اطلاعاتو ته د لاسرسي لارې چارې | دانش کروخیل | ننگرهار |
| ٤٣ | حیاتي جغرافیه | پوهاند لطف الله صافی | ننگرهار | ٤٤ | د فاصله اوبو انجنیري | پوهاند انجنیر زلمی خالقی | ننگرهار |
| ٤٥ | د رياضي په هکله خبرې اترې | سلطان احمد نیازمن | ننگرهار | ٤٦ | اقتصادي جیولوجي (کانپوهنه-فلزي کانونه) | پوهاند دوکتور شریف الله سهاک | ننگرهار |
| ٤٧ | گروه های اجتماعی بسته (مطالعه جامعه شناختی سکتها) | داکتر احمد سیر مهجور | کابل پوهنتون | ٤٨ | گرم شدن کره زمین | محمد نعیم نسین | بلخ |
| ٤٩ | الجبر او د عددونو تیوري دوهمه برخه | سلطان احمد نیازمن | ننگرهار | ٥٠ | اعمار ساختمانها (اساسات، مواد و سیستم ها) | پوهندوی انجنیر امان الله فقیری | کابل پولیتخنیک |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ٥١ | په سیول انجنیري کې د اټوکې استعمال | پوهنوال میا پاچا میاخیل | ننگرهار | ٥٢ | وترینري عمومي پتالوژي | پوهندوی محمد طاهر کاکړ | ننگرهار |
| ٥٣ | انجنیري جیودوزی (سروې) | پوهندی گل حکیم شاه سیدی | ننگرهار | ٥٤ | جیومورفولوژي | پوهنوال عزت الله | ننگرهار |
| ٥٥ | د تلویزیوني خپرونو تولید | پوهنوال داکتر ماستر واحدی | خوست | ٥٦ | اوسپنیز کانکریټي عناصر ، لومړی برخه | پوهنوال دیپلوم انجنیر عبادالرحمن مومند | ننگرهار |
| ٥٧ | زولوجی فقاریه | ذاکره بابکرخیل | ننگرهار | ٥٨ | زولوجی غیرفقاریه | ذاکره بابکرخیل | ننگرهار |
| ٥٩ | د تهداب انجنیري | پوهاند انجنیر زلمی خالقی | ننگرهار | ٦٠ | الجبر معاصر | داکتر عبدالله مهمند | بلخ |
| ٦١ | رهنمود موثریت حفظ انرژی در تعمیرات | داکتر انجنیر محمد عمر تیموری | کابل | ٦٢ | معاصر الجبر | داکتر عبدالله مهمند | خوست |
| ٦٣ | آلماني د افغانانو لپاره | داکتر یحیی وردک | بېلابېل | ٦٤ | د افغانستان د پوهنتونونو د درسی کتابونو چاپول | داکتر یحیی وردک | ټولو ته |
| ٦٥ | آلمانی برای افغانها به دری | داکتر یحیی وردک | بېلابېل | ٦٦ | د پروژې مدیریت په عمل کې | محمد داود علم او یو اف . گهل | ننگرهار |
| ٦٧ | صنعتي اقتصاد | پوهاند محمد بشیر دودیال | ننگرهار | ٦٨ | نباتي فزیولوژي لومړی جلد | پوهنمل محمد طاهر میاخیل | خوست |
| ٦٩ | نباتي فزیولوژي دوهم جلد | پوهنمل محمد طاهر میاخیل | خوست | ٧٠ | د ساختمانونو تحلیل (لومړی برخه) | پوهاند محمد اسحق رازقی | ننگرهار |
| ٧١ | د ساختمانونو تحلیل (دویمه برخه) | پوهاند محمد اسحق رازقی | ننگرهار | ٧٢ | د مهندسانو د پاره ساختماني ستاتیک زده کړه | دیپلوم انجنیر اسدالله ملکزی | ننگرهار |
| ٧٣ | د ساختمان د جوړلو طریقې (لومړی برخه) | پوهاند انجنیر محمد عیسی تنها | ننگرهار | ٧٤ | د ساختمان د جوړلو طریقې (دوهمه برخه) | پوهاند انجنیر محمد عیسی تنها | ننگرهار |
| ٧٥ | سیټونه او هرڅه د هغوی په هکله | لیف بوکوفسکی/ سلطان احمد نیاز من | ننگرهار | ٧٦ | د لویو لارو د هندسي عناصرو ډیزاین | پوهنیار انجنیر م. شاکر فاروقي | ننگرهار |
| ٧٧ | د سرخلاصو کانالونو هایدرولیک | پوهنوال میاپاچا میاخیل | ننگرهار | ٧٨ | د جوړښتونو تحلیل (لومړی برخه) | پروفیسور حفیظ الله وردک او پروفیسور دکتور زرجان بها | خوست |
| ٧٩ | د جوړښتونو تحلیل (دوهمه برخه) | پروفیسور حفیظ الله وردک او پروفیسور دکتور زرجان بها | خوست | ٨٠ | د ریاضي منطق | سطان احمد نیازمن | ننگرهار |
| ٨١ | ۴۵ انجنیري درسي کتابونه | ټول پوهنتونونه | ننگرهار | ٨٢ | د اوبو رسولو انجنیري | پروفیسور انجنیر محمد عیسی تنها | ننگرهار |
| ٨٣ | اوسپنیز کانکریټي عناصر ډیزاین (دویمه برخه، لومړی ټوک) | پوهاند دیپلوم انجنیر عبادالرحمن مومند | ننگرهار | ٨٤ | اوسپنیز کانکریټي عناصر ډیزاین (دویمه برخه، دوهم ټوک) | پوهاند دیپلوم انجنیر عبادالرحمن مومند | ننگرهار |
| ٨٥ | د انجنیری اساسی ریاضی (دوهمه برخه) | پوهندوی عبدالغفور نیازی | ننگرهار | ٨٦ | د انجنیری اساسی ریاضی (لومړی برخه) | پوهندوی عبدالغفور نیازی | ننگرهار |
| ٨٧ | د اقتصادي پرمختیا تیوري | پوهاند محمد بشیر دویال | ننگرهار | ٨٨ | د تحلیلی هندسه لومړی برخه | سید شیر اقا سیدی | ننگرهار |
| ٨٩ | عمومي تخنیکي رسم | پوهیالی فضل اکبر | ننگرهار | ٩٠ | کید او گرافیک | پوهنوال دیپلوم انجنیر بهاوالدین جلالي | ننگرهار |
| ٩١ | د اقتصاد د علم اساسات | شیرخان حساس | ننگرهار | ٩٢ | نړیوالې ټولنې | احسان الله آرینزی | ننگرهار |
| ٩٣ | اقلیم پوهنه | پوهاند عزت الله سایل | ننگرهار | ٩٤ | د طبیعي علومو انگلیسي-پښتو قاموس | پوهنوال ډاکتر نظر محمد سلطانزی څدران | ننگرهار |
| ٩٥ | جنایي اراوپوهنه | پوهنیار راز محمد فیضي | ننگرهار | ٩٦ | د جوړښتونو تحلیل (دریم برخه) | پروفیسور حفیظ الله وردک او پروفیسور دکتور زرجان بها | خوست |
| ٩٧ | د اوبو لگولو انجنیری | پوهندوی دېپلوم انجنیر اصغر غفورزی | ننگرهار | ٩٨ | د انسان فزیولوژي او اناټومي | عبدالملک پرهېز | ننگرهار |
| ٩٩ | نیماتولوژي | پوهنوال حسین آرمان | ننگرهار | ١٠٠ | د کورنیو الوتنکو د روزنې اساسات | پوهاند میر حالم نیازی | ننگرهار |
| ١٠١ | د سازماني اړیکو مدیریت | پوهاند محمد بشیر دودیال | ننگرهار | ١٠٢ | د کرنې تشریحي قاموس | پوهاند محمد بشیر دودیال | ننگرهار |
| ١٠٣ | حیواني تغذیه لومړی برخه | پوهندوی روزي خان صارق | ننگرهار | ١٠٤ | حیواني تغذیه دوهمه برخه | پوهندوی روزي خان صارق | ننگرهار |
| ١٠٥ | وترېنري داخله | پوهندوی پیر محمد ستانکزی | ننگرهار | ١٠٦ | وترنري فارمکولوژي | پوهنوال محمد بایر درمل | ننگرهار |
| ١٠٧ | کوانتم میخانیک | پوهنیار اکرام الله وقار | ننگرهار | ١٠٨ | د جرمني ژبې اسانه زده کړه، له اساساتو نه تر ادبیاتو پورې | داکتر اکرم ملکزی | ننگرهار |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۰۹ | رهبري له تيوري تر عمله | پوهنیار محمد عرفان قریشي | ننگرهار | ۱۱۰ | عامه اقتصاد | پوهندوی ریحان الله رحیمي | ننگرهار |
| ۱۱۱ | د څېړنې مېتودولوژي | پوهنیار نثار احمد مصلح | ننگرهار | ۱۱۲ | د بشري سرچینو مدیریت | پوهنمل مصور فقیرزی | ننگرهار |
| ۱۱۳ | مرکزي بانګ او پرمختللې پولي سیاستونه | پوهاند دوکتور عبدالقیوم عارف | خوست | | | | |

**تطبیق کوونکی:** ډاکټر یحیی وردګ، د لوړو زده کړو وزارت ، څلورمه کارته، کابل افغانستان، مارچ ۲۰۲۲

موبایل:۰۷۸۰۲۳۲۳۱۰، ۰۷۰۷۳۲۰۸۴۴، ایمیل: textbooks@afghanic.org, www.mohe.gov.af

ټول کتابونه له دې ویبپاڼو څخه ډونلوډولای شئ: www.ecampus-afghanistan.org او www.kitabona.org



## Publishing Textbooks

Honorable lecturers and dear students!

The lack of quality textbooks in the universities of Afghanistan is a serious issue, which is repeatedly challenging students and teachers alike. To tackle this issue, we have initiated the process of providing textbooks to the students of medicine .

For this reason, we have published 365 different textbooks of Medicine, Engineering, Science, Economics, Journalism, and Agriculture from Nangarhar, Khost, Kandahar, Herat, Balkh, Al-Beroni, Kabul, Kabul Polytechnic, and Kabul Medical universities. The book you are holding in your hands is a sample of a printed textbook. It should be mentioned that all these books have been distributed among all Afghan universities and many other institutions and organizations for free. All the published textbooks can be downloaded from www.ecampus-afghanistan.org & www.kitabona.com.

The Afghan National Higher Education Strategy (2010-2014) states: *"Funds will be made available to encourage the writing and publication of textbooks in Dari and Pashto. Especially in priority areas, to improve the quality of teaching and learning and give students access to state–of–the–art information. In the meantime, translation of English language textbooks and journals into Dari and Pashto is a major challenge for curriculum reform. Without this facility it would not be possible for university students and faculty to access modern developments as knowledge in all disciplines accumulates at a rapid and exponential pace, in particular this is a huge obstacle for establishing a research culture. The Ministry of Higher Education together with the universities will examine strategies to overcome this deficit ".*

We would like to continue this project and to end the method of manual notes and papers. Based on the request of higher education institutions, there is the need to publish about 100 different textbooks each year.

**I would like to ask all the lecturers to write new textbooks, translate or revise their lecture notes or written books and share them with us to be published. We will ensure quality composition, printing and distribution to Afghan universities free of charge. I would like the students to encourage and assist their lecturers in this regard. We welcome any recommendations and suggestions for improvement.**

It is worth mentioning that the authors and publishers tried to prepare the books according to the international standards, but if there is any problem in the book, we kindly request the readers to send their comments to us or the authors in order to be corrected for future revised editions.

We are very thankful to Kinderhilfe-Afghanistan (German Aid for Afghan Children) and its director Dr. Eroes, who has provided fund for this book. We would also like to mention that he has provided funds for 230 medical and non-medical textbooks so far.

I would like to cordially thank Chancellor of Universities, Deans of faculties, and lecturers for their continuous cooperation and support for this project .

I am also thankful to all those lecturers who encouraged us and gave us all these books to be published and distributed all over Afghanistan. Finally, I would like to express my appreciation for the efforts of my colleagues Hekmatullah Aziz and Fahim Habibi in the office for publishing and distributing the textbooks.

Dr. Yahya Wardak
Ministry of Higher Education, Kabul, Afghanistan, April, 2022
Mobile: 0706320844, 0780232310
Email: textbooks@afghanic.org

| | |
|---|---|
| Book Name | Public Economy |
| Author | Assist Prof Raihanullah Rahimi |
| Publisher | Nangarhar University, PAP Faculty |
| Website | www.nu.edu.af |
| Published | 2022, First Edition |
| Copies | 1000 |
| Serial No | 352 |
| Download | www.ecampus-afghanistan.org |
| | www.kitabona.com |

This publication was financed by **Kinderhilfe-Afghanistan** (German Aid for Afghan Children) a private initiative of the Eroes family in Germany.

Administrative and technical support by Afghanic.

The contents and textual structure of this book have been developed by concerning translator and relevant faculty and being responsible for it.

Funding and supporting agencies are not holding any responsibilities.



If you want to publish your textbooks, please contact us:

Dr. Yahya Wardak, Ministry of Higher Education, Karte – 4, Kabul

Office 0780232310, 0706320844

Email textbooks@afghanic.org



All rights reserved with the author.



Printed in Afghanistan 2022

ISBN 978-9936-633-86-5